بسم الله الرحمن الرحيم

لِيُحِقَّ ٱلۡحَقَّ وَيُبۡطِلَ ٱلۡبَٰطِلَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې

©د چاپ ټول حقوق له ټیکوال سره محفوظ دي!

❁د کتاب متن: زموږ د افغانستان د علماء کرامو عقائد.

❁د کتاب نوم: مفتاح عقیده

❁مصنف: مولوي نورالفتاح ((عثماني))

❁مالي لګښت:عامه مسلمانان

❁کمپوزر: محمد ایمل وزیري

❁ډیزاین: زبیراحمد

❁تصحیح کوونکي: مولوی نورالفتاح (عثمانی)او مولوی محب الله (رحماني)

❁خپرندویه ټولنه :المکتبةالغفاریةارګ بازار کندهار

❁چاپ کال :۱۳۹۴ هـ ل

❁تیراژ: ۱۰۰۰ ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا چې دا اوږده شرحه د حاجي اغاصاحب م بارک په هغه رساله لیکل سوې ده چې، په ظاهره وړه او د معنی له مخې کتابونه - کتابونه پرې لیکل کیږي، نو له همدې کبله یې هم ده مبارک ته اوهم دافغانستان هغه شاه ځلموته چې تل ئې په خپله وینه اوقلم داسلام اومذهب دفاع کړي ،اوتل ئې دحق آوازلوړکړي ،نه ددنیا په عشق اوعشرت مصروف سوه اونه ددنیاپه پریب دخپل اصلی هدفه نه منحریف سوه ددوي په همدي میړانه اوغیرت اوشاه کاره کارنامومي تل دمذهب اواولس اوهیوادماته بیړي تل په سیخه لاره تللی نوپه همدي خاطرعثماني خپله دغه تحفه همدوي ته په ټوله معنی ډالۍ کوم.

(مولوي نورالفتاح عثماني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| مخ | مضمون : | ګڼه: |
|---|---|---|
| ۱ | تقریظ: الحاج مولوي عبدالله (رحمة الله علیه) ولایت زابل | ۱ |
| ۲ | تقریظ: الحاج مولوي عبیدالرحمن اخندزاده (رحمة الله علیه) ولایت زابل | ۲ |
| ۳ | تقریظ: الحاج مولوي نظرمحمد عاطف (رحمة الله علیه) ولایت زابل | ۳ |
| ٤ | تقریظ: الحاج مولوي عبیدالله اخندزاده (رحمة الله علیه) ولایت زابل | ۴ |
| ۵ | تقریظ: الحاج مولوي فدامحمد اخندزاده (رحمة الله علیه) ولایت زابل | ۵ |
| ۷ | تقریظ: الحاج مولوي ابوالفیض سعید محمد ذاکري (رحمة الله علیه) ولایت هلمند | ۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷تقریظ:الحاج مولوي محمدصادق حقاني(رحمة الله علیه)ولایت قندهار ............۹

۸تقریظ: الحاج مولوي عبدالصمدصابرابوالاحسان(رحمة الله علیه) ولایت قندهار..۱۰

۹تقریظ:الحاج مولوي محمد فیض الباري(رحمة الله علیه)في بلدباکستان...........۱۲

۱۰تقریظ:الحاج مولوي حبیب الله الارکاني (رحمة الله علیه)فعلا في ولایت هلند.....۱۴

۱۱تقریظ:الحاج ملاعبدالسلام اخندزاده(رحمة الله علیه)ولایت زابل.....................۱۶

۱۲تقریظ:الحاج مولوي محمد (محمدي)(رحمة الله علیه)ولایت قندهار .................۱۷

۱۳تقریظ:الحاج مولوي فیض محمد ابوالفیض (رحمة الله علیه)ولایت قندهار..........۱۹

۱۴تقریظ:الحاج مولوي احمدسعیدالمعروف بمولوي گل آغا(رحمة الله علیه)ولایت قندهار...۲۱

۱۵تقریظ:الحاج مولوي عبدالرحیم (رحمة الله علیه)ولایت قندهار...........................۲۳

۱۲ تقریظ:الحاج مولوي محمد عبیدالله ابوالوفا(رحمة الله علیه)ولایت قندهار..........۲۵

۱۷تقریظ:الحاج مولوي سعیداحمد غفوري(رحمة الله علیه)في ولایت قندهار......... ۲۷

۱۸تقریظ:الحاج مولوي محمدلاجور(رحمة الله علیه) فی بلدباکستان .......................... ۲۸

۱۹تقریظ:الحاج مولوي نظرمحمدالافغاني (رحمة الله علیه)بلدباکستان............. ۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰تقریظ:الحاج مولوي محمودالحسن حسیني (رحمة الله علیه)ولایت قندهار ....... ۳۰
۲۱تقریظ:دارالعلوم عالي هرات(في ولایت هرات افغانستان............................. ۳۱
۲۲تقریظ:الحاج مفتی جان محمد (رحمة الله علیه)ولایت قندهار.......................... ۳۲
۲۳تقریظ:الحاج مولوي محمدطاؤس(رحمة الله علیه)ولایت ترین کوت.................. ۳۴
۲۴تقریظ:الحاج مولوي عبدالقیوم(رحمة الله علیه)ولایت ترین کوت .................. ۳۵
۲۵تقریظ:الحاج مولوي ملاامام اخند (رحمة الله علیه)ولایت ترین کوت................. ۳۶
۲۶تقریظ:الحاج مولوي محمدموسی خان غزنوي(رحمة الله علیه)ولایت ترین کوت..... ۳۷
۲۷متن او صاحب متن.................................................................. ۳۹
۲۸دلیکوال لنډه پېژندنه................................................................ ۴۱
۲۹یادونه.............................................................................. ۴۳
۳۰مقدمه............................................................................. ۴۴
۳۱د دې رسالې نوم دی.............................................................. ۵۶
۳۲قوله:الحمد الله مونږ پرمذهب د اهل سنت والجماعت یو ............................ ۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۳قوله:څلور سره مذهبه حق دي حق يې بولو........................................... ۷۰

۳۴تقليد............................................................................................ ۷۲

۳۵تقليد په لغت کې............................................................................... ۷۲

۳۶مطلق تقليد د قرآن په رڼا کې.................................................................. ۷۸

۳۷مطلق تقليد د احاديثو په رڼا کې................................................................ ۸۱

۳۸د تقليد اقسام..................................................................................... ۸۵

۳۹شخصي تقليد ته اړتيا............................................................................. ۹۲

۴۰ايا د حديثو مصنفين مقليدنو وو؟............................................................... ۱۰۱

۴۱د غير مقليدينو يو څو سوالات.................................................................. ۱۱۴

۴۲د عوامو لپاره يوه توصيه.......................................................................... ۱۳۵

۴۳قوله :مذهب د امام اعظم صاحب مبارک رحمه الله............................................... ۱۴۲

۴۴قوله :مذهب د امام مالک رحمه الله................................................................. ۱۵۲

۴۵قوله :مذهب د امام شافعي رحمه الله:.............................................................. ۱۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۶قوله :امام احمد بن حنبل صاحبﷺ:.............................................. ۱۲۲

۴۷قوله :څلور سره مذهبه حق دي او حق يې بولو:........................................ ۱۲۶

۴۸قوله :موږ په مذهب د حضرت امام اعظم ابوحنيفهﷺ يو.......................... ۱۷۱

۴۹قوله :څلور سره طريقې حقي دي حقي يې بولو........................................ ۱۷۳

۵۰د تصوف اصطلاح............................................................................ ۱۷۵

تصوف د قران او حديث په رڼا کي............................................................ ۱۷۷

۵۱د تصوف حکم................................................................................ ۱۷۹

۵۲تصوف د امت د مشاهرو په آند.............................................................. ۱۸۱

۵۳تصوف څه شی دی.............................................................................. ۱۸۳

۵۴مرشد ته اړتيا سته.............................................................................. ۱۸۷

۵۵د اسلامي دورې د مشهورو علماء کرامو د سلوکو استادان.................... ۱۹۴

۵۶د کامل شيخ علامې.............................................................................. ۱۹۷

۵۷د سالک لپاره اداب.............................................................................. ۲۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵۸قوله :طریقه نقشبندیه شریفه.................................... ۲۰۷

۵۹قوله :طریقه قادریه شریفه.................................... ۲۱۳

۶۰قوله:طریقه چشتیه شریفه.................................... ۲۱۵

۶۱قوله :طریقه سهر ور دیه شریفه.................................... ۲۱۷

۶۲قوله :زیارتونه که لیري وي او که نژدې وي ورتلل يې جائز بولو.............. ۲۲۲

۶۳د حضرت محمد ﷺ د مقبرې زیارت کول.................................... ۲۳۸

۶۴د ښځو لپاره د قبرنو زیارت.................................... ۲۴۴

۶۵د اولیاء الله له قبرو سره لمونځ او دعا کول.................................... ۲۵۱

۶۶د اولیاوو کرامو وسیله کول.................................... ۲۵۸

۶۷توسل په لغت کي.................................... ۲۶۰

۶۸د توسل اقسام.................................... ۲۶۲

۶۹التوسل باسماء الله تعالی وصفاته.................................... ۲۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۷۰التوسل بعمل صالح قام به الداعي.................................................. ۲۶۸

۷۱التوسل بالانبیاء.................................................................. ۲۷۱

۷۲التوسل بدعاء الرجل صالح....................................................... ۲۸۱

۷۳التوسل بالانبیاء من قبل نبینا.................................................... ۲۸۵

۷۴التوسل بالااولیاء کرام........................................................... ۲۸۷

۷۵قوله :خوردي او مالګي له زیارته را اخیستل جائز بولو ........................ ۲۹۲

۷۶قوله :خوردي او مالګي له زیارته را اخیستل جائز بولو ........................ ۲۹۸

۷۷قوله: دوره د اسقاط جائز بولو.................................................. ۳۰۰

حیله الاسقاط.......................................................................... ۳۰۱

۷۸اثبات د نفسي حیلې.............................................................. ۳۰۳

۷۹د غیر مقلیدینو سوالونه.......................................................... ۳۱۱

۸۰د اسقاط د دورې شرطونه........................................................ ۳۱۶

۸۱د اسقاط د دورې کیفیت او ترکیب............................................... ۳۲۲

۸۲دورة الاسقاط اړوند مسائل........................................................ ۳۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۳قوله :مولد شریف ........................................................ ۳۲۷

۸۴میلاد نبوي ﷺ........................................................ ۳۲۷

۸۵بدعت ........................................................ ۳۳۲

۸۶د بدعت شرعي تحقیق........................................................ ۳۳۵

۸۷د بدعت اقسام........................................................ ۳۳۸

۸۸د میلاد النبي ﷺ په ورځ جلسه جوړول........................................ ۳۴۱

۸۹هغه کتابونه چي د مولود په جواز اقرار کوي........................................ ۳۴۴

۹۰ولي د نبي علیه‌السلام وفات نه لمانځو؟........................................ ۳۵۲

۹۱مولود شریف اول چا ولمانځه........................................ ۳۵۵

۹۲په مولود شریف کي له لاندي شیانو څخه ځان ساتنه اړینه (ضروري) ده..... ۳۵۷

۹۳مولود شریف او د دیوبند د علماء کرامو عقیده او فتوی........................ ۳۶۱

۹۴د مولود شریف شپه غوره ده او که د قدر شپه؟........................................ ۳۶۵

۹۵قوله :او نور د ښو شپو خیراتونه جائز او روا بولو ........................ ۳۶۸

۹۶قوله : دمونه، تعویذونه او څاښتونه جایز او روا بولو........................ ۳۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹۷د دم د جواز دلائل ........................................................................ ۳۷۶

۹۸د تعویذ او د څاښت د جواز دلائل ........................................................ ۳۷۸

۹۹قوله :ښه کاربه ښه بولو او بد کاربه بد بولو، .......................................... ۳۸۵

۱۰۰قوله :دعا کول وروسته تر فرضو او سنتو په هیت اجتماعي سره مستحب. ۳۸۷

۱۰۱قوله :زموږ د افغانستان علماء او مشائخ او ټول عام خلک ................... ۳۹۱

۱۰۲فریقه وهابیه یا وهابیت ............................................................... ۳۹۳

۱۰۳غیر مقلیدین په هندوستان کي .................................................... ۳۹۸

۱۰۴د غیر مقلیدینو عقائد ............................................................... ۴۰۴

۱۰۵د وهابیانو نومان او ډلي ............................................................ ۴۰۷

۱۰۶د امت مسلمه فتوی د وهابیانو په حق کي ........................................ ۴۱۰

۱۰۷د غیر مقلیدینو په اړند د دارالعلوم دیوبند نظر ................................. ۴۲۰

۱۰۸سلفیان ....................................................................................... ۴۲۴

۱۰۹پنج پیریان ................................................................................ ۴۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱۰بریلویان............................................................................................ ٤٢٨

۱۱۱د احمد رضاخان بریلوي لنډه پېژندنه......................................................... ٤٣١

۱۱۲د بریلویانو عقائد............................................................................. ۴۳۲

۱۱۳ماخذونه...................................................................................... ۴۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

حضرت مولنافقه العصر حافظ الحق والملة والدين شمس الاسلام والمسلمين

## الحاج مولوي عبدالله (رحمة الله عليه)

من سكان ولايت زابل افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله حمداً موافياً لنعمه وموكافيه لمزيده والصلوة والسلام ع لى رسوله محمد وأله واصحابه اجمعين

**وبعد**

هغه متن المتين في عقائد اهل سنت والجماعته چي آغاصاحب تاليف
کړي ؤ هغه تاليف كافي وشافي لعقائد اهل سنت والجماعت لر ه
ؤمګر ډير مختصراوکوتاوه .وشرحيته ئي زيات ضرورت ؤاوکله چه مولوي
نورالفتاح عثماني داشرح پروکړه نودعاموا وخاصوخلکولپاره فائدمنده سوه
اوهرکله چه مادخپل قدرت په اندازه مطالعه کړه ډيره صحح اوبااعتماداوبادلائله
شرحه وه الله تعالى دي ددواړو سعي قبول اومقبول کړي

حاجي ملا عبدالله نقشبندي



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

حضرت مولناشيخ الحديث و التفسير منبع العلم و الهدی صاحب البلاغة و الفصاحة مبين الکنايات و الاشارات


## الحاج مولوي عبيدالرحمن اخندزاده (رحمة الله عليه)

خطيب جامعه حاجي سيد هاشم الواقع في ولايت زابل قرية سنک افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وکفی و سلام علی عباده الذين صطفی

وروسته له دي جناب محترم الحاج اغاصاحب کله چه دامت مسلمه دصحح افکاروخلاصه په ډيره کوتاه اولړوالفاظوکي په دي وجه ليکي وه چه په اذهانوکي راتلل اوجمع کيدل ئي اسانه سي چي هغه موږپه ډيرواره ترخپل نظرتيره کړي وه البته دمولوي نورالفتاح (عثماني) صاحب دشرحي چه موږپه ډيرکوتاه وخت کي دتقليددبحث اوبياپه پاي کي دفرقوباطلو په ډيرسرعت څه مطالعه وکړه صحح په نظرراغله

الفقيرعبيدالرحمن 

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقریظ

**جناب حضرت شیخ الاسلام و المسلمین فقه العصر و الزمان صاحب البیان و البنان في التقریر و التحریر**

## الحاج مولوي نظرمحمد عاطف (رحمة الله علیه)

**خطیب جامعه حاجي محمداصغر الواقع في ولایت الزابل افغانستان**


بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی سیدالوري**

**وبعد**

ځرنګه چه زموږ دمرشد الحاج اغاصاحب رساله(زموږ دعلماء عقیدة)اودمولوي نورالفتاح(عثماني) صاحب شرحه ده مقلیدنولپاره لاربنوداورهنماء ده هغه دلا ئل چه دقران اوحدیث اوهم دفقهاؤداقوالوڅخه راجمعه سویدي کافي اوشافي دي اوله الله تعالي څخه پردغه عقیده په دنیاکي ژونداوپه آخرت کښي په دغه جماعت کي راپاڅیدل غواړم

والسلام



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

**حضرت مولنا شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول صاحب البلاغة و الفصاحة**

## الحاج مولوي عبيدالله اخندزاده (رحمة الله عليه)


**ملا امام قرية خوازي فعلاً و شيخ الحديث في المدرسة رحمانية عرفانيه ولد اخندزاده صاحب زيارت في ولايت زابل افغانستان**

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله وكفى والصلوة والسلام على سيدالوري**

دغه رساله چه الحاج اغاصاحب مبارک جوړه کړیده ډیردوخت تقاضا اودضرورت په لحاظ مهتمه ده اوما خوخپله رساله مذکوره کتلي ده اوهغه شرحه ئي چي په نامه د(مفتاح عقيده)سره مسمی سويده هغه مي هم تقريبا ټوله کتلي ده اودامي دوخت دعلماء يوعظيم خدمت وباله ومذهب حنيفي ته بلکي وشريعت الغراء ته.دغه رساله اوشرحه په غورسره مطالعه کړي اوبيائي وعامومسلمانانوته په مساجدوکي اوهديروکي څه څه بيانوي وهذا تائيدي

الحاج مولوي عبيدالله اخندزاده



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقریظ

حضرت شیخ الاسلام والمسلمین صاحب البیان والبنان في التقریر والتحریر منبع العلم والهدی

## الحاج مولوي فدامحمداخندزاده (رحمة الله علیه)

خطیب جامعه حاجي باجا الواقع في ولایت زابل افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لاهله والصلاة علی اهلها

**وبعد**


دالله تعالی لوي رحمت اواحسان ده چه موږته ئي په دي مهم وخت اودلامذهبودفلع لپاره دحضرت سید الحاج حمدالله اغاصاحب رساله چي په نامه (زموږدافغانستان دعلماؤعقیده)ده زموږپه نصیب شوه نووروسته لمطالعي دبحث دتقلیده چه هغه ډیرپه دلائلوشرعیه صححه سره ثابت وونوحضرت مولوي نورالفتاح (عثماني) صاحب ته ددعالاسونه پورته کړي چه الله تعالی دي دده سعي مقبوله اوداخرت له پاره زخیره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرزه وي چه موږلپاره غټه تحفه اوډيره اساني سره راکړه الله تعالی دي سرفرازاوکامياب په دين اودنياکي له موږسره ولري زه ئي په ډيره مينه سره تصديق کوم والعلم عندالله تعالي. والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

الحاج مولوي فدامحمد اخندزاده

خطيب زړه جامع مرکزقلات



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ السلام و المسلمين فقه العصر و الزمان صاحب البلاغة و الفصاحة قدوة العلماء الراسخين

## الحاج مولوي ابوالفيض سعيد محمد ذاكري (رحمة الله عليه)

استاذ احاديث في مدرسة احسن العلوم اشرفيه الواقع في ولايت هلمند مركز لشكركا افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي قال و قوله الحق يايها الذين امنوا اتقوا الله وكونوا مع الصادقين و الصلوة و السلام على معلم الكتاب و الحكمة و مزكي الامة و على اله و صحبه و من تبعهم الى يوم القيامة بالاخلاص و الصداقة

**امابعد**


(c) ketabton.com: The Digital Library

دحق لاري لارويانوته زيري دي ،اوخوارجواوروافيضواونوروبدعتيانوته غم اوماتم جوړدي.ولي؟چي دشيخ الطريقة والشريعة الحاج مولنا حمدالله جان آغاصاحب درسالي شرحه دمتدين مذهبي شخصيت عالم عامل مولنا نورالفتاح (عثماني) صاحب په زياراومحنت پداسي ډول جوړه سوه چي الحمدالله اهل الزيع داعتراض ځاي نسي پيداكولاي ځکه ډيره واضحه مدللة اومفصلة ده الله عزوجل دي دمولف سعيه مقبوله وګرځوي اوالله جل جلاله دي داخرت توښه ورته وګرځوي هم ده ته هم هغه چاته چي په چاپولوکي کوهمکاري ورسره کوي امين الف امين

انا العبد الاحقر خادم الاحديث في مدرسة احسن العلوم اشرفيه

الواقع في هلمند لشکرکله

الحاج ابوالفيض **سعيد محمد** ذاکري



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

مولناشيخ الحديث والقران جامع المنقول والمعقول

## الحاج مولوي محمدصادق حقاني(رحمة الله عليه)

مهتمم المدرسة دارالعلوم نورالمدارس الواقع في ولايت قندهار افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلوليه والصلوة والسلام على نبيه محمدواله وصحبه

**وبعد**

فاني قرائت بعض المباحث المهمه من هذه الرسالة التي الفها اخونافي الله مولنا نورالفتاح عثماني فاعجبت بهاجدا وادعوالله سبحانه وتعالي ان يتقبلها بقبول حسن وينفع بها الطلاب والعلماء وان يجعلها من الباقيات الصالحات للمئولف المحترم حفظه الله تعالى




الحاج مولوي محمد صادق حقاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

حضرت مولناشيخ التفسير و الحديث منبع العلم و الهدى صاحب البلاغة و الفصاحة مبين الكنايات و الاشارات صاحب البيان و البنان في التقرير و التحرير

## الحاج مولوي عبدالصمدصابرابوالاحسان(رحمة الله عليه)

من سكان و لايت قندهارافغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي جعل العلماءكاالنجوم ،و خصهم بالادراكات و الفهوم، و فضلهم على عوام الناس بالعلوم ،و الصلوة و السلام على رسوله المبعوث الى العرب و العجم، و على اله و اصحابه هم اهل الفضل و الكرم ،و خير القرون و الامم،


**امابعد**

فانا العبدالحقيرالحاج المولوي عبدالصمد، المفتقرالى الله القديرالاحد ،لقد طالعت شرح الرسالة المسمى بالمفتاح عقيده الذي الفه العالم العامل الصاحب للشريعة والطريقة السالک على طريقة اهل السنة والجماعة

(c) ketabton.com: The Digital Library

الثابت علي الحق الحنفية المضي كالمصباح اعني المولوي نورالفتاح عثماني جعل الله له الفوزوالفلاح فهوعندي مقبول ومنظوروالمرجومن الاخوان ان يقبلوه في كل زمان، ويعملوبه في كل حين وان، ونشروه في كل وطن ومكان، ولاينظرون الى توهمات الوهابية والسلفيان ،ولايلتفتون الي خرافات اهل الضلالة والطغيان، الذين هم يظنون انهم اهل الحديث والقران، والحال انهم اطباع النفس والشيطان، لايفرقون بين الحق والبطلان، وليس في قلوبهم مايقولون باللسان، نعوذبالله من عقيدة حديث الاسنان ،والله المستعان ،وعليه التكلان، ونسئله الاستقامة على مذهب النعمان، والتمسک باالحجة والتبيان ،والفوزفي الميزان ،والسدادفي كل بيان، والاستقامة على حكم الحديث والقران، وان يجعلنامن العلماء الربانين، والراسخين امين ثم امين يارب العالمين

الراقم الحاج المولوي عبدالصمدصابر ابولاحسان



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

**شيخ المشايخ المحديث الكبير الناقد البصير قدوة العلماء الراسخين شيخ الاسلام و المسلمين**

**فقه العصر و الزمان صاحب البيان و البنان في التقرير و التحرير**

## الحاج مولوي محمدفيض الباري (رحمة الله عليه)

**استاذ الحديث في مدرسة دارالعلوم الربانية في بلدباكستان شمن كلداره باغشه**


بسم الله الرحمن الرحيم

**وبعد**

الحمد لله الذي من علينا برسوله وهدانابه الى سواء السبيله وامرنابتعظمه وتكريمه وبتجيله وفرض على كل مومن ان يكون احب اليه من نفسه وابويه وخليله صاحب لواء الحمدوالمقام المحمود ابي القاسم محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب صلي الله عليه وعلى اله وصحبه اجمعين واخوانه من النبين والمرسلين وسائرعبادالله الصالحين صلوة دائمة غيرزائلة وباقية غيرفانية ومتصلة غيرمنقطعة امابعد فقدسرحت النظرفي هذه الرسالة ففيهامباحث لطيفة ومسائل شريفة تدورحول العقائداهل السنة والجماعة نسئال الله سبحانه وتعالي ان يتقبل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذلک من المولف وان يجعله خالصاً لوجه الكريم انه سميع قديروبالاجابة جدير
والحمد لله رب العلمين    كتبه العبددني محمدفيض الباري غفرله الباري خادم
الحديث نبوية بمدرسة دارالعلوم الربانية



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الاسلام و المسلمين شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول

## الحاج مولوي حبيب الله الاركاني

## ثم الهلمندي (رحمة الله عليه) فعلا في ولايت هلمند افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى والصلوة على عباده الذي المصطفى

**وبعد**

څرنګه چه مشروحه رساله دې يرولامذهبوپرسروپه مثل ديوتندراسماني په څيروه داځکه چي صاحب دهغه صاحب شريعت اوطريقت وو اوپه هغه کي بې شميره اشاري پربدي دوهابيانواوسلفيانووي نوکله چه ددغه صاحب الرتبه شيخ صاحب ددغه بهترينې رسالي شرح ديومتدين اوپرمذهب ولاړ شخص دخواکيږي نوبه ولي دلامذهبواوغيرمقليدينوپر سروتندري اسماني نه وي نوکله چي موږدخپل کمزوري علم په اندازه اجمالاڅيړنه وکړه نودي شرحي دلوړي مرتبي په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتوصيف کولونه عاجزه سوم نولهذا دالله تعالی څخه داغوښتونکي يم چه همداسي شارحان اوعلماء دي الله تعالی تل ژوندي لري امين ثم امين

ستاسوورور:

شيخ مولوي حبيب الله الارګاني ثم الهلمندي



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

المحديث كبير فقه العصر جامع المنقول و المعقول

## الحاج ملاعبدالسلام اخندزاده(رحمة الله عليه)


المشهور بملاصاحب خواځي في ولايت زابل مركز قلات افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين و الصلوة على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين

**امابعد**

دالحاج مولوي سيدحمدالله جان اغاصاحب رساله چي په نامه ده(زموږدافغانستان دعلماؤعقيده)اوددي رسالي شرحه چي په نامه د(مفتاح عقيده)ده تائدکوم ځکه زموږدمذهب اوعقيدي پرډيروښودلائلواوشواهدوبناده يوواربياوايم چي زي تائدکوم اوماته مقبوله ده اوادادعاکوم چي دالله تعالى په لوي دربارکي دي قبوله سي امين

 دخوائي ملاعبدالسلام اخندصاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول شيخ الاسلام و المسلمين

## الحاج مولوي محمد (محمدي)(رحمة الله عليه)

استاذالحديث في المدرسة دارالعلوم اسلامية خضرية في ولايت قندهارافغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله حمداًكثيراًطيباًمباركاًفيه و صلى الله و سلم على محمد عبدالله و رسوله ارسله بين يدي الساعة بشيراً و نذيراًو على اله و صحبه و التابعين لهم باحسان الي يوم الدين


**امابعد**

دشريعت اوطريقت شيخ مولوي سيد حاجي حمدالله جان اغاصاحب چي كومه رساله (زموږدافغانستان دعلماؤعقيده)په نوم ليكلي ده داپه واقع كښي دټوله اهل السنة والجماعة عقائددي،الامن شذوندر.هيڅ يوداسي څوک چي دالله تعالي ښخه ويريږي په دغوعقائدوکښي اختلاف نه لري خوکله چي دحاجي آغاصاحب په رساله کښي دلا ئل تفصيلي نه وه ذكرسوي نوداحتمال موجودووچي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني هغه کسان چي دلا    ئل غواړي اودلويوعلماؤ پرخبرويي باورنه راځي ددلا ئلوغوښتنه وکړي نوداچي مخلص اوجيدعالم مولوي نورالفتاح عثماني صاحب دحاجي اغاصاحب درسالي شرحه کړي ده اوپه رساله کښي دذکرسووعقائدوسره يي دلا ئل راوړي دي دايقينا دوخت ضرورت وو خوزماډيرومصرفيتونودومره وخت رانه کړي چي ټوله شرحه وګورم صرف يوه حصه يي زما ترنظرتيره سوه خودغه حصي له کتلوڅخه داسي ښکاري چي په دي شرحه کښي هراړخيزمعلومات سته الله تعالی دي ددغي شرحي فائده عامه وګرځوي

مولوي محمد (محمدي) حفظه الله



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول شيخ الاسلام و المسلمين فقه العصر و الزمان صاحب البلاغة و الفصاحة صاحب البيان و البنان في التقرير و التحرير مناظر اهل السنة و الجماعة

## الحاج مولوي فيض محمد ابوالفيض (رحمة الله عليه)

استاذالحديث في المدرسة دارالعلوم اسلامية خضرية في ولايت قندهارافغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لاهله و الصلوة على اهلها

**وبعد**

كومه رساله چې شيخ الشريعت والطريقت حضرت مولوي سيد الحاج حمدالله اغاصاحب(رحمة الله عليه)په نامه د (زموږ د افغانستان دعلماؤعقيده)جوړه كړې وه دا يو بهترينه رساله وه په باب كې دعقائدو داهل السنة والجماعة اوددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسالي په باب بائدووايم (صغرحجمه وكبرعلمه )اوزموږپه فكردا دي رساله سره دغه نوم ښه مناسب دي(سيف الحنفية على اعناق الوهابية والسلفية)اوهغه ځوک چي ځان ته مقلدوايي ددي رسالي څخه انكارنكوي( ولاينكرها الاالوهابية والسلفية) خوكله چي دارساله مجمله وه په غاية اجمال سره نودشرحي ضرورت پيدا اسوداچي حضرت مولوي نورالفتاح عثماني صاحب ددي رسالي مفصله شرحه جوړه كړه نوموږدزياتومصرو فيتوپه خاطردټولي شرحي دمطالعي وخت نسوپيدا نولهذا ددي شرحي يومبحث چه هغه مبحث دتوسل دي موږمطالعه كي فوجدته مشحونابمطالب لطيفة ومقاصدنفيسة معجبة للنواظرومطربة للخواطرتميل اليها الطباع وتلذ ذبهاالاسماع

(والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته)

الحاج مولوي فيض محمدابوالفيض



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ القران و التفسير صاحب البيان و البنان في التحرير و التقرير

## الحاج مولوي احمدسعيدالمعروف بمولوي گل آغا (رحمة الله عليه)

خطيب جامع انصاري نرزو شابرج في ولايت قندهارافغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

**وبعد**


الحمدلمن هواهله كماهواهله بماهواهله على ماهواهله عمن جعله اهله
والصلوة والسلام على من ارسله هدي وبشري لمن ارسله اليه من الجن والانس
ليخرجهم من ظلمات الكفروالنفاق والمعاصي الي فيضان القران والاحديث النبوي
وعلى اله وصحبه وعترته امابعد فقدعرضت علي رسالة مؤلفة في تصحيح
العقائدلاسيمافي عقائدعلماءافغانستان اللتي الفهاالشيخ الاجل العالم التقي
والمرشدالنقي حضرت مولينااحمدالله جان اغافطالعتهافوجدتهاكافيةشافية في
بابهاومدللة في مسئلة العقائدنافعة للخواص والعوام ومغنية للعلماء والمبلغين

(c) ketabton.com: The Digital Library

عن تعب تحقيق هذا مسئلة واوصي لكل عبد مسلم ان يشيعوهذا الرسالة
ليستفيد منها المسلمون وادعوالله الكبيران ينفع بها الامة
ويجعلها ذخر المؤلفها ولمن سعي فيها وصلي الله علي سيدنا محمد واله وصحبه
اجمعين

احمد سعيد المعروف بمولوي كل آغا

خطيب جامع انصاري نرزوشابرج



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول صاحب تحقيق و تدقيق شيخ السلام والمسلمين

## الحاج مولوي عبدالرحيم (رحمة الله عليه)

استاذالحديث في مدرسة جامعة اسلامية اشرفية في ولايت قندهارافغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العلمين و الصلوة علي سيد المرسلين و على اله و صحبه اجمعين

**امابعد**

دطريقت شيخ محترم مولوي حمدالله جان اغاصاحب چي دجلدک په اغاصاحب سره هم شهرت لري يوه مختصره رساله دبعضي مسائلو په اړه ليکي وه لکن دارساله ډ يره مختصره وه تفصيل ته يي ضرورت يقيني وه داچي محترم مولوي صاحب نورالفتاح عثماني دا ضرورت پوره کړي الله تعالي دي اجرخيرورکړي البته دزياتومصروفياتوله کبله مي ونکړل سول چي درسالي ټوله شرحه مطالعه کړم په يوعاجل نظرمي داهل السنت والجماعت تشريح وکتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشاءالله کافي وضاحت يي کړي اميدسته چي نور مسائل به يي هم په همدي ډول تشريح کړي وي، ومن الله التوفيق

شيخ الحديث مولوي عبدالرحيم مدظله



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

جامع المنقول و المعقول صاحب البلاغة و الفصاحة صاحب البيان و البنان في التحرير و التقرير

## الحاج مولوي محمد عبيدالله ابوالوفا (رحمة الله عليه)

المدرس في مدرسة الحنفية للعلوم الاسلامية في ولايت قندهارافغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي جعل علماء الامة المرحومة امناء الدين و الصلوة و السلام علي اعلم العلماء و افقه الشيوخ و الصوفية معلم للدين المتين و على اله و اصحابه الناشرين الدين


**امابعد**

فقدطالعت اكثرمواضع من هذاالكتاب المبين لرسالة اللتي الفها شيخ الطريقت والشريعت شيخنا ومرشدنا الشيخ السيدمولنامولوي حمدالله جان اغاصاحب دامت بركاته العاليه فوجدت هذا الشرح مطابقالكتب الاحديث وكتب الفقهاءالكرام وكتب التصوف فالله درالمصنف اعني مولوي نورالفتاح عثماني العالم والعامل الصوفي دام ظله العالي حيث بذل سعيه في تتبع الكتب واستقرائها جعل سعيه مشكورا وجعله مقبولابين العلماء والطلباءونافعالهم في

(c) ketabton.com: The Digital Library

الدارين امين ثم امين لاارضي بواحدة اضم اليها الف امين وصلي الله تعالي علي خير خلقه محمد وعلي اله وصحبه اجمعينو انا العبد الافقر الي رحمة الله الأكبر محمد عبيد الله ابو الوفا

المدرس في مدرسة الحنفية للعلوم الاسلامية



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الاسلام و المسلمين فقه العصر و الزمان صاحب التدقيق و التحقيق

## الحاج مولوي سعيد احمد غفوري (رحمة الله عليه)

رئيس دارالافتاء في جامعة الاسلامية اشرفية في ولايت قندهار افغانستان


بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وكفي و سلام على عباده الذين اصطفى

مادغه شرحه ټوله وكتل شارح جناب محترم مولوي نورالفتاح عثماني صاحب پوره زحمت كښلي دي موضع ئي لكه څنګه چي شيخ الطريقت والشريعت جناب محترم حاجي اغاصاحب دجلدك متن ليكلي وو هم هغسي يي كټ مټ شرحه كړيده دلانورپرمختلځ اوخدمت په هيله ئي يم

والسلام

الحاج مولوي سعيد احمد غفوري



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

**شيخ الحديث و التفسير صاحب الفصاحت و البلاغة و صاحب البيان و البنان في التحرير و التقرير**

## الحاج مولوي محمدلاجور (رحمة الله عليه)

**استاذالحديث في المدرسة جوهر العلوم في بلدباكستان شمن كلداره باغشه**

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم

**امابعد**

مادغه رساله في الجمله درنظرواېستله ډېره ښه رساله ده دعقيدي داصلاح لپاره اومفيده اوګټوره ده ځکه چي حوالي يه دمعتبروکتابوڅخه دي اودغه مولوي نورالفتاح عثماني صاحب چي شارح ددغه متن دي زما دتلامذوڅخه دي ښه قابليت اوصلاحيت يه درلودي اوددي رسالي نوم چي دعلماء حنفيه عقيده واي ښه به وايي اويا عقيدة العلماء الحنفية اللهم اجعل سعيهم مشكورا ومقبولاواجعله هذارسالة سبباًلرضائک ياارحم الرحمين مولوي محمدلاجور



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ المشايخ المحديث الكبير الناقد البصير قدوة العلماء الراسخين شيخ الاسلام و المسلمين

فقه العصر و الزمان صاحب البيان و البنان في التقرير و التحرير

## الحاج مولوي نظرمحمد الافغاني (رحمة الله عليه)

استاذ الحديث في مدرسة العربية تدريس القران في بلد باكستان شمن كلداره باغشه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفي وسلام علي عباده الذين اصطفي امابعد فقد طالعت ماتيسرلي حسب الظروف من هذا الرسالة المؤلفة في اصلاح العقيدة الفها العامل الشيخ الشريف العلامة حمدالله جان وشرحها العالم المحقق لمولي نورالفتاح عثماني فاذاهي منتخبة من القران والحديث وان احسن الحديث كتاب الله واحسن الهدى هدي محمدصلي الله عليه وسلم ومشحونة باقوال اولياء الله عزوجل وفقهاء هذه الامة الذين هم فرسان هذه الميدان جزالله عزوجل مؤلفه خيرالجزاء وجعل سعيه مشكورا وعمله مبرورا،من ناحية اخرى رئيت توقيعات المشائخ الكرام والعلماء العظام عليها فهاانا ادعوكل اخ في الله اليهااذلايسع الجهل عنها طرفة عين

واناعبدالفقيرنظرمحمد الافغاني



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول صاحب الفصاحت و البلاغة و استاذي

## الحاج مولوي محمود الحسن حسيني (رحمة الله عليه)

من سكان قرية سنجري و لايت قندهار افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي علمنا طريقه اهل السنة والجماعة وجعلنا من اهلها والصلوة والسلام من جرهذه الرسوم الى يوم الدين حبيبنا ومولانا محمد سيد الاولين والاخرين وعلي اله واصحابه الذين شيدو هذه الطريقة بايدي المتين امابعد فلماكان الرسالة التي الفهاشيح الشريعت والطريقت الحاج مولاناسيد حمد الله دامت بركاته رسالة وجيزه متينة لكن جمعها جميع عقائد اهل السنة والجماعة
فشمر لتفصيلها اخوناثاقب الزهن مولوي نورالفتاح عثماني سنجري الكندهاري دام فيضه اللهم احفضه من شركل غبي وغوي ومن شرجبار عنيد فنظرت في بعض مضامينها كان صوابا وموافقا للشريعت المحمدي والطريقة الاحمدي واسئل الله ان يتقبل منه سعيه وجعل زخرا له في الدارين آ مين. انا العبد العاصي مولوي محمود الحسن حسيني غفرله الباري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# صاحب تقریظ

## (دارالعلوم عالي هرات)

### في ولایت هرات افغانستان

الحمد لله وحده والصلوة علی من لانبی بعده ولامعصوم بعده ولامة بعد امته ولاکتاب بعدکتابه اما بعد په مختصروخت کښي مو دمولانا نورالفتاح عثماني صاحب په پښتو ژبه کښي لیکل سوي اوترتیب سوي تالیف چه دحاجي آغاصاحب پررساله چه زموږدافغانستان دعلماؤدعقیدي په نامه یادیږي شرح کړي ده مختلف مقامات اوابحاث مو وکتل ماشاءالله ډیره په زړه پوري اوبین الافراط والتفریط مطالب اودلا ئل پکښي راټول کړي چه اکثره دلائل ئي داهل سنت والجماعت مرکزدارالعلوم دیوبند دکتابونه رانقل کړي الله تعالی دي دنوم وړي داخدمت قبول کړي اودمزید تصنیفاتواوتالیفاتو توفیق دي ورکړي

دارالعلوم عالي هرات



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

جامع المنقول و المعقول صاحب فصاحت و البلاغة صاحب البيان و البنان في
التقرير و التحرير فقه العصر

## الحاج مفتی جان محمد (رحمة الله عليه)

رئس المدرسة النعمانية الاسلامية في ولايت قندهار افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و العاقبة للمتقين و لاعدوان الاعلى الظالمين و اشهد ان لااله الاالله
وحده لاشريک له رب العالمين و اله المرسلين و قيوم السموات و الارضين و اشهد ان
محمدا عبده و رسوله المبعوث بالكتاب المبين الفارق بين الهدى و الضلال و الغي
و الرشاد و الشک و اليقين

**امابعد**

زموږ مرشد فضيلة الشيخ الحاج العالم صاحب الورع والتقوى وصاحب
الشريعة والطريقة السيد حمدالله جان آغاصاحب (دامت برکاته العاليه) چي مشهوره
دجلدک په آغاصاحب سره دي يوه جامع رساله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زموږدافغانستان دعلماؤعقیده»په نامه ده و لیکل، اوزموږدافغانستان علماؤخوښه کړه، نوبیائینوعلماؤکرامو«مولوي محمدحسن صاحب، مفتي سیداحمدصاحب، اومولوي نورالفتاح صاحب»پرمذکوره رساله شرحي ولیکلي، نوماهم الحمدلله متن مطالعه کړ ، ماشاءالله په زړه پوري، دډیرومهمومسائلوحامل، پرډیروباریکیواولطائفومشتمل ووچي انشاءالله دهرډول فتنومخه به ونیسي اوپه عقیده ورته لرلوکي به په ټولنه کي پوره وحدت راسي چي دصحیح سالم ذوق خاوندان ډیرڅه ځني ازده کولای سي وریسي مي ټولي شرحي وکتلي چي هره یوه مستنده اومدللة ده اوسلیم الطبع خلک ډیرښه ورڅخه مستفید کیدلای سي، اخیراً: دالله رب العزة څخه امیدلروچي دغه متن اوشرحي خپلي رضاسبب وګرځوي اوپه خپل عالی دربارکي یې قبولي کړي، زموږاودټولومؤمنانوددنیااوآخرت دکامیابی ذریعه وګرځوي،

**و صلى الله تعالى على خير خلقه محمد و اله و اصحابه اجمعين**

مفتي جان محمد



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقریظ

شیخ الحدیث و التفسیر صاحب الفصاحت و البلاغة و صاحب البیان و البنان في التحریر و التقریر

## الحاج مولوي محمد طاؤس (رحمة الله علیه)

من سکان و لایت تـر ین کوت افغانستان


بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله الذي جعل العلماء و رثة الانبیاء و الصلوة و السلام علی اشرف الانبیاء و علی اله و اصحابه الاتقیاء

### امابعد

فقدطالعت هذه الرسالة بمطالعت السریعة لکثرت الشواغل فوجدتهامفیدة لدفع عقائدالفرق باطلة فیجزی الله لمصنفهاجزاءالخیرفی الدنیاوالاخرة

انا الداعی الحاج مولوي طاؤس



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

**شیخ الحدیث و التفسیر صاحب الفصاحت و البلاغة و صاحب البیان و البنان في التحریر و التقریر**

## الحاج مولوي عبدالقیوم (رحمة الله علیه)

**من سکان و لایت ترین کوت افغانستان**

بسم الله الرحمن الرحیم

**نحمده و نصلی علی رسوله الکریم**

**امابعد**

فهذا کتاب جید علی مذهب امام ابی حنیفه رحمة الله تعالی فعقیدة الاحناف ومصنفه خادم لمذهبه الحنفیة

والسلام

الحاج مولوي عبدالقیوم



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

شيخ الحديث و التفسير جامع المنقول و المعقول صاحب تحقيق و تدقيق شيخ السلام والمسلمين

## الحاج مولوي ملاامام اخند (رحمة الله عليه)

من سكان و لايت ترين كوت افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي هدى للاسلام و الصلوة و السلام على رسوله خير الانام

امابعد

فقدطالعت هذه الكتاب فوجدته موافقا لعقيدة اهل السنة والجماعة ومذهب امام ابوحنيفة شكراً لمصنفه

الحاج مولوي ملاامام اخند



(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب التقريظ

حضرت مولناشيخ الحديث و التفسير منبع العلم و الهدى صاحب البلاغة و الفصاحة مبين الكنايات و الاشارات صاحب الطريقت و الشريعت

## الحاج مولوي محمد موسى خان غزنوي (رحمة الله عليه)

مهتمم و شيخ الحديث في مدرسة مدينةالعلوم عزيزية في ولايت ترين كوت افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي على رسوله الكريم و على اله و صحبه اجمعين

**امابعد**

قدرمندوليدونكومادغه رساله چه د جلدک وآغاصاحب ته منسوب ده ،دتصوف په څني مسائلوكي وكتله ډيرښه تحقيقي بيان مشتمله وه،الله دي وكړي چه رائجه اومفيده شي الله دي شيخ طريقت وشريعت سيدحمدالله جان آغاصاحب ته اودرسالي شارح مولوي نورالفتاح صاحب ته اجرخيرنصيب كړي


شيخ الحديث والقران خادم طريقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدموسی خان غزنوي واغظي ،مهتمم وشيخ مدرسة

(مدينةالعلوم عزيزيه)

ترين كوت



(c) ketabton.com: The Digital Library

# متن او صاحب متن

**حمداًلله علي النعمة الظاهرة كمايليق بجلاله وجنابه وصلاة وسلام علي رسوله خيرالنبيين واشرف المرسلين ومن تبع عليها بالنواجذواهتدي بهديه من اصحاب من اصحابه واهل بيته واتباعه الي يوم الدين ،وبعد الحمدلله الذي وهب لشيخناالعقل والذهن ومنحه فصاحة اللسان والهمة التبيان وحضه علي التحلي بالحلي الادبية والتخلق بالمكارم العلية ورعبة في الاقتداء بالسنن السنية بالاقوال المرضية الزكية وامرناشيخنا بالاحسان والافعال الحسني ونهانا عن الاخلاق الدنيئة اللئيمة والافعال الرديئة الذميمة**

زمونږشيخ اوستاذ صاحب شريعت اوطريقت دخپل وخت صاحب دعلوموباطني اوظاهري دفيض منبع دنبوي احاديثوبرلاسي شخصيت محترم مكرم معزم اصلي نوم الحاج مولوي سيدحمد الله آغاصاحب دالحاج مولوي سيدمحمدغوث آغاصاحب ځوي دي،اومشهوره دجلدک په آغاصاحب سره دي په نسب سيددي اودافغانستان دزابل ولايت دقرية خلاثي اوسيدونکي دي اوس مهال دجلدک دحاجيانوپه کلي کي استوګن دي

محترم حاجي آغاصاحب دمدرسة نورالمدارس فاروقي څخه فارغه سوي دي نوم وړي مدرسة دحضرت نورالمشايخ اوحضرت ضياء المشايخ قدس الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرهمادسرپرستي لاندي وه همدامدرسة دافغانستان دغزني ولايت په علاقه دشلګري کي موقعيت درلودي

محترم حاجي آغاصاحب تل دامت محمدي داصلاح لپاره کوشش کړي پدي لړکي نه ستړي کيدونکي قدمونه پورته کړي په شپه اوورځ کي دامت محمدي خدمت په ورين تندي کړي تل ئي دعامومسلمانانواوخاصواشخاصوپه وړاندي خپل دسخادرپرانځي وي ترڅوهغه مسائل چي دوخت په تيردو سره رامخ ته کيږي ورته حل اوفصل کړي په همدي لړکي دحاجي آغاصاحب څخه ځني مخلصنواوعامو مسلمانانودوخت دضرورت په خاطرديوڅوپيچده مسائلوپه اړوند دوضاحت کولوغوښتنه ځني وکړه خوحاجي آغاصاحب دخپلومصرفيتوسربيره ددي ودغي غوښتني ته لبيک ووايه همدغه مسائل ئي دقولي وضاحت سربيره ديورسالي په بڼه هم ورته ورکړه ،دارساله دوندي ښائسته وه چي دمذهب حنفي پرلوي لوي اساساتو ولاړه وه لکه څنګه چي معلومه ده دافغانستان ۹۹فيصده وګړي حنفي مذهبه دي په همدي خاطر ئي نوم هم داسي ورته غوره کړي چي هغه ورسره مناسب وه«دافغانستان دعلماؤعقيده»اوداسي هم نه وه چي داعقائديوازي دحاجي آغاحب اودهغه دمخلصونودي بلکي که موږ وګورودافغانستان دټولواشخاصوهم دغه عقيده ده په همدي خاطرئي نوم داسي عام ورته غوره کړي اوکه يوڅونفره بل رنګه عقيده ولره هغه حنفي اومقليد کيداي نسي

**اللهم انفعنابمحبته و الاقتداء بسير ته امين يارب العالمين**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دليكوال لنډه پيژندنه

مولوي نورالفتاح عثماني دالحاج ملانوراحمداخندزاده ځوي دالحاج خطيب ملامحمدعثمان اخندزاده لمسي،په قوم عليزائي،خلوزائي دكندهارولايت دژړي ولسوالي دسنځري دكلي اوسيدونكي دي،كله چي دشوروي سرولښكروپرافغانستان يرغل وكړددوي كورني هم دنوروهيوادوالوپه څېرپاكستان ته هجرت وكړي دهجرت په وخت كي محترم مولوي نورالفتاح عثماني صاحب دالحاج ملانوراحمداخندزاده په كوركي دي نړي ته سترګي رڼي كړي په كوم وخت كي چي په افغانستان كي دطالبانواسلامي تحريک مينځ ته راغلي ددوي كورني هم دنورو هيوادوالوپه څيرخپل هيوادته راستانه سول،په دغه موده كي اسلام تعليم لپاره ښه زمينه برابره وه،نوده هم دوخت څخه په استفاده پرخپل استاذالحاج مولوي محمودالحسن(حسيني)صاحب سبق ويل شروع كړل،په لږوخت كي دپرمختلۍ وروسته په اسلامي تعليم اوزده كړي لپاره دپاكستان دكوئټې وښارته ولاړي هلته ئي دمختلفواستادانوڅخه سبقان وويل دهغه وروسته پيښورته ولاړي،په پيښوركي اول پرشيخ الحديث والتفسيرالحاج مولنانجم الدين صاحب وړه دوره وكړه ترهغه وروسته ئي په جامعة النوارمحمدية كي پرشيخ الحديث والتفسيرالحاج مولنامحمداسرائيل صاحب باندي لويه دحديثودوره وكړه،اوپه ســـ۱۴۲۷ـــــنه ه ق كي د(۲۴)كالوپه عمركي دخپل شيخ لخوادحديثودفراغت سندوركړل سو،كله چي وخپل وطن ته راستون سوددرس

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوتدريس سربيره ئي تصنيف اوتاليف ته هم مخه کړه دهغوله جملي څخه يوهم دمحترم الحاج مولوي سيدحمدالله آغا صاحب درسالي شرحه ده چي په نامه دمفتاح عقيد ده کوم چي ستاسوپه لاس کيده اوچاپ سوي اثار ئي نورهم دي لکه( شرعي واده)(امام صاحب تقوااوذکاوت)(دنړي په زړه پوري اول) دغه دری واړه کتابونه دسنځرخپرندوبه ټولنې لخواچاپ سوی دي الله تعالي دي دنومړي مولوي صاحب کوشش قبول کړي اوموږده ته دلاړياتوخدمتونوتوفيق دالله تعالي څخه ورته غواړو

**امين**

پدرنښت ::احمدنور(منتظر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يادونه

الحمدلله زه دالله تعالي ډيرشکرګزاريم چي الله تعالي خپل دغه حقيربنده ته ددغي شرحي د ليکلوتوفيق ورکړي ،اودخپلومحترمواستادانوډيرمننډويه يم چي ددشرحي دليکلوپه وخت کي تشويق کړم ،اوبيائي په خپلومبارکولاسودهم دي شرحي پاڼي يوه يوه وکتل ترڅوهغه غلطي اصلاح کړي کوم چي له ماحقيرنه سوي وي ،کوم مسلمان ورورچي دغه شرحه ګوري په دعاکي دي محترم حاجي اغاصاحب اوزما استادان اوهغه مسلمانان نه حيره وي چي پدي کتاب کي مالي اوبدني کومک کړي دي.يوه خبره دياډوني وړبولم که بالفرض په دې شرحه کي کومه غلطي ووينئ هغه خپله اصلاح کړئ اويا دچاپ مطبعي ته ئي خبر ورکړي ځکه داشرحه دمذهب کتاب دي پرهرمذهبي شخص دالازمه ده چي ترخپله وسه ئي دفاع وکړي

الله تعالي دي دغه شرحه په خپل دربارکي قبوله کړي امين ثم امين

**اللهُمَّ انّي اَسْاَلُکَ الثّبَاتَ فِي الاَمْرِ وَاَسْاَلُکَ عَزِيمَةَ الرُّشْدِ وَاَسْاَلُکَ شُکْرَ نعْمَتکَ وَحُسْنَ عبَادَتکَ وَاَسْاَلُکَ لسَانًا صَادقًا وَقَلْبًا سَليمًا وَاَعُوذُ بکَ منْ شَرّ مَا تَعْلمُ وَاَسْاَلُکَ منْ خَيْرِ مَا تَعْلمُ وَاَسْتَغْفرُکَ ممّا تَعْلمُ انّکَ اَنْتَ عَلاّمُ الْغُيُوبِ**

برحمتک ياذوالجودوالکرم والاحسان

**امين**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مقدمه

**الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، ولا عدوان الا على الظالمين. و اشهد ان محمدا عبده ورسوله خاتم النبيين و امام المتقين و اله و اصحابه، و من تبعهم باحسان الى يوم الدين.**

**امابعد:**

حمد او ثنا دي وي هغه ذات لره چي ټول کائينات يې په واک کي دي، د ټولو عالمونو رب او پالونکی دی، داسي رب چي ژونديو ته سا ورکوونکی دی او د سا اخيستلو واک يې هم له ده سره دی، داسي رب چي حي القيوم دی او په کائيناتو کي يو حرکت او سکون هم د ده ﷻ له ارادې پرته نه تر سره کيږي او نه په کارونو او واک کي کوم سيال او شريک لري، داسي رب چي پر ټولو عالمونو ورحمېده او د دوی په منځ کي يې انسان پيدا کړ او د انسان د هدايت (لارښودني) لپاره يې د عالمونو شهکار او د مخلوقاتو بې مثاله هستي او خپل خوږ استاذی سرور کائينات، فخرالموجودات حضرت محمد ﷺ راولېږه او د ده په نور يې ټوله کائينات منور کړل او د ده ﷺ په راتګ يې د مځکي مخ جنت وګرځاوه. داسي رب چي وېويل: که چا د ده ﷺ لاره وينول د جنت پريشتې به يې مخونه شکل کړي او د جنت اوبه يې په نصيب سوې او که چا د ده ﷺ لاره پرېښوده د قهرجنو لمبو خوراک سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چا سره چې په سرونو کې عقل او پوهه وي، انسانيت او سړيتوب ور سره ملګرى وي هغوى تل همدا خبره کوي او وايي: د همدې ستر شخصيت (رسول کريم ﷺ) راتګ و دې نړۍ ته د انسانانو لپاره يو الهي نعمت و او دى. کله چې انسانانو د هدايت لاره ورکه کړه او د ګمراهۍ په تيارو کې ورک او سرګردانه سول، الله ﷻ د دوى د لارښوونې او هدايت لپاره همدغه ستر انسان او د انبياوو سالار مبعوث کړ او د همدې امت لپاره يې يو ستر لارښود او د اخلاقو نمونه وګرځاوه. همدغه بعثت د الله ﷻ له لوري پر خپلو بندګانو د ترحم او مهرباني يو ستر دليل دى چې، الله ﷻ نه غواړي چې، انسانان دي د جهالت او ګمراهۍ ښکار سي او له دې امله دي د جهنم د لمبو خوراک سي.

د همده مبارک ﷺ راتګ هم د دې ستر هدف لپاره و چې، د الله ﷻ د سترو مخلوقاتو په منځ کې همدغه ستره هستي انسان چې، پر نورو مخلوقاتو يې د ښو او صالحو اعمالو له امله غوره ګرځولى دى د هدايت لاره پيدا کړي او پر هغه نيغه لاره روان سي چې الله ﷻ ور ته ټاکلې ده ترڅو د الله ﷻ د وحدانيت (يوالي) عقيده په ځان کې ورزوي او د الله ﷻ عبادت په داسي ډول سره وکړي چې د شرک بوي همنه وي په کښي، او د همدې لارې په برکت د الله ﷻ د رضا او رحمت وړ وګرځي، همدارنګهد عباداتو په وسيله له هغه نعمتونو څخه برخمن سي چې الله ﷻ د خپلو خاصو بندګانو لپاره اراسته کړي دي او د همدغه عباداتو د کولو په واسطه يې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ نبي ﷺ خپله ورسپارل سوې دنده په پوره امانت دارۍ سره تر سره کړه او ورسپارل سوی مسؤلیت یې په داسي ډول سره ادا کړ چي، د بشریت په تاریخ کي یې ساری نه دی لیدل سوی. په لږ وخت کي یې د الله ﷻ د وحدانیت (یوالي) ږغ تر ډیرو لیرو ځایونو پوري ورساوه او د ډیرو سترو ګمراهانو سخت زړونه یې په همدغه ږغ ولړزول، ډیرو لارو ورکو ته یې لار و ښودل، ډېر تاریک زړونه یې د ایمان په نور روښانه کړل. ده ﷺ د خپل نبوت دنده یوازي دانه چي عباداتو ته یې ځانګړې کړې وه بلکي د الله ﷻ د عبادت ولورته د خلکو د بلني تر څنګ یې د یوه بشپړ تمدون ځانګو هم وځنګلوله یعني یو پراخه او په هره معنی یو بشپړ تمدون یې را منځ ته کړ او ټول انسانان یې د وحشت، بربریت او ځان غوښتني له تاریکیو څخه د علم، پوهې، او ښېګڼو و لوري ته راوبلل. د شرک، کفر او ظالمانه عقایدو څخه یې د وحدانیت، الهي دین او وروليې و لورته دعوت کړل. د هر چا تر غوږونو یې د حق دعوت ورساوه. د حق لور ته په بلنه او خلکو ته په نېغه لار ښوونه کي یې له هیچا څخه وس و نه سپماوه. د چا حق یې پر ځان پرې نه ښوده، څه چي یې د ځان لپاره غوره بلل هغه یې د نورو لپاره هم خوښ او خېر و بلل.

د حضرت محمد ﷺ له رحلت وروسته د ده مبارک، سپېڅلې دنده د ده زړورو او په دین مینو اصحابو کرامو ته پاته سوه چي، دوی هم په خپل وار سره د اسلام د دین په خپراوي کي له هیڅ ډول ستړیاوو او سربښندنو څخه ځان شاته نه کړ، د سر او مال په ورکړه یې د اسلام دین د نړۍ تر لیري لیري ګوټونو ورساوه. د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنانو ته يې تاريخي او شرموونکي ماتي ورکړې چي تر اوسه هم د کفارو يا د اسلام د دښمنانو په زړونو کي د هم هغو جنګيالو صحابه کرامو د توري او نېزو او د دوی د ټينګو ايمانونو وېره سته او وي به.

د همدې مېړنيو (صحابه) کرامو له مهالونو وروسته همدغه د دين دعوت، د دين په ساتنه کي د جهاد له لاري قرباني او سر ښندني، تابعينو کرامو، تبعي تابعينو او نورو مسلمانانو ته پاته سوې چي له هغه وختونو بيا تر ننه، مسلمانانو د دين په ساتنه کي له هيڅ ډول سرښندنو څخه ځان نه دی سپمولی. په هر وخت کي ډيرو مسلمانانو د خپل مال او سر په ښندلو د اسلام له دين څخه په کلکه دفاع کړې او هر وخت د اسلام د دين ويښو جنګياليو قوماندانانو او مسلمانو افرادو هڅه کړې ده چي، د کفارو هغه يرغلونه چي، د اسلام او مسلمانانو په وړاندي خنثه ګرځي، له منځه يوسي او وړي يې هم دي او د اسلام د دين علماء د حق لورته د امت مسلمه د رابللو، انسانانو ته د حق د لاري ځرګندولو لپاره تر وسه زيات کړاونه ګاللي دي او مسلمانان يې له دې ټکي سره په بشپړ ډول بلد کړي دي چي، کومي لاري د الله ﷻ د رضا او خوښی لامل ګرځي او کومي لاري د شيطان او د هغه د ملګرو دي چي، د الله ﷻد سخت قهر او نيووني لامل ګرځي.

د اسلام د دين د خپرېدا سير (پرمختګ) چي کله په اسلامي تاريخونو کي ګورو نو پوهيږو چي، د اسلام دين په لومړيو کلنو کي، ورو ورو خپرېده خو بيا هم په عين ورو ورو والي کي په ځومره چټکی سره د عربي جنګيالو په مټ د عربو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزيرې له مرکز (مدينې منورې) څخه بيا د نړۍ تر ليرې ليرې هيوادونو پورې په ډومره سر ښندنو او قربانيو ورسېده چې، ښه مثالونه يې د نړۍ په هر ګوټ کې د اسلام د هغو لومړنيو زړورو مجاهدينو زيارتونه دي چې، د صحابه کرامو په نومونو ثبت او پېژندل سوي دي.

زموږ ګران هيواد افغانستان هم يو له هغو اسلامي هيوادنو څخه دی چې، د اسلام لومړني جنګيالي ورته راغلي دي او د اسلام دين يې ورته راوړی او د دې هيواد خلک يې له دغه ستر نعمت څخه د الله ﷻ په خاصه مرسته او پېرزوينه برخمن کړي دي. د افغانستان اوسېدونکو له اسلام راوړولو څخه وروسته هروخت او په ټينګه له اسلام څخه دفاع کړېده او ځانونه يې له دې لارې سره په محبت لرلو کې قرباني کړي دي. زموږ د هيواد اوسېدونکي له اسلام سره ټينګ اساس او مينه لري او د دې ادعا د ثبوت لپاره يې هم دغه يوه خبره بس ده چې په سل کې نه نوي (۹۹)سلنه يې مسلمانان دي او د هيواد په ټولو برخو کې د اسلام دښمنو کفارو کومې نښې نه تر سترګو کيږي چې يو کلي دي د کفارو په نامه دلته ثبت وي.که وي هم هغه په نه کې حساب دي.

په نړۍ کې ډېر لږ هيوادنه سته چې له داسي امتياز څخه دي برخمن وي چې، نه نوي (۹۹) سلنه خلک دي يې مسلمانان وي. د نړۍ پر مخ ډېر داسي مسلمان هيوادونه سته چې د مسلمانانو تر څنګ کافران هم په زياته پېمانه په کې اوسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله د الله ﷻ د زیات حمد او شکر او د افغانانو لپاره د ویاړ خبره داده چې ټول افغانان یوازي او یوازي د یوه واحد خدای ﷻ پر وجود اقرار کوونکي دي او له جلي شرک نه په مطلق ډول لیري او بېزاره دي خو کله نا کله په ځینو مسائلو او عباداتو کي له ځینو هغو افغانانو څخه چې په دیني مسائلو کي ناپوه وي شرک خفي څرګندسي چې کله افغانان پوهـ کړل سي دا عمل به خپله بد او ناخوښه بولي. په داسي وخت کي ځینو کسانو ته چې له عامو مسلمانانوسره د عقائیدو او عباداتو په ځینوبرخو کي اختلاف لري موقع غنیمت ښکاره سي او د ځان ښووني او یا په دین کي د پوره علم نه لرلو له امله پر عامه مسلمانانو د مشرک الزام یا ټاپه ولګوي. په عقائدو یا عباداتو کي که څه هم د شرکي خفي عمل له عوامو خلکو څخه چې په دین باندي ناپو دي ښکاره سي دوی یې نسبت د دې امت و اکثر برخه علماء کرامو ته کوي چې، اخیر خبره د مسلمانانو تر منځ و ژورو اختلافاتو ته ورسیږي تر څو دا عمل د مسلمان امت لپاره تر مرګوني ګذار هم بد تمام سي ځکه چې، د مسلمانانو تر منځ د نفاق او د مسلمانانو د کمزورتیا لامل هم داسي اختلافات وي چې، تل کفارو د مسلمانانو تر منځ له داسي اختلافاتو څخه ډېره ګټه اخیستې ده او مسلمانان یې کمزوري کړي دي.

زما په فکر ښه خبره خو داده چې لومړی علماء کرام تر خپل منځ داسي اختلافات حل کړي چې، د ټول امت لپاره به ستر خېر سي او عوامو ته په دین کي پوهاوی ورکړل سي او که بیا هم د ځینو علماء کرامو د اعتقاداتو په اړه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسي چي دا فلانی عالم څنګه عقيده لري؟ او دا اختلاف پاته وي او حل نه سي، په هغه وخت کي بايد اختلافاتو ته پاملرنه وسي چي، ايا دغه اختلافات د عقيدې پر بيناد دي او که د نظريې؟ دغه اختلافات چي د دې کتاب د ليکلو لامل سول نظري اختلافات خو نه دي ځکه چي، نظري اختلافات خو د ژوند په مسائيلو کي د انسانانو ترمنځ طبعي دي او که دا اختلافات عقيدوي وي، هم بايد په ښه اصلاحي طريقه او قناعت ورکونکي د لا ئيلو سره حل کړل سي او که خداي ﷻ مه کړه دا اختلافات همداسي ناحله پاته سي نتيجه يې ورو ورو د مسلمانانو تر منځ د نفاق، بدبختی، بې باوری، يو بل ته په سپکه کتل، يو بل ته سپک ويل، د مسلمانانو د کمزوری او داسي نورو زيانونو لامل ګرځي لکه اوس هم چي مسلمانان له دې امله کړيږي. راځئ په ټولو ووايو چي:

يا الله! زموږ پر حال رحم وکړې، زموږ له منځه هم دغه د اختلافاتو بل اور ليري کړه چي، ستا دښمنان پر موږ حاکمان نه سي.

که موږ مسلمانان ځير سو، زموږ په وخت کي اختلافات دومره ډېر دي چي عوام انسانان پرخواصو بد وايي. دا بد ويل په سبب د علماء کرامو د اختلاف دي. په ټولنه کي د عقيدې اختلافات رامنځ ته کول اکثر د علماء کرامو له لوري وي. د ژوند په دغه اساسو شرائطو کي چي موږ اوسو د علماء کرامو تر منځ اختلافات د عوامو لپاره بلکي د ټول امت مسلمه لپاره سخته ضربه ده. که موږ لږ او ډېر لير و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو دابه ومنو چې نن ورځ د مسلمانانو تر منځ یو کوچنی اختلاف هم تر اټم بم ستر ناورین رامنځ ته کوي او د مسلمانانو اتحاد او قوت له منځه وړي.

داچې زه هم د دې ټولني غړی یم، د یوه مسلمان په صفت له ټول امت مسلمه او بیا په خاص ډول له علماء کرامو څخه دا هیله لرم چې د الله ﷻ په خاطر له روانو اختلافاتو ځانونه وساتئ، د اسلام دښمنانو ته په لوی لاس نور وخت مه ورکوئ چې زموږ له اختلافاتو د اسلام په زیان او ځانونو لپاره ګټه واخلي.

د مسلمانو علماء کرامو تر منځ اختلافات ټول امت په فکر او تشویش کې اچوي او له عوامو څخه د دین اصلي لار ورکوي او پر علماؤ باندي لرلی باور یې له زړونو څخه وړي چې بیا به یې پر یوه عالم هم باور نه راځي. د علماء کرامو لپاره ښه خبره داده چې دوی تر خپل منځ کوم اختلافات لري، هغه په ارامه (سرېنه سینه) او مسؤلانه ډول سره، د خبرو او د لا ئیلو له لاري حل کړي چې، هم دغه د قرآن کریم او سنتي محمدي طریقه ده. د علماؤ کرامو له خوا دې زیار و ګالل سي چې دا اختلافات عوامو ته پرې نږدي او عوام په دې مسائلو ورګډ نه کړي ځکه چې، عوام د دین د مسائلو په صحت او نه صحت نه پوهیږي او نه یې د حل لاري او طریقې ورته معلومیږي بېله دې چې، د دین او د دین د علماؤ کرامو سپکاوی ځني رامنځ ته سي.

دا هرچا ته ښکاره ده چې په دین کې احساسات او نظریات ځای نه لري، ځکه چې، قرآن کریم او نبوي احادیث زموږ تر منځ وجود لري چې په کې هرڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واضح او ښکاره بيان سوي دي، صرف د نظرياتو او احساساتو ور ګډول په کار نه دي. د علماء کرامو تر منځ دي پر اختلافي مسائلو بحث وسي کوم لوری چي پر حق ود هغوی حقانيت دي ومنل سي او هغه بل لوری که ربښتيا هم د دين غم او د مسلمانانو پر دين باندي د روانولو نيت ور سره وي له اختلافاتو دي لاس واخلي، تر څو د امت محمدي ﷺ تر منځ د اختلافاتو مخه ونيول سي او که د دې اختلافاتو اور ته نوره هم لمن ووهل سي دا به د امت محمدي ﷺ د نور زلت او بدبختۍ لامل وګرځي چي تر منځ به يې د بې اتفاقۍ او بې باورۍ فضا رامنځ ته کړي. د دې اختلافاتو وروستۍ نتيجه به دا وي چي هر بې دينه به پر ديندارو، علماء کرامو او نورو پرهېزګارو انسانانو تهمت وايي او عوام به پر علماء کرامو بې باوره سي.

د عوامو او علماء کرامو تر منځ فاصله راوستل راته سخته لويه ګناه ښکاري. د دې ګنا هره نتيجه به د هغه چا پر غاړه وي کوم څوک چي، د خپل شهرت او شخصي ګټو په خاطر د امت محمدي ﷺ بې اتفاقي غواړي. په دا اوسني څو کلنو کي د مسلمانانو تر منځ د روانو ديني او سياسي اختلافاتو له امله بې باوري دومري ډېره سول چي، د مسلمانانو په يوه ستره ټولنه کي د مثال لپاره د اعتماد وړ کس نه پيداکيږي. هغه که په ديني اړخ کي وي او که د ژوند په يوه بل اړخ کي وي.

په داسي کړکېچونو حالا تو کي چي ورځ تر بلي له مسلمانانو څخه د مسلمانانو تر خپل منځي اختلافاتو له امله د اسلام مستقيمه لار ورکيږي، دا مي د ځان مسؤليت و باله او په خپله ټولنه کي مي د دين په اعتبار د يوه مسؤل کس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځېر دا پرېکړه وکړه چې، د خپل هیواد د مسلمان اولس لپاره ځومره چې زه پوهېږم دا ځرګنده کړم چې، په داسي حالا تو کي چې فتنې د باران په ځېر وریږي او د مسلمان امت تر منځ په پراخه پېمانه د اختلافاتو د راولاړه ولو لپاره د اسلام د دښمنانو له لوري په زیاته کچه پانګونه ( سرمایه ګذاري ) کیږي، سپین مو په تور او تور مو په سپین بدلیږي، خپله عقیده او ایمان ځنګه وساتو او یا زموږ عقیده ځه ده.

دا یوه ښکاره خبره ده که موږ خپله عقیده و نه پېژنو او له خپلو علماء کرامو ځخه یې زده نه کړو ډېر ژر به د هغو خلکو د عقائدو ښکار سو چې، د دائمي هلاکت لوري ته مو بیایي او دوی به زموږ د ضعف له امله د ور سپارل سوو دندو نتیجو ته چې منفي اړخ لري رسېدلي وي

د دې لپاره چې د دوی دغه شوم اهداف چې لري یې خونثا سوي وي او یا یې په خپل ټول وس د خپلو نورو ټولو هم نظرو سره په یوالي کي خونثا کړم په هره لوره او ژوره وختم، له ډیرو سره مي ولیدل، د کتابونو ډیري پاڼې مي واړولې داسي نخسه په لاس رانغله چې د ناروغ لپاره دارو وګرځي.

ځیني یې داسي نُخسې وې چې په خپل ځان بسیا وې او ځیني بیا داسي وې چې، د عوامو د رنځ لپاره ګټوري نه وې. زه په دې وخت کي د فکرونو په دریاب کي لاهووم نه پوهېدم چې ځه وکړم او له کوم ځای ځخه یې راپیل کړم. په دې حساس وخت کي مي نظر د جلدک اغا صاحب و لور ته چې، اصلي نوم یې الحاج مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيد حمد الله اغاصاحب رحمه الله دی نظر واوښت او د ده يوه وينا چي څو لنډي برخي يې لرلې تر غوږونو را ورسېده.لږ وخت وروسته د ده د هغې اوږېدل سوي وينا مطابق يوه وړه رساله تر ګوتو را ورسېده.

په دې وړه رساله کي زموږ د افغانستان د علماء کرامو د عقائدو بيان په ډېر ښه ډول سره سوی و خو يوه څه اجمال يې درلود. دا رساله د اهلې سنت او جماعت يا زموږ د مذهب په داسي اساساتو ولاړه وه چي هر اساس يې د سوريا ستورو په څېر ځلېده مګر د ځينو عوامو لپاره دا خبره هم ګرانه وه چي، د دې لنډي او اسانه رسالې په مطلب دي و پوهيږي.

د دې رسالې د غوره نقاطو د اهدافو د ښکاره او څرګندولو په خاطر دې ټکي ته اړ سوم چي، د دې رسالې تحليل او تجزيه وکړم او ارزښت يې و هر امتي ته واضح او دا ورته په ګوته کړم چي،زموږ د عقيدې هر اساس چي په دې رساله کي ذکر سوی دی، هغه د سمي لاري د برابرۍ لپاره ښه ذريعه ده او له کوم چا څخه چي خپله عقيده ورکه وي، د هغه لپاره ښه څراغ دی.

په هر صورت زه د دې رسالې په ښه وضاحت او اساني کي تر خپله وسه زيار باسم چي، هر مسلمان ورور په هغه څه چي په دې رساله کي دي په اسانۍ په و پوهيږي او هر ليدونکی يې په ليدلو خوښ او د هر ترږي لپاره ښه اوبه کونکې و ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب په ترتیب کې زه اول د حاجي اغاصاحب مبارک رحمه الله رساله په بشپړ ډول راوړم او بیا د تحلیل او تجزیې لپاره د همده مبارک له رسالې څخه یوه یوه برخه یا متن را اخلم د قران کریم، احادیثي نبوي او د اهل سنت والجماعت د علماء کرامو د علماو پوهې د تجریبو په اساس یې په داسې ترتیب شرحه کوم.

کوم عبارت چې لوړ ذکر وي او له هغه سره (قوله) راغلی وي هغه متن یا عبارت د حاجي اغاصاحب رحمه الله دی او کومې خبرې چې وروسته راغلې وي هغه د همدې رسالې د شارح یعني زما حقیر بنده خبرې به وي او د دې شرحې ماخذونه لکه مخکې چې وویل سول د مذهب د علماء کرامو معتبر کتابونه او د هغوی اقوال وي. انشاء الله دا شرحه به د الله جل جلاله په خاصه مرسته او رحمت قدم په قدم د حنیفي دیوبندي عقیدې پر اساس او نقش قدم وي او له بشپړتیا وروسته به د علماء کرامو په وړاندې کېښودل سي تر څو د هغوی تر نظر تېره سي. کېدای سي له ما څخه ځینې تېروتنې سوي وي دوی مبارکان به هغه نیمګړې ځایونه راته په ګوته کړي. په اخري کې زه له الله جل جلاله څخه دا غوښتنه کوم چې له ما عاجز سره ملګری سي او د دې رسالې په بشپړتیا کې له سر نه تر پایه پوري توان راکړي ځکه چې، الله جل جلاله تر ټول ښه کومک کوونکی دی.

مولي نورالفتاح ((عثماني ))عفرله البأری

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

**د دې رسالې نوم دی:**

**(زموږ د افغانستان د علماء کرامو عقیده)**

الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى اما بعد: فاقول الحمد لله:

موږ په مذهب د اهل سنت و الجماعت يو. څلور سره مذهبه حق دي. حق يې بولو.

١ - مذهب د امامام اعظم صاحب مبارک رحمه الله.

٢ - مذهب امام مالک صاحب مبارک رحمه الله.

٣ - مذهب د امام شافعي صاحب مبارک رحمه الله.

۴ - مذهب د امام احمد بن حنبل صاحب مبارک رحمه الله.

دا څلور سره مذهبه حق دي. موږ په مذهب د حضرت امام اعظم ابو حنيفه مبارک رحمه الله باندي يو.

همدارنګه څلور سره طريقې حقي دي او حقي يې بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - طریقه نقشبندیه شریفه.

۲ - طریقه قادریه شریفه .

۳ - طریقه چشتیه شریفه .

۴ - طریقه سهر ور دیه شریفه .

زیارتونه که لیري وي او که نژدې وي، ورتلل یې جائز بولو. خور دې او مالگي له زیارته را اخیستل جائز بولو.

د خوردې د جواز په هکله، ردمختار د حج په بحث کي تر دغه عنوان لاندي ( مطلب في کراهیت الاستنجا بماء زمزم ) داسي وایي:

خاوره، یعني خورده د بیت الله شریفي څخه را اخیستل په نیت د تبرک سره جائز ده او ملا علي قاري صاحب د مرقات په ( ۱- جلد – ۱۵ مخ ) کي زما مرقات ( ۵ ) جلده دی. د امام بخاري رحمه الله د احوالو په هکله داسي وایي: کله چي امام بخاري رحمه الله دفن سو، له قبر څخه یې د مشکو خوشبویي را پورته سوه، نو خلکو د ده له مقبرې څخه خاوره یعني خورده د تبرک لپاره وړله.

تیسیرالقاري چي د بخاري شریف شرح ده هم ( ۱ –جلد- په ۹ مخ ) کي د امام بخاري رحمه الله د احوالو په اړه هم دغه بیان راوړي او شیخ الاسلام پرهام ش د تیسیرالقاري په ( ۲ جلد- ۹ مخ ) کي هم دغسي وایي: رحمت بیان وایي تبرکاً دحرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریف ځخه خاوري یعني خورده، شګي وچ لرګي و غېره تبرکاً کورته وړل جائزدي. په دې شرط چې حرم شریف ته نقصان نه وي او له بیت الله شریفي ځخه لږ خاوري یعني خوردې تبرکاً اخیستل روادي په دې شرط چې بیت الله شریفي ته نقصان نه وي (د رحمت بیان ۱- جلد، ۲۷۷ مخ).

له زیارته ځخه مالګي، شګي او خاوري یعني خوردې را اخیستل جائز دي او د دې خاوري یعني خوردې د کارولو طریقه دا ډول ده چې، خاوره یعني خورده په اوبو کي واچوي، هرکله چې اوبه صافي سوې بیا دې غوړپ کي.

د اسقاط دوره یا دوري اسقاط جائز بولو. مولُد شریف او نور د ښو شپو خیراتونه جائز او روا بولو ځکه، (والوقت اذاکان افضل کان العمل الصالح فیه افضل). مرقات په (۱۲) باب کي د ضحي فصل اول لاندي تر اخیري حدیث شریف دا وايي:

ژباړه: کوم وخت چې زیات فضلت ولري په هغه وخت کي نېک عمل هم زیات فضلت لري.

دمونه، تعویضونه او ځاښتونه جائز او روا بولو. اوس هم په یوه نه یوه طریقه کي ځان داخیلول ښه بولو.

الحمد لله د افغانستان نژدې ټول خلک په طریقت کي داخل دي او بعضي مبارکان که نه وي داخل سوي ښه عقیده ورته لري او حق یې بولي، ښايي وخت به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې نه وي پيدا کړی او دا خبره دي هم هر چاته معلومه وي چي منکر او بد کار چي له هر نېک او ښه کار سره ملګری سي هغه ښه نه دی نه موږ ورته ښه وايو او نه بل مسلمان ورته ښه ويلای سي. کوم کار چي ښه وي هغه ته ښه وايو او کوم کار چي بد وي هغه به بد يادوو. ښه کار به کوو او له بد کاره به مخ اړوو.

محمد بن عبدالوهاب (نجدي) او د ده اتباع چي وهابيان يې بولي، موږ د دوی په اړه داسي وايو: لکه څرنګه چي (ردمختار د البغات په باب کي وايي) او يا لکه څرنګه چي تفسير صاوي تر دې ايات شريف لاندي وايي: ( **ان الشيطان لكم عدو فاتخذوه عدوا انمايدعوا حزبه ليكونو امن اصحاب السعير**) (۱- جلد- ۱۷۰ مخ) او په (۱۷۱ مخ) يعني دا کتابونه يې ښه نه بولي، موږ يې هم ښه نه بولو.

دعا کول وروسته تر فرضو او سنتو په جمع واري سره مستحب عمل دی نه بدعت. د (نورالايضاح) (مراقي الفلاح) (طحطاوي) (فيض الباري) په ۲ جلد- ۱۲۷ مخ او ۴۳۱ مخونه چي په دې مخونو او جلدونو کي خاص د دعا په اړه بيان راغلی دی او دا لاندي کتابونه بيا د ټولو ذکر سوو مسائلو په اړه دي لکه:

**اول**: (البصائر) چي د مولوي حمدالله جان صاحب د ډاګي تصنيف دی.

**دوهم**: (سيف القندهاري) چي د مولوي عبيدالله صاحب ايوبي تصنيف دی.

**دريم**: (اثبات الاغراض) چي د مولوي ښايسته ګل صاحب تصنيف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم** : (نورالصراط) چي د مولوي نورالدين صاحب د چمن تصنيف دی.

**پنځم** : (جرئت الائمه) چي د مولوي عبدالقيوم اخندزاده تصنيف دی.

په دې اړه نور کتابونه هم سته چي دغه اختلافي مسائل يې ښه څېړلي دي. که هر مسلمان ورور دغه پورته ياد کتابونه ښه په غور وګوري، په پورته مسائلو به يې ښه سر خلاص سي او سره له دلائلو به يې ولولي.

هر څوک چي پر هغه مخکنۍ بيان سوې عقيده باندي وي، هغه کس هر وخت د رحمانيه عرفانيه جامعې په مدرسه کي تعليم او تعلوم يعني استادي او شاګردي کولای سي او که پر هغه لوړه عقيده نه وي په هغه صورت کي بيا استادي او شاګردي نه سي کولای.

زموږ د افغانستان علماء، مشائخ او عام خلک ټول نه وهابيان دي، نه سلفيان او نه اهل حديث او نه پنج پيريان دي او نه بريلويان دي بلکي ټول اهل سنت ولجماعت دي. پرمذهب د حضرت امام اعظم مبارک رحمت الله عليه باندي دي. که چيري يو څوکسان پر بله لاره روان سوي وي هغوی ته اعتبار نسته.

(لاحول ولاقوته الابالله العلي العظيم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**درسالې ليکونکی:**

**( فقير مولوي سيد حاجي حمدالله جان اغاصاحب. فايز مدرسه نورالمدارس فاروقي الحنفي مذهباً النقشبندي مشرباً افغانستان ولايت زابل قريه خالا مولداً علاقه جلدک مسکناً ).**

فقير مولوي سيد حاجي حمدالله جان اغاصاحب:د نورالمدارس فاروقيه مدرسې فارغ چي، د حنفي مذهب او د نقشبنديه طريقې پيرو او د افغانستان د زابل ولايت د جلدک د سيمي د خالاد کلي اوسېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله: الحمد لله موږ پرمذهب د اهل سنت والجماعت يو...

اهل سنت والجماعت، يا ناجيه، يا د حق ډله هغه ده کوم چي د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو خصوصاً د خلفاء راشدينو پر طريقه يا نقش قدم تلګ کوي او کومه لاره چي هغوی د ژوند کولو په خاطر د ځانونو لپاره ټاکلې وه روان وي، لکه څرنګه چي د الله ﷻ پيغمبر ﷺفرمايلي دي.

**( و تفرق امتي علي ثلاث و سبعين ملة، کلهم في النار، الا ملة واحدة. قالو، و ماهي يارسول الله، قال: ما انا عليه و اصحابي ).**[1]

**ژباړه**: زما امت به په ۷۳ ډلو ووېشل سي، ما سېوا له هغه يوې ډلي څخه،نور به ټول دوږخ ته ځي.صحابه کرام پوښتنه وکړه، يا رسول الله! هغه ډله کومه يوه ده ؟نبي ﷺ ورته وفرمايل: هغه ډله ده، په کومه طريق چي زه او زما صحابه کرام دي. له پورته حديث شريف څخه دا مطلب په لاس راځي، کوم څوک چي د الله تعالی ﷻپه کتاب او زما د سنتو اتباع کوي هغه به د دوږخ په اور نه سوځل کيږي او له دوږخ څخه به نجات پيدا کړي.

کومي ډلي ته چي په حديث شريف کي اشاره سوې ده چي، له دوږخ څخه به نجات پيدا کړي هغه (اهل سنت و الجماعت) ده. بل د پورته حديث شريف له دغه کلماتو چي (کلهم في نار) څخه هغه کسان يا ډلي مراد دي چي غلطي او ګډي وډي

[1]- ترمذي : ۲ جلد ۱۸۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقيدې پالي. له صحيح عقيدې څخه په بل لوري كاږه سوي وي. همدغه د غلطي عقيدې درلودنكي به د خپلو غلطو عقائدو له امله دوږخ ته لوېږي. كه د چا عقيده دومره خرابه نه وه چي سبب د كفر او شرک وګرځي په هغه صورت كي به د غلطي عقيدې كس د ګناه سزا مومي. د الله ﷻ له لوري د ورته تاكل سوي سزا ورسته به له دوږخه وځي او جنت ته به ځي. (2) په تلويح او توضيح نومي كتاب كي د اهل سنت والجماعت لپاره داسي تعريف سوى دى.

(**السواد الاعظم عام ة المسلمين طريقهم طريق الرسول ﷺ و اصحابه دون اهل البدع**) [3]

**ژباړه**: يعني د سواد اعظم څخه مراد اهل سنت والجاعت دى. دا هغه ډله ده چي د نبي عليه السلام او د هغه د صحابه كرامو په لاره روان وي. اهل بدعت له دې قانون څخه وتلي دي.

شيخ احمد رومي رحمه الله ويلي دي:

(**لان المراد بالامة المطلقة اهل السنة و الجماعة و هم الذين طريقهم، طريق النبي ﷺ و اصحابه. دون اهل البدع والضلال كما قال النبي ﷺ امتي من استن بسنتي.**) [4]

[2] - مكتوبات: امام رباني مكتوب نمبر (۳۸)
[3] - توضيح و تلويح: (۳۵۰) مخ.
[4] - مجالس الابرار: (۱۰ او ۱۳۱) مخونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**:د امت مطلقه څخه مراد اهل سنت والجاعت دي. دا هغه خلک دي چې د نبي عليه‌السلام په حديث شريف کې غوره خلک بلل سوي دي. په دين کې پر هغه لاره روان دي، کومه چې د نبي عليه‌السلام او د هغه د ملګرو يعني اصحابو کرامو لاره وه، اهل بدعت او ضلال څني مراد نه دي. لکه څرنګه چې په دې اړه نبي عليه‌السلام فرمايلي دي:

**ژباړه**: زما امت هغه دی کوم چاچې زما لاره غوره کړه.

حضرت امام رباني، مجدد الف ثاني رحمه‌الله وايي:

**(وشک نيست که فرقه ملتزم اتباع اصحاب ان سرور اند عليه و علهيم الصلوات والتسليمات اهل سنت و جماعت اند. شکر الله سعيهم)**[5]

**ژباړه**: په دې خبره کې هيڅ شک او شهبه نسته، هغه ډله چې د نبي عليه‌السلام او د هغه د ملګرو صحابه کرامو اتباع ضروري بولي او عملي کوي يې. هغه اهل سنت والجماعت دي. الله جل‌جلاله دې پردوی ورحميږي او د دوی سعي او په دين کې کوښښونه دې مشکور وګرځوي.

حضرت غوث الاعظم شاه عبد القادر جيلاني رحمه‌الله وايي:

---

[5] - مکتوبات امام رباني: مکتوب نمبر ( ۸۰ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فعلي المؤمن اتباع السنة والجماعة فالسنة ماسنه رسول الله ﷺ والجماعة مااتفق عليه اصحاب رسول الله ﷺ في خلافة الائمه الاربعه الخلفاء الراشدين المهديين عليهم اجمعين.**[6]

پر مومن بنده لازمه ده چي د اهل سنت والجماعت اتباع وکړي. سنت طريقه هغه ده په کومه چي نبي علیه‌السلام عمل کاوه او جماعت هغه لاره ده پر کومه چي خلفاء راشدينو د خپلو خلافتونو په زمانه کي اتفاق په کړی و. هغه برابره لاره چي دوی ته ور ښودل سوې وه او هم دوی نور خلکو ته ورښودله چي، نن د نړۍ مسلمانان د هم دغو صحابه کرامو د قربانيو په نتيجه کي د دين ثمره خوري. الله جل‌جلاله دي پر ورحميږي.

په تکمله د بحرالرائق کي د عبدالله ابن عمر رضي‌الله‌عنه څخه يو حديث شريف روايت سوی دی. په دې حديث شريف کي د (اهل سنت والجماعت لس (۱۰) نښې ذکر سوي دي.

**۱- ان يصلي الصلوات الخمس بالجماعة.**[7]

**ژباړه**: پنځه وخته (فرضي) لمونځ په جماعت سره ادا کوي.

**۲- ولا يذكر احداً من الصحابة بالسوء و لا ينقصه.**[8]

---

[6] - غنية الطالبين: ( ١٤٢ ) مخ
[7] - تکملة بحرائق: ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: په صاحبه کرامو کي د هیڅ ذکر په بدو سره نه کوي او نه پر هیڅ یو صحابي عیب لګوي، بلکي د ټولو صحابه کرامو درنښت او عزت لري.

**۳ - ولا یخرج علی السطان بالسیف.**[9]

**ژباړه**: او د مسلمان عادل پادشاه په مقابل کي توره نه پورته کوي، یعني له مسلمان پاچا څخه بغاوت نه کوي او د هغه اتباع کوي.

**۴ - و لا یشک في ایمانه**[10]

**ژباړه**: په خپلا یمان کي شک نه کوي (خپل ځان په پوره باور سره مسلمان او مؤمن بولي.

**۵ - و یؤمن بالقدر خیره و شره من الله تعالی.**[11]

**ژباړه**: پر قدر ایمان (باور) لري. خیر او شر د الله تعالی له لوري بولي.

**۶ - و لایجادل في دین الله تعالی.** [12]

**ژباړه**: د الله تعالی په دین کي کوږ والی نه کوي.

---

[8] - تکملة بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ
[9] - تکملة بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ
[10] - تکملة بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ
[11] - تکمله بحرائق : ۲جلد ( ۱۸۲ ) مخ
[12] - تکمله بحرائق :۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۷ - ولا يكفر احداً من اهل التوحيد بذنب.**[13]

**ژباړه**: د يوې ګناه كولو په وجهه اهل توحيد ته كافر نه وايي. يعني كه له يوه بنده څخه يوه ګناه وسوه او دغه ګناه كار بنده د ګناه كولو تر څنګ د الله تعالى ﷻ پر وحدانيت ايمان او باور درلود. اهل سنت والجماعت ډله دغه بنده ته كافر نه وايي تر څو يو بنده د الله تعالى ﷻ له وحدانيت څخه نه وي منكر سوى او يا كوم حلال، حرام او حرام، حلال و نه بولي.

اهل سنت والجماعت ډله تر خپله وسه دا كوښښ كوي چي پر يوه بنده د كفر اطلاق و نه سي. په همدې خاطر په شرح فقه اكبر ابوالمنتهي كي وايي:

**و قد ذكروا ان المسئلة المتعلقة بالكفر اذا كان لهاتسع و تسعون احتمالاً لكفر و احتمال واحد في نفيه، ولا ولي للمفتي والقاضي ان يعمل بالاحتمال الثاني.**[14]

**ژباړه**: يعني كه په يوه بنده كي نه نوي ( ۹۹ ) احتمالات د كفر وي او يو احتمال په نه كفر كي وي، مفتي او قاضي لره په كار ده چي دغه يوه احتمال ته ترجه وركړي.

**۸ - ولايدع الصلواة على من مات من اهل القبله .**[15]

**ژباړه**: كه د اهل قبله وو څخه څوک وفات سي، د هغه جنازه او لمونځ نه پرېږدي. هغه مړي ته د لمانځه ادا ينه كوي.

---

[13] - تكمله بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ
[14] - ابوالمنتهي : ( ۱۹۹ ) مخ
[15] - تكملة بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹- ویرى المسح على الخفين جائزاً في السفر والحضر.** [16]

**ژباړه**: په سفر او په کور دواړو کي د موزو مسحه جائز بولي.

**۱۰- و يصلي خلف كل امام بر و فاجر.** [17]

**ژباړه**:د هر نېک او بد شخص تر شاه لمونځ کول جائز بولي، يعني په جماعت کي که هر څوک مخته سي دوى لمونځ پسي کوي.

په هر صورت اهل سنت والجماعت هغه ډله ده چي، د نبي عليه‌السلام پر نقش قدم او د صحابه کرامو په لاره روان وي. ټولو صحابه کرامو ته درناوى ولري. څلور مذهبه او څلور سره طريقې حق و بولي. همدا ډله اهل سنت ولجماعت ده. الحمد الله موږ دغه پورته ياد سوي شيان ټول منو او همدارنګه په فرعي مسائلو کي د امام اعظم ابو حنيفه رحمه‌الله پر مذهب يو او په اصولو کي، يعني په اعتقادي مسائلو کي د ابو منصور ماتردي رحمه‌الله په طريقه روان يو.

د دارالعلوم ديو بند باني حضرت مولانا محمد قاسم ناتوى رحمه‌الله، حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه‌الله او همدارنګه نور مشائخ کرام رحمهم‌الله د دارالعلوم

---

[16] - تكملة بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ
[17] - تكملة بحرائق : ۲ جلد ( ۱۸۲ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوبند ، په هم دغه مسلک دي.دې خبري ته د ( دارلعلوم دیوبند په دستور اساسي مع ائین ) کي هم اشاره سوې ده.[18]

کوم څوک چي له همدغي پورتنی عقیدې څخه خلاف عقیده ولري هغه اهل سنت والجماعت د ډلي څخه نه دي. الحمد الله زموږ د افغانستان علماء کرام ټول په همدغه پورتنی عقیده دي. دا هغه عقیده ده چي نبي علیه‌السلام ناجیه ورته ویلې ده. د دوږخ له اور څخه د نجات زېری ورکړی دی.

که چیري یو چا ته په دې خبره کي شک وي هغه دي دغه پورتنی لسو علامو یا نښو ته نظر وکړي چي، ایا! دغه علامې زموږ په علماء کرامو کي سته او که یا؟ له سمي عادلانه پلټني وروسته به دا خاماخا ورته څرګنده سي چي دغه لس نښې نښانې زموږ په علماء کرامو کي سته. په همدې خاطر موږ دا دعوه کوو چي موږ اهل سنت والجماعت یو.

[18] - دستور اساسي مع آیین دارالعلوم دیوبند: ( ٥ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **قوله**/ څلور سره مذهبه حق دي حق يې بولو..

محترم حضرت مولوي حاجي سيد حمدالله جان اغا صاحب. وايي : څلور سره مذهبه حق دي، حق يې بولو.

زمونږ اهل سنت والجماعت داعقيده ده کوم څوک چې غېر مجتهد وي په ديني مسائلو، تفسيرالقرآن، حديث نبوي همداسي د دين په نورو مسائلو کي د اجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی، پر دغسي غير مجتهد شخص باندي د څلورو امامانو له جملې څخه د يوه امام لکه:

**اول** : امام اوبو حنيفه رحمه الله.

**دوهم** : امام مالک رحمه الله.

**دريم** : امام شافعي رحمه الله .

**څلورم**: امام احمد بن حنبل رحمه الله.

د لاري يا مذهب تقليد يعني پيروي واجب ده. په دې خبره باندي دليل د امت محمدي ﷺ د جمهورو علماء کرامو اجماع ده.کوم څوک چې د اجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی هغه کس دا توان نه لري چي کامل ايمان او سالم عمل څښتن سي. څوک چې په دين کي د اجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی د هغوی سلامتيا په ايمان او عمل کي د دين په امورو کي د پورته يادو امامانو په تقليد يا پيروي کي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مسلمانان ورونه چي په دين کي د اجتهاد له شرائطو سره سم چي د دين امامانو ورته ځانګړي دي د اجتهاد درجې ته نه وي رسېدلي، هغه که څه هم په دين کي ستر علماوي بيا هم د دوی لپاره د خېر لاره د پورته امامانو په پيروي کي ده.[19]

د ښه پوهاوي لپاره دا ښه ګڼم چي يو بېل بحث د تقليد په موضوع کي د تقليد اثبات او اړتيا لپاره ولرم او د تقليد موضوع نوره هم ښه روښانه کړم، تر څو د تقليد تعريف، د مجتهد تعريف، د تقليد حکم، د تقليد ثبوب او د تقليد داسي نور مسائل چي ښه نه وي ښکاره سوي هغه ښکاره سي ځکه چي، دا مسائل ښه واضح سوي نه وي تر هغو څوک حقيقت ته نه سي رسېدلای. کېدای سي دغه بحث يو څه اوږد وي خو انشاء الله ستړی کېدونکی به نه وي.

---

[19] - فتاوای رحيميه: ۱ جلد ۲۳٤ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقليد

د تقليد لفظ د قلد يقليدو د باب مصدر دی. د تقليد د لفظ ماده د قلا دي څخه اخيستل سوې ده. د قلادي کلمه چي کله د انسان لپاره وکارول سي غاړه ګۍ ورته ويل کيږي او که د حيوان لپاره وکارول سي په هغه صورت کي پړی يا (وړغندی) ورته ويل کيږي. موږ الحمد الله انسانان يو، نو له همدې کبله زموږ لپاره تقليد غاړه ګۍ. ده چي موږ هم همدغه د انسانانو لپاره معنی څني اخلو.

### تقليد په لغت کي:

تقليد په لغت کي يو شی په غاړه کولو ته وايي.

### د فقهاوو په اصطلاح کي:

تقليد د دين په امورو کي د يوه ديني عالم يا پېشوا د ښه نيت له مخي د هغه د يوه (قول يا فعل) منل او قبلول دي او دا ويل دي چي، ده دغه قول يا فعل د قرآن او حديث سره سم کړی دی. بل د دغي مسئلې لپاره دليل نه موندل دي او نه تر دليل پوري ځنډول دي. که چيري وروسته او يا په دغه وخت کي مقليد ته دليل ښکاره سي دا خبره د تقليد سره منافي نه ده. مقصد دادی چي په تقليد کي د دليل غوښتنه نسته او پر دليل باندي علم ضد نه دی له تقليد سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علامة ابن مالک رحمه الله په شرح منار کي داسي وايي:

**( وهو اى التقليد عبارة عن اتباعه في قوله او فعله متعقداً حقيقه من غير تامل في الدليل )**[20]

په نامي شرح حسامي کي بيا داسي وايي:

**( التقليد اتباع الغير على ظن انه محق بلانظر في الدليل )** [21]

سيد محمد موسى رحمه الله د تقليد تعريف داسي کوي.

**( التقليد يعتمد الانسان في فهم الحكم من الدليل على غيره لاعلى نفسه )**[22]

د دې ټولو تعريفاتو حاصل زما په فکر يو شی دي هغه دا چي، د مجتهد قول او فعل ( وينا او کار ) معلومول يوازي او يوازي د ښه نيت او عقيدې له مخي وي او پر دې خبره عمل کول دي او د عمل او تسليمېدو په وخت کي د مجتهد څخه د دليل نه غوښتل دي او که وروسته بيا مقليد ته دليل معلوم سي. هغه د تقليد سره منافي ( ضد ) خبره نه ده.

له همدغه مخکني عباراتو څخه دا خبره هم ښکاره کيږي چي، د تقليد او اتباع په معنى کي هم توپير نسته. کومو خلکو چي د تقليد او اتباع په منځ کي فرق

---

[20] - شرح منار : (٢٥٢) مخ طبع مصري
[21] - نامي شرح حسامي : ( ١٩٠ ) مخ
[22] - الاجتهاد : (٥٦٧) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی دی، دا د دوی خپل نظر او فکر دی. د دوی دغه نظر او فکر پر موږ نه سي تپل کېدای او نه پر موږ حجت کېدای سي.

د غېر مقلدینو مشهور عالم علامه ثناء الله امر تسري په خپله رساله کي داسي وایي: د تقلید او اتباع په مابین کي کوم فرق نسته.[23]

حافظ ابن قیوم رحمه الله وایي:

**تقلید محض قول بلا معرفته و (اتباع) على وجه البصيرت**.[24]

تقلید خالص ویناده بیله پیږندګلوي ددلیل او اتباع د دلیل پېژندلو نوم دی. د ده دغه وینا د تقلید او اتباع فرق کوي مګر دا فرق اعتباري دی پرموږ دلیل نه سي کېدای.

حکیم الامت مولانا محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله د تقلید تعریف داسي کوي.

تقلید: د یوچا قول په ښه نیت سره په داسي ډول منلو ته وایي چي، هغه دا خبره یا مسئله له دلیل سره سمه بیانوي یا بیان کړې ده او د مقلد له مجتهد نه د دلیل نه غوښتنه ده. ځني کسان له تقلید څخه تښته کوي. د تقلید لپاره هغه تعریف کوي چي ده دوی له مقصد سره سم وي.[25]

---

[23] - حدیث او تقلید شخصي ۱۵ او ۱٦ مخونه.
[24] - اعلام الموقعین- ۱ جلد (۲۵۸) مخ
[25] - الاقتصاد ( ۵ ) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني کسان له تقليد څخه تښتنه کوي. د تقليد لپاره هغه تعريف کوي چي د دوی له اهدافو سره يو رنګ وي. هر کله چي يو شی يوازي په هغه تله و تلل سي چي يو چا يوازي د خپل ځان لپاره جوړه کړی وي او يوازي د خپلي خوښي شيان په کي تلي په هغه صورت کي تول سم نه راځي او نه هم د نورو د قناعت وړ ګرځي. خبر هغه د هغه کس يا کسانو کار دی چي اشياوو او مفاهيمو ته له کوم نظره ګوري او د تقليد مخالفين په څومره ځان خوښي او ځان غوښتني سره چي په دين کي تر بل هر چا ځان ښه پوهان او هوښيار بولي خو موږ د ځان لپاره د تقليد په اړه يو ښه او پراخ علمي نظر لرو او ځانونو او هغه نالوستو يا په دين کي د ناپوهو کسانو لپاره يې نعمت او خير بولو ځکه، ټول کسان مؤمنان لکه څرنګه چي ښايي او يا پر فرض ده چي په دين کي د اړتيا په کچه (چي روا او ناروا، حلال او حرام) په کي وپېژني پوه تر لاسه کړي تر څو د دنيا او اخيرت خير يې په برخه سي. دا چي زموږ مسلمانان اوس په داسي موقف يا حال کي دي چي د دنيا په اړه هرڅومره پوهه تر لاسه کوي او د دين په اړه که څه هم اخيرت يې خرابيږي د يوې مسئلې زده کړه هم نه کوي، چي تر ډېره خو اوس د مسلمانانو دا ناورين په برخه سوی دی چي دا خو پرېږده چي قرآن کريم په معنی زده کړي په لفظ يې لاهم نه زده کوي، احاديث خو بيخي پېژني هم نه، نو د داسي کسانو لپاره چي د ړندو مثال لري دومره خو د هغه کسانو لپاره په کار ده څوک چي سترګي لري چي، دغه ړانده تر لاس ونسي او له کندو يې وساتي او يا يوه نابلده سړي ته يو بلد کس لاره وښيي او همدا رنګه پر هغه ړوندو هم لا زمه ده چي يا ځانونه خپله بنا کړي او يا هم د هغو کسانو لار ښودنه و مني چي ورته لاره ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تقليد موضوع هم داسي ده چي ټول مسلمانان نسي کولای او يا وړتيا د دې نه لري چي دومره پوهه دي په دين کي تر لاسه کړي چي هغوي دي له قرآن کريم او يا احاديث نبوي څخه د ټول ژوند په چارو کي د ټولو مسائلو هغسي سم او کره استنبات وکړي لکه د دين مجتهدين چي يې کوي او يا هغوی کړی دی. کله چي خبره داسي سوه چي د قرآن کريم او احاديثو په توري ترجمه پوهېدنه، نه،بلکي له قرآن کريم څخه د مسائلو استخراج د هر چا د وس خبره نه سوه نو په داسي صورت کي د تقليد اثبات يا د تقليد اړتيا په خپله منځ ته راځي.

بل هغه کسان چي په تقليد اعتراض کوي او ځانونه غېر مقليدين يا له تقليد څخه ازاد بولي، دغه کسان هم ازاد نه دي ځکه، دغه د غېر تقليد يا د غېر مقليدونو تګلاره يا نظر يه يا مذهب هم د يوچا يا يوه عالم لاره يا مذهب دی چي هغه په دين کي دغه لاره غوره بولي او تقليد ورته يو خطا عمل ښکاري. د غېر مقلدينو د ډلي له هغه لومړي کس څخه (چي هرچا ته ښکاره ده چي لږ وخت يې کيږي را منځ ته سوی دی) وروسته نور ټول پيروان يا غېرې مقلدين د هم هغه لومړي کس پيروان يا مقلدين دي.

که لږ او ډېر رشتيا ته غاړه سره کښېږدو دا به هر څوک ومني چي يو هم له تقليده ازاد نه دی. د تقليد رسۍ د هرچا غاړي ته لوېدلې ده.

بل: تقليد دا معنی نه ده چي يوازي په څلورو مذاهبو کي حصر يا خاص دی. بلکي تقليد د علومو او د ژوند په نورو يا ټولو اړخونو کي راځي. لکه په دې اړه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا محمد امین صفدر رحمه الله وايي: (د تقلید د تعریف له مخي، (د راوي روایت منل تقلید في الروایت دی). د مجتهد د رایت منل تقلید في الدرایت دی. د یو محدیث په رایه یو حدیث ضعیف یا صحیح منل هم تقلید دی د یوه امتي له لوري جوړ سوي اصول حدیث، اصول تفسیر، اصول فقه منل هم تقلید دی.[26]

[26] - مجموع الرسائل : اول، جلد. مولانان محمد امین صفدر صاحب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مطلق تقلید د قران په رڼا کي.

د مطلق تقليد جواز او وجوب د قرآن کريم له ډيرو اياتونو څخه معلوميږي. که څه هم دغه اياتونه يو خاص (ځانګړی) شانزول لري مګر حکم يې د هر وخت لپاره دی. که چيري موږ دغه اياتونه بېله کوم ځان غوښتني (خود نظری) څخه مطالعه کړو خامخا به د تقليد د جواز او وجوب اړوند دليل راته ښکاره سي. د پورته ادعا لپاره زه دلته يو څو اياتونه د اجمال په ډول راوړم.

**۱**- فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (٧)[27]

**ژباړه**: که چيري تاسونه پوهېږئ، د علم او پوهي له کسانو څخه پوښتنه وکړی.

**۲** أُوْلَئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ[28]

**ژباړه**: دغه حضرات داسي وو کوم ته چي الله تعالی هدايت کړی دی. تاسو هم د دوی په لاره ولاړ سئ. په دغه ايات شريف کي الله تعالی د مخکنيو انبياوو عليه سلام د اتباع حکم کړی دی.

**۳** - (أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا)[29]

**ژباړه**: د ملت ابراهيمي اتباع وکړئ، په کوم کښي چي هيڅ کجي نسته.

---

[27] - سورة الانبياء: ايات ٦
[28] - سورة الانعام ايات ٨٩
[29] - سورة الاعمران ايات ٩٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ - ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ(33) ..﴾ [30]

**ژباړه** : اې د ایمان والاوو! د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت وکړی او د اولی لامر اطاعت وکړی. په اولی لامر کې ائمة مجتهدین، بلکې څلور واړه امامان هم داخل دي.

۵ - ﴿ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ(83) ... ﴾ [31]

**ژباړه** : او که دغه خلک دغه امر و رسول ﷺ ته او اولی لامر ته حواله کړي نو کوم اهل فقه او اهل استنباط دی او دوی په پوهه کړي چې، کوم عمل جائز او کوم نا جائز دی. له دغه ایت نه صراحتاً د آئمة اربعة اتباع او تقلید معلومیږي.

۶ - ﴿فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ122...﴾ [32]

**ژباړه**: یعني ولې نه وځي د هري ډلې نه یو جماعت د دې لپاره چې فقه او پوهه په دین کې حاصله کړي او چې کله دوی را وګرځي خپل ټبر ته هغوی ته پوه ورکړي د دې لپاره چې، د الله تعالی په احکامو پوه سي تر څو د نافرمانۍ نه وژغورل سي.

۷ - ﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ(24) ... ﴾ [33]

---

[30] - سورة محمد ایات ۳۲
[31] - سورة النساء ایات ۸۲
[32] - سورة توبه ایات ۱۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: او ما په دوی کي مخکښان يعني پېشوايان پيدا کړي دي. هغه خلک چي زما په لاره وي چي، کله دوی صبر وکړي او زما په اياتونو يې يقين وي.

**٨** - وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ... )[34]

**ژباړه**: د هغه چا اتباع وکړئ چي زما و لوري ته يې ميل (رجوع) کړې وي.

**٩** - يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ(119) )[35]

**ژباړه**: اې د ايمان والاوو! له الله تعالى څخه ووېرېږئ او د صادقو خلکو سره و اوسئ.

دغه پورته اياتونه د تقليد د حقيقت يا اثبات لپاره ډېر ښه واضح او ښکاره دلائل دي. که چيري په دغه اياتونو کي فکر وکړل سي او په معنى او مفاهمو يې سړى ځان په ښه ډول و پوهوي، د مقلدينو لپاره ښه دلائل دي.

دغه خبري ته چي په دغه اياتونو کي د تقليد ښکاره دلا ئل سته، علامه حضرت مولانا حافظ عبدالرحيم لاجپوري رحمه الله هم اشاره کړې ده. دى مبارک وايي: له دغو اياتونو څخه اتباع او تقليد په ښکاره توګه معلوميږي او د مطلق اتباع او تقليد د اثبات لپاره ښکاره دلائل دي.

---

[33] - سورة سجده : ٢٣ ايات.
[34] - سورة لقمان : ايات ١٥
[35] - سورة توبه : ايات ١١٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مطلق تقلید د احادیثو په رڼا کي.

مطلق تقلید په حدیثو سره هم ثابت دی. د دې لپاره چي د تقلید اثبات له ایاتونو وروسته په احادیثي نبوي سره هم ثابت سوی وی څو احادیثونه راوړو.

**۱ - عن حذیفه رضی الله عنه، قال- قال: رسول الله ﷺ، اني لا ادري ما بقائي فیکم فاقتدوا باللذین من بعدی ابي بکر و عمر.**[36]

**ژباړه**: له حذیفه رضی الله عنه عنه څخه روایت دی، دی فرمایي: نبي علیه السلام وفرمایل: ماته معلومه نه ده چي زه به تر کوم وخته پوري ستاسو په منځ کي ژوندی یم. نو له هم دې خاطره له ما وروسته د ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه اتباع وکړئ.

**۲ - علیکم بسنتي، و سنة الخلفاء الراشدین المهدین: الحدیث.**[37]

**ژباړه**: تاسو زما او زما د صالحو خلفاء راشدینو لاره په ټینګه سره ونسئ.

**۳ - عن معاذ بن جبل رضی الله عنه. ان رسول الله ﷺ لما بعثه الی الیمن. قال کیف تقضی اذا عرض لک قضاء قال: اقضی بکتاب الله قال: فان لم تجد في کتاب الله. قال: بسنة رسول الله ﷺ . قال: فان لم تجد في سنة رسول الله. قال: اجتهد رایي**

---

[36] - مشکوة : ٥٦٠ مخ
[37] - مشکوة :٣٠ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ولاالو قال: فضرب رسول الله ﷺ على صدره و قال: الحمد الله الذي وفق رسول رسول الله ﷺلما يرضى به رسول الله.** [38]

**ژباړه:** له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی. دی وايي: کله چي زه حضرت محمد ﷺ په يمن کي د قاضي په صفت مقرر کړم د تلو په وخت کي يې راته وويل: اې معاذ! که چيري تا ته يوه مسئله راسي ته به په هغه وخت کي په څه شي پرې کړه کوې. ما وويل: د الله جل جلاله په کتاب سره. بيا نبي عليه السلام وويل: که دي د الله جل جلاله په کتاب کي پيدا نه کړه. ما وويل: د نبي عليه السلام په سنتو سره. بيا نبي عليه السلام وويل: که دي په هغه کي هم نه کړه پيدا. ما وويل: په خپله رايه به پرېکړه کوم، يعني اجتهاد او استنباط به کوم. معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي: کله چي نبي عليه السلام دغه ځواب واورېده، ډېر خوشاله سو.

دی وايي: بيا نبي عليه السلام خپل مبارک لاس زما پر سينه کښېښود او وېويل: الله تعالی لره دي حمد وي چي، د خپل رسول و قاصد ته يې د دې خبري توفيق ورکړ په کومه خبره چي الله تعالی خوښ او راضي دی.د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه له دغه حديث شريف څخه څو خبري څرګنديږي.

**۱** - ډيري داسي مسائلي سته چي په قرآن کريم او احاديثي نبوي کي يې ښکاره حکم نه معلوميږي، په داسي حال کي اجتهاد ، تقليد او اتباع ته اړتيا پيداکيږي، نو

[38] - مشکوة : ۳۲۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرور یا اړینه ده چي د قرآن کریم او احادیثي نبوي په رڼا کي، د دین علماء کرام اجتهاد، تقلید او اتباع وکړي.

**۲** - هغه مسائل چي منصوصي نه وي. یعني صراحتاً د یوې مسئلې حکم په ایات او حدیث شریف سره نه وي ثابت سوی، په دغه وخت کي په اجتهاد او رایې سره حکم کول ښه کار دی. ځکه، په دې خبري سره نبي علیه‌السلام خوښي ښکاره کړې ده.

**۳** - رایه او اجتهاد د الله تعالی نعمت دی ځکه، نبي علیه‌السلام په دې کار حمد او ثنا ویلې ده.

**۴** - د نبي علیه‌السلام لاس د معاذ بن جبل رضی‌الله‌عنه پر سینه ایښودل، دې خبري ته اشاره ده چي، د علوم نبوي فیوضات او برکات د فقهي د مجتهد سره دي. د مجتهد سینه د نبوي فیوضاتو څخه برخمنه ده.

**۵** - که د معاذ بن جبل و دغه حدیث شریف ته وکتل سي د تقلید، اتباع او اجتهاد ښکاره ثبوت په کښي سته.

**۶- ( كانت بنو اسرائيل تسوسهم الانبياء كلهم هلك نبي خلفه نبي و انه لا نبي بعدي و سيكون خلفاء فيكثرون.[39]**

[39] - مسلم : ۲ جلد ۱۲٦ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**:د بني اسرائیلو سیاست او حکومت د انبیاوو کرامو سره و. کله چي به یو نبي وفات سو، بل نبي به یې پر ځای راتی. خبرداره اوسئ له ما وروسته بل نبي نه راځي مګر له ما وروسته به زما خلیفه ګان وي او ډېر به وي. یعني زما په ژوند کي زما اتباع پر تاسو لاژمي ده او له ما وروسته زما د خلیفه ګانو اتباع پر تاسو لاژمي ده.لکه څرنګه چي له مخکني ایاتونو څخه مطلق تقلید ثابت سو همدارنګه له دغو پورته احادیثو څخه هم د مطلق تقلید ثبوت و سو او مطلق تقلید ترې ثابتیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تقلید اقسام.

تقلید پر دوه ډوله دی.

**۱ - مطلق تقلید.**

**۲ - شخصي تقلید.**

مطلق تقلید: هغه تقلید ته ویل کیږي چي، مقلید د تقلید لپاره د یو معلوم مجتهد او امام تقلید نه کوي. کله د یوه امام مسلک اختیار کړي او کله د بل امام پر قول عمل کوي. دغه سي تقلید ته تقلید مطلق ویل کیږي.

شخصي تقلید: هغه تقلید ته ویل کیږي چي مقلید د یوه معلوم مجتهد تقلید اختیار کړي. د همدغه مجتهد پر قول او مسلک باندي عمل کوي. دې تقلید ته شخصي تقلید ویل کیږي.

د صحابه کرامو او تابعینو په زمانه کي دغه دواړه ډوله، مطلق او شخصي تقلید شتون در لود. په دواړه ډوله تقلید عمل کېده. د دې خبري د ثبوت لپاره ډېر د لائل په لاس کي لرو خو له موږ څخه لږ سترېا غواړي. د اصحابو کرامو او تابعینو په زمانه کي دغه خبره ډېره عامه وه چي چا به د فقهي په مسائلو کي پوهه نه درلوده هغوی به د فقهي په مسائلو کي له هغو کسانو څخه پوښتني کولې چابه چي په فقهي مسائلو کي پوه درلوده او په پوهېدل به.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي به یوه پوښتونکي له یوه فقهي عالم څخه د یوې مسئلې اړوند پوښتنه وکړه او عالم به د ده د سوال سره سم ځواب ورکړ. سوال کوونکي به د ځواب سره سم عمل کاوه او بیا به په دلائلو پسې نه ګرځېده. څکه چي دلته به یو خواته هغه چاته چي پوښتنه کوي په دین کي دومره پوهه نه وه چي په خپلهله قرآن کریم او احادیثو نبوي څخه مسئله د اجتهاد د اصولو سره سمه استخراج کړي او بل لوري ته یې د دین پر هغو عالمانو چي یا د اجتهاد درجې ته رسېدلي وو او یا یې د مجتهدینو نه اورېدلي مسائلي ښه زده کړي وې د نورو باور و چي عامو مسلمانانو په دین کي پر خپلو اکابرو علماء در لود.

حضرت مولانا شاولي الله (دهلوي) رحمه الله وايي:

د صحابه کرامو د وخت نه بیا تر څلورګونو مذاهبو د ظهور تر وخته دا قانون و چي، کله به د مسلمانانو ترمنځ یو مجتهد عالم پیدا سو د دین په مسائلو کي به د هغه تقلید کېده او په دې کار باندي زموږ د دین په اکابرو کي یوه عالم او باوري کس منع نه د کړې.[40] که چیري تقلید باطل وای، خامخا به په هغه لومړیو کي ځینو علماء وو چي د مسلمانانو ترمنځ یې ښه اعتبار درلود منع کړې وای. څکه چي په هغه وخت کي علماء کرام د دین په روح تر اوس ښه پوهېدل. که څه هم اوس دین د هغه وخت په لحاظ ډېر پراخه او سانه سوی هم دی خو دا یوه خبره د اوسنیو او لومړنیو علماء تر منځ سته چي هغوی یعني مخکني علماء کرام د دین په روح او

[40] - عقدالجید : ۲۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصل هدف ښه پوهېدل ځکه چي، هغه وختونه تر اوس وخت د وحیو د نزول او د محمدي رسالت وختونو ته نژدې وو. په هغه وختونو کي، درایت او پوهېدنه د دین په مسائلو کي ډېره ښه کېده. که موږ وګورو په اوس وخت کي ساینسي پرمختګونه چي له مادیت سره تړلي دي ډېر دي چي، په هغه وختونو کي یې هیڅ فکر هم نه کېده او په هغه وخت کي د دین په مسائلو کي ننوتل او په هغوی کي فهم او درک کول او له قرآن او احادیثو څخه د مسائلو استنبات تر اوس یو په سله ښه کېده ځکه چي د دین امور معنوي اړخ لري چي، تر اوس وخت په هغه وخت کي خلک یو په سله معنوي وو او د مادیت له تارکیو لیري وو.

د حضرت مولانا شاه ولي الله دهلوي ﷫ له دې وینا څخه چي پورته یاده سوه، مطلق تقلید ثابتیږي. هغه:یعني مطلق تقلید که په زمانه د صحابه کرامو کي و او که په زمانه د تابعیونو کي و. په دغه زمانو کي لکه څرنګه چي تقلید مطلق وجود درلود، همدارنګه تقلید شخصي هم رواج و. ځکه، ځینو صحابه کرامو به د یوه صحابي قول ته ترجیح ور کوله او ځینو به د بل صحابه قول ښه باله. مثلاً:

د مکي مکرمې خلکو به تر خپل منځ په اختلافي مسائلو کي د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ په قول عمل کاوه.

د مدینې منورې خلکو به تر خپل منځ په اختلافي مسائلو کي د حضرت زید بن ثابت ﷺ په قول عمل کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوفې خلکو به تر ډېره حده په اختلافي مسائلو کې د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷜ په قول عمل کاوه.

دې پورته دلائلو ته چې ګورو دا راته ښکاره کوي چې د صحابه کرامو په زمانه کې هم په پیراخه پېمانه تقلید وجود درلود.

همدارنګه، امام بخاري ﷫ او امام مسلم ﷫ فرمایي: له ابو موسی اشعري ﷜ څخه د یوې مسئلې پوښتنه وسوه. که یو څوک وفات سي او ورثه يې لور، لمسۍ او یوه خور پاته سي، په داسې صورت کې میراث څنګه تقسم کړو. ابو موسی اشعري ﷜ ورته وویل:

لورته نیمه برخه، خورته نیمه برخه او لمسۍ محرومه ده. سوال کوونکي همدا مسئله عبدالله ابن مسعود ﷜ ته وړاندې کړه. عبدالله ابن مسعود ﷜ ورته وویل:

زه هغه حکم درته بیانوم کوم چې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ بیان کړی دی. د لور لپاره نیمه برخه ده. د لمسۍ لپاره شپږمه برخه ده او پاته ټوله يې د خور په حق کې ده. سوال کوونکي دا خبره بیرته ابو موسی اشعري ﷜ ته یووړه. ابو موسی اشعري ﷜ و وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( لا تسئلوني مادام هذا الحبر فيکم )**[41]

**ژباړه**: تاسو تر هغه وخته پورې چې دغه متبحير عالم (عبدالله ابن مسعود ﷺ ) په تاسو کې ژوندی وي له ما څخه پوښتنه مه کوی، له هغه څخه يې کوئ.

ايا دا تقليد شخصي نه دی؟ او ايا د پورته روايت د تقليد شخصي د ثبوت لپاره يو ښه ثبوت يا دليل نه دی؟ايا دا تقليد شخصي د صحابه کرامو په زمانه کې نه و؟

همدارنګه امام بخاري ﷬ له حضرت عکرمة ﷺ څخه روايت کوي.

**( ان اهل المدينه سئالو ابن عباس عن امراة طافت ثم حاضت، قال لهم تنفر، قالوا لاناخذ بقولک و ندع قول زيد .**[42]

د مدينې منورې خلکو د حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه د هغې ښځې په اړه پوښتنه وکړه چيله طواف فرضي وروسته حائضه سي. ده ﷺ ورته وويل: (دا ښځه دا اوس بېله طواف رخصت تللای سي که يا) حضرت ابن عباس ﷺ عنه ورته وويل: (دا بېله طوافه تللای سي) د مدينې خلکو ورته وويل: ايا موږ ستاسو په قول عمل وکړو او که د زيد. سره له دې چې موږ د زيد قول هم نسو پرېښودلای.

[41] - مشکوة : ٢٦٤ مخ
[42] - بخاري : کتاب الحج ٢جلد ٢٣٧ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورته روایت څخه دا خبره ښه ښکاره سوه چې، د مدینې خلکو د دین په مسائلو کې د زید بن ثابت ﷺ تقلید کاوه چې همدغه د زید ﷺ تقلید هم شخصي تقلید و.

د پورته روایت و دې جملې ته که وکتل سي ( **لاناخذ بقولک و ندع قول زید** ) او ښه فکر په کښې وسي. تقلید شخصي ځني له ورایه ثابتیږي.

اوس راځو د هغه کسانو خبرو ته چې وایي : شخصي تقلید بدعت یا حرام دی. که چیري شخصي تقلید حرام یا شرک وای او یا حرام او بدعت وای نو ولې عبدالله ابن عباس ﷺ د مدینې خلک د زید ﷺ له تقلید کولو څخه نه منع کول چې ورته ویلې یې وای چې شخصي تقلید حرام دی. د هغو کسانو له دې خبرې څخه چې وایي (شخصي تقلید حرام، شرک یا بدعت دی) دا خبره څرګندیږي چې ګواکې ابن عباس ﷺ دومره پوهه نه درلوده چې حلال او حرام یا روا او ناروا یو له بله سره و پېژني سره له دې چې حضرت ابن عباس ﷺ د ټول صحابه کرامو پر وړاندې د ډېر درنښت او عزت کس و. ټولو صحابه کرامو د ده ﷺ علمیت مانه :

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ د خپل وخت مجتهد او ستر عالم و. ده به ویل: تر کوم وخته چې حضرت علي ﷺ وي او د هغه فتوی موجوده وي د بل چا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتوی ورکولو اړتیا نسته.[43] او تر کومه وخته چې مسلم بن عبدالله ﷺ ژوندی وو امام نافع فتوی نه ورکول.[44]

له پورته مطلب څخه دا څرګنده سوه چې، د امام نافع ﷺ په زمانه کې خلکو د سالم بن عبدالله ﷺشخصي تقلید کاوه.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ هغه حدیث شریف کوم چې مخکې ذکر سو، که څوک په غور ورته وګوري د شخصي تقلید د ثبوت لپاره قوي دلیل دی. هغه داچې حضرت محمد ﷺ و غوښتل چې خپل یو فقهي صحابي یمن ته واستوي د دې لپاره چې د یمن پر خلکو قاضي او حاکم سي او د یمن پر خلکو دا لازمه وه چې د معاذ ﷺ حکم او خبري ومني.

همدارنګه حضرت محمد ﷺ و حضرت معاذ ﷺ ته یوازې د قرآن او سنت حکم نه کوې بلکې د اړتیا پر وخت یې د اجتهاد او قیاس سره سم د فتوی ورکولو اجازه هم ورکړې وه.

ایا! د پورته حدیث شریف له بیان څخه، دشخصي تقلید او اجتهاد پرته بل څه معلومیدای سي؟ نه هیڅ کله نه ، په دې حدیث شریف کې د شخصي تقلید او اجتهاد څخه پرته بل څه نه ښکاري.

---

43 - کلمة الفصل ( ١٩ ) مخ

44 - تذکره الحفاظ : ١ جلد، ٩٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شخصي تقليد ته اړتيا.

دا يو ښکاره حقيقت دی چي د تابعينو په دو ر کي د فقهاوو سبعه يعني ( اووه فقها) پر فتوی عمل کېده. سر بېره پر دې د صحابه کرامو او تابعينو په زمانه کي مطلق تقليد او شخصي تقليد دواړو وجود درلود ، لکه څرنګه چي دا خبره په مخکنيو عباراتو کي هم ښه ښکاره او واضح سوه.

د صحابه کرامو او تابعينو زمانه او وخت د خېر القرون، يعني د حضرت محمد ﷺ د ژوند وخت ته نژدې زمانه وه چي په خپله سرور کائينات حضرت محمد ﷺ ورته خېر القرون ويلي وه.په دې وخت او زمانه کي د انسانانو په زړونو کي قوي ايمان ځای درلود ، د خلکو اعمال صالح او د دين له اصولو سره سم وو. د الله ﷻ بندګي او د دين پيروي ورته له هر څه څخه ښه وه. د اخيرت په ورځ يې تر هرڅه ټينګ ايمان او باور و او د الله ﷻ د نه عباداتو او امورو د پرځای کولو په صورت کي يې ځانونه پړه او ګناه کاره بلل. د دنيا تر چارو يې د دين لوری غالب او قوي و. هر چابه (هغه که به عالم و او که به امي ) و د يوې مسئلې حقيقت به يې د کتاب الله او يا د سنت نبوي په رڼا کي پيدا کاوه.

که به کومه يوه مسئله پېښه سوه په هغه وخت کي به، و ډيرو علماء کرامو ته وړاندي کېده او د علماء کرامو په وړانديد يوې مسئلې وړاندي کېدل هم د دوو مخو يعني هدفونو لپاره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

١ - کله نا کله به یوه مسئله اتفاقاً و ډیرو علماء کرامو ته وړاندي سوه او له هغوی څخه به یې فتوای و غوښتل سوه.

٢ - یا به سائل کوښښ کاوه چي، د خپلي مسئلې لپاره هغه قول پیدا کړي چي په هغه کي ډېر احتیاط سوی وي.

د همدې اړتیا وو له مخي په هغه وخت کي هم مطلق تقلید او هم شخصي تقلید وجود درلود.

څرنګه چي وخت ورو ورو تېرېده او د نبي ﷺ زمانه لیري کېده، د انسانانو له سینو او زړونو څخه هغه فیضات او برکات چي د نبي علیه‌السلام سره د نژدې کېدو او د وحیو د پرلپسې نزول په سبب راغلي وو، همداسي ورو ورو د خلکو له سینو او زړونو څخه کمېدل. په انسانانو کي ورځ تربلې سستي راتلل. په انسانانو کي د الله تعالی څخه بېره او د احکامو شرعیه و سره محبت هم په کمېدو سو.

په دې وخت کي ډېر انسانان د شیطان او خپلو نفسونو د غوښتنو ښکار سول مګر نه هغه کسان چي د الله تعالی د خاص فضل او کرم څخه برخمن وو یا دي.

د وخت له شرائطو او غوښتنو سره د علماء کرامو، د امت د اصلاح او په دین کي د پاته کېدو په خاطر یې تقلید، یوازې په شخصي تقلید کي منحصر کړ. پر دې خبره د امت تر اکثر علماء کرامو هم زیاتو اتفاق و کړ او د تقلید شخصي د وجوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم يې وکړ، يعني که يو څوک په مسلمانانو کې د اجتهاد مرحلې ته نوي رسېدلی پر هغوی د شخصي تقليد پيروي واجب ده.

که چيري په هغه وخت کې د ننني ارتيا وو سره سم د دين علماء کرامو د شخصي تقليد د وجوب حکم کړی نه وای، اوس به د مسلمانانو تر منځ له دين څخه د لوبو اله جوړه سوې وای.هر چابه د خپل طبعيت او نفسي غوښتونو سره سم حکم را اخيستی او د خپل عمل او کردار لپاره به يې هغه څه غوښتلای کوم چې دوی به يې له اصلي هدف څخه بل لوري ته بېول او په خطاوو لارو به يې روانه ول.

حضرت مولانا شاه ولي الله دهلوي رحمه الله وايي:

**( وبعد المأتين ظهر فيهم التمذهب للمجتهدين اعيانهم و قل من كان لا يعتمد على مذهب مجتهد بعينه وكان هوالواجب في ذالك الزمان .**[45]

يعني تر دوهمي هجري پېړۍ وروسته په خلکو کې د يوه معلوم مجتهد اتباع او تقليد رواج سو. ډېر لږ خلک داسي وو چې د يوه خاص مجتهد په قول يې باور نه کاوه. همدغه شخصي تقليد په هم هغه مهالونو کې واجب و. په ننني زمانه کې خو بيا بيخي واجب دی. ځکه چې اوس خلک د اسلام تر لومړيو پېړيو ډېر له خپل دين څخه ليري او ناخبره سوي دي او يا د يوه ضرورت په سترګه نه ورته ګوري.

[45] - انصاف : ٤٤ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت مولانا حکیم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله د شخصي تقلید د اړتیا په هکله داسي وايي:

في نفسیه: دا خبره روا یا جائز ده چي د مختلفو مجتهدینو اتباع او تقلید وسي. مثلاً: که یوه مسئله د یوه عالم څخه و پوښتل سي او بله مسئله له بل عالم څخه وپوښتل سي دا روا کار دی. همداسي د ډیرو مجتهدینو اتباع کول هم روا کار دی.د سلف صالحینو هم دا عادت وو، یو وخت به یې یوه مسئله د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه وپوښتل او په هغه به یې عمل کاوه او کله به یې د امام اوزاعي رحمه الله نه یوه مسئله و پوښتل او د هغه په قول به یې عمل کاوه.

دا سي کار کول (چي کله د یوه مجتهد او کله د بل مجتهد په رایه یا نظر عمل کول) په خپل ځان کي جائز هم دی خو دا کار د یوه عارض یا یوه سبب له مخي منع سو.په یوه وخت کي د څو مجتهیدینو په رایو د عمل کولو د منعي د دلیل تر مخه یوه مقدمه راوړو چي ولي په یوه وخت کي د څو مجتهدینو په قولونو باندي عمل کول منع سو.

۱ - موږ لومړی غالب حالت لره ګورو او اعتبار یې کوو. په هغه وخت کي په خلکو کي تقوی غالبه وه. دوی به چي کومه مسئله مختلفو مجتهدینو ته وړاندي کول.دا یا یوه اتفاقي خبره وه او یا به له دې خاطره وه چي سائل (غوښتونکی) هغه قول یا خبره پیدا کړي چي هغه پر احتیاط بنا وي او پوښتنونکی وروسته تر پوره باور پر هغه مسئله عمل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که اوس هم په خلکو کي هغسي دينداري غالبه وي نو بيا د يوه خاص مجتهد تقليد کولو ته کومه اړتيا نسته خو اوس چي ګورو او په دې خبره هر څوک ښه پوهيږي چي هغه پخوانۍ تقوا او دينداري په خلکو کي نه ده پاته، مسلمانانو د دين په وړاندي ډېر تغير کړی دی. په مسلمانه ټولنه کي د خدای ﷻ او د هغه له دين سره د محبت پر ځای ځان غوښتنه غالبه سوې ده چي په دې اړه نبي عليه السلام هم داسي فرمايي:

( ثم يفشو الكذب )

يعني د خيرالقرون وروسته به درواغ عام سي او د خلکو حالت به بدل سي. هر څومره چي مسلمانان له خيرالقرون څخه ليري کيږي په هم هغه کچه به د مسلمانانو حالت خرابيږي او له دين څخه به فاصله نيسي. اوس چي ګورو په عام ډول د مسلمانانو حالت د دين د منلو پرځای د ځان غوښتني تقاضا غالبه ده.

په اوس وخت کي که چيري تقليد شخصي معتبر نه سي بيا خلک په معملاتو کي هغه صورتونه غوره کوي په کوم کي چي د دوی دنيوي ګټي نغښتي وي. د دين د اصولو او د اخيرت پروا به ور سره نه وي لکه اوس چي هم د خلکو په زړونو کي همدغه رنځ سته. مثلاً: د امام ابوحنيفه په مذهب په وينه اودس ماتيږي او د امام شافعي په مذهب په وينه اودس نه ماتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امام ابوحنیفه رحمه الله په مذهب ښځې ته په لاس ور ورلو اودس نه ماتيږي او په مذهب د امام شافعي رحمه الله ماتيږي.

همداسې دې ته ورته نور مسائل هم ډیر سته چې په یوه مذهب کې روا وي او په بل مذهب کې ناروا وي. نو که شخصي تقلید معتبر نه سي بیا به ډیر دغه سي کسان چې له تقوی څخه لیري وي او د دین د غوښتنو خاص مراعت ور سره نه وي، د خپلو نفسي غوښتونو او د خپل طبعیت پر اساس به د دین د مسائلو لپاره حکم لټوي.

دوی به د خپل نفس غوښتنو ته د دین تر غوښتونو ترجح ورکوي او په دا ډول به د دین له احکامو سره بې پروا سي. د یوې مسئلې لپاره به کله د یوه او کله د بل امام یا مذهب هغه مسائلې را اخلي چې د دوی په کې ګټه وي. په داسې حالاتو کې به بیا دین په خلکو کې نه وي پاته، خلک به یوازې په دین د خپلو رایو سره سم عمل کوي چې په داسې کولو سره به دوی د دین طابع نه بلکې دوی به دین خپل طابع وګرځوي.[46]

علامه ابن تیمیه رحمه الله د شخصي تقلید په اړه وایي:

[46] - اشرف جواب ۲جلد ۸۹- ۹٦ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(في وقت يقليدون من يفسدالنكاح و في وقت يقليدون من يصحح ه بحسب الغرض و الهوى و مثل هذا لا يجوز)[47]

**ژباړه**: يعني دغه خلک کله د يوه امام تقليد کوي کوم چي نکاح فاسده بولي او کله بيا د بل امام تقليد کوي کوم چي نکاح صحيح بولي. دوى د خپل نفس او خپلو غوښتنو سره سم عمل کوي. نه د دين له حقيقت سره. سره له دې چي داسي عمل په اتفاق سره ناجائز دى.

په نن وخت کي غېر مقلدين د شخصي تقليد اړوند ناويل سوي وينا وي کوي. هغه کسان چي د شخصي تقليدپيروان وي هغوى ته د مشرک او بدعتي خطاب کوي.

شخصي تقليد حرام او ناروا بولي. دغه د نن وخت غېر مقلدين تر خپلومشرانو يو څو قدمه مخته تللي دي. د دوى مخ کښ محمد بن عبدالوهاب نجدي دى چي، د غېر مقلدينو د عقيدې اساس ايښوونکى بلل کيږي. هغه هم د شخصي تقليد په وجود قائل دى او د خپل ځان اړوند دا اقرار کوي وايي:

**ژباړه**: زه الحمد لله حنبلي مذهبه يم. زه نه پوهېږم چي د نن وخت غېرمقلدينو ته کوم الهام وسو چي د محمد بن عبدالوهاب نجدي هر عقيده او خبري مني او د شخصي تقليد خبره يې نه مني. عبدالوهاب نجدي وايي:

---

[47] - فتاواى ابن تيمه: ۲ جلد ۲٤۰مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فنحن ولله الحمدمتبعون لامبتدعون على مذهب الامام احمد بن حنبل.** [48]

**ژباړه**: موږ الحمد لله د ائمة اربعة پر اتباع يون کوو. نوې لار او بدعت مو نه دی ایجاد کړی او موږ د مذهب په لحاظ د امام احمد بن حنبل رحمه الله پر مذهب يو.

**( ولله الحمد متبع ولست بمبتدع عقيدتي و ديني الذي ادين الله به الخ )** [49]

محمد، د عبدالوهاب نجدي زوی په خپله يوه رساله کي د ځان او خپلي کورنۍ په اړه ليکي:

د دين په اصولو، ايمانياتو او اعتقادياتو کی زموږ مسلک د اهل سنت والجماعت مسلک دی او زموږ لاره يا طريقه د آئمه سلف صالحينو لاره ده. په فروعاتو يعني فقهي مسائلو کي موږ د امام احمد بن حنبل پر مذهب يو. هر څوک چي په څلورو امامانو کي د يوه امام تقليد کوي، زموږ پر هغه چا کومه نيوکه نه لرو. [50]په هر صورت چي وي، له پورته عباراتو څخه چي د شخصي تقليد په اړه مو ولوستل د نوموړي تقليد اړتيا ښه معلومه سوه.

موږ د افغانستان خلک يوازي نه بلکي ټول اهل سنت والجماعت په ډاګه دا وينا کوو چي، په نن وخت کي تر هر وخت و شخصي تقليد ته اړتيا ډېره سته. دغه د

---

[48] - محمد بن عبدالوهاب : ١٧٤ مخ
[49] - محمد بن عبدالوهات : ١٧٤ مخ
[50] - الهدية السنية : ٣٨ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتنو په دور کي که موږ شخصي تقليد اړين و نه بولو ، نو هرڅوک به له دين څخه هغه حکمونه را اخلي کوم چي د ده د طبعيت او نفسي غوښتنو سره سم وي.

کله چي مسلمان د دين په امورو کي دومري خپل سري سي او د دين امور هم لکه د نور ژوند په خپله خوښه کوي، په داسي حال کي به دين په هغه خپل اصلي شکل هيڅ کله په ټولنه کي پاته نه سي، يعني داسي به نه وي چي خلک د دين تابع وي بلکي دين به د خلکو د غوښتنو ښکار سي او خلک به د دين هغه برخي را اخلي چي د دوی په ګټه وي او هغه برخي به يې پرېږدي چي د دوی د نفس له غوښتنو سره په ټکر کي وي.موږ په دې وياړو چي موږ د امام ابوحنيفه رحمه الله په مذهب يو. دا د الله تعالی ﷻ له لوري يو ستر نعمت بولو چي موږ ته راکول سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ایا د حدیثو مصنفین مقلدین وو؟

غیر مقلدین خپلي موخي یا هدف ته د رسیدو لپاره ډول ډول وینا وي کوي. له هیڅ ډول وینا څخه چي دوی په نظر سمه ورسي او دوی خپل مخالف لوری په وهلای سي مخ نه اړوي. هغه د رحمان بابا خبره ده چي وايي:

مدعي چي په خوله ورسي هغه وايي

گوش وهوش د محبانو په گفتار کړه

د دوی رویه د مقلدینو سره په خبرو کي داسي وي لکه کوم مدعي چي له مدعي سره مخ وي او هغه یو ډیر ستر جنایت کړی وي. د نورو جنایتونه به د خپلو مقابلو کسانو لپاره د کړو وړو وي خو د دوی په ذهن کي مقلدین د اعتقادي جنایاتو چي شرک او بدعت دی مرتکب دي. که څه هم یوه خبره به د اعمالو وي چي سړی په گناه کاره کیږي خو هغه عمل به د اعتقاداتو برخه نه وي چي سړی په مشرک سي مگر دوی هغه عمل هم د شرک تر درجې رسوي.

که څه هم دوی ته دا څرگند ده چي د دوی دا ډول عقیده چي دوی یې د احنافو او نورو مقلیدو مسلمانو ورونو په اړه لري له دوی پرته نور هیڅ یو عالم یې ور سره نه مني. مگر نه هغه عالمان چي یا د دوی له ډلي وي او یا یې په دې لاره کي اخروي گټه په نظر کي نه وي نیولې بلکي دنیوي گټه یې په نظر کي نیولې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو وګورئ، هر ځای چي غېرمقليدين وينئ هغوی به د نالوستو انسانانو پر غوړونو پراته وي او د هغوی له بې علمي څخه په ګټه اخيستلو به هغوی د ځان ملګري کوي او کومه عقيده چي له دوی سره ده هغه عقيده د هغوی په غوږونو کي هم ور د ننه کوي.

پاته سوه علماء کرام: غېر مقليدين د علماء کرامو څخه نا اميده سوي دي. ځکه؛ دوی پوهيږي چي علماء کرام له دوی سره هغه اعتقادات نه مني چي دوی يې لري او بل د احنافو يا د اهل سنت والجماعت د نورو مذاهبو د علماء کرامو پوه په دين کي د دوی تر پوهي زياته ده.

بل غېر مقليدين يوازي هغه څه مني چي دوی يې مني. د نورو مسلمانانو خبره که څه له ايات او احاديث شريف څخه وي دوی باور نه په کوي مګر احناف او د نورو مذاهبو مسلمانان بيا داسي نه دي. هغوی خپله خبره خو مني چي مني يې. د نورو مؤمنانو خبري هم چي له قرآن او احاديثو سره سمي وي مني او په هغوی کوم اعتراض نه کوي او نه يې د شرک يا کفر په القابو يادوي.

غېرمقليدين په ټولنه کي عجيبه عجيبه پوښتني را مخ ته کوي. دوی چي کله له عوامو يا نيمه په دين پوهو مؤمنانو سره مخ سي نو ورته وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایاته امام بخاري رحمه الله پېژنې؟ هغه چي ورته ووايې هو ولي يې نه پېژنم.
امام بخاري رحمه الله خو هر مسلمان پېژني.په دې وخت کي غېر مقليدين خپل سوالونه ورته را وړاندي کړي او ورته ووايي:

لکه امام بخاري رحمه الله چي په مسلمانانو کي په علم، تقوی او پرهېزګاري کي يوه مشهوره څېره وه او ده، د احاديثو نور مصنفين هم د مسلمانانو په منځ کي د همدومري لوړي مرتبې څښتنان دي. د علماء کرامو په منځ کي دغه د احاديثو مصنفين ډېر مبارک خلک وو.

د دوی د تقوا او پرهېزګارۍ لپاره په نن وخت کي مثال نه پيدا کيږي. که موږ د دوی په اړه معلومات را لاسته کړو دا به راته ښکاره سي چي دوی مبارکان څومره له شرک او بدعاتو څخه پاک او ليري خلک وو او له دې جملې څخه داسي نوري خبري ورته وکړي. په دې خبرو هغه کس يا کسان چي دوی ورته ګڼه وي تر تاثري لاندي راولي ځکه چي، هغوی خو نالوستي او له دين څخه ناخبره کسان وي. په داسي ځانګړي ډول چي دوی ورسره خبري کوي ژر اغېز باندي وسي. کله چي ورته ناست کس د دوی د خبرو تر تاثير لاندي راسي په دغه وخت کي دوی ورو ورو خپله عقيده يعني هغه خبري چي د غېر مقليدينو او نورو مسلمانانو تر منځ يې اختلاف رامنځته کړی دی او هغه اعتراضات چي دوی يې د نورو مسلمانانو پر عقائدو لري، ورته ښکاره او را مخته کړي او ورته وايي چي، الحمد لله موږ هم د يادو مبارکانو پر نقش قدم روان يو. دوی د هيڅ يوه امام پر مذهب نه وه روان او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د کوم مذهب پيروي کړېده، موږ هم پر هيڅ يوه مذهب نه يو او نه مو د کوم امام تقليد کړی دی او نه يې کوو.

لکه دوی مبارکانو چي يوازي په قرآن او احاديثو عمل کاوه او د کوم يوه مذهب پيروي يې نه کول، موږ هم يوازي په قرآن او احاديثو عمل کوو او يوازي په قرآن او احديثو عمل کول لا زمي ګڼو.دا چي د نبي عليه‌السلام په وخت کي مذاهب نه وو نو اوس هم له قرآن او احادثو پرته مذاهب رامنځ ته کول دا يو نوی يعني بدعت عمل دی. غېرمقليدين داسي ويناوي خورا ډيري لري او په دين نا خبره مقلدين ډېر ژر تر تاثير لاندي راولي او په بله روځ همدغه حنفي يا د بل مذهب کسان چي په دين او خپل مذهب باندي ناخبره وي پر اما مينو، پر مذاهبو او د مذاهبو پر پيروانو نيوکي پيل کړي کله يې بدعتيان او کله يې مشرکين او کله يې نور څه يادي.

دوی چي هر څه کوي، کوي به يې خو موږ به خپل کار کوو او د دين اصول او فرعات به (داچي موږ په دين کي بشپړه پوه نه لرو او يوه مسئله په اصلي ډول له قرآن او احاديثو څخه نسو را ايستلای نوموږ ته دا اړينه ده چي په دين کي د ناخبرۍ له امله د امامانو لاره غوره کړو او د دين اصول او فروعي مسائلي د دوی د پوهي په رڼا کي تعقيب کړو

موږ وويل:هغه کسان يا ډله چي تقليد ناروا يا بدعت ګڼي هغوی پوسول او خپل يې کار، موږ به خپل کار کوو. دلته داخبره په کار ده چي موږ خپل کار و پېژنو هغه داچي، لومړی موږ بايد په قرآن، احاديثي نبوي ځانونه پوه کړو او زده يې کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ژوند چاري د دين پر اصولو رواني کړو او بل دا زده کړو چي موږ له څلور څخه پر کوم مذهب يو او د هغه مذهب اوصول او مسائلې څه دي خو موږ به خپل کار کوو هغه داچي، امام بخاري رحمه الله او امام نسائي رحمه الله همداسي نور د احاديثو مصنفين اول دوی مقليدين وو او که يا ؟ که وي، بيا د کوم امام په لاره روان وو او د کوم امام د مذهب مقلدين وو.

کله چي موږ ځانونو ته دغه مسائل ښه واضح کړل په هغه صورت کي به هرچاته حقيقت ښکاره سي چي، د مذاهبو پيروي يا د دين په مسائلو کي شخصي تقليد خو يوازي د عوامو کار نه دی. په تقليد شخصي خو دا سي سترو علماء کرامو هم اعتراض نه دی کړی او هغوی هم خپله د شخصي تقليد په چوکاټ کي داخل دي او دا خبره به په دغه وخت کي هرو مرو که څه عدل او انصاف ور سره وي وکړي، داچي داسي ستر علماء کرام په شخصي تقليد باندي رد نه کوي نو زه بيا څوک يم چي، ببله کوم علم او پوهي اعتراض کوم او ببله د اجتهادي شرائطو چي علماء کرامو د يوه مجتهد لپاره ټاکلي دي زه په مسائلوکي اجتهاد کوم او ځان مجتهد بولم.

امام بخاري رحمه الله يو اړخ ته مجتهد و او پر اجتهاد سربېره مقلد هم و. دی مبارک د امام شافعي رحمه الله پر مذهب و. دغه خبره د غېر مقلدينو مخکښ او پيشوا جناب نواب صديق حسن خان بهو پالي په خپل کتاب (الحطه في ذکر صحاح الستة) کي کړې ده. دی وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**:امام بخاري رحمه الله د امام شافعي رحمه الله پر مذهب و او ابو عاصم رحمه الله، شافعي مذهبه بللی دی.

( **و قد ذکره ابوعاصم في طبقات اصحابناالشافعية نقلاً عن السکبي** ) همدارنګه دی جناب د دغه کتاب په (١٢٧ مخ ، ٢ فصل ) کي د امام نسائي رحمه الله په اړه وايي:

( **کان احد اعلام الدين وارکان الحديث امام اهل عصره و مقدمهم بين اصحاب الحديث و جرحه و تعديله معتبر بين العلماء و کان شافعي المذهب**)[51]

**ژباړه**:يعني امام نسايي رحمه الله د دين په غرونو کي يو غر و. د حديثو په ارکانو کي يو رکن و. د خپل وخت او دور په محدثينو کي مخکښ و. د ده مبارک جرح او تعديل، د علماء کرامو په وړاندي معتبر دي او همدارنګه دی مبارک د امام شافعي رحمه الله پر مذهب و.محترم: نواب صديق حسن صاحب هم داسي د امام ابوداؤد رحمه الله په اړه ليکي:

(**فقيل حنبلي و قيل شافعي** ) يعني امام اوبوداؤد رحمه الله د حديث او علل حديث او د علل حديث حافظ و. په تقوی، علم، فقه، اصلاح او اتقان کي يې لوړ مقام درلود. يوازي اختلاف په دې تکي کي و چي، په مذهب حنبلي و او که شافعي. ځيني کسانو حنبلي مذهبه بللی دی او ځينو بيا شافعي مذهبه بللی دی.[52]

---

[51] - حطة في ذکر صحاح السته ١٣٥ مخ.

[52] - حطة في ذکر صحاح السة : ١٣٥ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې س ربېره، امام مسلم رحمه الله، امام ترمذي رحمه الله، امام بهیقي رحمه الله، امام دارقطني رحمه الله، امام ابن ماجه رحمه الله، ټول مقلدین وو او د یوه صحیح قول سره سم دوی ټول پر مذهب د امام شافعي رحمه الله باندي وو.

همدارنګه دغه لاندي امامان مبارکان چي هر یو د اسلام د دین ستر ستر عالمان او په قرآن کریم او احادیثي نبوي باندي هم په پوره ډول پوهېدل لکه: امام یحیی بن معین رحمه الله، محدیث یحیی بن سعید القطان رحمه الله، محدیث یحیی بن ابي زائده رحمه الله، محدیث وقیعبن بن جراح رحمه الله، امام طحاوي رحمه الله، امام زیلعي رحمه الله، داټول مبارکان د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله پر مذهب باندي وو.

همدارنګه، یوه بله ډله د اسلام د دین د سترو علماء څخه چي په سر کي یې، علامه ذهبي رحمه الله، ابن تیمه رحمه الله، حافظ ابن قیوم جوزي رحمه الله، شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله، دا ټول د امام احمد بن حنبل رحمه الله پر مذهب وو.

همدارنګه: د اسلام د دین نور ستر علماء کرام چي په دا نورو دوو مذاهبو کي دي، هم د یادولو دي چي، باید نومان یې دلته یاد سوي وای خو د بحث د اوږدېدو له امله مي و نسوای کړای چي یادونه یې وکړم.

د پورته یادو علماء کرامو د نومونو له یادولو او د دوی په مذاهبو کي د دخل لرلو څخه خو د تقلید خبره ښه روښانه سوه خو د غېر مقلیدینو څخه دا پوښتنه کیږي چي ایا تاسو تر دغو علماء کرامو څخه په قرآن کریم او احادیثو کي ښه پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرئ او که دغو علماء کرامو ته دا نه معلومېده چي تقليد شرک يا بد عت دی او يا که د دغو علماء کرامو په وختونو کي تقليد يا شخصي تقليد نه و؟ او يا به غېر مقليدين دا خبره کوي چي، موږ د دغو مبارکانو له مذاهبو او ژوند سره نابلده يو. که دوی دا خبره کوي دا هم د دوی لپاره بل څه نه دي بېله ښکاره ناپوهۍ او تاوانه.

پر دې سر بېره هغه مصنيفين او اولياء کرام چي په نن عصر او زمانه کي ژوندي دي، يا يې کتابونه موجود پاته دی او يا يې همدارنګه اکثر مسلمان له نومونو، تاريخ او کورنيو سره بلد دي او په ټولنه کي د لمر غوندي ښکاره دي دا علماء کرام هم ټول مقلدين دي. په امامانو کي د يوه نه يوه پر مذهب روان دي.

پر دې خبره د ښه باور لپاره غواړم چي د څو هغو وتلو علماء کرامو نومونه د ليست په څېر راوړم چي هم خپله نوابغ دي، هم مصنفين دي، هم د مسلمانانو ژوندي مخکښان يا رهبران دي چي، اکثر يې هم د امام اوبوحنيفه رحمه الله پر مذهب روان دي.د پورته يادو مشائخو نومان په لاندي ډول دي.

**۱** - شيخ علي متقي رحمه الله، د کنزالعمال مصنيف. په **۹۷۵** هـ کي وفات سوی دی.

**۲** - شيخ محمد طاهر پلتني ګجراتي رحمه الله، د مجمع بحار مصنيف. په **۹۸۷** هـ وفات سوی دی.

**۳** - شيخ ملا جيون رحمه الله، د نورالانوار او تفسيرات احمدي، مصنيف. په **۱۱۳۰** هـ کي وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ - شیخ عبدالحق محدث دهلوي صاحب رحمه الله، د اشعة اللمعات مصنیف. په ۱۰۵۲ هـ کي وفات سوی دی.

۵ - شیخ سلام الله رحمه الله، د موطا شارح چي په محلي سره مشهور و. په ۱۲۲۹ هـ کي وفات سوی دی.

۶ - شیخ نورالحق صاحب رحمه الله، د بخاري شریف د تیسرالقاري شارح چي، فارسي شرحه ده بخاري. په ۱۰۷۳ هـ کي وفات سوی دی.

۷ - شیخ مولانا شاه ولي الله دهلوي رحمه الله، چي مشهور په محدث دهلوي سره دی، په ۱۱۷۶ هـ کي وفات سوی دی.

۸ - شیخ شاه عبدالعزیز رحمه الله، په ۱۲۳۹ هـ کي وفات سوی دی.

۹ - شیخ شاه عبدالقادر رحمه الله محدیث و مفسر القرآن دهلوي رحمه الله. په ۱۲۳۲ هـ کي وفات سوی دی.

۱۰ - شیخ شاه عبدالغني رحمه الله محدیث دهلوي. په ۱۲۹۶ هـ کي وفات سوی دی.

۱۱ - شیخ شاه اسحاق رحمه الله محدیث دهلوي. په ۱۲۶۲ هـ کي وفات سوی دی.

۱۲ - شیخ شاه اسماعیل شهیدي رحمه الله. په ۱۲۴۶ هـ کي وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۳** - شیخ شاه قطب الدین رحمه الله، د مظاهر حق مصنیف. په **۱۲۸۹** هـ کي وفات سوی دی.

**۱۴** - شیخ شاه رفیع الدین رحمه الله، محدیث دهلوي. په **۱۲۳۳** هـ کي وفات سوی دی.

**۱۵** - شیخ شاه محمد یعقوب محدیث دهلوي رحمه الله. په **۱۲۸۲** هـ کي وفات سوی دی.

**۱۶** - شیخ قاضي محب الله بهاري رحمه الله، د مسلم الثبوت مصنیف. په **۱۱۱۹** هـ کي وفات سوی دی.

**۱۷** - شیخ ثناء الله پاني پتي رحمه الله . په **۱۲۲۵** هـ کي وفات سوی دی.

**۱۸**- شیخ نورالدین احمد ابادي صاحب رحمه الله، د نورالقاري د بخاري شریف د شرحي مصنیف. په **۱۱۵۵** هـ کي وفات سوی دی.

**۱۹** - شیخ مفتي عبدالکریم نهرواني رحمه الله، د بخاري شریف د شرحي، نحرالجاري مصنیف. په ۱۰۱۴ هـ کي وفات سوی دی.

**۲۰** - علامه عبدالحی لکنهوي رحمه الله. په ۱۳۰۴هـ کي وفات سوی دی.

**۲۱** - مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله، باني دارالعلوم دیوبند. په **۱۱۹۸** هـ کي وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲ - مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله. په ۱۳۲۳ هـ کي وفات سوی دی.

۲۳ - امام العصر علامه انور شاه کشميري رحمه الله. په ۱۳۵۲ هـ کي وفات سوی دی.

۲۴ - مولانا خليل احمد رحمه الله. د بذل المجهود شرح ابو داؤد د شرحي مصنيف. په ۱۳۴۶ هـ کي وفات سوی دی.

۲۵ - مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله، د فتح الملهم مصنيف. په ۱۳۶۹ هـ کي وفات سوی دی.

۲۶ - امام رباني، سيد احمد، مجدد الف ثاني رحمه الله. په ۹۷۱ هـ کي وفات سوی دی.

۲۷ - شيخ عارف بالله. مرزا مظهري جان جانان رحمه الله. په ۱۱۹۵ هـ کي وفات سوی دی.

۲۸ - شيخ عارف بالله خواجه معين الدين چشتي رحمه الله. په ۶۳۲ هـ کي وفات سوی دی.

۲۹ - شيخ خواجه قطب الدين بختيار کالي رحمه الله. په ۶۳۳ هـ کي وفات سوی دی.

۳۰ - شيخ خواجه فريد الدين گنج شکر رحمه الله. په ۶۶۴ هـ کي وفا سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۱** - شیخ خواجه نظام الدین اولیاء رحمه الله. په **۷۳۵** هـ کې وفات سوی دی.

له پورته یادو مشائخو، محدیثینو، مفسرینو او علماء کرامو پرته چې موږ یې نومونه په ترتیب ذکر کړل، نور هم په زرګونو د دین علماء کرام، مشائخ، محدیثین او مفسیرین سته چې نومونه یې موږ دلته د دې وړې رسالې د اوږدوالي په خاطر نه راوړل، چې هغوی ټول سره له خپلو پراخو پوهو چې په دین کې یې لرلې او د غټو- غټو تصنیفونو خاوندان دي، د دین په ټولو امورو او مسائلو کې خپل سري نه دي پاته سوي او نه یې ټولي مسائلي په خپله پوهه چې په دین کې یې درلوده حل کړي دي، هغوي هم چې په خوا تېري سوي دي مقلدین پاته سوي دي او هم اوس چې ژوندي دي مقلدین دي. کوم غېر مقلد کسان چې ځانونه غېرمقلد یادوي، په مقلدینو نیوکي کوي او ځانونه تر مقلدینو په دین باندي پوهان، راسخ او په دین مین بولي دابه ښایي د دوی یو ډول غلط باور وي چې ځانونه د مسلمانانو تر دې دومره ستري اجتماع ښه مسلمانان بولي او یا نور مسلمانان ګمراهان یا مشرکین بولي.

د دې موضوع د ښه سپیناوي لپاره دغه لاندي لیکل سوي کتابونه مطالعه او وګورئ تر څو په دې اړه ښه ډول و پوهېږئ چې خبره څه او څرنګه ده.

**۱** - (نزهة الخواطر).

**۲** - (حدائق حنیفه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - (انوارالباري مقدمة).

۴ - (تذکرة محدثين).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غیر مقلدینو یو څو سوالات.

**اوله پوښتنه:**

غیر مقلدین حضرات وایي: مسائل فقهیه او اسلامي احکام د حضرت محمد ﷺ په زمانه کي نه وو راټول سوي. دا د نبي علیه‌السلام له زماني څخه په را وروسته کي جمع سوي دي. کوم کار چي د رسول ﷺ په زمانه کي نه وي سوی او یا یې هغه ﷺ امر نه وي کړی، هغه بدعت دی، یعني په دین کي نوی کار دی. او په دې خاطر بدعاتو کي سیبهٔ یعني بد بدعت دی.

**ځواب:**

که یو انسان چي لږ او ډېره پوهه ولري او د دین په مسائلو کي څه ناڅه پوهه ولري هغه به خامخا ووایي چي، د دوی دغه سوال سر تر نوکه غلط دی. دغه سي سوال کول د دوی پر جهالت او ناپوهی دلالت کوي، ځکه؛ قرآن کریم هم د نبي علیه‌السلام په زمانه کي نه و جمع سوی. بلکي د حضرت محمد ﷺ تر وفات وروسته لومړی وار د حضرت ابوبکر صدیق رضی‌الله‌عنه د خلافت په دور کي د حضرت عمر رضی‌الله‌عنه په مشوره سره جمع کړل سو او دوهم وار د حضرت عثمان بن عفان رضی‌الله‌عنه د خلافت په زمانه کي جمع کړل سو چي د قرآن کریم دا اوسنی ترتیب هم هغه د حضرت عثمان رضی‌الله‌عنه ترتیب دی.

همدا ډول د احادیثو ټول کتابونه د حضرت محمد ﷺ تر وفات وروسته جمع سوي دي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - بخاري شريف:

۲ - ترمذي شريف:

۳ - ابوداؤد شريف:

۴ - موطا د امام محمد صاحب:

۵ - نسائي شريف:

۶ - ابن ماجه شريف:

او داسي نور د احاديثو كتابونه چي دي ټول د نبي عليه‌السلام تر زمانې وروسته جمع سوي دي.پورته مثالونه چي تاسو واورېدل، ايا دغه ټولو ته بدعت سيئة ويل كيږي.؟ ايا دغه ټولي جمعي بدعت سيئة كارونه دي. ؟ دغه ټول موږ پرېږدو؟ ايا د دغه ټولو نه موږ استفاده و نه كړو.؟

د غېر مقليدينو له داسي پوښتنو څخه دا ښكاره كيږي چي دوی په حقيقت په دين سم پوهېدلي نه دي او د دين په امورو كي سمه پوهه نه لري. كه دی د اسلام دين سم زده كړي او يا د اسلام تاريخ په سم ډول مطالعه كړي، كېداسي دوی په هغه صورت كي بيا داسي شكونه او شبهې پيدا نه سي او نه به داسي سوالونه را مخته كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حقيقت کي نه د قرآن کريم جمع کېدل، نه د احاديثو نبوي جمع کېدل او د فقهي تدوين بدعت دي. ځکه چي، دا په دين کي يو اضافه توب نه دی چي د دين د عباداتو يا اوامرو په برخه کي يو نوی اضافتوب راغلی وي. دا په حقيقت کي د دين يو تدويني شکل دی چي، که دا جمع د قرآن کريم او احاديثو نه وای سوې، کېدای سوای چي اوس د قرآن کريم يا احاديثي نبوي کومې برخي له موږ سره نه وای پاته او بل د فقهي تدوين هم کومه نوې زياتونه په دين کي نه ده او نه کوم نوی عمل دين ته ور اضافه سوی دی.

د قرآن کريم هغه مسائلي او امور چي په اياتونو کي دي او موږ د الله ﷻ له لوري په امر سوي يو او هغه سنتونه چي د حضرت محمد ﷺ په احاديثو کي دي او يا د قرآن کريم د اياتونو تشريح چي په احاديثو کي سوې ده او په هغه باندي پوهېدل او له قرآن کريم او احاديثو څخه د هغه مسائلو او امرو را ايستل او د هغوی په تشريح او تطبيق باندي پوهېدل د هر چا کار نه دی بېله هغو علماء کرامو چي په دين کي د اجتهاد درجې ته رسېدلي وي او د اجتهاد شرائط يې پرځای کړي وي. نو همدا خبره ده چي زموږ ډېر، له ډېر نه هم ډېر نژدې ټول عام مسلمانان او د مسلمانانو د ټولې نژدې ټول علماء کرام، مشائح، محدثين، او مفسيرين د دين په مسائلو کي د هغه چا په پله پل ايښی دی چي تر دوی يې په دين کي او د دين په بېلا بيلو اړخونو کي پوهه او ځراکت ډېر و.

**دوهم سوال:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجتهدین خو ډېر دي، ولې د تقلید لپاره دغه څلور مجتهدین غوره سول؟ او تقلید ولې په دې څلورو امامانو کې انحصار سو؟ ایا د دوی په حق کې د قرآن کریم یو ایت شریف راغلی دی او که یو حدیث شریف سته؟.

**ځواب:**

دا خبره چې، تقلید ولې په دې څلورو امامانو کې حصر سو؟، د دې خبرې حقیقت الله ﷻ ته ښکاره دی.

بله خبره دا ده که موږ نن ورځ د ورځني ژوند په ټولو اړخونو کې یوه مسئله غواړو او په اوس وخت کې په هغه مسئله پسې د څلور ګونو مذاهبو فقهي کتابونه و پلټو، لومړی خو به له دې څلورو فقهو څخه په هره یوه کې هر مسئله په لږ لږ توپیر سره د قرآن کریم او احادیثي نبوي په رڼا کې پیدا کړو او بل اړخ ته د فقهي په کتابونو کې له کتاب الطهارت څخه نیولې تر کتاب الفرائضو پورې د دین په ټولو مسائلو کې به د نورو امامانو په پرتله د دغو څلورو امامانو او یا د دوی د شاګردانو اقوال په هر مسئله کې وینو او د دوی په پرتله د نورو امامانو اقوال به خال خال وي. په داسې صورت کې چې د ژوند په هر اړخ کې له دغو څلورو امامانو مبارکانو څخه اقوال رانقل سوي وي او د فقهي کتابونه ټول د دوی څلورو له اقوالو ډک وي، تاسو ووایاست چې په داسې وخت کې موږ د چا تقلید وکړو؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تعصب، بغض، نفرت، او د یوه بل له لوري مغرضانه تنبه نه وي نو دابه هرو مرو وویاست چي، د هغه چا تقلید باید وکړئ چي د هري مسئلې اړوند اقوال ولري. که موږ د تقلید لپاره دري، دوه یا یو امام غوره کړی وای په هغه صورت کي به هم تاسو د ولي اعتراض کولای.

دا چي دغو څلورو امامانو ته الله ﷻ بېل ځراکت، د قرآن کریم په تفسیر او تشریح کي بېله پوهه او د احادیثي نبوي په روح باندي پوره پوهه ورپه برخه کړې وه او د ټولني په عرف او عاداتو باندي پوهېدل، نو له همدې امله تقلید د دغو څلورو امامانو په تلې لوري کي حصر سو او د ټول امت اتفاق په دوی وسو.

دلته د تقلید په موضوع کي یوازي دا خبره هم نه ده چي دغو څلورو امامانو یا د دوی شاګردانو هرڅه وویل: نورو مسلمانانو په پټو سترګو ور سره ومنل. د دوی د ژوند په ورځو شپو کي او ددوی له دورې نه وروسته هم ډېر علماء کرامو وو چي، په قرآن کریم او احادیثي نبوي پوره پوهېدل، هغو علماء وخت په وخت د قرآني ایاتونو، احادیثو او فقهي مسائلو په تطبیق کي زیار ایستلی دی. دغه درې سره یې تطبیق کړي دي کومه فقهي مسئله یې د قرآن کریم او احادیثي نبوي خلاف نه ده بللې. له څلورو ګونو امامانو وروسته په لکونو علماء کرامو د قرآن کریم، احادیثي نبوي او فقهي مسائلو ترمنځ د تطبیق په چارو کي ماغزه خراب کړي دي. شپې یې تر سهاره روښي کړي دي خو بیا یې هم د دغو څلورو امامان واو مبارکانو اقوال د ځانونو لپاره ډېرې ګرځولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څه ساده خبره نه ده او نه هم داسي سوي دي چي، د څلورو امامانو پیروي یا تقلد په پټو سترګو سوی دی او یا فقهي مسائلي په ناپوهۍ کي منل سوي یا پر خلکو تپل سوي دي.

دا خبره عقلاً د منلو نه ده چي په کروړونو کسان دي چي، په هغوی کي، نوابغ،علماء کرام، پوهان او حاکمان وي او هغوی دي د یو څو کسانو یا یوې ډلي له لوري (چي، هغوی دي هم په علم او پوه کي او یا د دین په چارو کي تر دوی ډېره پوهه و نه لري) مطلق ناپوهان و شمېرل سي، بېله دې چي همدا خبره ببرته د دوی پر مخ ور ووهل سي.

شېخ احمد چي مشهور په ملاجیون رحمه الله سره دی وایي:

**(والانصاف ان انحصار المذاهب في لاربعة و اتباعهم فضل الهي و قبوليةمن عندالله لامجال فيه للتوجيهات والا دلة)** [53]

**ژباړه**: یعني د انصاف خبره داده چي مذهب په څلورو کي حصر کول او د دغه څلور مذاهبو اتباع کول فضل الهي دی او د الله تعالی له لوري قبولیت دی. په دې کي دلا ئلو او تو جیهاتو ته کومه اړتیا نسته.

[53] - تفسيرات احمدية ٣٤٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خبره باید سترګې پټې نه سي چې، و دغو څلورو امامانو ته الله تعالی ﷻ د قرآن کریم او احادیثو په تفصیلي علم، درایت او استنباط کې بشپړ مهارت ور کړی و.

په دې اړه مولانا شاه ولي الله دهلوي رحمه الله وايي:

( **بالجملة این چار امام اند که عالم را علم ایشان احاطه کرده است. امام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام احمد بن حنبل رحمه الله** ) [54]

**ژباړه**: بالجمله دغه څلور امامان دي چې په ټوله نړۍ باندې د دوی علم احاطه کړې ده. ۱- امام ابوحنیفه رحمه الله. ۲- امام شافعي رحمه الله. ۳- امام مالک رحمه الله. ۴- امام احمد بن حنبل رحمه الله.

الله تعالی ﷻ په دې مصلحت خبر دی چې، ولې الله تعالی د څلورو په عدد کې داسې خصوصیت ایښی دی چې، الله تعالی ډېر شیان په څلورو کې حصر کړي دي. مثلاً: انبیا کرام او رسولان ډېر دي مګر جلیل القدر انبیاء څلور دي چې نومونه یې په لاندې ډول دي.

**۱** - حضرت محمد ﷺ.

**۲** - حضرت ابراهیم علیه السلام.

[54] - شرح موطا: ٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳** - حضرت موسی علیه‌السلام.

**۴** - حضرت عیسی علیه‌السلام.

همدارنګه اسماني کتابونه ډېر دي مګر په دې ټولو کي څلور کتابونه مشهور دي.

**اول**: قرآن کريم.

**دوهم**: تورات شريف.

**دريم**: انجيل شريف.

**څلورم**: زبور شريف.

همدا ډول د الله تعالی ملائکي ډيري دي مګر مقربي ملائيکي څلور دي چي، نومونه يې په لاندي ډول دي.

**۱** - حضرت جبرائيل علیه‌السلام.

**۲** - حضرت مکائيل علیه‌السلام.

**۳** - حضرت اسرافيل علیه‌السلام.

**۴** - حضرت عزرائيل علیه‌السلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول د حضرت محمد ﷺ، صحابه کرام ډیر دي مګر په دوی کي څلور کسان د ډیرو سترو ځانګړنو څښتنان دي چي، نومونه په لاندي ډول دي.

**اول**: حضرت ابوبکر صدیق ﷺ.

**دوهم** : حضرت عمر فاروق ﷺ.

**دریم** : حضرت عثمان زینورین ﷺ.

**څلورم** : حضرت علي کرم الله وجههُ.

همدا ډول د صوفیه کرامو یا د سلوکو طریقې ډیري دي خو په دې ټولو کي مشهوري یې څلور دي.

**۱** - چشتیه طریقه.

**۲** - نقشبندیه طریقه.

**۳** - قادریه طریقه.

**۴** - سهر وردیه طریقه.

همدا ډول د الله ﷻ د قدرت علامې ډیري دي چي یو انسان یې په خپل ټول عمر هم نه سي شمېرلای او نه یې درک لګولای سي. الله ﷻ د خپل قدرت د اثبات لپاره په قرآن کریم کي ډیري علامې یادي کړي، خو په سورة غاشیه کي یې هم څلور غټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

علامې را وړي دي لکه: ۱ - اوبښ، ۲ - اسمان، ۳ - غر، ۴- مځکه. همداسي نور ډېر شيان سته چي الله تعالی ﷻ په څلورو کي حصر کړي دي. دا هم د الله ﷻ د قدرت له ځانګړو نښو څخه دي چي د مجتهيدينو د ستري ټولی، څخه يې همدا څلور مجتهيدين داسي مشهور کړي دي چي نور اکثر مسلمان امت يې په فقهي مسائلو کي پيروي کوي. په داسي يوه حالت کي چي په هغه کي بېله دې چي سړی ووايي چي، دا د الله ﷻ د قدرت له علامو څخه يوه علامه ده نور د اعتراض کولو ځای يا پر بل مسلمان ورور باندي د يوه داسي عمل الزام لګکولو کي (چي هغه د هغه مسلمان ورور له وسه وتلې خبره وي) هيڅ ځای د الزام نه پاته کيږي.

که يو څوک د څلورو مذاهبو په رامنځ ته کېدو او يا د څلورو امامانو په پيروي چي ولي مذاهب څلور دي او يا ولي د دې څلورو امامانو پيروي کيږي کومه نيوکه کوي، نو بايد پر دغه ټولو څلورګنو اعتراض وکړي چي، داولي څولور دي او که دغه څلور مني نو بايد دغه څلور امامانو کي حصر هم ومني.

بله خبره داده چي مجتهدين حضرات خو ډېر دي مګر د دوی له جملې څخه د دغه څلورو مجتهدينو مذاهب وټاکل سول او د نورو مجتهدينو مذاهب که مدون سوي هم وو پاته سول چي اوس له منځ تللي دي ځکه چي هغو نورو ټولو مجتهدينو او د هغوی پيروانو د همدې څلورو امامانو پيروي په فقهي مسائلو کي غوره کړه نو په داسي وخت کي په يادو څلورو مذاهبو کي د يوه پيروي پر ټول امت مسلمه باندي لازمي او ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه حضرت مولانا شاه ولي الله دهلوي رحمه الله وايي:

**﴿ ولما اندرست المذاهب الحقة الاهذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم والخروج عنها خروجاً عن السواد الاعظم ﴾** [55]

**دریم سوال:**

غیر مقلدین وايي: قرآن کریم یو دی، رسول ﷺ یو دی نو بیا ولې د مجتهدینو تر منځ اختلاف سته او سره له دې چې ټول مقل يدين داهم وايي چې، څلور سره مذهبه حق دی.

**ځواب:**

غیر مقلدین عجیبه سوالونه کوي چې اکثر بېله دې چې د مسلمانانو په اذهانو کې ګډوډی رامنځ ته کړي بله کومه ګټه باندې مرطب نه وي. دوی یو خواته غواړي چې په داسې سوالونو خپل حقانیت ثابت کړي بل لوري ته غواړي چې د عامو مسلمانانو او د هغوی د مشرانو او د دین د امامانو ترمنځ بې باوري، اختلاف رامنځ ته کړي. دوی وايي:

قرآن کریم او رسول ﷺ یو دي نو بیا ولې د مجتهدینو یا څلورو مذاهبو په منځ کې د مسائلو پر سر اختلافات سته او سره له اختلافاتو بیا هم تاسو مقل يدين حضرات وایاست چې دا څلور سره مذاهب پر حق دي.

---

[55] - عقدالجید ۳۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی د دې خبرې ځواب ډېر ښکاره دی. تاسو راسئ چې اول د اسلام اول حالت ته و ګورو او یوځه د صحابه کرامو ژوند مطالعه کړو چې، په هغه وخت کې اختلافات وو او که نه؟ او که وو ایا دغه سې اختلافات بد دي او که نه.

که موږ و ګورو د قرآن کریم او حدیث نبوي اول مخاطبین صحابه کرام وو او صحابه کرام مخامخ د نبي علیه السلام له فیض او برکت څخه برخمن وو، په همدې خاطر دوی مبارکان د قرآن کریم او احدیثو په مفهوم او هدف ډېر ښه پوهېدل. کوم مراد یا هدف چې د قرآن کریم او احادیثو کې وو په هغو دوی ډېر ښه پوهه و او هغه ورته حاصل و. همدغه صحابه کرام زموږ لپاره لار د هدایت دي.

صحابه کرامو د حضور ﷺ په حضور او وجود کې هم تر خپل منځ په ډېرو مسائلو کې اختلاف درلود.

مجتهدین مبارکان چې د صحابه کرامو او تابعینو پر نقش قدم روان دي او د هغوی پر اقوالو یې باور کړی دی او هم یې د دوی پر اقوالو اتباع کړې ده ځکه یې تر منځ اختلاف په مسائلو کې تر سترګو کیږي.

د صحابه کرامو د اختلافاتو په اړه په احادیثو کې راځي:

(**سئالت ربي عن اختلاف اصحابي ... الحدیث**) نبي علیه السلام فرمايي:

**ژباړه**: ما د خپل رب ﷻ څخه د خپلو صحابه کرامو د اختلاف اړوند پوښتنه وکړه. الله تعالی ﷻ د وحیو په زریعه راته وویل: اې محمده! ستا صحابه زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضور کي داسي دي لکه د اسمان ستوري. د اسمان په ستورو کي د ځينو رڼا ډېره وي او د ځينو دا لږ وي( مګر روښنايي په ټولو کي وي ). کوم څوک چي ستا د صحابه کرامو مسلک سره د صحابه کرامو د اختلاف اختيار کړي، هغه زما په حضور کي پر هدايت دی.[56]

داسي نه وه چي د صحابه کرامو اختلاف په ځاني اغراضو بنا و. د هغوی اختلاف پر اخلاص بنا و. په همدې خاطر دا د صحابه کرامو اختلاف بد نه و او نه دی بلکي ورته يو ښه اختلاف ويل سوی دی ځکه چي، همدا اختلاف سبب د دين د مسائلو د حل و ګرځېده او له دې امله د الله ﷻ د رحمت او د الله ﷻ د برکاتو د نزول لامل هم ګرځېدلی دی. ځکه نبي عليه‌السلام فرمايلي دي:

( **اختلاف امت رحمة** ) ژباړه: زما د امت اختلاف رحمت دی. په پورته حديث شريف کي چي کوم اختلاف ته اشاره سوې ده، هغه دغه د صحابه کرامو او د آئمة اربعه وو اختلاف دی.

که چيري موږ داحاديثو د کتابونو مطالعه وکړو، د صحابه کرامو د اختلاف ډېر مثالونه به په لاس راسي مثلاً:

[56] - مشکوة شريف: ٥٥٤ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - شرمګاه ته لاس ور وړل يعني مسح کول د حضرت عمر ﷜ په نېز اودس ماتوي او د حضرت علي ﷜ او د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷜ په نېز اودس نه ماته وي.

۲ - د جمهورو صحابه کرامو په نېز د درياب په اوبو اودس روادی او د عبدالله ابن عمر ﷜ په نېز مکروه دی.

۳ - د جمهورو صحابه کرامو په نېز د جمعې په ورځ عطر يعني خوښبويي وهل مستحب کار دی او د ابو هريرة ﷜ په نېز يو واجب عمل دی.

۴ - د حضرت عمر ﷜ او د حضرت عبدالله بن عمر ﷜ په نېز پر مړو ژړاکول سبب د مړي د ازيت يعني په تکليف کېدو ګرځي او بي بي عائيشة صديقة﷞ بيا دا خبره په کلکه ردوي.[57]

د صحابه کرامو د اختلاف دا ډول ډېر مثالونه د احاديثو په کتابونو کې سته خو دلته دومره بس دي چې ذکر سول. د تعجُب او حيران تيا خبره خو داده چې، غېر مقلدين پر مقلډينو حضراتو دا اعتراض کوي چې قرآن کريم يو دی او رسول ﷺ هم يو دی نو بيا ولې د امامانو يعني د مذاهبو تر منځ اختلافات سته. موږ مقلدينو خو دا خبره ثابته کړه چې موږ څلور ګوني مذاهب اختلاف لرو خو د دې اختلافاتو لامل مو ذکر کړ او دا هم ثابته خبره ده او موږ ثابته کړې هم ده چې، زموږ د څلورو

---

[57] - الاعتدال في مراتب الرجال: ۲۰۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذاهبو اختلاف د شر، فساد او د خلکو په زړونو کې د وسوسو اچولو لپاره نه دی او نه هم یو پر بل باندې د بدعتیانو او یا د شرک د تاپې لګولو لپاره دی. موږ اختلاف لرو خو سالم اختلاف.

خو که موږ له تاسو غیر مقلد ورونو څخه پوښتنه وکړو چې ستاسو په منځ کې ولې اختلاف د مسائلو سته. سره له دې چې ستاسو نیوکه هم د څلورو مذاهبو پر امامانو او پیروانو هم دا ده چې، تاسو په دین کې لارې جوړې کړې دي او اوس چې موږ وینو ستاسو د امامانو تر منځ هم د دین په مسائلو کې یو لړ اختلافات سته.که تاسو د دې سوال په مقابل کې د نور وخت په څېر ووایاست چې یا موږ تر خپل منځ کوم مخالفت په مسائلو کې نه لرو، دا خبره به تر ډېره ناسمه نه وي؟ ځکه چې، هغه مسائلې چې ستاسو د امامانو تر منځ په کې اختلاف دی ډېر دي چې موږ یې دلته یو څو بېلګې د مثال په ډول راوړو.

**۱** - غیر مقلد ورځ علامه شوکاني او نواب صدیق حسن خان غیر مقلد ورځ وايي: د عورت پټول په لمانځه کې شرط نه دی او مولوي و حید الزمان صاحب چې غیر مقلدې دی بیا وايي چې، په لمانځه کې د عورت پټول شرط دی.[58]

**۲** - نواب صدیق حسن خان صاحب وايي: مؤذن ته پر اذان کولو اجرت (مزدوري) روا نه ده [59] او مولوي و حید الزمان صاحب وايي: مؤذن ته پر اذان، مزدوري ور کول روا دي.[60]

[58] - هدية الهدى: ٨٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - نواب صديق حسن صاحب وايي: د اذان لپاره نارينه والى شرط نه دى، بلكي ښځه هم اذان كولاى سي او نور غير مقلدين بيا د اذان د كولو لپاره نارينه واالى شرط بولي.[61]

۴ - نواب صديق حسن خان صاحب غير مقلد وايي: اذان كول واجب دي[62] او مولوي وحيدالزمان صاحب بيا وايي: اذان كول سنت دى.[63]

۵ - مولوي وحيدالزمان صاحب غير مقلد وايي: د قرآن كريم او حديث نبوي څخه په مريض باندي دم كول جائز دى او نور غير مقلدين حضرات بيا وايي: په مريض باندي دم كول د قرآن او حديث څخه نه دى جائز.[64]

۶ - نورالحسن غير مقلد وايي : مشت زني جائز ده[65] او مولوي عبدالجليل صاحب غير مقلد بيا وايي: نه ده جائز.[66]

همداډول د غير مقلدينو تر خپل منځ (۲۴) اختلافي مثالونه، حضرت، مولانا، حافظ، قاري، مفتي، سيد عبدالرحيم رحمه الله په خپله فتاوا رحيميه كي هم را وړي

---

59 - بدورالاهلة: ٤٦ مخ.
60 - هدية الهدى ٨٧ مخ.
61 - بدور الاهلة : ٤٦ مخ .
62 - بدور الاهلة : ٤٦ مخ.
63 - هدية الهدية : ٤٦ مخ.
64 - اسرار اللغه پاره دهم : ١١٨ مخ.
65 - عرف البحار : ٢١٤ مخ.
66 - العزاب المهين : ٥٣ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، کولای سي چي د ښه ځان خبرولو لپاره فتاوایي رحیمیې . ( ۱- جلد ، ۱۱۸ مخ ) وګورئ.

**څلورم سوال:**

غیر مقلیدین وایي: دا څلور سره مذهبه چي اوس دي، څرنګه حق سي؟. سره له دې چي په دې څلورو کي به یو د دلائلو له مخي حق ته رسیږي ولي چي، دېر یا متعدد نه سي کېدالای چي حق دي سي. داچي هر وخت حق یو وي دېر نه وي نو باید لومړی د قرآن کریم او احدیثو پر اقوالو عمل وکړو او د تقلید کړی له غاړي وباسو.

**ځواب:**

موږ مقلدین منو چي حق یو دي. ستاسو تر سترګو یو حق دوه معلومیږي ځکه؛ د څلورو سره مذاهبو ماخذ یو دی چي، هغه قرآن کریم او د حضرت محمد ﷺ احادیث دي مثلاً:

د مکې مکرمې څلور طرفه دي (لمر لوېده، لمر خاته، شمال او جنوب) د دغو څلورو سره خواوو څخه مکې مکرمې ته لمونځ کیږي. د هر طرف خلک د مکې مکرمې هغه لوري ته مخ کوي چي کوم طرف یې دوی ته مخامخ وي. مثلاً:

د لمرخاته د لوري خلک د مکې مکرمې د لمرخاته لوري ته مخامخ وي او لمونځ ورته کوي. د لمر لوېده د لوري خلک، د مکې مکرمې د لمر لوېده و لوري ته د لمانځه پر وخت مخ کوي. همداسي د شمال او جنوب د اړخونو خلک هم کوي. یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوری هم داسي نه کوي او نه مکلف دي چي، ټول دي د مکې مکرمې یوه لوري ته ولاړ سي او ټول دي د لمانځه پر وخت پر هغه یوه لوري و دریږي.

دلته که څه هم موږ ګورو چي، هر طرف ځان ته دی او له هغه بل لوري څخه بېل دی خو دلته اصلي مرکز یو دی چي هغه مکه مکرمه ده او ټول د الله ﷻ په امر و دې یوه لوري ته په عبادت کولو امر سوي دي.دلته د غېر مقلدینو ورونو په وړاندي دا پوښتنه پیدا کیږي چي ایا دغه مسلمانان چي بیت الله شریفي ته له هر لوري لمونځ کوي،تر خپل منځ مختلف دي او که د ټولو د عقیدې او عبادت ځای یو دی چي، هغه مکه مکرمه ده.

د دې پوښتني په ځواب کي به خامخا غېر مقلدین دا ووايي چي، د ټولو مخ یوه مرکز ته دی چي هغه مکه مکرمه ده. نو موږ د غېر مقلدینو په وړاندي وایو چي، همداسي مسئله د څلورو مذاهبو یا د څلورو مجتهدو امامانو د اجتهاد هم ده. هغه داچي، د څلورو سره مذاهبو د مسائلو د استنباد او توجه مرکز یو دی چي هغه قرآن کریم او احادیث نبوي دي او په همدغه قرآن کریم او احادیثو عمل کوي او له دغو دوو دیني اصلونو ور ها خوا په بل څه باور او عقیده ساتل او عمل ور باندي کول کفر او بد بولي.

کوم اختلاف چي د دغو څلورو مذاهبو د امامانو تر منځ د دین په مسائلو کي سته، د هغو لامل دادی چي، هر امام د دین په فروعي مسائلو کي خپلو اصولو او قواعدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کتلي دي چې همدغه اصول او قواعد يې هم په قرآن کريم او احاديثو بنادي نه په خپله رايه، نو په همدې خاطر په مسائلو کې کله کله اختلاف راغلی دی مثلاً:

په بخاري شريف کې له عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دی، حضرت محمد ﷺ چې، د بني قريظه وو په واقعه کې صحابه کرامو ته وفرمايل:

**( لا يصلين احد کم، الا بني قريظه )**

**ژباړ**: ستاسو څخه هر يو دي لمونځ نه کوي مګر په بني قريظه کې، په لاره کې د لمانځه وخت سو. د صحابه کرامو په منځ کې درايې اختلاف پېښ سو. يوې ډلې صحابه کرامو د نبي عليه السلام د وينا په ظاهري الفاظو عمل وکړ او ويل يې: موږ په لاره کې د ماځيګر لمونځ نه کوو او د صحابه کرامو بلې ټولۍ ويل: موږ په لاره کې لمونځ ادا کوو ځکه؛ د نبي عليه السلام موخه او مقصد دا وچې تاسو بنو قريظه ته ژر ولاړ سئ.

دلته موږ وينو چې د صحابه کرامو هري ټولۍ د خپلي رايي سره سم لمونځ ادا کړ. اوس چې کله دا پېښه و حضرت محمد ﷺ ته وړاندي سوه، هغه ﷺ يوې ډلي ته هم منع و نه ويل او نه يې يوه ډله صحابه کرام په خپل عمل ګرم و بلل.[67]

---

[67] - بخاري شريف : ٥٩١ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې جملې څخه نور هم ډېر احادیث سته او هم د قرآن کریم ډېر ایاتونه سته چې مجمل وي، ځیني علماء کرام، مجتهدین او مفسرین یې د الفاظو و ظاهر ته ګوري او ځیني نور یې بیا د الفاظو و باطن یعني معنی ته ګوري.

موږ و غیر مقلدینو حضراتو ته وایو: که دوی په رښتیني ډول د څلورو مذاهبو د څلورو سره امامانو په دیني مسائلوکې دخیل، اوصول او قواعدو ته په ښه او غیر تعصوبي او مغریضانه ډول ونه ګوري او د څلورو سره مذاهبو فقهي کتابونه و ګوري او مسائلي یې له قرآن کریم او احایثي نبوي ﷺ سره پرتله کړي دابه هرو مرو ورته ښکاره سي چې، رشتیاهم د مقل ید ینو ټولي فقهي مسائلي له قرآن کریم او احادیثو څخه استنبات سوي دي. یوه هم دوی له ځانه، نه ده جوړه کړې او دابه هم ورته معلومه سي چې، د څلورو مذاهبو دا امامانو اجتهاد بل غرض نه و، یوازي د ځینو ایاتونو او احادیثو (لکه مخکي چې مو اشاره ورته وکړه) د اجمال په صورت کي دی چې، یوه مجتهد له یوه ایات یا یوه حدیث شریف په مفهوم یو رنګ پوهېدلی دی او بل مجتهد بیا بل رنګ پوهېدلی دی.

**پنځم سوال:**

دا چې تاسو مقلدین وایاست چې څلور سره مذهبه حق دي، بیا ولي تاسو د یوه امام تقلید کوئ؟

**ځواب:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې سوال ځواب د شخصي تقلېدو په بیان کې مخکې په ښه ډول او وضاحت سره ذکر سو. دلته مې دا سوال له دې امله را وړ چې، ستاسو ور پام کړم چې، غېر مقلدین دا سوال هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عوامو لپاره يوه توصيه

(و انماحق العوام ان يومنوا ويسلموا و يشتغلو بعبادتهم و معايشهم و يتركوا العلم للعلماء فالعامي لويزني و يسرق كان خيراً له من ان يتكلم في العلم فانه من تعلم في الله و في دينه من غير اتقان العلم و قع في الكفر من حيث لايدري .
)[68]

**ژباړه**: د عوامو لپاره دا لازمه ده چي، ايمان او اسلام قبول کړي په خپل عبادت او د ژوند تېرولو په چارو کي مشغول سي. د علم (او عقائدو) په خبرو کي دي مداخله نه کوي. عقائد او نور فقهي مسائل دي علماء کرامو ته وسپاري. د عوامو لپاره په علمي مسائلو کي مداخله کول تر غلا او زنا کولو ډېر بده او خطرناکه ده.ځکه؛ کوم څوک چي په علمي مسائلو کي پوهه او مهارت نه لري او هغه کس د الله تعالی په دين او د دين په مسائلو کي بحث او خبري کړي يا يې کوي، امکان لري په داسي لاره روان سي چي هغه به کفر او ګمراهي وي او دی به په دين کي د خپلي ناپوهۍ له امله نه وي خبر، نفس او شيطان به يې د ناپوهۍ له امله د کفر او ګمراهۍ کندي ته ور وغورځوي.

د عوامو وروڼو لپاره دا په کار ده چي د يوې مسئلې د حل لپاره د دين علماء کرامو ته ورسي او د يوې مسئلې حکم (پر ځای د دې چي خپله يې حل کړي) له علماء کرامو څخه يې معلوم کړي او عوامو وروڼو ته دا هم نه ښايي او نه ورته جائز ده چي

[68] - احیاالعلوم : ۳ جلد، ۳۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عقائدو او فقهي په هغه باريکو مسائلو کي بحث وکړي چي له کتابه يې زده کړي نه وي ځکه چي، ډېر خله عوام په هغو مسائلو کي چي له يوه او بل عالم او يا يوه او بل چا څخه اوري، د وخت په تېرېدو سره ترې هېرېږي او په هغو کي غلطي کوي.

په يوه حديث شريف کي راځي: ژباړه، يو شخص حضرت محمد ﷺ ته راغی او ورته ويې ويل: اې د الله تعالی رسوله! ماته د علم بارکي را وښيه. نبي عليه السلام له دغه کس څخه پوښتني وکړې او ورته ويې ويل:

۱ - تا د الله تعالی جل جلاله معرفت حاصل کړی دی؟.

۲ - تا د الله تعالی جل جلاله حقوق ادا کړي دي؟.

۳ - تاته د مرګ د راتلو وخت معلوم دی؟.

۴ - تا مرګ ته تياری نيولی دی؟.

په اخر کي نبي عليه السلام ورته وويل: ته اول ولاړ سه بنياد مظبوط کړه او بيا راسه چي زه و تاته د علم بارکي در وښييم.[69]

درنو لوستونکو! او مسلمانانو وروڼو دا هر مسلمان ته ښکاره ده چي د حضرت محمد ﷺ ژونداو راتلو دې نړۍ ته لکه د نورو انبياء کرامو د دې هدف لپاره وو چي، د الله تعالی ستر مخلوق انسان څرنګه د ذلت او ګمراهۍ له لاري چي نفس او

[69] - جامع بيان العلم : ۱۳۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطان ورته غوره کړې ده را و ګرځوي او د خپل خالق الله تعالی ﷻ و لوري ته یې مخ واړوي. د بتانو له عبادته یې را وګرځوي، له شرک او بد بختۍ څخه یې را بېل کړي او د الله تعالی ﷻ د عباداتو ډول او د واحد خدای ﷻ د وحداینت مفکوره یې و مغزو ته ور د ننه کړي او له هغې لارې څخه یې منع کړي چې د الله تعالی ﷻ د قهر او غضب سره مخامخ کیږي او هغه لاره ورته وښیي چې د الله تعالی ﷻ رضا او خوښي په کښې وي خو بیا هم چې کله له ده مبارک څخه یو صحابي د علم د بارکې پوښتنه کوي چې ځان د هدایت و لوري ته نژدې کړي. هم دی مبارک ځواب نه ور کوي او ورته وایي:چې تا د الله ﷻ معرفت حاصل کړی؟ تا د الله ﷻ حقوق ادا کړي دی، تا ته د مرګ د راتګ وخت معلوم دی، تا مرګ ته تیاری نیولی دی؟.هغسي ځواب لکه سائل چې یې غواړي نه یې ورکوي. ځکه چې، دلته دوې خبري دي، یو خوا ته حضرت محمد ﷺ غوښتل چې سائل لومړی د هغه څه زده کړي ته و هڅوي چې د دین په زده کړه کې لومړی خبري دي ځکه چې تر دې وخته د سائل پوهه او استعداد هم دومره و او بل حضرت محمد ﷺ ته معلومه سوه چې سائل د دې وړتیا نه لري چې د دغسي علمي مسئلو ادراک دي وکړي. نو زه هم د پورته حدیث شریف له فهم څخه دا مطلب افاده کوم چې دغسي بحثونه د عوامو لپاره هیڅ معنی نه لري چې خپل وخت په مشغوله کړي.

عوامو ته په کار ده چې، د دین په مسائلو کې د علماء سره بحث ونه کړي. یوازې له علماء څخه د دین د مسائلو په اړه چې دوی ور سره مخ کیږي پوښتني وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربانديٍ باور وكړي. كه عوام داسي و نه كړي تل به د نفس او شيطان په لومو كي بند وي او د الله ﷻ له قهر او غضب سره به ځكه مخامخ وي چي نه يې خپله د دين مسائلي زده كړي وي او نه د علماء كرامو خبرو ته غوږ ږدي.

موږ ډېر عاجزه يو، الله تعالى دي موږول له داسي يو او بل ډول عقائدو څخه وساتي لكه څرنګه چي نن ورځ ځينو مسلمانانو خپلي كړي دي. دغه د ګډو وډو عقائدو كسان بل هدف او مقصد نه لري.يوازي او يوازي په دې فكر كي دي چي څرنګه د عامو او په دين او خپل مذهب باندي د ناخبرو خلكو په زړونو كي وسواسه ورپيدا كړي او فكرونه يې ګډ وډ كړي او خپلو اسلافو، علماء كرامو او خپلو مشرانو لكه پلار او نورو سره يې په اختلاف كي واچوي او د يو او بل ډول پوښتنو او په خپلو علماء كرامو باندي د پوښتنو، بې باوريو پيدا كولو او له هغوى سره په اختلافاتو پيدا كولو كي يې د ځان په لور ور وبولي او دغه وسواسه اچوونكي له نالوستو كسانو څخه د خپلي لاري حقاينت ورک او د خپلي لاري حقانيت ورته ثابت كړي.

دا كسان چي غېر مقليدين دي، ددوى دا عقيده ده چي، څلور سره مذهبه (هغه كه حنيفي مذهب دى، كه شافعي مذهب دي، كه مالكي مذهب دى، كه حنبلي مذهب دى) باطل دي.

غېر مقلد او په ناپوهۍ كي لامذهبه ځان جوړول د دوى شعار دى، د خپل نفس د غوښتونو پيروي كول، د مجتهيدينو تقليدكول باطل او شرک بلل دا د دوى كارونه او عقائد دي. موږ وايو: داسي كار كول يو حرام كار دى. دغسي عقيده درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبب د ګمراهۍ ګرځي. څکه د غیر مقلیدینو پیشوا مولانا محمد حسین بټالوی وایي:

د غیر مجتهد لپاره دا جائزه نه ده چي د مجتهدینو څخه تیښته وکړي [70] یعني د عوامو لپاره دا ضروري ده چي د یوه مجتهد تقلید وکړي او د خپل مجتهد په اقوالو با ور وکړي.له دې خبري وروسته مولانا محمد حسین بټالوي د دې خبري ښه وضاحت کوي دی وایي:

زما د **۲۵** کالو تجربه ده. او دارا ته معلومه سوېده، هغه کسان چي علم نه لري او ځان ته د مجتهد منصب ور کوي او د حقیقي مجتهدینو تقلید پرېږدي، داسي کسان په اخر کي د اسلام مبارک دین سره خدای په اماني وکړي او یا ځیني یې عیسایان سي او ځیني یې بیا لامذهبه سي. [71]

هم دغسي د غیر مقلیدینو مشر نواب صدیق حسن خان د خپلو غیر مقلیدینو په اړوند وایي:

**( فقد نبت في هذه الزمان فرقة ذات سمعة وریاء تدعي انفسها علم الحدیث والقران و العمل و العرفان )** [72]

---

[70] - اشاعت السنة : ۱۱ جلد ۲۱۱ مخ.
[71] - اشاعت السنة : ۱۱ جلد، ۵۳ مخ.
[72] - الحطه في ذکر صحاح الستۀ : ٦٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: په دغه زمانه کي یوه ډله پیدا سوېده چي شهرت خوښوونکي دي او ریا کاره دي. د علم د نه شتون سره ځان د علم او عمل عاملین بولي. سره له دې چي په دوی کي د علم، عمل او عرفان بوی هم نسته.محترم حسن خان صاحب په پورته خبرو پسي زیاتوي.

( **فیاللعجب این یسمون انفسهم الموحدین المخلصین و غېر هم بالمشرکین و هم اشد الناس تعصباً و غلواً في الدین**)

**ژباړه**: ډېره د تعجب خبره ده. غېر مقلیدین خپل ځانونه خالص موحدین بولي او مقلیدین مشرک بولي. سره له دې چي غېر مقلیدین خپله په ټولو خلکو کي متعصب او غالي دي. حسن خان صاحب خپل دغه مضمون په دغه جمله پای ته رسوي.

( **فما هذا دین الافتنة في لارض و فساد کبیر** )

**ژباړه**: دغه لاره کومه چي غېر مقلیدینو غوره کړې ده چي په دین کي د ناخبرۍ یا په دین کي د خپلي بې علمۍ سره سره ځانونه مجتهدین بولي ) کوم دین نه دی، بلکي دا په مځکه کي فتنه او لوی فساد دی.

د غېر مقلیدنو د مشرانو له عباراتو څخه دا ښکاره سوه چي هر هغه څوک چي د اجتهاد مرتبې ته نوي رسېدلی باید دغه کس ضرور د یوه امام تقلید وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څلورو امامانو تقلید او په څلورو امامانو کي د تقلید حصر کېدل د جمهورو علماء کرامو په قول دا د الله تعالی ﷻ له لوري مورږ ته یو لوی نعمت را کړل سوی دی. په هر وخت کي محدثین، مفسیرن او علما ء کرام دا وضاحت کوي، کوم څوک چي له تقلید څخه منکر او له ځان څخه غیر مقلید جوړ وي، دا داسي مثال لري لکه: اوښ چي بېله مهاره وي.ځکه؛ دی د خپل نفس په غوښتونو عمل کوي او د اهل بدعت له ډلي څخه شمېرل کیږي. داسي کسان په هیڅ صورت کي د اهل سنت والجماعت څخه نه دي.

د عوامو لپاره ښه خبره هغه ده کومه چي د امام غزالي رحمه الله له ویناوو معلومیږي چي وایي: عوام خلک دي د دین په مسائلو کي اختلاف نه کوي. ځکه چي، له دوی سره په دین کي پوهه نه وي. د خپلي ناپوهی له امله ځانونه د گمراهی او بې ایمانی کندي ته تېل وهي. د دین مسائلي دي و علماء کرامو ته پریږدي او دوی دي پر هغه مسائلو باور وکړي چي د علماء کرامو له لوري ورته ویل کیږي تر څو د علماء کرامو په اتباع سره هغه څه لاس ته راوړي په کومو سره چي د الله تعالی ﷻ راضا حاصلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله مذهب د امام اعظم صاحب مبارك رحمه الله.....

امام اعظم ابو حنيفه، يعني نعمان بن ثابت كوفي رحمه الله.

امام اعظم رحمه الله چي اصلي نوم يې نعمان رحمه الله دی، کنيت يې ابو حنيفه دی او لقب يې امام اعظم دی. د هجرت په اتيايم (۸۰) هـ کال په کوفه کې د ثابت رحمه الله په کور کې يې و دې نړۍ ته سترګې پرانستلې. د تاريخ په پاڼو کې د کابل بلل سوی دی چي د اسلام په اوايلو کې يې د کورنۍ مشران کوفې ته تللي وو.

امام اعظم رحمه الله عرب نه بلکي عجمي و. ده مبارک د عمر په شل کلنی کې په تعليم (زده کړه) پيل وکړ. د خدای ورکړي استعداد او ښې حافظې له مخې يې ډېر ژر د قرآن کريم او احاديثو په زده کړه کې يې ډېر پر مختلګ وکړ او ډېر ژر يې د اجتهاد درجې ته ځان ورساوه تر څو په فقهي مسائلو کې يې د نبوغ درجه تر لاسه کړه.

د علم ادب، علم النساب او د علم کلام تر زده کړي وروسته يې د فقهي د علمي زده کړي لپاره د وخت د مشهوره عالم امام حماد صاحب رحمه الله په درس کې برخه واخيسته.

د امام اعظم رحمه الله د استاذانو شمېر نژدې څلور زرو (۴۰۰۰) ته رسيږي مګر پر امام اعظم رحمه الله باندي، د ډېر شفقت او مهربانۍ له کبله چي پر ده مبارک يې لرله، د حماد رحمه الله نوم ډېر د ياد ولو وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام اعظم رحمه الله چي کله د درس او تدریس سلسله پیل کړه.له لیر ځایونو څخه د دین د زده کړي لپاره د دین طالبان د پتنګان په څېر پر رامات سول او د امام صاحب په درسونو به یې خپله علمي تنده ماتوله.

علامه کردري رحمه الله وايي: اته سوه ( ۸۰۰ ) فقها ، محدیثین، صوفیاکرام او مشائخ د امام اعظم رحمه الله په شاګردانو کي راځي.

امام اعظم رحمه الله په خپل وخت کي د فقهي علم د اسلامي قانون د جوړولو لپاره د څلوېښتو ( ۴۰ ) جیدو ( سترو ) علماء کرامو یو مجلس جوړ کړ چي له ډېر جر او بحث وروسته د دغه مجلس له خوا څخه د حنیفي فقهي په نامه یو داسي تل پاته او ژوندی اسلامي قانون جوړ کړل سو چي دغه فقهي قانون  پر خپل جامعیت په خپله شاهدي ورکوي.

د همدغه مجلس له خوا چي کومي مسائلي له قرآن کریم او احادیثي نبوي څخه استنبات سوې د هغو مسائلو شمېر له (۱۲۷۰۰۰۰) دوولس لکه اویا زرو څخه هم زیات و. له دې امله حنیفي فقهي ته فقه شورايي هم ویل کیږي.

که څوک دا ووايي چي، ولي امام صاحب دا قانون جوړ کړ چي باید ووایم:د صحابه کرامو په وخت او زمانه کي. د صحابه کرامو هغه ډلي چي په اسلامي فقه او اجتهاد کي یې لاس درلود ، دهغه وخت د اسلامي حکومت ( اسلامي خلافت ) په هر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي دې علماء کرامو شتون درلود. کوم مسائل چي به دوی ته وړاندي کېدل هغه به یې د قرآن کریم، احادیثي نبوي او اجتهاد په رڼا کي حل کول.

کله چي د صحابه کرامو د ټولي، وروستی صحابي حضرت ابوالطفیل ﷛ په ( ۱۱۰ ه ) کي وفات سو، دغه ستر مسؤلیت د صحابه کرامو د شاګردانو یعني، تابعینو ته ور د غاړي سو.

د تابعینو په زمانه کي اووه ( ۷ ) داسي ستر ځایونه وو چي، د احادیثو او نبوي علومو مراکز بلل کېدل. په دې مراکزو کي د فتواګانو اړوند مسائل د هغه وخت د جیدو علماء کرامو له خوا حل کېدل.

د هغو اوو ( ۷ ) مراکزو نومونه په لاندي ډول دي.

۱ - مدینه منوره. ۲ - مکه مکرمه. ۳ - بصره. ۴ - د مشق. ۵ - مصر. ۶ - کوفه. ۷ - یمن.

په دې مراکزو کي د علمیت له پلوه د پام وړ مقام کوفې درلود ځکه؛ په کوفه کي په زرګونو صحابه کرامو ژوند کړی و او د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ او ابو هریرة ﷛ په شان صحابه کرامو په کوفه کي په زرګونه شاګردان پریښي وو. په هم دې خاطر کوفه د علم الحدیث او فقهي علومو له کبله د خلکو د رجوع یوه ښه مرجع بلل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (۱۲۰)هـ له مخه د کوفې د امام، د حدیثو د حافظ او د هغه وخت د فقهي د ستر استاد، حماد صاحب رحمه الله په درس او د هغه په درس ګاه کې، د ده د شاګردانو په ډله کې تر ټولو ممتاز او ذهين طالب علم امام اعظم رحمه الله و.

د ستر استاد حماد رحمه الله له وفات وروسته، د ده د درسګاه مدرس امام اعظم رحمه الله سو. کله چې امام اعظم صاحب رحمه الله په دې منسب کښېنوست، د خپلې زيرکتيا له مخې يې په هر لوري د خپل فکر سپرلی ځغلول. ده ته دا څرګنده سوه چې، په نن وخت کې کوم علماء کرام موجود دي. سبا به نه وي. که نن ورځ د دوی له وجود څخه ګټه وا نه خستل سي، کېدای سي سبا دغه د علم ستر دريابونه زموږ له لاسه وتلي وي او بيا به وچې شونډې ګرځو او داهم يوه څرګنده خبره ده چې په هروخت کې نوي نوي مسائل رامنځ ته کيږي.

نو دا يوه اړينه خبره ده چې، نن ورځ يو داسي قانون جوړ کړل سي چې د راتلونکونسلونو د ژوند لپاره ځراغ و ګرځي او دا قانون بايد داسي ترتيب سي چې د انساني ژوندانه و هر اړخ ته په کې ځای ور کړل سوی وي.دغو اړتيا وو ته په کتو سره امام اعظم رحمه الله په خپلو زرګونو شاګردانو کې وکتل، د هغوی له ډلې څخه يې څو کسه د هغوی د لوړو استعدادونو او زرکتياوو له مخې غوره کړل چې شمېر يې نژدې څلويښتو ته رسيږي اونومونه يې په لاندي ډول دي:

۱ - امام زفر رحمه الله چې په ۱۵۸هـ کې وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ - امام داؤد طايي رحمه الله چي په ۱۲۰ هـ کي وفات سوی دی.

۳ - امام حبان بن علي رحمه الله چي په ۱۷۳ هـ کي وفات سوی دی.

۴ - امام زهير بن معاويه رحمه الله چي په ۱۷۳ هـ کي وفات سوی دی.

۵ - امام حماد بن امام اعظم رحمه الله چي په ۱۷۲ هـ کي وفات سوی دی.

۶ - امام شريک بن عبدالله رحمه الله چي په ۱۷۸ هـ کي وفات سوی دی.

۷ - امام عبدالله بن مبارک رحمه الله چي په ۱۸۱ هـ کي وفات سوی دی.

۸ - امام محمد بن نوح رحمه الله چي په ۱۸۲ هـ کي وفات سوی دی.

۹ - امام ابوسعيد يحيی بن ذکريا رحمه الله چي په ۱۸۴ هـ کي وفات سوی دی.

۱۰ - امام اسد بن عمرو رحمه الله چي په ۱۸۸ هـ کي وفات سوی دی.

۱۱ امام علي بن مسهر رحمه الله چي په ۱۸۹ هـ کي وفات سوی دی.

۱۲ امام عبدالله بن ادريس رحمه الله چي په ۱۹۲ هـ کي وفات سوی دی.

۱۳ امام علي بن طيان رحمه الله چي په ۱۹۲ هـ کي وفات سوی دی.

۱۴ امام وکيع بن جراح رحمه الله چي په ۱۹۷ هـ کي وفات سوی دی.

۱۵ امام يحيی بن سعيد القطان رحمه الله چي په ۱۹۸ هـ کي وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶ امام ابو حفص بن عبدالرحمن رحمه الله چي په ۱۹۹ هـ کي وفات سوی دی.

۱۷ امام خالد بن سليمان رحمه الله چي په ۱۹۹ هـ کي وفات سوی دی.

۱۸ امام حسن بن زياد رحمه الله چي په ۲۰۴ هـ کي وفات سوی دی.

۱۹ امام مکي بن ابراهيم رحمه الله چي په ۲۱۵ هـ کي وفات سوی دی.

۲۰ امام مالک بن مغول رحمه الله چي په ۱۵۹ هـ کي وفات سوی دی.

۲۱ امام مندل بن علي رحمه الله چي په ۱۲۸ هـ کي وفات سوی دی.

۲۲ امام عمرو بن ممون رحمه الله چي په ۱۷۱ هـ کي وفات سوی دی.

۲۳ امام ابو عصمه رحمه الله چي په ۱۷۳ هـ کي وفات سوی دی.

۲۴ امام قاسم بن معين رحمه الله چي په ۱۷۵ هـ کي وفات سوی دی.

۲۵ امام هياج بن بسطام رحمه الله چي په ۱۷۷ هـ کي وفات سوی دی.

۲۶ امام ابو يوسف رحمه الله چي په ۱۸۲ هـ کي وفات سوی دی.

۲۷ امام هشيم بن بشير السلمي رحمه الله چي په ۱۸۳ هـ کي وفات سوی دی.

۲۸ امام فضيل بن عياض رحمه الله چي په ۱۸۷ هـ کي وفات سوی دی.

۲۹ امام محمد بن الحسن رحمه الله چي په ۱۸۹ هـ کي وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳۰** امام یوسف بن خالد رحمه الله چي په **۱۸۹** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۱** امام فضل بن موسی رحمه الله چي په **۱۹۲** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۲** امام حفص بن غیاث رحمه الله چي په **۱۹۴** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۳** امام هشام بن یوسف رحمه الله چي په **۱۹۷** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۴** امام شعیب بن اسحاق رحمه الله چي په **۱۹۸** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۵** امام ابو مطیع بلخي رحمه الله چي په **۱۹۹** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۶** امام عبدالحمید رحمه الله چي **۲۰۳** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۷** امام ابو عاصم النبیل رحمه الله چي په **۲۱۲** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۸** امام حماد بن دلیل رحمه الله چي په **۲۱۵** هـ کي وفات سوی دی.

**۳۹** امام نضر بن عبدالکریم رحمه الله چي په **۱۲۹** هـ کي وفات سوی دی.

**۴۰** امام عافیه بن زید رحمه الله چي په **۱۸۰** هـ کي وفات سوی دی.

دغه علماء کرام چي پورته یې نومونه یاد کړل سول د خپل وخت مجتهدین او جید علماء کرام وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ځلوېښتو علماء کرامو له جملې څخه لس ( ۱۰ ) یا دوولس ( ۱۲ ) یې داسي عالمان وو چي تر خپل منځ یې ځانګړې ناستې یا مجلسونه درلودل. دغو علماء کرامو د خپلې ښې وړتیا له مخي د پورته یادو ځلوېښتو علماء کرامو پر مجالسو ځانګړې نظارت درلود.

د دغه مخصوص مجلس غړي، امام ابو یوسف رحمه الله، امام زفر رحمه الله، امام داؤد طائي رحمه الله، امام یوسف بن خالد رحمه الله، یحیی بن ذکریا رحمه الله، امام محمد رحمه الله، عبدالله بن مبارک رحمه الله وو. همدا ډول په دغه مجلس کي امام ابو حنیفه رحمه الله هم خپله ګډون درلود.[73]

د هم دغه فقهي مجلس په اړه امام وکیع بن جراح رحمه الله او امام شافعي رحمه الله وایي:

( د امام ابو حنیفه رحمه الله په کار کي به څنګه غلطیا پیداسي ) له امام صاحب سره په کارونو کي ابویوسف رحمه الله، حفص بن غیاث رحمه الله او د حبان رحمه الله په څېر د حدیثو پوهان موجود دي. د عربي لغاتو استاد او ماهر قاسم بن معین رحمه الله ور سره ملګری و. همدا ډول د نفیر طایي رحمه الله، فضیل بن عیاض رحمه الله په څېر د تقوی او پرهېزګارۍ ځراغان ور سره ملګري وو. په داسي حال کي چي، له چاسره داسي ستر کسان ملګري وي په هغه وخت د غلطۍ امکان تر ډېر حده نه وي او که کله کومه غلط فهمي رامنځ ته هم سي په هم هغه مهال یې د حل لاري چاري لټوي څکه چي،

[73] - الجواهر المضیة : ۱ جلد، ۱٤ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوم ځای کي چي کوم کارونه د یوه فکر پر ځای د ډیرو فکرونو او پوهو علماء کرامو له خوا حل کیږي تل یې نتیجه ښه وي.[74]

ټول علماء کرام، پر دې خبر یوه خوله دي چي، امام اعظم رحمه الله تابعي دی. د صحابه کرامو څخه یې د حدیثو روایات په ثبوت رسېدلي دي.

امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله د ټولني د اصلاح او سیاست لوړ شخصیت یادیږي او د ټولني د اصلاح او سیاست په رازونو پوهېدل، حق ویل، د باطل مخ نیول، د اسلام او دین پر مخ بېول، حنیفي فقهي ته ترتیب ور کول، دا ټول داسي حیرانوونکي کارونه دي چي، د تاریخ د پام وړ برخه ګرځېدلې ده.

دغسي د علم او د ښه فکر خاوند، زاهد، متقي او مجاهد کس د خپلو پورته یادو، لوړو لوړو کارنامو سره سره له دې بېوفا نړۍ څخه په ۱۵۰ هـ کي سترګي پټي کړې او د ابدي ژوند پر لوري یې سفر وکړ.

**انا لله و انا الیه راجعون.**

که از آن دم که تو سفر کردي — از حلاوت جدا شدیم چو موم
همه شب چو شمع می سوزیم — ز اتشش جفت وزانګبین محروم
در فراق جمال تو مارا — جسم ویران وجان ازاد چون بوم

[74] - جامع المسانید : ۳۳ مخ.ږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هان عنان را بدین طرف برتاب　　　زفت کن پیل عیش را خرطوم

بې حضورت سماع نیست حلال　　　همچو شیطان طرب شده مرجوم

یک غزل بې تو هیچ گفته نشد　　　تا رسید آن مشرفه مفهوم

پس بزوق سماع نامه تو

غزل پنج و شش بشد منظوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مالک رحمه الله د انس زوی، انس رحمه الله د مالک زوی او هغه د ابي عامر زوی دی.

د امام مالک رحمه الله اصلي نوم مالک رحمه الله دی. لقب یې امام دار الهجرة دی او کنیت ابو عبدالله دی.

امام مالک رحمه الله د صحیح روایاتو لمخې په (۹۳) هـ سنه کې، د مدینې منورې په ستر ښار کې و زېږد.

امام مالک رحمه الله په خپل وخت کې د مدینې منورې د احادیثو امام، فقهي، زاهد او د ډيري لوړي هستۍ شخصیت و.

د موطا په نامه کتاب یې د حدیثو په فن کې خورا ډېر مشهور دی. د امت محمدي علماء کرام ورته په ډېره درنه سترګه ګوري.

امام مالک رحمه الله لکه څرنګه چې، په مدینه منوره کې زېږېدلی دی، همداسې په مدینه منوره کې د څلمیتوب دورې ته هم رسېدلی دی او په همدغه ښار کې یې و زده کړو ته هم مخه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام مالک رحمه الله د قرآن کریم د قرآئت سند له امام القراء ابو ثالث نافع بن عبدالله څخه تر لاسه کړی دی. همدا ډول د احادیثو له زده کړي سره يې له ماشومتوب څخه مينه درلوده.

د امام مالک رحمه الله د احاديثو لومړی استاد حضرت نافع رحمه الله دی، حضرت نافع رحمه الله هغه لوی شخصيت و چي، د خپل ژوندانه لويه برخه يعني ( ۳۰ ) کاله يې د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه په خدمت کي تېره کړېده.

امام مالک رحمه الله د حضرت نافع رحمه الله سره سره د نورو ګڼو استاذانو څخه هم زده کړي، کړي دي.

د امام مالک رحمه الله د استاذانو شمېر تقريباً ( ۹۳ ) کسانو ته رسيږي. په هغه وخت کي د علم د تحصيل دائره دومره پراخه نه بلکي په فنونو کي زده کړه او مهارت ضروري بلل کېده. ډېره پاملرنه. تفسير القرآن، حديث پوهنه، فقه، علم ادب او لغت ته کېدله.

امام مالک رحمه الله چي کله په مروجه علومو کي پوهه او مهارت حاصل کړ، په لږ وخت کي يې د خپل ښه ذهن او ښه استعداد له مخي د استادۍ مقام ته ورسېد. په دې دپاسه امام مالک رحمه الله په فتوی ور کولو او اجتهاد کي ځانګړی استعداد درلود.

امام مالک رحمه الله چي کله د امت مسلمه يا امت محمدي د خدمت لپاره ملا و تړله، په دې وخت کي د امام مالک رحمه الله عمر ( ۲۴ ) کاله و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام مالک رحمه الله په دې لږ عمر کې د خپل وخت پیاوړی مفتي، لاربنود او مدریس یاد ولای سو.

امام مالک رحمه الله په خپل وخت کې د یوې ښې درسګاه او تدریس مدریس یادیږي. ده محترم په درس کې له نورو څخه بېله لاره درلوده.مثلاً: د ده د درس یوه تګلاره دا وه چې، ده محترم به د درس په وخت کې په خپله د کتاب متن او عبارت نه وایه بلکې د کتاب عبارت به یې په شاګردانو وایه.

امام مالک رحمه الله به یې سماع کول یعني درس به یې اوربده. د محدیثینو په اصطلاح و دې طریقې ته ( **قرائت علی الشیخ** ) ویل کیږي. له دې طریقې څخه د امام مالک رحمه الله موخه دا وه چې، د حدیثو کره کتنه هم وسي او شاګرد هم د عبارت له ویلو سره بلد سي.

د امام مالک رحمه الله د درسګاه ځانګړتیاوې:

د ده مبارک درسګاه به ډېره ارامه وه. امام شافعي رحمه الله وایي:

ژباړه: موږ به د امام مالک رحمه الله په تدریسې ساعت کې د کتاب پاڼې هم په ډېر احتیاط سره اړوې تر څو اواز و نه کړي.

امام مالک رحمه الله د خپل وخت ستر عالم او ستر شخصیت و. د علمیت اواز یې تر لیرې لیرې ځایونو پورې تللی و. د هرچا په زړه کې د امام مالک رحمه الله سره محبت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه وه. که به څوک ور سره مخالف و، هغه به هم د ده په علمیت او تقوی اقرار کاوه.

په هغه وخت کې به چې کوم حجاج د حج د فریضې د ادا کولو لپاره بیت الله شریفې ته راتلل: د حکومت له خوا به په دې موسم کې یو مفتي ټاکل کېده تر څو د حجاجو شرعي مسئلې حل کړي.د امام مالک رحمه الله په وخت کې دغه منصب و ده ته ور کول سوی و. د امام مالک رحمه الله سره په دې خدمت کولو او فتوی ورکولو کې امام ابن ذئب رحمه الله هم ملګری و.

امام مالک رحمه الله د فتوی په ور کولو کې ډېر د احتیاط څخه کار اخیسته . که د کومې مسئلې په هکله به یې معلومات نه درلود ، نو و خلکو ته به یې په ښکاره ویل چې، زه په دې مسئله کې معلومات نه لرم.

یوه ورځ یو کس امام مالک رحمه الله ته راغلی، د یوې مسئلې اړوند یې پوښتنه ځینې وکړه. امام مالک رحمه الله ورته وویل: زه په دې مسئله نه پوهېږم.هغه کس ورته وویل: اې امامه! زه له ډېر لیرې ځای څخه تاسو ته راغلی یم او غواړم چې د دې مسئلې ځواب له تاسو څخه واورم او ته راته وایې چې زه د دې مسئلې په اړه معلومات نه لرم. کله چې بېله کوم ځوابه خپل کلي یا وطن ته ولاړسم، زه به د خپل وطن خلکو ته د دې مسئلې په اړه څه ځواب وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام مالک رحمه الله ورته وویل: ته چي کله خپل وطنوالو ته ورسېدې. هغوی ته ووایه چي، امام مالک رحمه الله ویل چي، زه په دې مسئله نه پوهېږم. سبحان الله. د وخت پېړندل سوې څېره، ښه عالم او زاهد په فتوی کي څونه احتیاط کوي او زموږ په وخت کي موږ بیا د فتوی په ورکولو کي له یو لږ بې علمی سره څومره بیړه کوو.

څرنګه چي هر ساکښونکی اخر په مرګ محکوم دی او دا د قرآن فیصله ده چي، یو ساکښ به هم ژوندی نه پاته کیږي بېله یوه الله جل جلاله، نو امام مالک رحمه الله هم د الله جل جلاله د مخلوقاتو له جملې و چي، تل پاته ژوند یې نه درلود.

دی مبارک د عمر په وروستیو کي درې ( ۳ ) ورځې سخت ناروغه سو. د ناروغۍ په مده کي ورته ډېر مخلصین د پوښتني لپاره راتلل.په ۱۷۹ ه.کي. د الهي قضا سره یې د ( ۸۶ ) کلونو په عمر د مرګ فرشتوته لبیک ووایه.

**انا لله و انا الیه راجعون.**

ایهاالنور في الفواد تعالی

غایة الوجه والمراد تعالی

ایهاالسابق الذي سبقت

منک مصدوقة الوداد تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چون بیائي زهي کشاد ومراد

چون نیائي زهي کساد تعالی

انت کشمس ازدت ونات

یاقریب علی البعاد تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله مذهب د امام شافعي رحمه الله:

محمد د ادريس، هغه د عباس، هغه د عثمان، هغه د شافع، هغه د سائب، هغه د عبيد ، هغه د عبد ، هغه د هاشم، هغه د عبدالمطلب، هغه د عبد مناف القريشي الهاشمي زوی دی.

د امام شافعي رحمه الله اصلي نوم محمد دی، کنيت يې ابو عبدالله دی او لقب يې ناصر السنة دی.

امام شافعي رحمه الله په (۱۵۰) هـ سنه کې د فلسطين په مشهور ښار عسقلان کې دې نړۍ ته سترګې روښې کړې.

امام شافعي رحمه الله د عسقلان د مشهوره علماء کرامو او پوهانو له جملې څخه و. په حديثو او فقه کې يې د پام وړ خدمتونه کړي دي او د ده دا خدمتونه له هيچا څخه پټ نه دي.

امام شافعي رحمه الله په ماشومتوب کې د خپل پلار له مهربان سيوري څخه بې برخي سوی دی او په کوچني والي کې يې د يتيم والي ستړياوي وګاللې.

مور مبارکې يې دا خپل يتيم او نازولی زوی مکې مکرمې ته ولېږه او هلته يې د زده کړې زمينه ورته مساعده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام شافعي رحمه الله په مکه مکرمه کي د ماما په کور کي اوسېده. ماما يې هم په ډېر غربت کي ژوند کاوه. په هم دې خاطر يې ماما هم د ده رحمه الله د زده کړو پوره مصارف نه سواى ورکولاى.

امام شافعي رحمه الله چي کله مکې مکرمې ته راغى په دې وخت کي د امام شافعي رحمه الله عمر تقريباً لس (۱۰) کاله و.

امام شافعي رحمه الله د شعر، ادب او لغت سره ډېر مينه لرله. په هم دې خاطر امام شافعي رحمه الله يو څه موده له هذيل قبيلې سره تېره کړه. په دې مهال کي امام شافعي رحمه الله په عربيت، شعر، او لغت کي ډېر څه تر لاسه کړل.

امام شافعي رحمه الله د خپل خداى ورکړي ښه ذهن او استعداد له امله په لږ وخت کي مروجه فنون ولوستل. له دې وروسته امام شافعي رحمه الله په مکه مکرمه کي د امام مسلم بن خالد رحمه الله سره درې کاله تېر کړل. وروسته امام شافعي رحمه الله مدينې منورې ته ولاړ او هلته يې د امام مالک رحمه الله په درسګاه کي شريک سو او له امام مالک رحمه الله نه يې ښه زده کړه وکړه. په دې دپاسه امام شافعي رحمه الله د مدينې منورې له نورو جيدو علماء کرامو څخه هم زده کړي وکړې او د هغوى له فيوضاتو څخه برخمن سو.

امام شافعي رحمه الله په لږ وخت کي د حديثو د فن په کره کتنه کي لوى لاس پيدا کړ. دى جناب لا په دې وخت کي ځوان و چي د حديث په تفسير، فقه، نبوي سيرت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغت، تاریخ، طب او په ادب کې یې پوره ورتیا وموندل او وروسته د هم دې علومو د استاد په حیث و منل سو.

امام شافعي رحمه الله د علم د حاصلولو لپاره ډېرو سیموته سفرونه وکړل لکه: مکه مکرمه، مدینه منوره، عراق، حجاز او هم داسې نورو سیمو ته تللی دی.

د امام شافعي رحمه الله ځینې استاذان د ډېر شهرت خاوندان دي لکه: امام مسلم بن خالد رحمه الله، امام مالک بن انس رحمه الله، امام محمدبن حسن رحمه الله، محمد بن اسماعیل رحمه الله او عبدالله بن نافع رحمه الله چې تر ډېره لیرې پورې یې د علم او پوهې اوازې رسېدلې وې.

امام شافعي رحمه الله د مروجه علومو د فراغت وروسته په مکه مکرمه کې په درس بوخت سو. له دې امله د امام شافعي رحمه الله د درس او علمیت اوازه په لږ وخت کې تر لیرې لیرې ځایونو پورې ورسېده. طالب علمان به د زده کړې لپاره د پتنګانو په څېر ور ته راتلل.

امام شافعي رحمه الله د خپل علمي ژوند په وختونو کې د امت محمدي لپاره داسې علماء کرام وروزل چې هر شاګرد یې د اسلامي تاریخ ځلانده ستوری بلل کېږي لکه: امام احمد بن حنبل رحمه الله او نور.

امام شافعي رحمه الله د درس او تدریس برسېره ځینې کتابونه هم لیکلي دي. تر ټولو لوی تصنیف یې. مسند امام شافعي دی چې، د حدیثو په برخه کې یې لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې پرته يې نور تصنيفات هم سته لكه: ( كتاب الام ) ( الرسالة ) ( كتاب اجماع العلم ) ( اختلاف الحديث ) ( خلاف مالک ) او هم داسي نور، د امت محمدي دغه ستر عالم په ( ۲۰۴ ) هـ كي د رجب المرجب په مياشت كي د ورپيښبې سوي ناروغۍ له امله په ( ۵۴ ) كلنۍ كي وفات سو او د تل لپاره يې له دې نړۍ څخه ستر ګي پټې كړې.

**انا لله و انا اليه راجعون.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله: امام احمد بن حنبل صاحب رحمه الله: ....................

امام احمد د محمد، هغه د حنبل شیباني المروزي رحمه الله زوی دی.

نوم یې احمد دی، کنیت یې ابو عبدالله او لقب یې امام الحافظ دی.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ربیع الاول په میاشت کې په ۱۶۴ هـ کې د بغداد په ښار کې دې نړۍ ته سترګې رڼې کړې.

امام احمد بن حنبل رحمه الله دوخت له وتلو علماء کرامو، فقهاؤ او محدثینو څخه ګڼل کیږي. د اسلامي نړۍ ټول علماء کرام د امام احمد بن حنبل رحمه الله علمي مقام، پوهې او د دین په لاره کې نه هېرېدونکي هڅو او ستړیاو ته د قدر په سترګه ګوري.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله مور مبارکې خپل د سترګو تور زوی د دیني علم د زده کړې لپاره په ماشومتوب کې لادوخت د ښو علماء کرامو تر درسګاو پورې د علم د زده کړې په موخه ورساوه. د ده مبارک د مبارکې مور د هڅو نتیجه دا سوه چې ده مبارک په ماشومتوب کې قرآن کریم حفظ کړ.

د قرآن کریم تر حفظ وروسته یې د علم لغت او د وخت د نورو مروجه علومو په لور مخه کړه. تر لومړنۍ زده کړو وروسته یې خپله ټوله پاملرنه د تفسیر او حدیثو په لور واړوله. ده مبارک اووه کاله ( ۷ ) کاله پر له پسې د بغداد له سترو علماء کرامو او حدیث پوهانو څخه زده کړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې وروسته بصرې ته ولاړ او بيا حجاز ته ولاړ. په حجاز کې د امام شافعي رحمه الله سره يې ملاقات وسو. په امام شافعي رحمه الله باندې يې اصول الفقه، ناسخ او منسوخ او د امام مالک رحمه الله موطا وويل.

په (**١٩٨**) هـ کې يې د حج د فرضيې د ادا کولواراده وکړه او د حج سفر يې په خېر سو او د حج تر اداييني وروسته د يمن پلازمېني (پايتخت) صنعا ته ولاړ. د ده اراده وه چې پر مشهور محدث امام عبدالرزاق رحمه الله باندې د احاديثو نوري زده کړې هم وکړي. په دې سفر کې له امام احمد بن حنبل رحمه الله سره امام يحيى بن معين رحمه الله هم ملګری و.

کله چې امام احمد بن حنبل رحمه الله په مروجه علومو کې مهارت حاصل کړ او د ده د علميت شهرت د اسلامي نړۍ تر ليري کونجونو ورسېد، نو په درس او فتوی ورکولو يې پيل وکړ.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د احاديثو په روايت کې ډېر احتياط کا وه. هيڅ وخت يې د خپلې حافظې په زور کوم حديث نه روايت کاوه. بلکې له خپلو ليکنو يې شاګردانو ته حديث اورول. همدارنګه يې د فتوی په ورکولو کې هم له حده زيات احتياط کاوه. په ناخبرۍ کې يې چا ته فتوی نه ورکول.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د اسلامي نړۍ په نوموتو علماء کرامو زده کړې و کړې. د ټولو استاذانو شمېر يې ډېر دی مګر په هغوی کې يې د ځينو استاذانو نومان راوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه: امام شافعي رحمه الله، امام عبدالرزاق رحمه الله، هشيم بن بشير رحمه الله، عمير بن عبدالله رحمه الله، عبدالرحمن بن مهدي رحمه الله، ابوبکر بن عياش رحمه الله او همداسي نور.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د خپل ژوند د تېر ولو پر مهال له ډېرو سترو کړاونو سره مخ سوی دی. د امام احمد بن حنبل رحمه الله په وخت کي د عباسي خلفاوو خلافت و. په دې وخت کي د عباسي خلفاو په ملاتړ او د معتزله و په لمسون د قرآن کريم د مخلوقيت مسئلې خورا زور اخيستی و او حکومت رسماً دا اعلان کړی و چي که څوک دا عقيده و نه مني هغه به زندان ته ځي او شکنجې به ور کول کيږي.

په دې لړۍ کي د اسلامي نړۍ ګڼ ديني پوهان او علماء کرام له ننګونو، ستونزو او کړاونو سره مخ سول. ځينو علماء کرامو سمدستي د قرآن په مخلوقيت اعتراف وکړ او ځينو بيا تر لږ وهلو ټکولو وروسته خپل دريځ پرېښود مګر امام احمد بن حنبل رحمه الله د هغو علماء کرامو له جملې څخه و چي له هر ډول ځورولو او سختۍ سربېره پر خپله عقيده پاته سو.

ده دا عقيده هيڅ کله و نه منل. هغه عقيده چي په قرآن او سنت کي د هغه دليل نه وي او بنسټ يې يوازي د فلسفې پر اندونو او اصولو ښودل سوی و. درسمي تحقيقاتو پر مهال چي به هر وار د دې عقيدې خپلو لو ته اړ ايستل سو نو د امام ځواب به دا وو چي ماته له قرآن او حديثو څخه دليل راوړئ تر څو امام احمد بن حنبل رحمه الله ته تر سختو ازموينو وروسته برياليتوب ور په برخه سو او مخالفين يې له پوره ملي او رسمي طاقت سربېره د ماتي سره مخامخ سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام احمد بن حنبل رحمه الله په يوازي سر د دغه فتنو سره په مقابله کي ولاړ و. په هم دې خاطر د امام په دغه کارنامه ټوله امت محمدي وياړي. په ټولو مجتهدينو کي و نوموړي امام ته د مجاهد لقب ورکړ سوی دی.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ستونځو او لاتجو په دې بهير کي د امت لپاره د تاليف په ډګر کي لوی خدمتونه وکړل. تر ټولو ستر خدمت يې هغه کتاب دی چي د کتابونو مصنفين او د مسائلو استنبات کوونکي او د نړۍ نژدې ډېر مسلمان ترې ګټه پورته کوي.

هغه د نبوي سنتو په ميدان کي هغه ټولګه ده چي زيات شمېر صحيح احاديث يې په کي راټول کړيدي او د مسند احمد بن حنبل رحمه الله په نامه مشهور دی. امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل دې کتاب کي د حديثو د پوهانو په وينا (٢٥) زره څخه ډېر احاديث راټول کړي دي.

دغه ستر امام، مبارز او مجتهد هم په دې بې وفا نړۍ کي دائمي ژوند و نه کړ. آخر د الله جل جلاله په امر له دې دنيا څخه په ٢۴١ هـ کي د ربيع الاول د مياشتي په ١٢ نېټه د جمعې په ورځ يې له دې دونيا رخصت واخيست.

**انا لله و انا اليه راجعون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله: څلور سره مذهبه حق دي او حق يې بولو:..............

څلور سره مذهبه حق دي. هغه که مذهب د امام ابوحنيفة رحمه الله وي، که مذهب د امام مالک رحمه الله وي، که مذهب د امام شافعي رحمه الله وي او که مذهب د امام احمد بن حنبل رحمه الله وي.

د دې موضوع اړوند مفصل بيان د تقليد په بحث کې تېر سو، هلته يې ښه مفصله يادونه وسوه خو بيا هم د متن په موافقت بايد يو څه وليکم ځکه چې، زموږ لپاره مقصود دادی چې هرځای يا هرڅو ځايه چې حق واضح سي يا واضح کيږي ښه خبره ده.

د څلورو مذاهبو د حقانيت اړوند حضرت شا ولي الله دهلوي رحمه الله وايي:

**(و هذه المذاهب الابعة المدونة المحراة قد اجتمعت الامة او من يعتدبها منها على جواز تقليدهاالى يو منا هذا)** [75]

دغه څلور مذهبه (مذهب د امام اعظم رحمه الله، مذهب د امام مالک رحمه الله، مذهب د امام شافعي رحمه الله او مذهب د امام احمد بن حنبل رحمه الله.) مدون او مرتب سوه. ټول امت يا د امت معتمدو علماء کرامو ددغه څلور مشهورو مذاهبو پر تقليد کولو په جواز باندي اجماع کړې ده او دا اجماع تر نن ورځي پوري باقي ده. (د دې مخالفت کول نه دی جائز بلکي مخالفت يې سبب د ګمراهۍ دی.

[75] - حجة الله بالغة : ١ جلد ، ٣٦١ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت شاه ولي الله د هلوي رحمه الله بل ځای واي:

**( بالجملة فالتمذهب للمجتهدين سراً الهمه الله تعالى العلماء جمعهم عليه من حيث يشعرون اولا يشعرون. )**[76]

خلاصه د خبرو داده چي، دغه مجتهدين (څلور مذاهبه) او د مذاهبو پابندي ( يعني شخصي تقليد ) يو راز او سر دی کوم چي الله جل جلاله د علماء کرامو په زړونو کي اچولی دی او پر دغه يې ټوله متفق کړي دي هغه که د تقليد کولو په مصلحت او راز پوهيږي او که نه.

موږ اهل سنت والجماعت ټل دا وايو چي، څلور سره مذاهب حق دي. که چيري موږ د مذاهبو له حقانيت څخه لاس واخلو العياذ بالله. دا زموږ لپاره په دنيا او اخرت کي د ناکامۍ سبب ګرځي. داسي هم نه ده چي موږ وايو، تقليد يا د مذاهبو پيروي پر هر چا واجب ده. هغه که هر څوک وي بلکي موږ تقليد او د مذاهبو پيروي د هغه چالپاره واجب بولو کوم څوک چي د اجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی. کوم څوک چي خپله مجتهد نه وي . د هغه لپاره دا اړينه ده چي تقليد وکړي. ځکه غېر مجتهد شخص د دين و حقانيت او شرعي مسائلو ته بېله د مجتهد د تقليد لاس رسی نه سي پيدا کولای.

[76] - انصاف عربي : ٤٧ مخ انصاب مع کشاف ٦٣ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل دا خبره هم له هیڅ ښخه پټه نه ده، کوم کسان چې له تقلید څخه تېښته کوي هغه هر وخت د نفس د غوښتنو ښکار سوي دي. د وخت په تېرېدو سره په یوه داسې نا معلوم لوري روان سي چې په اسلامي ټولنه کې یو منفور شخص ځني جوړ سي. له همدې خاطره موږ اهل سنت والجماعت ټل په دې خبره اقرار کوو چې، هم نفسي تقلید سته او شخصي تقلید ته اړتیا سته او کوم کسان چې ټل د تقلید په رد یعني نه منلو کې ولاړ وي او مقلیدین وروڼه بدعتیان او مشرکین بولي او د ځان لپاره بیا د موحدینو او اهل حدیث خطاب کوي، دا کسان اکثره وخت بېلاري سوي دي. راځئ چې د دوی د بېلاري کېدو خبره د دوی له یوه مشره واورو.

د غیر مقلیدینو مشر یا پېشوا، مولانا محمد حسین بټالوي وایي: «هغه کسان چي مجتهدین نه وي او له اجتهاد څه تېښته کوي، دا دوی لپاره جائز نه ده».

همدا رنګه مولانا محمد حسین صاحب په یوه بل ځای کي وایي: «زما د ۲۵ کالو تجربه ده. دا خبره ښه راته معلومه سوې ده. کوم کسان چي د بې علمۍ سر بېره د مجتهد مطلق د تقلید پرېښو دونکی دی، هغوی په اخر کي د اسلام له مبارک دین سره خدای په امان کړېده او کښېنستلي دي.[77]

په دې ډله کي ځیني عیسایان سوي دي، ځیني یې لامذهبه پاته سوي دي او ځیني یې بیا د جماعت لمانځه، د جمعې د لمانځه او روژې نیولو څخه هم سر په لاس سوي دي. تر داسي وخته لا د دې ډلي ځیني کسان رسېدلي دي چې د شرابو له

[77] - اشاعت السنة : ۱۱ جلد، ۲۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنبلو او د سود له خوړلو څخه هم پرهېز نه کوي... د دغو ټولو بد بختيو لامل دادی
چي دوی د خپلي بې علمۍ د پاسه تقليد پرې ېښی دی». [78]

هم دا ډول د څلورو مذاهبو په حقانيت باندي او د هغو کسانو په باره کي چي، د
تقليد له حقانيت څخه منکر دي، د هغوی په اړه د غېر مقليدينو مجدد نواب
صديق حسن خان بهوپالي وايي:

**« فقد نبت في هذه الزمان فرقة ذات سمعة ورياء تدعی انفسها علم الحديث والقران والعمل و العرفان »** [79]

**ژباړه**: يعني په نن وخت کي يوه فرقه پيدا سوې ده چي، د شهرت او ريا کارۍ
ځښتنه ده. د خپلي بې علمۍ سره سره د خپل ځان لپاره د قرآن او حديث او عمل
مدعي ثابته وي. سره له دې چي، د قرآن او حديث د عمل بوی هم له دوی سره نسته.
بل ځای بيا نواب حسن خان صاحب زياته وي:

**« فيااللعجب اين يسمون انفسهم الموحدين المخلصين و غېر هم بالمشركين وهم اشدالناس تعصباً و غلواً في الدين »** [80]

**ژباړه**: ډېره د تعجب خبره ده چي غېر مقليدين خپل ځانونه محدين بولي او
مقليدين يعني د څلورو مذاهبو پيروان بيا مشرکين بولي. سره له دې چي، غېر

---

[78] - سبيل الرشاد : ١١٠ مخ. كلمة الفصل : ١١٠ مخ. تقليد ائمة : ١٦مخ.
[79] - الحطه في ذكر صحاح الستة : ٦٧ مخ.
[80] - تقليد ائمه : ١٨ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقلیدین خپله په ټولو خلکو کي ډېر متعصب خلک دي. دی له دې خبرو وروسته بیا وایي:

(**فما هذا دین الافتنته في الارض و فساد کبیر**) [81]

**ژباړه**: یعني دا دین نه دی لکه څنګه چې غیر مقلیدین ځانونه موحدین بولي او مقلیدین بیا مشرکین بولي مګر یوه فتنه ده پر مځکه او دا یو غټ فساد دی. بیا هم زموږ وروستۍ خبره هم دا ده چې مخکې مو وویل او اوس هم وایو چې،

څلور سره مذهبه حق دي او حق یې بولو.

---

[81] - تقلید ائمه : ۱۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله/ موږ په مذهب د حضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله يو..........

زموږ د افغانستان خلک ټول اهل سنت والجماعت دي. اکثره خلک يې په مذهب د امام ابوحنيفه رحمه الله دي.

هم داسي د هندوستان، پاکستان، ترکيې او همداسي چي هغه مسلمانان چي په ايران، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او همداسي نورو هيوادونو کي اوسي. اکثره يې اهل سنت والجماعت دي او پر مذهب د امام اعظم رحمه الله دي. داچي ولي په دغو هيوادونو کي حنيفي مذهبه خلک ډير دي؟ يا نژدې ټول يې حنيفي مذهبه دي؟.د دې خبري لپاره ښه ځواب د مولانا شاه ولي الله دهلوي رحمه الله دا وينا ده چي وايي:

(**انسان جاهل في بلاد الهند وبلاد ماوراء النهر وليس هناک عالم شافعي ولا مالکي، ولا حنبلي، ولا کتاب من کتب هذه المذاهب وجب عليه ايقلد لمذهب ابي حنيفه رحمه الله و يحرم عليه ان يخرج من مذهبه لانه حينئذ يخلع من عنقه ربقةالشريعة و يبقي سدي مهملاً.**[82]

**ژباړه**: يعني، کوم جاهل يعني په دين کي ناپوه انسانان چي په هندوستان او د ماوراء النهر په ښارونو کي اوسېدل، دلته نه شافعي، مالکي او نه حنبلي عالم و او نه د دغو مذاهبو کتابونه وو. نو په همدې وخت کي پر دوی يعني، د دې هيوادو پر

---

[82] - انصاف : ۵۳ مخ. انصاف مع ترجمة کساف : ۷۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسېدونکو دا واجبه وه چې د امام ابوحنیفه رحمه الله د مذهب تقلید وکړي او پر دوی حرامه ده چې حنیفي مذهب پرېږدي. په داسې وخت کې چې، حنیفي مذهب پرېږدي، دوی به د شریعت رسۍ له غاړې ایستلې وي.

که موږ د افغانستان د علماء کرامو درسي نساب وګورو، دا به راته څرګنده سي چې، دوی اکثر د هندوستان د علماء کرامو پر نقش او قدم دي او بل که موږ د افغانستان د علماء کرامو اسنادو ته وګورو، د دوی اسناد اکثر د هند د علماء کرامو ته رسیږي او د هند علماء کرام ټول حنیفي مذهبه دي. د دې خبرې لپاره د شاه صاحب وینا د شاهد په توګه ده چې مخکي یاد سوه. په همدې خاطر زموږ دا خبره به بېځایه نه وي چې موږ وایو: د افغانستان خلک ټوله حنیفي مذهبه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قوله** څلور سره طريقې حقې دي حقې يې بولو.

زما په اند ښه خبره دا راته ښکاره کيږي چي، تر دې متن لاندي يوڅه د طريقت اړوند بحث وکړل سي. که څه هم د طريقت، عرفان لپاره بېشمېره کتابونه، رسالې ليکل سوي دي خو دا ليکنه يوازي د متن په موافقت کووم او بل هر علم او فن ځانګړي آداب او اصطلاحات لري.

صوفيان هم د تدريس او تبليغ په وخت کي د خپلو مخصوصو اصطلاحاتو او طريقو څخه ګټه اخلي چي د دې طريقو تعقيب او تطبيق سالکان او پيروان د مقصود منزل ته رسوي.

په تصوف او عرفان کي ځيني اصطلاحات سته چي مبتدي سالک يې ژر په معنی او تفسير نسي پوهېدلای، همداسي صوفيان هم د خپلي سليقې له مخي د خپل سِر، راز او اسرار تر ډېره وخته پوري هر چاته نه وي ښکاره يا نه ښکاره کيږي. مګر هغه سالکانو او صوفيانو ته چي الله تعالی يې په زړه کي دغه سترامانت ايښی وي، د خپل زړه ټولي غوټي ورته خلاص وي او د خپل طريقت د راز شريک يې ګڼي. صوفيان له خپلي طريقې څخه د باندي کسان د خپلي حلقې نامحروم او ليري بولي، نو ځکه هغوی پخپلو ټولو رازونو نسي پوهولای.

له اکثره صوفيانو څخه که څوک د تصوف په اړوند پوښتنه وکړي، نو يو څه معلومات به ورکړي خو په اخر کي ورته ووايي ( **بيا که ببينې** ) يعني دراز هرڅه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه نسي بيانېدلای تر څو پوري چي ته په تصوف او طريقت کي داخل نه سې. کله چي د تصوف حقيقت داسي وي، نو دابه راته څرګنده سوې وي چي د تصوف هرڅه د قلم په ژبه نه سي ښکاره کېدلای. زه يوازي هغه څه ستاسو مخي ته ږدم چي زما قلم يې طاقت لري او هغه به هم په تفصيل سره نه وي ډېر مختصر بيان به وي.

هرچه گويم عشق را شرح و بيان

چون به عشق آيم خجل باشم از آن

گرچه تفسير زبان روشنگرست

نيک عشق بيزبان رو شنترست

چون قلم اندر نوشتن ميشتافت

چون بعشق آمد قلم برخوشگافت

چون سخن در وصف اينجا رسد

هم قلم بشکست و هم کاغذ دريد

عقل در شرحش چو خر در گل بخفت

شرح عشق وی عاشقي هم عشق لهٔفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تصوف اصطلاح

د تصوف کلمه د هجرت په لومړۍ پېړۍ کې را منځ ته سوېده. داله دې امله چې د تصوف د یوه لوی شخص حسن بصري رحمه الله څخه روایت سوی دی چې وایي:

د طواف پر مهال مې یو صوفي سړی ولید، یو څه شي مې ور کړ خو هغه را څخه وا نه خیست او راته و یې ویل:

(له ما سره څلور دانک سته همدا زما لپاره بس دي). [83] همداسې د تصوف کلمة د سفیان ثوري رحمه الله څخه روایت سوې ده، دی وایي:

(که چیري ابو هاشم صوفي نه وای، مابه د ریا کارۍ باریکي نه وای پېژندلې. [84] په هر صورت د تصوف کلمه یوه نوې کلمه نه ده. بلکې د لومړۍ هجري پېړۍ نه را نقل سوې ده او په را وروسته کې د تصوف د کلمې لپاره بېشمېره تعریفات سوي دي.

شېخ ابو منصور عبدالقادر بغدادي رحمه الله د صوفي او تصوف لپاره ( ۱۰۰۰ ) زر تعریفونه کړي دي.

دغه ټوله تعریفونه د الله تعالی جل جلاله پر پېژندنه، او د مسلمانانو پر تقوی او ریاضت اتکاء لري او زیات شمېر اسلامي علماء کرام په دې عقیده دي چې، صوف او تصوف یوه عربي کلمه ده او د ورۍ په معنی کارولکېږي.

---

[83] - اللمع لابي النصر السراج الطوسي : ٤٢ مخ

[84] - حواله سابقه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوفيانو به د ورع او تقوی په وخت کي ځان معمولاً په وړينو کالو کي ښکاره کاوه، نو ځکه صوفيان ( وړين پوښان ) وبلل سول . ځيني علماء کرامو بيا دغه کلمه د ( صفوة المال ) په معنی کارولې ده او ځيني نور يې له ( صفة ) څخه اخلي په معنی د سايه وان يعني ( چتری ) دا صفه هغه د ناستي او سکون ځای و چي، حضرت محمد مصطفی ﷺ به په نبوي مسجد کي تر لمانځه ادا کولو وروسته دغي صفې ته راته او يو شمېر صحابه کرامو ته به يې چي په ( اصحاب صفه ) سره مشهور وو د اسلامي ارشاداتو او تبليغ کاوه..

اصحابي صفه اکثر بې کوره، بې و دوو خلک وو، نو ځکه د غه صحابه کرام به شپه او ورځ په دغه صفه کي د الله تعالی په ذکر او د الله تعالی په عباداتو او د اسلام د دين په ارشاداتو او تبليغ بوخت وو.

ابوريحان البيروني د صوفي کلمه د ( صوفيا ) څخه مشتق بولي. په معنی د پوهني او د هجويري رحمه الله بيا دغه کلمه د ( صف، صفا ، صفوي ) څخه بولي، په معنی د رڼا سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تصوف د قران کريم او حديثو په رڼا کي:

الله تعالی ﷻ فرمايي:

( وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ) [85]

**ژباړه**: په تفسير خازن کي د دغه ايات شريف تفسير داسي کوي.

**( المراد بظاهر الاثم افعال الجوارح و باطنه افعال القلوب )**

**ژباړه**: له ظاهري ګناه څخه مطلب دا نداموںو اعمال دي او له باطني ګناه څخه مراد د زړه اعمال دي.

موږ که وګورو د انسانانو اعمال او عبادت په دوه ډوله دی. يو ظاهري دي او بل باطني دي. کوم عبادات چي له ظاهر سره تعلق لري هغه ته علم فقه ويل کيږي او کوم عبادت چي له باطن سره تعلق لري، هغه ته علم حال (تصوف) ويل کيږي. د دې خبري تصديق د دغه لاندي حديث شريف له مفهوم څخه الهام اخلي. ابوهريرة رضي الله عنه وايي:

**( حفظت من رسول الله ﷺ و عائين فمااحدهما فبسطتهاو ما الا خر فلو بسطته قطع هذا البلعوم )**. [86]

---

[85] - سورة الانعام : ١٢٠ ايات،

[86] - مشکوة کتاب العلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: يعني ماله نبي عليه‌السلام نه د علم دوه لوښي ياد کړي دي. يو مي خلکو ته و ښود خو که دا بل ور وښيم دا غاړه به پرې سي.

د ابو هريرة رضي‌الله‌عنه له وينا څخه دا معلومه سوه چي، ده مبارک د نبي عليه‌السلام څخه دوه علمه ياد کړي وو. يو علم قال و او بل علم حال و. کله چي حضرت عمر رضي‌الله‌عنه د فن سو. ابن عمر رضي‌الله‌عنه د صحابه کرامو په يو مجلس کي وويل:

(نن د علم له لسو ( ۱۰ ) برخو څخه نهمه ( ۹ ) برخه يې دفن سوه . په دې خبره ځيني صحابه کرامو رضي‌الله‌عنه ناخوښي ښکاره کړه، عبدالله ابن عمر رضي‌الله‌عنه وويل: له دغه علمه زما مراد د حيض او نفاس علم نه دى. بلکي علم بالله يعني د الله تعالى معرفت دى. کله چي صحابه کرامو د ابن عمر رضي‌الله‌عنه دغه وينا واورېدل ټوله پټه خوله سول.

که چيري موږ د دې واقعې اخرينۍ حصې ته وګورو چي صحابه کرام ټوله پټه خوله سول دا به دليل د دې سي چي تصوف په اجماع سکوتي سره هم ثابت دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تصوف حکم

عقائد حسنه، اخلاق فاضله، اعمال صالحه،حاصلول پر هر شخص واجب دي. هغه که د کتابو د مطالعې په زريعه وي يا د بزرگانو د مجلس په زريعه وي او يا که د کتابو د ويلو له امله وي. کوم صحابه کرام چي د نبي عليه‌السلام د مجلس مبارک څخه برخمن وو. دوی ته ددغه مجلس په برکت هغه څه حاصل سول چي، د دوی په باطن کي يو نور پيدا کړي. د دغه نور په زريعه به دوی حق او باطل او د حلال او حرام فرق په ښه اسانه سره کولای سوای.

په دې مجلس سره به صحابه کرام دومره تقويه سول چي په عادي حالاتو کي به يې هم نفس او شيطان قابو کولای سوای.

په وروسته کي د نبي عليه‌السلام خلفاء کرامو او د نورو صحابه کرامو د مجلس فيض او برکت نورو ته نقل سو. د دوی په وروسته کي چي کله تغيرات رامنځ ته سول، د اصلي مقصد لپاره د مجاهدې او رياضت اړيتا پيدا سوه. په هر صورت په دا وروسته وختونو کي حالاتو ته په کتو سره رياضت او مجاهدې د سنت يت حکم پيدا کړ. دتصوف حکم دسنت دی. د تصوف د سنت د حکم انکار کول بده خبره ده. [87]

---

[87] - فتاواي محموديه : ٤ جلد، ٤١٥ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فقهي له کتابونو څخه دا معلومیږي چي د تصوف حکم د علم ظاهري په ډول دی. یعني هر حکم چي د علم ظاهري و دی. هغه حکم د علم تصوف هم دی. لکه څنګه چي العلامة ابن عابدین وایي:

(**الطریقة سلوک، طریق الشرعیة**.[88]

امام رباني مجدد الف ثانيرحمه الله وایي:

(**ظاهر را بظاهر شریعت و باطن را بباطن شریعت که عبارت از حقیقت است**).[89]

[88] - رد المختار المقدمة ۱ جلد: ٦٠ مخ.
[89] - مکتوبات مکتوب ۷۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تصوف د امت د مشاهرو په اند.**

شېخ ابو طالب مکي رحمه الله د تصوف اړوند وايي:

**( هماعلمان اصليان لاستغنياحدهما عن الاخر بمنزلة الاسلام والا يمان مرتبط کل منما بالاخر کالجسم و القلب لاينفک احدهما من صاحبه )**

**ژباړه**: يعني: دواړه علمونه (علم فقه، علم تصوف) يو له بله مستغني او بې پروا نه دي. د اسلام او ايمان په منزله دي. هر يو له بل سره تړلي دي لکه بدن او زړه په هغوی کي يو له بل څخه نه سي جلا کېدای.

شېخ الاسلام زکريا انصاري رحمه الله د تصوف په اړه وايي:

**( الشريعة ظاهري الحقيقة والحقيقة باطن الشريعة و هما متلازمتان لا يتم احدهما الابالاخر)**

شريعت د حقيقت ظاهر دی او حقيقت د شريعت باطن دی يو له بله لازم او ملزوم دي له يوه پرته بل تکميل کېدلای نه سي.

امام مالک بن انس رحمه الله وايي:

**( من تفقه ولم يتصوف فقد تفسق و من تصوف ولم يتفقه فقه تزندق ومن جمع بينما فقد تحقق )**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: چاکه د فقه علم حاصل کړ، دتصوف علم يې حاصل نه کړ، هغه فسق وکړ. او که چا د تصوف علم تر لاسه کړ مګر فقه علم يې حاصل نه کړ، هغه زندق دی.چاکه دواړه علمه سره يو ځای کړل هغه محقق دی .

علامه شامي رحمه الله بيا په دې اړه وايي:

(**الطريقة و الشريعة متلازمان**)

**ژباړه**: طريقت او شريعت سره لازم او ملزوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تصوف څه شی دی .

حضرت جنید بغدادي رحمه الله وايي:

(تصوف دادی چې ته له خلکو مخ واړوې او د الله تعالی سره تعلق و نسې.

حضرت ممنون رحمه الله وايي:

تصوف دادی چې ته ځان داسي و بولې چې، زه د هيڅ شي خاوند نه یم او نه کوم شی زما مالک دی. يوازې الله تعالی د هرشي مالک دی او هم زما مالک دی.

حضرت ابو محمد جريري رحمه الله وايي:

تصوف ویل کیږي د هر ډول ښو اخلاقو مندلو ته او له هررنګه بدو اخلاقو څخه ځان ساتلو ته.

حضرت عمرو بن عثمان مکي رحمه الله وايي:

تصوف دادی چې، بنده هره لحظه په داسي کار اخته وي چې له هغی لحظې سره موافق وي.

حضرت محمد بن علي بن الحسين بن علي رحمه الله وايي:

تصوف د ښو اخلاقو دوهم نوم دی، که په تاکي ښه اخلاق ډېر وي، نو پوه سه چې په تاکي تصوف ډېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت مرتعش رحمه الله وایي:

تصوف د غوره اخلاقو مجموعه ده.

حضرت ابو علي قزویني رحمه الله وایي:

تصوف داسې اخلاقو ته ویل کیږي په کمو چې الله تعالی جل جلاله خوښ او راضي کیږي.

حضرت ابوالحسن نوري رحمه الله وایي:

تصوف د یو علم فن نوم نه دی، بلکې د اخلاقو د مجموعې نوم دی.

حضرت احمد خضرویة رحمه الله وایي:

د باطن پاکوالی د کرغېړنو اخلاقو څخه او د باطن په ښه اخلاقو د ښایسته کولو نوم تصوف دی.

حضرت اوبو حفص نشاپوري رحمه الله وایي:

تصوف اداب دي. د هروخت ادب، د هر ځای ادب، د هرحال ادب.

حضرت معروف کرخي رحمه الله وایي:

تصوف د هرڅه د حقیقت پېژندل دي او څه چې د خلکو په لاس کې دي، له هغوی څخه د نا هیلې کېدو نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابو حمزة بغدادي رحمه الله وايي:

ښه اختيار ول. د ښو اخلاقو او كارو حكم وركول او له ناپوهانو څخه مخ اړولو ته تصوف ويل كيږي.

حضرت خواجه بهاوالدين نقشبندي رحمه الله وايي:

تصوف دادی چي اجمالي معامله تفصيلي سي، استدلالي معامله كشفي سي.

حضرت مجد الف ثاني رحمه الله وايي:

په اخلاص سره په شريعت عمل كول تصوف دی.

حكيم امت حضرت اشرف علي تهانوي رحمه الله وايي:

تصوف د محوه كولو نوم دی.

حضرت مولانا زكريا رحمه الله وايي:

د تصوف شروع د ( **انمالاعمال بالنيات** ) څخه ده او پای يې ( **ان تعبد الله كانك تراه**)

ژباړه: د تصوف شروع د دې څخه ده چي اعمال په نيت سره دي. اخر و دې نتيجې ته ورسيږي چي، الله تعالی جل جلاله عبادت په داسي ډول سره وكړي لكه: ته چي الله تعالی وينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت مولانا احمد علي لاهوري رحمه الله وايي:

تصوف دادی چي د الله تعالی په عبادت او د نبي عليه السلام په اطاعت او د الله جل جلاله د مخلوق په خدمت سره راضي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مرشد ته اړتیاسته:

په هره زمانه او هر وخت کي الله تعالی ﷻ د بشریت دلاز ښوونې لپاره کتاب الله او خپل دوستان چي د کتاب الله د هدایاتو تر نورو رسول کوي را استولي دي.

کله کله خو داسي هم سوي دي چي، الله تعالی ﷻ نوی پیغمبر را استولی دی مګر نوی کتاب یې ورکړی نه وي مګر داسي نه دي سوي چي کتاب یې را استولی وي مګر نبي یې نه وي را استولی.

دا رجال الله، تل دا خبره څرګنده وي چي، الله تعالی ﷻ پر یو قوم عذاب نه دی نازل کړی مګر دا چي د دلیل د پوره کولو لپاره یې نبي رالېږلی دی. الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا﴾(15)[90]

ژباړه:(موږ عذاب ورکړی نه دی تر څو مو کوم رسول ور لېږلی نه وي.)

دا ددې لپاره چي هر انسان ته د خپل ځان د تربیې او روزنې لپاره روزنکی او تزکیې لپاره مزکی اړین دی.

لاندي په دې اړوند دلائل راوړم چي د هغوی په رڼا کي دا څرګنده سي چي په هر وخت کي مرشد ته اړتیا سته او بېله مرشده د الله تعالی ﷻ رضا او خوښي که څه

---

[90] - سوره بني اسرائل : ۱۵ آیهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د ځینو کسانو او خواصو لپاره ممکن ده مګر د عامو انسانانو لپاره حتمي خبره ده چي ستونځ منه به وي چي بېله مرشده دي لار پيدا کړي ځکه چي، د دوينا ټول امر په خپله هيڅ څوک نه سي کولای تر څو يو څوک يې ورته وښيي او بيا خپله لاره ووهي. په دې اړه الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿ وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ﴾ [91]

په جلالين کي د دغه ايت شريف تفسير داسي کوي.

﴿ **واتبع سبيل** ﴿ **طريق** ﴾ **من اناب** ﴿ **رجع** ﴾ **اى باالطاعة** ﴾[92]

**ژباړه**:تاسو تلګ وکړی په هغه لاره چي، هغه لاره د عبادت او فرمانبرداری ده.

تفسير عثماني بيا د دغه ايت شريف مطلب داسي بيانوي. د پېغمبرانو او مخلصو بندګانو په لاره ځئ.[93]

په مواهب الرحمن کي بيا داسي وايي:

﴿ ته د داسي چا په لاره ځه چي په ټوله بدن زما لورته متوجه وي. هغه لومړی پېغمبران دي او وروسته د هغه د امت صالح کسان دي.

الله تعالی ﷻ بل ځای فرمايي:

---

[91] - سورة القمان : ١٥ مخ.
[92]- جلالين : ٣٤٧ مخ.
[93]- تفسير عثماني: ٥٤٨ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (35)﴾ [94]

**ژباړه**: اې مؤمنانو له الله تعالی ﷻ څخه و بېرېږئ او د هغه په لور وسیله ولټوئ او په لاره کې جهاد وکړئ تر څو ستاسو خلاصون او کامیابي په برخه سي. د دغه ایت په تفسر کي علامه ابن کثیر رحمه الله داسي وايي:

**( وابتغو اليهالو سيلة ) الوسيلة هي التي يتوصل بهاالي تحصيل المقصود** ) [95]

**ژباړه**: یعني وسیله هغه ده چي وصل کېدل او حاصل کېدل د مقصود په راځي.

په جلالین شریف کي بیا داسي وايي:

**( ما يقربكم اليه من طاعته** ) [96]

د تفسیر د پوهانو خبره ده چي، له وسیلې څخه مراد مرشد (لارښود) دی چي، هغه لارښود چي، الله تعالی ﷻ د قرب او انسانانو د اصلاح لپاره یو ښه سبب جوړيږي. اوله جاهدو في سبیله، نه مراد د نفس سره مجاهده کول په (تصوف کي شغل) ته اشاره ده.

په یوه بل حدیث شریف کي راځي:

**( المجاهد من جاهد نفسهٔ في طاعة الله** )

---

94- المائده : ٣٥ مخ.
95- تفسير ابن كثير : ٥٤ مخ.
96- جلالين : ٩٩ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: یعني، مجاهد هغه څوک دی چي له خپل نفس سره د الله تعالی په اطاعت سره جهاد وکړي.

حضرت مولانا خواجه غلام حبیب رحمه الله د دغه ایات شریف اړوند وایي:

له اسمانه باران څوک را وروي؟ الله تعالی ﷻ مګر وریځ یې وسیله ده. اولاد څوک ورکوي؟ الله تعالی ﷻ مګر مور او پلار یې وسیله ده. د انسانانو په زړو کي انوار څوک اچوي؟ الله تعالی ﷻ مګر پیر، مرشد او لار ښود ورته وسیله ده په هم دې خاطر الله تعالی فرمایي:

د هغه په لور وسیله وغواړئ.

همدارنګه الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَکُونُوا مَعَ الصَّادِقِینَ﴾ [97]

**ژباړه**: اې ایمان والاوو، د الله تعالی ﷻ څخه و بېرېږئ او د صالحینو سره سئ.

علامة ابن کثیر رحمه الله د دغه ایات شریف په تفسیر کي وایي:

(**قال الضحاک هم ابوبکر، عمر و اصحابهما**) [98]

---

[97]- التوبة : ۱۱۹ مخ
[98] - ابن کثیر مخ ۴۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: یعني،صادقین نه مراد ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ دي. دا خبر باید په یاد ولرو چي د څلورو طریقو سلسله د حضرت علي ﷺ او د حضرت ابوبکر ﷺ په واسطه سره یو ځای کیږي او مفتي محمد شفیع رحمه الله په دې اړوند وایي:

دلته په قرآن کریم کي د علماوو او صحابه کرامو په ځای د صادقین لفظ غوره سوی دی. دعالم او صالح پېژندنه یې کړې ده چي، صالح یوازي هغه څوک کېدلای سي چي ظاهر او باطن یې یو ډول وي. نیت او اراده یې سمه وي، عمل یې هم سم وي.[99]

که چیري موږ د مفسرینو ویناو ته وګورو دا به راته څرګنده سي چي په نن وخت کي مصداق د صادقینو یوازي یوازي هم دغه مشائخ کرام دي.

الله تعالی جل جلاله فرمایي:

﴿أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾

د دغه ایات شریف په تفسیر کي علامة امام رازي رحمه الله وایي:

**( لم یکتف علیه ( اهدنا الصراط المستقیم ) بل قال صراط الذین انعمت علیهم و هذا یدل علی ان المرید لاسبیل له الی الوصول الی مقامات الهدایة المکاشفة الا اذا اقتدي بشیخ یهدیه الي سواء السبیل و یجنبه عن مواقع الاغا لیط والاضاصیل و ذلک لان النقض غالب عن الخلق و عقولهم غیر وافیة.**

[99] - معارف القرآن :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بادراک الحق و تمیز الصواب عن الغلط فلابد من کامل ي قتدي به الناقص حتی یتقوی عقل ذالک الناقص بزور عقل الی مدارج السعادات و معارج الکمالات.** [100]

**ژباړه**: یعني الله تعالی ﷻ یوازي د (اهدنا صراط المستقیم) د جملې په ویلو سره بسنه و نه کړه، بلکي (صراط الذین انعمت علیهم) یې هم وویل:

دا په دې باندي دلالت کوي چي د مرید لپاره د هدایت او مکاشفې مقاماتوته درسېدلو لپاره له دې څخه بله لاره نسته بېله دې چي د یو شېخ کامل او لاربنود پسي اقتدا و کړي. هغه چي په همدې سمه لاره ځي . او له ګمراهۍ او غلطۍ څخه ځانونه وساتي. دا له دې خاطره اړینه ده چي، په ډېرو خلکو کي نیمګړتیا غالبه وي، د دوی عقلونه او ذهنونه حق ته درسېدلو په لاره کي د سم او ناسم تو پیر نسي کولای. نو د داسي یو کامل کس اقتدا ضروري ده چي د نیمګړي او ناقص لاربنوونه وکړي تر څو هم د دوی ناقص عقل د کامل له نور څخه قوت تر لاسه کړي.

په داسي ډول نو ناقص (انسان) د نېک مرغیو درجو او کمالاتو ته درسېدلو په زینو تېرېدلای سي، نو د مرشد او مربي د ضروت لپاره دا دلیل د حجت د پوره والي درجه لري.

که موږ د انسان و ژوند او طبعیت ته و ګورو، دا راته معلومیږي چي، انسان په هروخت کي یو مربي او مرشد ته اړتیا لري ځکه چي، انسان اکثره وخت یو عمل

[100] - تفسیر الرازي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي مګر دی په دې نه پوهيږي چي زما اعمال د شريعت موافق دي او کنه؟ دغه هغه وخت څرګنديږي چي کله يې يو څوک ورته په ګوته کړي چي، دا سم او صحيح دي او دا بد دي. مثلاً: يو شاګرد د امتحان پارچه حل کوي، شاګرد د هر سوال جواب لاندي يو څه کاږي، هغه که صحيح وي او که غلط مګر کله چي پارچه د استاذ لاس ته ورسيږي، نو استاذ يې غلطۍ ورته په ګوته کوي چي، دا ځواب صحيح دی او دا غلط دی.

همداسي پير کامل او لارښود هم دغسي دی. د ناقص انسان اعمال ورته په ګوته کوي چي داسي کول کبر، ريا ، بخل دی او داسي کول بيا اخلاص، عجز او سخاده. په هر صورت مرشد ته ضروت سته.

سينه خواهم شــــرحه شرحه ازفراق

تا بــــــګويم شــــرح درد اشتياق

هرکسي کو دور ماند از اصل خويش

باز جويد روزګــــــار وصل خويش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اسلامي دورې د مشهورو علماء کرامو د سلوکو استادان:

د حسن بصري رحمه الله د طريقت استاذ حضرت علي کرمه الله وجههُ دی، حسن بصري رحمه الله د اتلس تنو بدري صحابه کرامو څخه علم ظاهر حاصل کړی دی او علم باطني يې له حضرت علي رضي الله عنه څخه حاصل کړی دی.

د سفيان ثوري رحمه الله د طريقت استاذ ابوهاشم الصوفي رحمه الله دی. سفيان ثوري رحمه الله وايي: که چيرې ابوهاشم الصوفي رحمه الله نه وای. نوزه به درياکارۍ په باريکو خبرو پوه سوی نه وای.

د امام ابوحنيفه رحمه الله د طريقت استاذ امام جعفر صادق رحمه الله دی.

د امام شافعي رحمه الله د طريقت استاذ امام محمد بن حسن الشيباني رحمه الله نه فيض او برکت حاصل کړی دی. امام شافعي رحمه الله وايي: ما د صوفي کرامو رحمه الله مجلس غوره کړی دی، د هغوی دوو خبرو راته ډېره ګټه وکړه.

**۱** - يوه دا چي: وخت يوه توره ده که ته هغه غوڅه نه کړې، هغه به تا غوڅ کړي.

**۲** - دوهم دا، که: تا خپل نفس په حق کي مشغول نه کړ، نو هغه به تا په باطل کي اخته کړي.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله د وخت صوفي بشير حافي رحمه الله وو. امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دغه صوفي مجلس ته ورغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه شاګردانو پوښتنه وکړه. محترم استاذه! تاسو دوخت ښه عالم یاست او تاسو د هغه چا حضورته ورځئ چي، هغه علم نه لري؟

امام احمد بن حنبل رحمه الله په ځواب کي ورته وویل: زه په کتاب الله عالم یم او هغه یعني بشیر حافي رحمه الله عالم باالله دی او عالم باالله ته په عالم باالکتاب فضلیت حاصل وي.

د امام غزالي رحمه الله د طریقت استاذ او د علم ظاهري استاذ، خواجه ابو علي فارمدي رحمه الله دی. ابوعلي فارمدي رحمه الله د نقشبندیه په سلسله کي خورا شهرت لري.

امام رازي رحمه الله له نجم الدین کبدي رحمه الله څخه د سلوک په اړخ کي فیض او برکت حاصل کړی و.

مولانا جلال الدین بلخي رحمه الله د سلوک په برخه کي د شمس تبریزي رحمه الله مخلص او مریدو.

د مولانا عبدالرحمان جامي رحمه الله د طریقت او سلوک استاذ حضرت عبید الله احرار سمر قندي رحمه الله و.

د علامه سید محمد شریف جرجاني رحمه الله د طریقت استاذ خواجه علاوالدین عطار رحمه الله و.جرجاني رحمه الله وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(والله ماعرفت الحق سبحانه و تعالى مالم اصل في خدمة العطار)

د شېخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په نقشبنديه طريقه کي تعلق له خواجه باقي بالله رحمه الله سره و.

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د طريقت استاذ شېخ مرزا مظهر جان جانان رحمه الله دی. په هم دې خاطر قاضي صاحب دخپل کتاب نوم تفسير مظهري ايښی دی.

حضرت مولانا شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په ماشومتوب (۱۵) کلنۍ کي له خپل پلار سره بيعت کړی و.

د مولانا محمد قاسم رحمه الله د طريقت او سلوک استاد حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله و.

د مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فيض او برکات له حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله څخه و.

همداسي ډېر علماء کرام سته چي د يو پېر کامل په سيوري کي يې روحاني ژوند کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کامل شېخ علامې

کامل شېخ په ظاهر کې د عامو انسانانو په څېر وي مګر په باطن کې له عامو انسانانو څخه ډېر توپير لري لکه: خوړې او تروې اوبه، په ښکاره صورت کې يو ډول دي مګر د ننه يې خوند بېل وي.

نېک او بد يا فاسقان انسانان هم په ښکاره يو ډول وي او کوم توپير په ظاهر کې نه لري مګر په باطن کې په يوه کې شهوت پيدا کيږي او په بل کې د الله تعالى ﷻ د عبادت کولو قوت.

لکه څرنګه چې په ظاهري ډول مرشد (پير) د عامو انسانانو څخه توپير نه لري. په همدې ډول علماء کرامو د ظاهري کامل مرشد د معرفت لپاره دغه لاندې علامې اېښې دي. که چيرې په يو شخص کې دغه علامې موجودې وي هغه پير کامل بللای سو.

په فتاوايې عزيزي کې د مرشد يا کامل پير لپاره دغه پنځه علامې اېښې دي.

مريد شدن ازان کس درست است که دران پنج شرط متحقق باشد.

شرط اول: علم کتاب او سنت رسول الله داشته باشد. خواه خوانده باشد، خواه از عالم ياد داشته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرط دوهم: انکه موصوف بعدالت و تقوی باشد و اجتناب از کبائر و عدم اصرار صغائر نماید.

شرط سوم:انکه بي رغبت از دنیا و راغب در آخرت باشد ، و برطاعات مؤکده و اذکار منقوله که در حدیث صحیحه آمده اند مداومت نماید.

شرط چارم: امر مروف و نهي از منکر کرده باشد.

شرط پنځم: انکه از مشایخ این امر گرفته باشد و صحبت معتد ب ه ا ایشان نموده باشد ، پس هرگاه این شروط درشخص متحقق شوند مرید شدن ازان درست است.[101]

علامه ابن عربيرحمه الله د مرشد کامل لپاره دري صفتونه لیکي.

۱ دین به یې د انبیاو وي.

۲تدبیر به یې د طبیبانو وي.

۳ سیاست به یې د پاچهانو وي.

په فتاوای محمودیه کي د پورته شرطونو سربېره یو بل شرط هم ایږدي، هغه دا چي، په مریدانو (سالکانو) کي به ورځ تر بلې بهتري او اصلاح راځي.[102]

---

101- فتاوای عزیزي : ۱ جلد ، ۱۰٤ مخ.
102 - فتاوای محمودیه : ٤ جلد، ۳٥۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که کوم سالک د دې شروطو او اوصافو لرونکی پیر کامل و مومي نو ښه خبره ورته داده چې هغه دي د ځال لپاره ښه لار ښود و بولي. ژر دي لمن ونسي او د هغه صحبت دی د ځان لپاره غمنت وبولي.

هر کرا جامه زعشقي چاک شد

او ز حرص و عیب کلي پاک شد

شاد باش اې عشق خوش سودايي ما

اې طبيب جمله علتها ئي ما

اې دوائي نخوت و ناموس ما

اې افلاطون و جالينوس ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سالک لپاره اداب.

از خدا جویم توفیق ادب
بی ادب محروم ماند از فضل رب
بی ادب تنها نه خود ارداشت بد
بلکې آتش در همه آفاق زد

ادب، ادب دی. هر انسان په ادب سره تر یوه منزله رسېدلای سي، هغه که د نیاوي وي او که آخر وي وي. د ادب لحاظ او مراعات د هر مسلمان لپاره لاژمي خبره ده، په ځانګړي ډول د سالک لپاره خو لا اړینه خبره ده.

ابو حفص نیشاپوري رحمه الله وایي. ( **التصوف کله ادب** ) تصوف ټوله ادب دی.سالک چي څومره د ادابو خاطر وساتي، هومره ژر ترقي کوي. که سالک د ادابو لحاظ پرېږدي خوا که دی له خپل مرشد سره وي او که له بله چا سره وي، په دې باور سه چي دغه سالک له باطني نعمتونو بې برخي سو.

زه دلته د سالک لپاره یو څو اداب را نقلوم. کوم اداب چي خواجه عبد المالک صدیقي رحمه الله ویلي دي. د ده پر ادابو به زه یو څه اداب نور هم زیات کړم چي ما د خپلو استاذانو څخه اورېدلي دي.او یامي د تصوفو په کتابونو کي لیدلي دي.

**۱** د پیر ظاهري حیثیت، قومیت، هشمت، شوکت، کسب او نور څه ته مه ګوره. هغه حقیر او کم مه ګڼه، بلکي هغه احسان او نعمت ته وګوره چي الله تعالی جل جلاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ورکړی دی. هغه د الله تعالی ﷻ د معرفت وسیله ګڼه، په صدق او یقین سره یې له صحبت څخه فیض او برکت واخله.

۲ خپل شیخ د خپل ځان لپاره تر ټولو انفع یعني (خپرو روسوونکی) و بوله او دا باور ولره چي، زما د باطن اصلاح او د معرفت د حصول مطلب له دې شیخ څخه په اسان حاصلیږي. که بل لوري ته توجه وکړم نو له فیض او برکت څخه بې برخي کیږم.

۳ هر ډول چي وي سالک به د مرشد مطیع او امر منونکی وي ځکه؛ د مرشد سره له عقیدې او میني پرته د فیض او برکت دورازه نه پرانستله کیږي. د میني او محبت غوښتنه اطاعت او خدمت دی.

۴ له خپل وس سره سم په ځان او مال د خپل مرشد خدمت کول او ورباندي احسان نه بلل، بلکي د شیخ احسان دی پرځان بولي چي ده ته یې د خدمت کولو د شرف اجازه ورکړې ده. د خدمت په مقابل کي دی له شیخ څخه هیڅ ډول طمع او غوښتنه نه لري. څومره خدمت چي یې کوي د الله تعالی لپاره او په اخلاص دې یې کوي تر څو د ایمان په کمال ورسیږي او له دې نعمته برخمن سي.

۵ د مرشد امر سم د ستي منل، د هغه د فعل اقتداء دي د هغه له اجازې پرته نه کوي. ځکه؛ هغه کله کله د خپل حال اومقام په غوښتنه یو کار کوي، هغه بیا مرید ته د استعداد نه لرلو له امله زیان من ثابتیږي خو د قول متابعت دي کوي. تر څو یې له مرشد سره مینه او مناسبت پیدا سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ د مرشد په حضور کي په ټول بدن سره هغه ته متوجه کېدل باید وسي تر هغو چي، له فرض او سنت پرته نوافل یا نوري وظیفې د هغه له اجازې و نه سي. باید د هغه صحبت غنیمت و ګڼي تر څو د شېخ د شفقت نظر حاصل کړي. د هغه له باطني فیض څخه برخه حاصله کړي. د نقشبندیه طریقې مشائخ وایي: د شېخ په موجودیت کي د قلبې وقوف پرځای قلبي رابطه ډېره ګټوره ده.

۷ له شېخ سره په ادب، عاجزۍ او ټيټۀ خوله کښېناتل د هغه غوره ویناوي په غور سره اورېدل. د مرشد په مجلس کي باید سالک و دېخوا اې خوا ته و نه ګوري. د هغه له اجازې پرته خبري نه کول، د اړتیا پرمهال لنډي خبري کول او په توجه سره جواب ته انتظار کول، نرمي خبري کول او خپل اواز د مرشد تر اواز نه لوړول، داسي نوري خبر باید د مرشد په مخ کي و نه سي چي، په هغه سره مرشد په خفه کیږي.

۸ د مرشد په مجلس کي خپل ځان ممتاز نه ښوول، ځان حقیر، اړ، تږی او غوښتونکی څرګندول.

۹ د مرشد د ناستي په ځای نه کښېناستل او د هغه پر مصله پښه نه ایښودل.

۱۰ له اجازې پرته د هغه په وړاندي خوراک نه کول او به نه څښل او دداسي کولو لپاره د مرشد لوښی نه کارول، د مرشد د اوداسه پر ځای اودس نه کول. هغه اداب چي د مرشد په وړاندي مراعتیږي، هغه دي په غیاب کي هم مراعات سي ترڅو یې اخلاص په برخه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۱** چیري چي مرشد ناست وي، هغه لورته دي پښې نه غځوي. هغه لوري ته دي ناړي نه توکي که څه هم هغه حاضر نه وي.

**۱۲** د مرشد په سیوري دي قدم نږدي. که شونې وي داسي ځای دي نه دریږي چي د سالک سیورى د مرشد پر سیوري یاجامو ولویږي.

**۱۳** تر مرشد دي وړاندي نه ځي. وروسته تلل دي شرم نه بولي. د ځان لپاره دې نېکمرغي وبولي او که په مخ کي خطره وي. بیا که مرشد وروسته او سالک مخکي روان وي پروا نه لري.

**۱۴** که مرشد ولاړ وي، سالک دي هم ولاړ وي او کله چي مرشد کښېني سالک دي هم کښېني.

**۱۵** له شېخ سره مخامخ او یا د شېخ په غیاب کي یو ډول اسېدل، ظاهر او باطن یو ډول درلودل، یعني د ژبي او زړه تر منځ توپیر ،نه وي.

**۱۶** د مرشد ټولي وینا وي، کره وړه ربښتیني بلل، نیوکه نه کول، شک او شبه نه درلودل، که په کومه خبره ونه پوهیږي نو د موسی علیه‌السلام او خضر علیه‌السلام قیصه دي ور یاد کړي.

**۱۷** د شېخ په درد او منت کولو نه خفه کېدل او وربانديي نه بدګمانه کېدل، د شېخ منت د موريد لپاره صیقل کولو کار ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۸** که د مورید په زړه کي یوه شبهه وي په ښه ډول دي پوښتنه وکړي. که په ځواب د شېخ د مورید شبهه حل نه سوه، دا د مورید د فکر د کموالي نښه ده نه د مرشد. که مرشد د شبهې ځواب ور نه کړ باید پوښتونکی او نور کسان په دې ټکي پوه سي چي مورید د دغه شبهې د ځواب اورېدلو استعداد نه لري.

**۱۹** د شېخ سره د مناظرې صورت مه جوړه وئ. د مرشد خبري مه رده وی. که څه هم حق د مورید په لور وي خو دا باور ولري چي د شېخ خطا زما تر سم کار ښه ده.

**۲۰** د شېخ په وړاندي عبث خبري نه کول او د یوه مسلمان ورور له غیبت کولو څخه ځان ساتنه سم کار او عمل دی.

**۲۱** د مرشد له خپلوانو او دوستانو سره محبت کول، د هغه د دوستانو خپلوانو او طالبانو مراعات کول، په هغوی پسي له بدو ویلو او مخالفت څخه یې ځان ستاتنه ستر ادب دی او باید دا ادبیات پر ځای کړل سي.

**۲۲** خپل باطني حال (که ښه وي او که بد) خپل مرشد ته وایاست ځکه مرشد یو روحاني طبیب دی. تر اطلاع وروسته اصلاح کوي. د مرشد په کشف اعتماد وسي او چوپتیا غوره شي ده.

**۲۳** که په خوب کي څه شی ولیدل سي هغه دي مرشد ته وویل سي. که یې کوم تعبیر په ذهن کي راغلی وي هغه دي هم بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴ د کوم ورد او وظیفې چي مرشد تعلیم وکړي، هغه خپل عادت کول له هغه نه پرته نور پرېږ دی. که هغه يې له خپل لوري شروع کړی وي یا بل چا ورته ښوولی وی مگر مسنون اعمال له دې څخه مستثنې او وتلی دی.

۲۵ له شېخ سره کښېنستل او بیا په وظیفه مشغولېدل په کار نه دی. که د څه شي د لوستلو ورته لازم و له هغه دي پټ کښيني او ودې لولي.

۲۶ کوم باطني فیض او برکت چي ورته رسیږي، هغه دي د مرشد په طفیل وګڼي. که څه هم په خوب یا مراقبه کي ووینی چي، د بل شېخ ورته فیض رسیږي دا فکر دي وکړي چي، زما د شېخ کومه لطیفه د دی شېخ په صورته ظاهره سوې ده.

۲۷ خپل د مرشد خبري او وینا وي د هغو خلکو سره وکړي چي، هغه په پوهیږي، که په دې پوه سواست چي عام خلک نه په پوهیږي بیا دي یې نه کوي.

۲۸ که کومه مرتبه یا منصب ورته و بخښل سي، د الله تعالی ﷻ د رضالپاره دي و مني. په زړه کي دي کوم د دنیا خیال نه کوي.

۲۹ د خپل مرشد له اجازې پرته بل شېخ ته د بیعت لپاره مراجع نه کول. تر څو د نېکمرغۍ شتمني ترلاسه سي.

۳۰ کله چي مرشد وفات سي، هغه ته د مغفرت دعا کول، تر څو ور سره تعلق پاته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱ په کومه علاقه کي چي مرشد او سېدی د هغه ځای سره محبت ساتل په کار دی چي دا هم یو ډول اثر پیدا کوي.

۳۲ د مرشد د وفات وروسته هم د مرشد د خپلوانو سره پالل،

۳۳ که د مرشد نه داسي عمل ولیدل سي چي، هغه د شریعت خلاف وي په هغه کي تامل کول، تر څو عقیده دي پر حال پاته سي.

۳۴ خپل مرشد تر نورو شېخانو غوره بلل. تر څو محبت دي وره سره ډېر سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **قوله** طریقه نقشبندیه شریف.........................................

دغه متن دوه مقصده لري یا مشتمل په دوو مقصدونو دی.

**اول**: د نقشبند د کلمې وضاحت.

**دوهم**: د نقشبندیه د طریقې د موسس احوال.

د لومړي خبري اړوند باید دا ووایو چې، دا کلمه نقشبندي ده او که نقشبند ده. ډېر خلکد دغي کلمې په هکله پوښتنه کوي، دانوم (نقشبند) دی، نه نقشبندي. دا یوه فارسي کلمه ده چې، معنې یې انځور لیکونکی دی لکه: د انځور ګر په شان او په ډبرو کي یوڅه نقش جوړ کړي. د نقش کلمه عربي کلمه ده.

(**العلم في الصغر كالنقش في الحجر**)

داسي هم ویل سوي دي چي دشیخ بهاوالدین رحمه الله نیکونه انځور ګران وو مګر دا خبره صحیح نه ده . که دا خبره صحیح وای، نو د شیخ بهاوالدین رحمه الله نوم به نقشبندي وای نه نقشبند او خپله شیخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله په ټوله ژوند کي پرته له صوفیانه ژوند څخه نور سلوک نه درلوی، نو په دې توګه دا نتیجه په لاس راځي چي، د نقشبند کلمه معنوي اړخ لري، یعني شیخ بهاوالدین رحمه الله د زړونو انځور ګر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني کسان وايي: نقشبند په بخارا کي د يوه کلي نوم دی او شيخ بهاوالدين رحمه الله د هغه کلي اوسېدونکي خو دا خبره هم ناسمه ده ځکه؛ په دغه نامه په بخارا کي کوم کلی نسته او د شيخ بهاوالدين رحمه الله د ژوند د اوسېدو ځايونه ټوله روښانه دي.

داسي روايت هم سته چي، شاه نقشبند صاحب رحمه الله د خپل پلار په شان د کېمخا ټوکران اوبدل او پر هغوی باندي د نقشبند (ګل) جوړه ولو په وجه د کسب د نسبت له کبله نقشبند بلل سوی دی او دا چي ده په خپل کسب کي ډېر مهارت درلود، نو په دې خاطر په شاه نقشبند سره مشهور سو.

په اصل کي شاه نقشبند صاحب رحمه الله د زړه نقاش و او کلمه د نقش هم معنوي اړخ لري، هغه داچي، شاه نقشبند صاحب رحمه الله هم پر خپل زړه او هم د خپلو موريدانو په زړونو باندي د الله جل جلاله نوم مبارک نقش کړی و.

**دوهم مقصد:**

(د حضرت بهاوالدين شاه نقشبند صاحب رحمه الله ژوند ته لنډه کتنه)

شيخ بهاوالدين محمد، د محمد، هغه د محمد زوی په شاه نقشبند سره مشهور او لقب يې محمد بخاري دی چي په **۷۱۷** هـ کي د محرم الحرام په مياشت کي پيدا سوی دی.

شيخ بهاولدين نقشبند رحمه الله د خواجه محمد بابا السماسي رحمه الله موريد و. شيخ خواجه محمد بابا السماسي رحمه الله د خواجګانو د طريقې شيخ و او بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library

السماسي رحمه الله په ۷۵۵ هـ کې وفات سوی دی دا چې د پیدا ېښت سنه یې نه ده راته معلومه نو ماهم دلته نه راوړه.

یو وخت خواجه شیخ السماسي بابا رحمه الله د شیخ بهاوالدین نقشبندي رحمه الله دي کلي ته ولاړ. په دې وخت کې، شیخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله د ( ۳ ) درو ورځو و. د ده نیکه مبارک خپل دغه لمسی د شیخ خواجه محمد السماسي رحمه الله و حضورته یووړ. شیخ بابا السماسي رحمه الله د شیخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله په لیدلو ډېر خوشاله سو

شیخ بابا السماسي رحمه الله په دې وخت کې دا وویل: دغه ماشوم ما خپل ځوی وبلی او خپلو موریدانو ته یې زېری ورکړ. دغه ماشوم به په راتلونکي کې د خپل وخت لارښود وي.

د شیخ بهاوالدین رحمه الله پلار دا غوښتل چې زوی یې صوفیانه روزنه تر لاسه کړي. په هم دې خاطر چې کله شیخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله د اتلسو کالو سو، واده یې ورته وکړ. په هم دغه کال یې د وخت د لوی عارف شیخ خواجه محمد بابا السماسي رحمه الله خدمت او له هغه څخه د طریقت د بیعت په خاطر سماس ته بوتلی او د شیخ السماسي رحمه الله تر وفات وروسته په ۷۵۵ هـ کال کې یې نیکه مبارک له ځان سره کړ، تر څو یو داسي صالح لارښود و مومي چې شیخ بها والدین نقشبند رحمه الله ښه و روزلای سي. د همدې مقصد لپاره سمر قند ته ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سمر قند کي د شېخ امیر کلال رحمه الله په حضور کي حاضر سو. شېخ امیر کلال رحمه الله د شېخ محمد السماسي رحمه الله خلیفه و. شېخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله د شېخ امیر کلال رحمه الله سره بیعت وکړ.

امیر کلال رحمه الله ورته وویل: ما ته حضرت شېخ خواجه محمد بابا السماسي رحمه الله د بهاوالدین رحمه الله په هکله وصیت کړی دی او راته ویلي یې دي چي، زما د زوي بهاوالدین رحمه الله په روزنه او له هغه سره په شفقت او مهرباني کي له هیڅ ډول زیار څخه ډډه و نه کړې، نو ځکه یې د شېخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله. شېخ امیر کلال رحمه الله په وړاندي په صوفیانه ذکر او فکر او سلوک او د زړه په صوفیانه روزنه او د نفس په تزکیه شروع وکړه.

د شېخ بهاوالدین نقشبند رحمه الله استعداد ډېر اوچت و. ده به د یو کال مزل په میاشت او د میاشت مزل په هفته او د هفتې مزل په ورځ او د ورځي مزل په ساعت کي کاوه.

یوه ورځ شېخ امیر کلال رحمه الله خپل مریدان راټول کړل. و محمد بهاوالدین نقشبند رحمه الله ته یې د هغو په مخکي وویل. ماستا د روزني په هکله د خپل مرشد خواجه بابا السماسي رحمه الله وصیت پرځای کړی دی. ستا په روزنه کي مي له هیڅ ډول زیار او تکلیف څخه ډډه نه ده کړې. بیا شېخ امیر کلال رحمه الله خپل لاس مبارک په سینه ور کښېښوداو ورته وې ویل. ماټولي هغه شیدې چي زما په سینه کي وې په تا و څښلې او په دې و توانېدم چي تا د بشریت له ډلي را وکاږم او له شیطان او نفس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه دي وژغورم اوس ته لوی سرې يې زما مقام ته را رسېدلی يې مګر ستاسو همت ولالوړو مقاماتو وړتيا لري. تر اوسه پوري همدا زما د روزنې په حد کي وه.

له دې پورته تاته اجازه سته او کولای سې چي، تر مابل علاوه صالح شخص د ځان لپاره وګورې کېدای سي هغه تا لالوړ مقام ته ورسه وي. کله چي، شېخ امير کلال رحمه الله و شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله ته اجازه ورکړه، نو شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله د مولانا الديک کرا يي رحمه الله و حضورته ورغلی. مولانا الدک کرايي رحمه الله د شېخ امير کلال رحمه الله خليفه او ملګري و.

شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله د مولانا الديک کرا يي رحمه الله سره **۷** کاله تېر کړل او بيا د شېخ ترکي رحمه الله په حضور کي حاضر سو. د شېخ ترکي رحمه الله سره يې **۱۲** کاله تېر کړل. په هم دا ډول يې د خپل ژوند اصلي مقصد و مونداو تر لوړو مقاماتو يې ځان ورساوه.

شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله سربېره پر سلوک د علماء کرامو د درسي حلقو په منځ کي هم شاملېده.

شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله دوه ځله د بيت الله شريفي د زيارت لپاره تللی دی او ډېرو مختلفو علاقوته يې سفرونه کړي دي. په يوه سفر کي د افغانستان د هرات ولايت ته هم راغلی دی. په دې وخت کي د هرات ولايت د واکمن ملک معزالدين په لاس کي و. د ده له خوا د شاه نقشبند رحمه الله خورا ډېر درناوی و سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله د سفرونو په لړ کي د دغه علاقو څخه ليدنه کړې ده. سمر قند، سمنان، وايورتون، مرو، طوس، مشهد، افغانستان، هم داسي نور.

شېخ بهاوالدين نقشبند رحمه الله د (۷۹۱) هـ کال د ربيع الاول د مياشتي په دريمه، د دوشنبې په شپه د (۷۴) کلنۍ په عمر وفات سو. په خپل باغ کي د خپل وصيت له مخي خاورو ته وسپارل سو.

(انا لله و انا اليه راجعون)

وروسته د هغه پيروانو د هغه پر قبر يوه لويه ګنبده جوړه کړه چي تل د خلکو خصوصاً د عارفانو او د حق د لاري تلونکو او د سلوک د مينه والو زيارت سو. په دې کي هيڅ شک نسته چي شاه نقشبند رحمه الله په لس هاوو زره مريدان وروزل چي، ځينو يې مطلقه اجازه تر لاسه کړه او د بقا بعد الفنا درجې يې تر لاسه کړې او د هغه په فيض او برکت يې خليفه ګانو او نايبانو د خپلو مريدانو قدرت لوړول او هدف ته رسول حاصل کړل چي يو له هغو نايبانو څخه يې خواجه محمد پارسل رحمه الله و چي په بخارا کي په ۷۴۹ هـ کال زېږېدلی دی او په ۸۴۵ هـ کي په بلخ کي وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله/ طریقه قادریه شریفه...

د دې طریقې باني یا مؤسس شیخ حضرت محي الدین عبدالقادر ګیلان رحمه الله دی چې په **۴۷۰** هـ کې یې دې فاني دنیا ته سترګې روڼې کړې دي او په **۵۴۱** هـ کال په بغداد کې وفات سوی دی.

داراشکوه چې د شاه جهان مغول پاچاه زوی و او په (دارا) سره مشهور و، د دغې طریقې مرید او مخلص و. هغه په خپل کتاب (سکینت الاولیا) کې وایي:

(بنای سلسله متبرکه قادریه بر طریقه (صحو) یعني هوشیاري است و کثرت فتوح و عدم تفرس است و صحو عبارت است از حصول مراد و صحبت حال).

د دغې طریقې پیروان په عراق، مراکش، اندلس، افغانستان، پاکستان، هند او منځنۍ اسیا کې خورا ډیر دي.

د قادریه د طریقې سالکان پر ریاضت، خلوت او د مشائخو په مزاراتو باندې دخپل سلوک خاص او غوره اداب چلوي.

شیخ عبدالقادر ګیلاني رحمه الله چې په غوث الاعظم دستګیر سره هم شهرت لري، دی حنفي مذهبه و مګر د فتوا په وخت کې به د امام شافعي رحمه الله او احمد بن حنبل رحمه الله د مذاهبو څخه یې هم ګټه کوله.

د شیخ عبدالقادر ګیلاني رحمه الله مشهور تالیفات دادي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الفتح الرباني والفيض الرحماني، فتوح الغيب، ملفوظات، غنية الطالبين ،مکتوبات ،حزف نشا، الخيرات، الوهاب الرحمانيه، و الفتوحات الرحمانيه، جلاءالخاطر، سرالاسرار، ردالرافضه، تفسير القران.**

شيخ عبدالقادر ګيلاني رحمه الله دخپل وخت صوفي او عالم و. پر دې سر بېره په شعر او شاعرۍ کې هم برلاسی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله/ طریقه چشتیه شریفه:

ددې طریقې باني یا موسس خواجه معین الدین حسن سکجزي چشتي رحمه الله دی چې د غیاث الدین حسن زوی دی.

چشتي صاحب په **۵۳۷** هـ کې د افغانستان په سکجزي نومي کلي کی زېږېدلی دی او په **۶۳۲** هـ کې د هندو ستان په اجمیر کې خاوروته سپارل سوی دی.

چشتي یې ځکه بولي چې، د ده د طریقې او ارادت سلسله په اوم پښت کې و حضرت ابو اسحاق شامي چشتي رحمه الله ته رسیږي او ابو اسحاق شامي چشتي رحمه الله د شیخ علود بنوري رحمه الله مرید و.

چشت د افغانستان د هرات ولایت یوه مشهوره ولسوالي هم ده. په دې ولسوالي کې ډېر صوفیان او بزرګان پیدا سوي دي.

د (فرشتې تاریخ) (اخبارالاخیار) (تاریخ مشائخ) د ده د نسب سلسله په **۱۴** پښت کې حضرت علي رضي الله عنه ته رسولې ده.

حضرت خواجه معین الدین چشتي رحمه الله په افغانستان کې د لوېدیځو سیمو د مدرسو تر لیدلو وروسته په شپاړس کلني عمر کې سمرقند او بخارا ته ولاړ او هلته یې ددین علم پوره زده کړ.وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښېرته را ګرځېدلو په وخت کې یې له خواجه عثمان هاروني رحمه الله سره په نشاپور کې ولیدل او د هغه په مریدانو کې شامل سو.

د قطب الدین ایبک په زمانه کې اجمیر ته ولاړ او هلته یې د هند د حکومت د استازي له لوري خورا تود هرکلی وسو. ده په دهلي کې د وعظ او ارشاد له لارې ډېر موریدان پیدا کړل. مرحوم غلام سرور رحمه الله او هم داسې نورو بزرګانو وینا ده چې په هند کې د اسلام ډېره د چشتي د کورنۍ له خوا بله سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله/طریقه سهر ور دیه شریفه...

دغه طریقه شیخ بهاولدین سهروردي رحمه الله څخه را شروع سوېده .

شیخ بهاوالدین سهرور دي رحمه الله د شیخ محمد عمر رحمه الله زوی او په **۵۳۶** هـ کي د زنجان په سهر ورد کي زېږېدلی دی او په **۶۲۲** هـ کي په بغداد کي وفات سوی دی او هلته په بغداد کي خاوروته سپارل سوی دی.

شیخ بهاوالدین سهروردي رحمه الله د منبع الاسرار، مطلع الانوار، عالم رباني، او استاد الشیوخ په نومانو سره هم یاد سوی دی.

د دې طریقې په تاسیس کي روایات مختلف دي. ځیني اشخاص د دې طریقې موسس شیخ عبدالقادر چي په (شیخ ابو نجیب عبدالقادر سهروردي) سره مشهور دی بولي.

د شیخ شهاب الدین رحمه الله نوم ځکه زیات دې طریقې ته منصوبیږي چي د ده خلیفه ګانو په هند کي او هم دارنګه د منځنۍ اسیا په سیمو کي د دې طریقې په رواج کولو کي ډېر کوښښ کړی دی.

پر پورتنیو څلورو مشهورو طریقو سر بېره نوري طریقې هم سته چي هغه طریقې و یو خاص شیخ ته منسوب سوي دي. په دغو طریقو کي ځیني په اوس وخت کي لمنځه تللي دي او یوازي نوم یې پاته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت مولانا عبدالرحمن جامي رحمه الله د تالیف (نفحات الانس) او د (سکینة الاولیاء) د محمد دارا شکوه د تالیف او د الفاخوري او خلیل صبر تالیف (تاریخ فلسفه عربیه) د روایتاتو له مخي هغه طریقې دادي.

**طریقه جنیدیه**: د حضرت شیخ جنید بغدادي رحمه الله طریقه ده چي د هجرت په دریمه پېړۍ کي پیدا سوې ده.

**طریقه زېدیه**: دا د حضرت خواجه عبدالواحد زیدیه رحمه الله طریقه ده. و دې طریقې ته واحدیه هم وایل کېږي.

**طریقه نوریة**: دا طریقه د حضرت شیخ ابو الحسن نوري رحمه الله نامه ته څانګړې سوې ده او د ده طریقه یادېږي

**طریقه طیفوریة**:دا طریقه د حضرت شیخ بایزید بسطامي رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه ادهمیة**: دا طریقه د حضرت شیخ ابراهیم بن ادهم رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه محاسبیة**: دا طریقه د حضرت شیخ ابو عبدالله حارث بن اسد المحاسبي رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه حکمیة**: دا طریقه د حضرت شیخ محمد بن علي حکیم ترمذي رحمه الله په نامه یاده سوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طریقه خزاریة**: دا طریقه د حضرت شیخ ابو سعید خرازي رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه سهیلیة**: دا طریقه د حضرت شیخ سهیل بن عبد الله تستري رحمه الله په نامه یاد سوې ده.

**طریقه خفیفیة**: دا طریقه د حضرت شیخ ابو عبد الله خفیف رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه سیاریة**: دا طریقه د حضرت شیخ ابو العباس سیار رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه اویسیة**: دا طریقه د حضرت شیخ او ویس قرني رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه کبرویة**: دا طریقه د حضرت شیخ نجم الدین کبرا رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه احمد یة**: دا طریقه د حضرت شیخ سید احمد بدوي رحمه الله په نامه یاده سوې ده.

**طریقه شاذلیه**: دا طریقه د حضرت شیخ ابو الحسن شاذلي رحمه الله په نامه یاده سوې ده او دا طریقه د حضرت شیخ ابو مدین تلمساني رحمه الله چي په **۵۹۳ هـ** کي وفات سوی دی جوړه کړې ده. دا طریقه په شمالي افریقا خصوصاً په مصر کي ډېر پیروان لري.

**طریقه جزولیة** : دا طریقه د شاذلي رحمه الله د طریقې یوه مشهوره څانګه ده چي په مراکش کي یې رواج پیدا کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طریقه مولویه**: دا طریقه د حضرت شیخ مولانا جلال الدین بلخي ﷬ په نامه یاد سوې ده.

**طریقه ملامتیه**: دا طریقه د حضرت شیخ حمدون بن احمد قصار ﷬طریقه ده چي بل نوم یې قصاریه ده.

**طریقه شطاریة**: دا طریقه د حضرت شیخ عبدالله حشطار ﷬ په نامه یاده سوې ده. دا طریقه په اندونزیا او هندوستان کي ډېر پیروان لري.

**طریقه سنوسیة**: دا طریقه د سید محمد سنوسي ادریس ﷬ په نامه یاده سوې ده.

**طریقه خلوتیه**: دا طریقه د سهر وردي او کبریه طریقې د څانګو څخه یوه څانګه بلل کیږي.

**طریقه غزالیه**: دا طریقه د حضرت شیخ امام محمد غزالي ﷬ په نامه یاده سوې ده.

**طریقه رفاعیة**: دا طریقه د حضرت شیخ سید احمد بن ابوالحسن رفاعي ﷬ په نامه یاد سوې ده.

**طریقه حلاجیة**: دا طریقه د حضرت شیخ حسین بن منصور حلاج ﷬ په نامه یاد سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**طريقه حيدرية**: دا طريقه د حضرت شیخ حیدر رحمه الله په نامه یاد سوې ده. له دې امله ورته حیدریه طریقه وویل سوه. دا طریقه د هجرت په اومه ( ۷ ) پېړۍ کې په خراسان او شاو خوا سیمو کې زیات پیروان درلودل. د اسلامي نړۍ مشهوره سیاح ابن بصوطه رحمه الله ددې طریقې په اړه وایي: د حیدري طریقې سالکان په زهد کې خوار ډېر مشهور وو او سالکانو یې د ډېر زهد له کبله ودونه نه کول.

**طريقه نعمت اللهية** : دا طریقه د حضرت شیخ شاه نعت الله ولي رحمه الله په نامه یاده سوې ده. د دې طریقې اساسات زیاتره د حضرت شیخ ابن العربي رحمه الله د طریقې سره ورته دي.

په اصل کې دغه ټولې طریقې د مخکنیو څلورو مشهورو طریقو څخه الهام اخلي مګر د لاربنودنې ډول یې سره بېل دی. د ټولو طریقو مشایخو شجره او احوال که وکتل سي، دابه څرګنده سي چې د ټولو مصداق او هدف یو دی. څوک پر یوه لاره ورځي او څوک پر بله لاره ورځي. الله تعالی جل جلاله دې موږ او تاسو ته هغه لاره رانصیب کړي چې حدف ته ژر رسېدونکې وي

آمین ثم آمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **قوله**/ زيارتونه که ليري وي او که نژدې وي ورتګ يې جائز بولو......

د محترم حاجي اغا صاحب مبارک د عبارت نه دلته درې خبرې معلوميږي.

**۱** زيارت ته تلل.

**۲** نژدې زيارت.

**۳** ليري زيارت.

**اول** : د قبرونو زيارت کول. د قبرونو زيارت کول د انسان لپاره يو مهم درس دی. د قبرونو زيارت و انسان ته خپل اصل ور معلوموي چي، له کوم لوري څخه را غلی يم، زما ابتدا څه وه او پر کوم ځای زما انتهاده او دا ورته په ګوته کوي چي ای انسانه ستا د ژوندانه په دې سفر کي مقصد څه و او آخرنی منزل دي کوم يو دی.

د دغي آرامي بيديا چي، د ټولو شتمنو، زورواکو او کمزورو د ژوندانه ځراغ په کښي مړ کېدونکی دی د قبرونو زيارت انسان ته دا فکر ور پيدا کوي چي، دا هغه د وحشت او خوف او يوازي والي کور دی چي، استوګن يې د ظاهري شتمنۍ نه فقط دوه سفين ټوکران لري او هغه هم د بل د لوري ور کول سوي دي. که انسان د عبرت سترګي ولري، دقبرونو کتنه زړونه لړزوي، تمه او حرص ختمه وي. په لړ فکر سره و انسان ته دا خبره ښه ځرګنديږي چي، دا لاره د عبرت ده. دوخت شتمن او نېستمن شاه او ګدا دلته د دنيا د لړ ژوندون څخه دغه اوږده ژوندون ته راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی و دغه نوي ژوندانه ته په کتو سره د انسان ړندې سترګې بينا کيږي. کاڼه غوږونه يې بيداروي. د غفلت په خوب بيده په خپل مسؤليت خبره وي. انسان ودې ته اړباسي چې پر تېر ژوند بيا کتنه وکړي او دآينده ژوند پلان و نسي تر څو د ژوند په مقصد او په خپل مسوليت پوه سي. **رحما بابا** څومره ښه وايي:

هر زنده چې د مرده پر قبر ورسي

بس دی دومره نصحت په دا دنياد

په هر صورت د قبرو زيارت کول د مسلمان لپاره ښه درس دی. و دغه درس ته ورتلل د اسلام له نظره يو غوره کار دی مګر د بلې خوا ځيني عناصر سته چې، د هر مسلمان په غوږ کې دا ور کوي چې، زيارت ته ورتلل شرک دی مګر ښه خبره داده چې، زيارت ته تلل څه و څيړو چې، د اسلا م له نظره څنګه دی.

ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي چې، نبي عليه السلام وويل:

(**زوروا القبور فانها تذكرالاخرة**) [103]

يعني زيارت د قبرونو کوئ. دا تاسو ته اخيرت درياد وي او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي:

(**ان رسول الله ﷺ رخص في زيارة القبور**) [104]

[103] - ابن ماجة : ١ جلد ، ١١٢ مخ.
[104] - ابن ماجة : ١ جلد ، ١١٢ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: يعني رسول الله ﷺ د زيارت کولو اجازه کړې ده.

عبدالله ابن مسعود رضي‌الله‌عنه وايي:

**(ان رسول الله ﷺ قال کنت نهيتکه عن زيارت القبور فزوروهافانها تزهدفي الدينا د تزکرالاخرة)**[105]

**ژباړه**: يعني نبي عليه‌السلام وفرمايل: ما تاسو د زيارت د ورتګ څخه منع کړي واست. اوس تاسو د قبرونو زيارت کوی. دا تاسي د دنيا نه بې پروا کوي او آخيرت در ياده وي.

د دغه اخرني حديث شريف څخه په ښکاره او د مخکنيو دوو حديثونو څخه په ضمني ډول او له هغه ټولو احاديثو څخه چي په صحاح سته کي رانقل سوي دي، د دې ټولو څخه دا خبره معلوميږي چي، نبي عليه‌السلام د څه وخت لپاره صحابه کرام رضي‌الله‌عنهم د قبرونو د زيارت کولو څخه منع کړي وو خو څه وخت وروسته يې بيا اجازه ورکړه چي زيارت د قبرونو ته ورځئ.

ښايي نبي عليه‌السلام د يوې وجهي له امله د زيارتونو له ورتګ څخه منع کړې وي او وروسته يې بيا اجازه ور کړې وي. د نبي عليه‌السلام د منع وجه ځيني علماء کرام داسي بيانه کړې ده.

105- ابن ماجه: ۱ جلد، ۱۱۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوله وجه**: پخواني مړه اکثره مشرکين او بت پرست وو. اسلام د مشرکينو له نړۍ سره د مسلمانانو د هر راز اړيکو پرېکول غوښتل.

**دوهمه وجه**: يابه مسلمانانو د قبرونو د زيارت په وخت کي هغه اعمال او اقوال کول کوم چي د اسلام د قانون څخه وتلي وو.

**دريمه وجه**: کېدای سي، داله دې وجهي وي چي، کفري نړۍ ته دا معلومه سي چي دمسلمان او کافر هيڅ تعلق نسته هغه که په ژوند کي وي او که وروسته تر ژوند وي.

همداسي نوري وجهي هم لري مګر کله چي د مسلمانانو په زړونو کي د ايمان رښې محکمه سوې او د اسلامي ادابو اقوالو اعمالو څخه خبر سول، نو بيا نبي عليه‌السلام د قبرو د زيارت کولو عامه اجازه وکړه چي، تاسو د قبرونو زيارت کوئ. دا تاسي د دنيا څخه بې پروا کوي او اخيرت درياد وي.

داسي نه ده چي نبي عليه‌السلام يوازي امت ته دا وينا کړېده چي، تاسو د قبرونو زيارت کوئ بلکي نبي عليه‌السلام خپله هم د قبرونو زيارت کړی دی. نبي عليه‌السلام د خپلي مور د قبرو زيارت کړی دی.

په دې اړه ابوهرېرة رضي‌الله‌عنه وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( زار النبي ﷺ قبر امه فبكي وابكى من حوله فقال استاذنت ربي في ان استغفر لهافلم ياذن لي و استاذنت ربي في ان ازور قبرها فاذن لي فز وروا القبور فانها تذكر كم الموت)**[106]

**ژباړه**: يعني نبي عليه السلام د خپلې مور د قبر زيارت وکړ او د قبر څنګ ته يې وژړل او ورته را تاو خلک يې هم وژړول او وې ويل: له الله تعالى جل جلاله څخه مې اجازه اخيستې ده چې د خپلې مور د قبر زيارت وکړم. تاسې هم د قبرونو زيارت وکړئ، ځکه؛ د قبرونو زيارت د مرګ، آخيرت د يادولو سبب دی.

نبي عليه السلام يوازې هم تللی دی د قبرونو زيارت کولو ته او کله به د صحابه کرامو په ملګرتيا تلی، کله چې به صحابه کرام رضي الله عنهم ور سره ملګري وو، هغوی ته به يې د قبرونو د زيارت کولو اداب ور ښودل لکه څنګه چې دا خبره د مسلم شريف له دغه حديث څخه معلوميږي.

**( کان رسول الله يعلمهم اذا خرجو الي المقابر)**[107]

ژباړه: يعني نبي عليه السلام به صحابه کرامو ته د هديرې اداب ور ښودل چې، کله به هديرې ته ولاړل. هم داسې مخکني علماء کرام هم د قبرونو په زيارت کولو قائل دي.

---

[106]- ابن ماجة : ۱ جلد، ۱۱۳ مخ.
[107]- صحيح مسلم : ٦٢ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام شافعي رحمه الله د امام اعظم صاحب ډېر احترام کاوه. د ردالمختار ملاصاحب په دې هکله داسې وايي:

(**انه قال انی لاتبرک بابي حنيفه و اجئ الی قبره فاذا عرضت لي حاجة صليت رکعتين وساء لت الله تعال عنلاقبره فتقضی سريعاً**)[108]

**ژباړه**: وايي امام شافعي رحمه الله به ويل: زه په امام صاحب رحمه الله تبرک حاصلوم کله چې به ماته يوه سخته را پيښه سوه. ما به د امام صاحب دقبر سره دوه رکعته نفل لمونځ وکړ او د الله تعالی جل جلاله څخه به مې د خپل مشکل په اړه سوال وکړ. زما حاجت به ډېر ژر پوره سو.

امام الغزالي رحمه الله وايي:

(**و کل من يتبرک بمشاهدته في حياته يتبرک بزيارته و فاته**)[109]

يعني کوم څوک چې په ژوندونکي د هغه په ليدو سره تبرک حاصله وي. هم دغسې تبرک په زيارت د وفات وروسته هم حاصلولای سي لکه: څنګه چې څوک په ژوند کي چاته د تبرک په خاطر ورځي لکه: ورتلې د اولياووالله، مجلس ته د علماء کرامو، درسي حلقوته، هم داسې و قبرونو ته هم ورتلای سي ترڅو تبرک په حاصل کړي. په

---

108- رد المختار: ۱جلد، ۳۸ مخ. طبع بيروت
109 - احيا العلوم ۲جلد ۲٤۷ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر صورت که د مذهب کتابو نو او حدیثونو ته ځوک نظر وکړي او بېله تعصبه فکر په کښې وکړي دا خبره ورته ځرګندیږي چي، د قبرونو زیارت ته تګ جائز دی.

که څني کسان د قبرونو د زیارت څخه منکر دي، دا د هغوی سؤء فهامي ده که څه هم دوی و ځان ته اهل حدیث هم وایي او وایي چي، موږ په حدیثو عمل کوو. مګر د دوی دا خبره سراسر غلطه ده چي موږ په احادیثو عمل کوو ځکه د حدیثو کتابونه د زیارت القبور په نامه ځانګړي بابونه ایښي دي.

زه نه پوهېږم، دغه مخکني احادیث چي ما ذکر کړل دوی لیدلي نه دي او که پر دغه ځای یې شخصي ګټه مدي نظر نولې ده چي مازي د عوامو په سترګو کي خاور ي اچوي.

په دا اوس وخت کي چي کوم غېر مقلدین دي، دوی د احادیثو سربېره د خپل پېشوا محمد بن عبدالوهاب نجدي خبره هم نه مني. محمد بن عبدالوهاب نجدي هم د مطلق زیارت څخه نه دی منکر دی وایي:

(د پېغمبر ﷺ د قبر زیارت کول مستحب کار دی)[110]

افسوس د دې خلکو پر حال دی چي، کله دوی د حج فرضیي لپاره ولاړسي د نبي علیه‌السلام زیارت مبارک ته نه ځي او حال دا دی چي د دوی مشر په دې اقرار کوي چي د نبي علیه‌السلام زیارت مبارک ته تلګ مستحب کار دی.

[110]- الهداية السنية رسالة : نمبر ٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبي عليه‌السلام د زيارت مبارک پوري يوه قصه را ياد سوه.

زموږ په علاقه کي يو غېر مقل يږ و. هغه حج ته ولاړی. کله چي راغلی يوه کس پوښتنه ځيني وکړه. حاجي صاحب تاسو د نبي عليه‌السلام زيارت مبارک ته هم ولاړاست. دې غېر مقلږ ور ته وويل: هو زه مديني منورې ته ولاړم مګر د نبي عليه‌السلام د زيارت لپاره نه بلکي د مديني منورې د تعميراتو دليدلو لپاره تر ځو د هغو ننداره وکړم.

درنو لوستونکو دغه غېرمقليږ زموږ په وطن کي د غېر مقل يږينو په مابين کي خورا د شهرت او عزت ور کس دی

ماته د ده په دې خبره يوه پوښتنه را ياد سوه. هغه داچي تاسو دغه حديث شريف د ځان لپاره قوي دليل بولي.

(**لا تشد الرحال الا الى ثلاثه مساجد المسجد الحرام والمسجد الاقصى و مسجدي**).

له دې حديث شريف څخه خو دتعميراتو ننداري لپاره هم سفر کول حرام دی. که موږ د غېر مقلدينو عمل او وينا سره وګورو ډېر فرق لري . په هر صورت موږ اهل سنت والجماعت د قبرونو زيارت منو او پر دې خبره وياړ هم کوو.

**دوهم : نژدې زيارتونه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نژدې زيارتونو اړوند خبره که څه هم د مخکني بحث څخه معلومه سوه بيا هم دې ته اړتيا سته چي په احاديثو راته معلومه سي چي، نبي عليه‌السلام ايا د هغو صاحبه کرامو او شهيدانو و زيارتونو ته تللی دی کوم چي، په مدينه منوره کي موجود وو.

له بي بي عائشة رضي الله عنها څخه روايت دی.

(**قالت كان رسول الله ﷺ كلما كان ليلتها من رسول الله ﷺ يخرج من اخراللیل الی البقيع الحديث**)[111]

**ژباړه**: يعني کله چي به نبي عليه‌السلام زما په نوبت کي و. د شپې په اخره حصه کي به بقيع (جنت بقيع) ته تلی. جنت بقعيه هغه هديره ده چي، په مدينه منوره کي ده. په دې هديره کي ځيني صحابه کرام او شهيدان ارام کوي. هم داسي د نبي عليه‌السلام چي به کله دې هديرې ته ولاړی، د مسلمانانو د مړو لپاره به يې دعا وي کولې او د دوی لپاره به يې د الله تعالی ﷻ نه مغفرت غوښتنه کول.

بي بي عائشة رضي الله عنها وايي:

(**قالت كنت ادخل بيت الذي فيه رسول الله ﷺ و اني واضع ثوبی الحديث**)[112]

**ژباړه**: يعني زه به داخليدلم د نبي عليه‌السلام د زيارت لپاره و خپلي خوني ته، هغه (خونه) چي، نبي عليه‌السلام مبارک په کښي پروت دی.

---

[111]- مشکوة : ١جلد، ١٥٤ مخ.
[112]- مشکواة ١جلد، ١٥٤ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې څخه دا ښه معلومه سوه چي هم زيارت ته ورتلل جائز دي او هم د کور او کلي سره نژدې زيارت ته ورتلل جائز دي، يوازي دا نه چي ورتلل جائز دی بلکي دا يوه ښه عمل هم دی. له پورته حديث شريف څخه دا خبره هم معلومه سوه چي. زيارت ته ورتلل وخت هم نه لري چي، هروخت دي فراغت پيدا کړ ورځه. هغه که د قريبانو زيارت وي او که د صلحاؤ او شهيدانو او که دعامو مسلمانانو وي.

**دريم: ليري زيارتونه:**

موږ اهل سنت والجماعت دا خبره منو که د يو صالح، ولي، اونبي او همداسي نورو معتبرو کسانو د زيارتونو لپاره څوک سفر وکړي جائز او روا عمل دی او په دې سره به ثواب هم وي.

د بل لوري، زموږ سره غېر مقليدين په دې خبره مخالف دی چي، دوی دا عقيده لري چي، د زيارت لپاره سفر کول حرام دی که څه هم د نبي عليه السلام د زيارت لپاره وي.

غېر مقليدين د خپلي دعوې لپاره دا حديث شريف دليل ګرځوي.

**( عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال لاتشدالرحال الاالى ثلاثة مساجد المسجد الحرام والمسجد الاقصى و مسجدى )**[113]

[113]- بخاري شريف: ۱جلد، ۱۵۸مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: یعني د سفر تابیا او پېتی نه تړل کیږي ببله دغه دري مساجدو. زما خپل مسجد (مسجد نبوي) مسجد الحرام او مسجد اقصی.

دغه حدیث صحاح سته وو رانقل کړی دی. موږ مقلیدین د حدیث د صحت اړوند خبره نه کوو ځکه زموږ په وړاندي دغه حدیث یو معتبر حدیث دی.

غیر مقلیدین د حدیث و ظاهر عبارت او متن ته ګوري مګر موږ مقلیدین د حدیث د عبارت څېړنه کوو.

که موږ و ګورو د حدیث متن ته ( **لاتشدالرحال الاالی ثلاثة مساجد** ...) دا معلومه خبره ده چي په حدیث شریف کي لفظ د (**الا**) حرف استثناء ده.

( **الی ثلاثة مساجد**) مستثنا ده. د عربي د ګرامر او قانون له مخي باید په داسي ځای کي دري شیان موجود وي، مستثنی، مستثنی منه او حرف استثناء. په دې حدیث شریف کي مستثنی او حرف استثناء سته مګر مستثنی منه نسته په کوم ځای کي چي داسي جمله راسي د عربي د قانون له مخي باید موږ هلته مستثنی منه مقدره و منو. نو موږ هم دلته مستثنی منه مقدوره ایږدو. کله چي موږ مستثنی منه مق دو ره و منو د حدیث عبارت به داسي وویل سي.

**اول مثال**:

( **لاتشد الی مسجد من المساجد الاالی ثلاثه مساجد**...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم مثال**:

(**لا تشد الی مکان من الامنکنة الا الی ثلاثه مساجد**...)

د حدیث د مفهوم درک په دې پورې دی چې، له دې دوو مقدرو مستثنی منه څخه یو مراد کړو.

که د حدیث مفهوم اول فرض کړو، نو د حدیث مفهوم به دا کیږي چې، هیڅ یوه مسجد ته د سفر پښتی نه تړل کیږي. بېله له دې درو مساجدو څخه. په دې صورت کې د حدیث شریف هغه معنا نه کیږي کوم چې غېر مقلدین یې کوي.اوس نو که څوک د پیغمبرانوو امامانو او صالحانو د زیارت لپاره عزم د سفر وکړي، هیڅکله د حدیث په منع کې نه راځي ځکه؛ د حدیث موضوع مساجدو ته د سفر د عزم ده نه د زیارتونو لپاره د سفر کولو.

په دې صورت کې به دا خبره د حدیث شریف څخه مقصد وي چې، د دنیا ټوله مساجد یو شان دي. د نړۍ یو مسجد ته په بل مسجد فضلیت نسته ماسوا د هغه درو مساجدو څخه کوم چې نبي علیه‌السلام ذکر کړي دي. دې خبرې ته په لاندې حدیث شریف کې هم اشاره سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(عن شهر بن خوشب قال سمعت اباسعيد ﷺ و ذكرت عنده الصلواة في الطور فقال: قال رسول الله ﷺ لاينبغي للمصلي ان يشد رحاله الى مسجد تبتغي فيه الصلوة غير المسجد الحرام و المسجد الاقصي و مسجدي)** [114]

له دې حديث څخه دا خبره ښه معلوميږي چي، د لمانځه لپاره شدرحال منع دی. د زيارت او بل شي لپاره شد رحال کي داخل نه دی او بل چي موږ کومه مستثنی منه منلې وه د دغه حديث شريف چي، موږ کوم مفهوم را ويستی دی دغه مفهوم د ډېرو کتابونو ذکر کړی دی لکه: النوی، عمدة القاري، عيني شرح بخاري و فتح الباري، اعلاالسنن، اشعة اللمعات، مرقات، رد المختار، امدادالفتاوی، احسن فتوی. د دغه ټولو کتابو عبارت رانقل کول راته ګرانه خبره وه يوازي مي نومان ياد کړل.

که د چا د ښه معلوماتو لپاره زړه وي، د دغه حديث شريف اړوند دغه کتابونه دي مطالعه کړي.

**دوهم**: تقدير چي کله موږ لفظ د مکان و منو چي مستثنی منه ده، په دې صورت کي به له دې درې ځايونو پرته ټول سفرونه ممنوع وي. د جومات د زيارت لپاره سفر وي او بيا که د نورو ځايونو لپاره وي مګر د قطعي او پريکنده قرائنو له مخي به دا روښانه سي چي د سند د صحت په فرضولو کي د حديث مفهوم هم هغه لومړنی دی.

114- فتح الباري: ۳ جلدو ۵۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اول**: مستثنی درې ګوني مساجد دي. څرنګه چې، استثناء متصل استثناء ده نو ښکاره ده چې مستنثی منه به مساجد کلمه وي نه مکان او ځای.

که څوک ووايي، ماجاء ني الا زيد، بايد وويل سي. مستثنی منه د انسان لفظ او يا هغه ته ورته مشابه لکه: قوم او نور دي. نه سي او موجود انسان وي يا غېر انسان په وسيع او جامع معنی.

**دوهم**: که هدف ټول معنوي سفرونه منع کول وي. نو محدودول به سم نه وي. ځکه؛ حج په مناسکو کښې انسان، عرفات، مشعر، او منی ته شدالرحال کوي او د سفر کولو قصد کوي. که مذهبي سفر له دې درو ځايونو پرته جائز نه وای، نو بيا دې دريوته ولي جائز سوی دی.

**دريم**: د الله تعالی په لاره کي جهاد کولو ته سفر کول. د علم د زده کړې او د صله رحمي او د مور او پلار د زيارت لپاره سفر له هغه سفرونو څخه دی چې، په آيتونو او حديثونو کي تصريح سوی دی لکه الله تعال ﷻ چي فرمايي:

(وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ) [115]

**ژباړه**: ولي له هري قبيلې څخه يوه ډله له کوره نه وځ ئ چي، دين زده کړي او خپلي قبيلې ته تر را ستنېدو وروسته ووېروي دوی، ښايي هغوی ووېرېږي.)

[115] - سورة توبه : ١٢٢ اية.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې امله سترو څېړنګيو حديث داسي تفسير کړی دی لکه چي و موويل: امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب احياء العلوم کي داسي وايي:

دويم ډول مسافرت دادی چي، د عبادت لپاره وي لکه: جهاد، حج، د پېغمبرانو، صحابه کرامو، تابعانو، او لياو کرامو، د قبرونو زيارت لپاره مسافرت کولو ته تلل وي.

د چاچي په ژوندون کي زيارتونه معتبر وي، په مړيني يې هم بختور وي او شد الرحال د دغو اهدافو لپاره څه خبره نه ده او له حديث سره ټکر نه لري چي ( شدالرحال ) بېله دريو مساجدو جائز نه ګڼي ځکه؛ په هغوی کښي موضوع مساجد دي او څرنګه چي، ټول مساجد د فضليت له پلوه سره يو شان دي، ويل سوي دي چي، مسافرت ورته جائز نه دی او که له مساجدو تېر سو، د اولياء او انبياء زيارت فضليت لري. که څه هم په درجه او مرتبه کښي بېل بېل دي.[116] نو هغه څه چي د نهي وړ دي، له دې درې ګونو مساجدو پرته لپمسجد ته شد الرحال دی نه دزيارت او نورو معنوي چارو لپاره شد الرحال.

دلته ديوه ټکي يادونه ضروري ده چي، که پېغمبر ﷺ فرمايي، بېله دې درو مساجدو نورو ته د سفر پېټيې نه تړل ضروريده چي شد الرحال له دريو پرته حرام دی بلکي مقصد دادی چي، هغه نور د دې وړ نه دي چي ځوک ورته د سفر قصد شد

---

[116]- احياء العلوم: ٧ جلد، ٢٤٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الرحال وکړي او کړاو وګالي او ليدو ته يې ولاړسي. ځکه؛ د کلي، ښار، د خپل وطن، د بل وطن، جامع، جوماتونه او مساجدټوله سره يو شان دي.

داسي هم نه ده که څوک د يو مسجد نه بل مسجد ته ولاړ سي، نو حرام کار يې وکړی او سفر يې ګناه ده ځکه د دې خبري شاهدي دا ده

(**ان النبي ﷺ کان ياتي مسجد قبا کل سبت ماشياوراکباً و ابن عمر کان يفعل کذالک**)[117]

**ژباړه**: يعني نبي عليه السلام هره شنبه د مسجد قبا دزيارت لپاره پياده او سپور راته او عبدالله ابن عمر هم داسي کول.

د دغه حديث چي شډ الرحال دی، د دې په تائيد چي د حديث څخه زيارت د قبرو نه دی مراد، يو بل بحث ايږدم چي، د نبي عليه السلام دروضې مبارکي زيارت دی ځکه؛ د نبي عليه السلام زيارت مبارک ته سفر کول حتمي دی. خاصبياده حاجي لپاره. دا خبره به معلوه سي چي، زيارتونوته سفر کول کوم حرام کار نه دی.

---

[117]- بخاري شريف : ۲جلد، ۷٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مقبرې زيارت کول د حضرت محمدﷺ

د نبي علیه‌السلام د روضې مبارکي زيارت د اهل سنت والجماعت په نزد يو په زړه پوري سفر دی او د ټولو پر يقين دی چي، د نبي علیه‌السلام د قبر زيارت کول يو ښه او نېک عمل دی ځکه؛ د حديثو کتابونه په دې اړه يې ډېر احاديث رانقل کړي دي مګر زه دوومره وس نه لرم چي، هغه ټول رانقل کړم خو زه به يو څو احاديث رانقل کړم او هم داسي به د حنيفي مذهب د کتابونو عبارات او اقوال درته بيان کړم.

(**عن ابن عمر** رضی‌الله‌عنه **قال: قال رسول الله** ﷺ **من زار قبري و جبت له شفاعتي**).[118]

ژباړه: د عبدالله ابن عمر رضی‌الله‌عنه څخه روايت دی چي، نبي علیه‌السلام وفرمايل: هر چاچي زما د قبر زيارت وکړ پر ما يې شفاعت لازم دی.

د اهل سنت والجماعت څلورو مذاهبو علماء کرام د دغه حديث شريف له مخي فتوی ورکړېده.

د ښه معلوماتو لپاره د تقي الدين علي بن عبدالکافي سبکي رحمه‌الله د (شفاء السقام) کتاب ۳ او ۱۱ مخونه وګورئ.

شفاء السقام يو ډېر ښه کتاب دی چي د اهل تسنن ليکوالو د نبي علیه‌السلام د قبر د زيارت لپاره دسفر د منعي په باب د شيخ ابن تيمه د فتوی په ځواب کي ليکلی دی.

[118]- شفاء السقام : ۳، ۱۱ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(من جاء زائرا لاتعمله حاجة الا زيارتي كان حقاً على ان اكون له شفيعايوم القيامة)**

**ژباړه**: څوک چي ماته د زیارت په نیت راغلی، په ماییې حق سو چي د قیامت په ورځ یې شفاعت وکړم.

دغه حدیث شریف ( **۱۶** ) حافظانو او محدثینو په خپلو کتابونو کي رانقل کړی دی او په (شفاء السقام) کي په **۱۳** مخ کي یې د دغه حدیث شریف ښه څېړنه کړې ده هغه وګورئ او (الوفاء الوفاء) کي په **۴**جلد او **۱۳۴** مخ کي یې مطالعه کړئ.

**(من حج وزار قبرئ بعد موتي كان ممن زارني في حياتي )**

ژباړه: څوک چي حج وکړي او بیا زما زیارت وکړي لکه: په ژوند کي چي یې زما زیارت وکړي. دا حدیث شریف **۲۵** لوړ رتبه محدثینو او حافظانو په خپلو کتابونو کي رانقل کړی دی او په (شفاء السقام) کي په ۱۲ مخ کي د دغه حدیث شریف ډېره ښه څېړنه سوې ده هغه وګورئ او د (الوفاء الوفاء) نومي کتاب د **۴** جلد په **۱۳۴** مخ کي هم در سره وګورئ.

**(من حج البيت فلم يزرني فقد جفاني )**

ژباړه: څوک چي حج وکړي او زما زیارت ونه کړي له ما سره یې جفا وکړه. دا حدیث شریف ( **۹** ) مشائخو کرامو او حافظان و رانقل کړی دی (الوفاء الوفا) **۴** جلد، **۱۳۴۳** مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(من زارني بعد موتي فكانما زارني في حياتي)**

ژباړه: چاچې زما تر وفات وروسته زما زيارت وکړ لکه: په ژوندوني چې يې زما زيارت وکړي. دا حديث **۱۳** محديثينو او حافظان رانقل کړی دی. (وفاء الوفاء) **۴** جلد، **۱۳۴۷** مخ.

داد نبي عليه السلام د پرېمانه احاديثو هغه بېلګې دي چې خلک يې په کښې خپل زيارت ته رابللي دي او د (الغدير) د معلوماتو له مخې د دغسې حديثونو شمېر **۲۲** ته رسيږي او دوفاء الوفاء) مصنف **۱۷** راجمع کړي دي.

ملا علي القاري رحمه الله وايي: ځيني کسان چې مخالف دي (د نبي عليه السلام) د زيارت کولو سره په هغو باک نسته او په اجماع (اتفاق) د مسلمانانو زيارت د نبي عليه السلام د اعظم القربات، افضل الطاعات، وانجح المساعي څخه دی بلکي زږدې ده و درجې ته د واجب حتې ځيني علماء کرام د نبي عليه السلام زيارت د واجباتو د درجې بللی دی بلکي څنګه چې، دا خبره په (الدرة المضئةفي الزيارة المصطفوية) کې سوېده که د چا طاقت و د زيارت کولو بيا يې هم د نبي عليه السلام زيارت پرې ښودی دا يو لوی غفلت او غتېه جفا ده.

دغه بيان ما د ملاعلی القاري رحمه الله د مناسک نه را خلاصه کړی دی.[119]

صاحب الدر المختار وايي:

[119]- مناسک ملا علي القاري: ٣٣٤ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(و مكة افضل منها علي الراجع الاضم اعضاء ه عليه الصلاة و السلام فانه افضل مطلقا حتى من الكعبة والعرش والكرسي و زيارت قبرهٔ مندوبة بل قيل واجبة لمن له سعة اه)**[120]

**ژباړه**: يعني له کومي ځمکي سره چي د نبي عليه السلام بدن مبارک موښتی وي، يعني په کومه حصه د ځمکي چي نبي عليه السلام پر پروت دی دغه ځمکه تر مکې، عرش او کرسي بهتره ده او زيارت د نبي عليه السلام مستحب دی ځيني کسانو ويلي دي چي د نبي عليه السلام زيارت واجب دی په هغه چا باندي چي طاقت يې ولري.

اعلاء السنن په حواله د العلامة الشوکاني وايي:

**(و قد اختلف اقوال اهل العلم فذهب الجمهور الى انها مندوبة و ذهب بعض المالكية و بعض الظاهرية الى انها واجبة و قال الحنيفة انها قريبة من الواجبات)** [121]

**ژباړه**: او د نبي عليه السلام د زيارت اړوند د علماء کرامو رايي مختلفي دي. د جمهورو علماء کرامو په نزد مستحب دی. ځيني مالکي او ځيني اهل ظواهر بيا وايي: واجب دی او احناف وايي: د نبي عليه السلام د قبر زيارت نز دې واجب ته دی. تر اوړده بيا ن وروسته د علاء السنن ليکوال وايي:

---

[120]- د رد المختار بهامش رد المختار: ۲ جلد، ۲۵۷ مخ. بيروت.
[121]- اعلاء السنن ٤ جلد، ۳۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(قلت و قوله ﷺ من زار قبري عام لکل زائر سواء کان من اهل المدینة او من غیر هم ولا دلیل علی کونه خاصاً لمن کان قریباً من المدینة اومن اهلها کما لایخفي فثبت جواز شد الرحال لزیارة قبره ﷺ)** [122]

**ژباړه:** وايي: زه وايم د نبي عليه السلام دا وينا (**من زار قبري**) عامه ده د هر زيارت کوونکي لپاره هغه که د مدينې منورې استوګن وي او که د بل ځای وي. په دې کې هيڅ دليل نسته چې دا وينا دي خاصه سي چې، هغه به مدينې منورې ته نژدې وي او يا به د اهل مدينه څخه وي لکه څنګه چې دا خبره پټه نه ده، نو دا خبره ثابته سوه چې (**شدالرحال**) د نبي عليه السلام د زيارت لپاره سته او په دې اړه علامه عسقلاني رحمه الله وايي:

**(ومن اتعقد غیر هذا فقد انخلع من ربقة الاسلام و خالف الله ورسوله. ﷺ و جماعت العلماء الا علام و قد اطلق بعض المالکیة، انها واجبة وقال عیاض انها سنة من سنن المسلمین مجمع علیها و فضلیة مرغب فیها)** [123]

**ژباړه:** يعني که چا د دې عقيدې سوا بله عقيده درلوده. ده کړ ی د اسلام له غاړې څخه وکښل او مخالفت د الله تعالی جل جلاله او دهغه د رسول ﷺ او د ټولې د علماء کرامو څخه وکړ. ځکه؛ ځيني علماء کرام د امام مالک رحمه الله د مذهب د نبي عليه السلام د

122- اعلاء السنن: ۱۰ جلد، ۳۳۰ مخ.

123 مواهب الرحمان : ۲ جلد، ۳۸۳ مخ.-

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبر زيارت واجب بللی دی او عياض رحمه الله وايي: دا سنت دی په اجماع د مسلمانانو په دې کي ډېر فضليت سته.

که څوک دا خبره کوي چي، نبي عليه السلام خپل امت ته فرمايي:

( **لاتتخذو اقبري عيداً** )

**ژباړه**: يعني زما زيارت مه نيسئ د اختر په څېر .د دې خبري لپاره علماء کرامو دوه ځوابه کړي دي.

**اول** : د اختر په څېر زما د قبر د زيارت لپاره يو خاص تاريخ مه معلومه وئ .

**دوهم** : زما پر قبر مبارک د اختر په څېر زېب او زينت او د لهو لعب لپاره مه جمع کېږئ بلکي زيارت د دعا ، سلام او استغفار لپاره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ښځو لپاره د قبرونو زيارت:**

د قبرونو د زيارت په مسائلو کي يوه مسئله د ښځو لپاره زيارت ته تلږ دی چي ايا جائز دی او که نه.

په دې اړوند بايد موږ اول د حديثو په رڼا کي دا مسئله وڅېړو او دا خبره هم بايد واضح کړو چي ولي ځيني علماء کرام په دې مسئله کي دومره سختي کوي چي ښځي دي د قبرونو زيارت ته نه ځي.

ښه خبره داده چي دحديث شريف په حضور کي د خپلي رايي څخه لاس پر سر سو ځکه؛ دحديثو له مخ ه دا خبره معلوميږ چي، په ځينو او قاتو کي احوال تغير کوي او يا يو حکم د منع او جواز پر شرائطو بنا وي. په هر صورت.

**( ثابت عن ابيه قال لعن رسول الله ﷺزوارات القبور )**[124]

ثابت رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت کوي چي نبي عليه السلام لعنت ويلی دی پر هغه ښځوباندي چي د قبرونو زيارت ته ځي.

دغه حديث شريف هغه علماء کرامو د ځان لپاره دليل ګرځولی دی چي وايي: ښځي دي زيارت ته نه ځي خو بايد وکتل سي چي، د دغه حديث شريف له مخي او استدلال سره بايد پرښځو باندي د زيارت پرتلږ بنديزونه ولګول سي هغه د څو وجهو په خاطر.

---

[124]- ابن ماجة ١١٣ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اول** : ډېر علماء کرام دغه نهي کراهتي بولي او د کراهت وجه يې هم هغه خاص شرائط وو چې په هغه وخت کې حاکم وو. و دغې خبرې ته اشاره د ( مفتاح الحاجة ) مصنف د دغه حديث شريف لاندې په حاشية کې هم کړېده دی وايي:

علماء کرام د نبي عليه السلام د نهي په باب دوې ډلې دي چې ايا دا نهي تحريمي دی او که کراهتي مگر زياتره پر دې معتقد دي چې که ښځې له فتنې نه مطئينه وي د قبرونو زيارت ته تلای سي.[125]

**دوهم**: ( **عن عائشه ان رسول الله ﷺ رخص في زيارة القبور** )[126]

بي بي عائشة رضي الله عنها وايي: نبي عليه السلام د قبرونو د زيارت کولو اجازه وکړه. په دغه حديث شريف کې عامه اجازه د قبرونو د زيارت ده. هم نارينه ته او هم ښځينه ته. نو که چيري ښځه له دې حکم څخه بېله وای، نو په کار ده چې، ويل سوي وای چې دا حکم يوازې د نارينه ؤ لپاره دی نه د ښځو لپاره.

بل د دغه حديث شريف روايت کوونکې ښځه د.د دې څخه دا معلومېږي چې، نبي عليه السلام دغه حکم په هغه وخت کې کړی دی چې په مجلس کې ښځينه هم موجودې وې. دا خبره طبعي ده چې کله څوک په مجلس کې ناست وي. که چيري متکليم دا قصد وي زما خبره دې تر هغه معلوم مخاطب پوري ورسيږي، نو هغه د نور اشخاصونه ممتاز کړي او که دا قصد يې وي چې، ټولو ته دې زما دا خبره ورسيږي

---

[125]. ۱ جلد، ۱٦٤ مخ. - مفتاح الحاجة شرح ابن ماجة ددغه حديثلاوند

[126]- ابن ماجه : ۱۱۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو خپله خبره عامه کړي. دلت موږ یوه داسي کرښه نه وینو چي هغه تخصیص دي د یو چا په کښني وي بلکي په دې حدیث شریف کي خبره عامه سوېده.

**دریم**: په ځینو احادیثو کي راغلي چي، نبي علیه السلام و بي بي عائشة ؓ ته د زیارت کولو طریقه ور وښودله ځکه؛ بي بي عائشته ؓ وایي چي نبي علیه السلام راته وویل:

د دې ځای پر مؤمنانو، مسلمانانو زموږ تېر او راتلونکو سلام وو ایه، الله تعالیٰ ﷻ دي پر دوی رحم وکړي. موږ ډېر ژر له تاسي سره یو ځای کیږو. [127]

**څلورم**: امام ترمذي رحمه الله نقل کوي چي، د بي بي عائشة ؓ وررور عبدالرحمن بن بکر ؓ په حبشي کي وفات سو. جنازه یي مکې مکرمې ته یووړه او هلته په مکه کي دفن سو. کله چي بي بي عائشة ؓ و مکې ته راغله د مدینې څخه د خپل وررور د قبر زیارت ته ورغله او د قبر سره یې دغه دوه بیتة هم وویل:

**( و کناکزه ماني جذیمة حتبه – من الدهر حتی قیل لن یتصدعا.**

**( فلماتفرقنا کاني ومالکا- لطول اجتماع لم نبت لیلة معا.**

وروسته په دغه حدیث شریف کي داسي راغلي.

**( ثم قالت والله لو حضرتک مادفنت الاحیث مت و لوشهد تک ما زرتک )** [128]

---

[127]- ابن ماجه : ۱۱۱ مخ.
[128]- ترمذي :۱ جلد، ۲۰۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حدیث شریف په دغه اخرنۍ جمله باندي ځیني خلک اعتراض کوي.

۱ په دې حدیث کي خو بې بې عائشة ﷺ خپل عذر بیان کړی؟

۲ نبي علیه السلام په زیارت کوونکو ښځو باندي لعنت ویلی کڅه هم بې بې عایشة ﷺ عذر بیانه وي؟

د دې خبرو جواب په ترمذي کي د دغه حدیث اړوند حاشیې کړي.

**( و یمکن ان یجاب عند ان النهي مح مول علی تکثرالزیارة لانه صیغة مبالغه ولزاقالت لو شهد تک ما زرتک لان التکرار ینبي الاکثار)**[129]

د ترمذي شارح امام حافظ ابن العربي په خپلو تعلیقا تو کي لیکي. صحیح داده چي، نبي علیه السلام ښځي او نارینه دواړوته د زیارت نه اجازه ورکړې ده که څني خلک یې زیارت ته تلل مکرو ګني هغه پر قبر باندي د تلوسې بې صبرۍ او یا د پوره ستر د نشتوالي له امله دي.

پنځم: پر دې سربېره نور احادیث او واقعات هم راغلي دي چي په هغو کي ښځي د قبرونو د زیارت کولو څخه نه دي منع سوي. (وفاء الوفاء) کي ویل سوي دي چي بې بې فاطمة ﷺ به د هري جمعې په ورځ د حضرت حمزه ﷺ و زیارت ته تلل او هلته به یې ژړل او هم به یې لمونځ نفلي وکړ.[130]

129- د ترمدي حاشیه : ۱ جلد،۲۰۳ مخ.
130- وفاء الوفاء : ۱۱۲ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام قرطبي رحمه الله وايي: نبي عليه السلام پر هري زيارت کونکي ښځي لعنت نه دی ويلی بلکي: هغه ښځي يې يادکړي دي چي، ډېري زيارتونو ته ځي دا ځکه په حديث کي د ( **زيارت القبور** ) لفظ راغلی دی. دغه لفظ د مبالغې صيغه ده او بل کېدای سي په ډېر تلو سره وزيارتونو ته د ښځي څخه د خاوند حقوق پاته سي او يا هغه واجب کارونه ځيني پاته سي کوم چي د دې پر ذمه دي او په وخت او ناوخته تلو باندي زيارت ته کمه ستونزه نسته ځکه، د نبي عليه السلام په ډېرو احايثو کي عام خطاب سوی دی. هغه هم نارينه ته او هم ښځينه ته متوجه دی.

په هر صورت د حديثو څخه دامعلومېږي چي ښځه زيارت ته تللای سي مګر حالتوته په کتو سره چي په نن وخت کي د فتنو باران دی، په هرلوري شيطاني دروازې راخلاصي دي. په انسانانو کي د الله تعالی جل جلاله څخه بېره ورځ تر بلې په کمېدو ده. په هم دې خاطر علماء کرام رحمهم الله دا فتوی ورکوي چي د ښځي لپاره و زيارت ته تلل مکروه دی او له دې کراهته د نبي عليه السلام زيارت مبارک و تلی دی يعني د نبي عليه السلام زيارت مبارک ته هم ښځينه او هم نارينه تللای سي.

زه دلته د هغه علماء کرامو اقوال را نقل کوم چي د ښځي لپاره زيارت ته تلل مکروه بولي.په فتح ابوداؤد حاشية ابوداؤ کي وايي:

( **قيل كان ذالك حين النهي ثم اذن الهن حين نسخ النهى و قيل لبقين تحت النهي لقلة صبر هن و كثرة جز عهن و هوالا قرب الى تخصيصهن بالذكر** )

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ملا علي قاري رحمه الله په شرح مشکوة کي وايي:

**( في الشرح السنة قيل هذا قبل الترخيص فلما رخص د خل في الرخصة الرجال و النساء و قيل بل نهي انساء باق لقلة صبر هن و کثرة جز عهن )**

او د قاضي عياض رحمه الله نه د ښځو اړوند پوښتنه وسوه چي ايا د قبر و زيارت ته تلای سي او که يا؟

ده ورته وويل: اې سوال کوونکې! د دې جواز او فساد پوښتنه له مانه مه کوه بلکي د دې د ګناه د اندازې پوښتنه وکړه او د لعنت اړوند پوښتنه وکړه. پوسه چي کله ښځه د زيارت لپاره ووځي. پر دې د الله تعالی جل جلاله او ملائکو لعنت وي او له هر طرفه شيطان ور سره ملګری سي او د قبر مړي پر دې لعنت وايي تر هغه وخت چي بيرته کورته راستنه کيږي.

له حضرت سلمان رضي الله عنه او ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی. يوه ورځ نبي عليه السلام د مسجد څخه د کور پر طرف راغلی که ګوري په دې وخت کي بې بي فاطمه رضي الله عنها راغله. نبي عليه السلام پوښتنه څني وکړه. لوري له کوم ځای څخه راغلې؟ بي بي فاطمې رضي الله عنها ورته وويل: فلانکی ښځه وفات سوې وه د هغې کورته تللې وم. نبي عليه السلام ورته وويل: د هغې قبر ته هم ولاړې؟ بي بي فاطمې رضي الله عنها ورته وويل: د الله تعالی جل جلاله نه پنا غواړم. زه به هغه کار څنګه کوم چي له تا څخه مي د هغه په اړوند کي څه نه وي اورېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي عليه‌السلام ورته وويل: که چیري ته د هغې قبر ته تللې وای نو بيا به د جنت بوی هم نه وای لیدلی.

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه‌الله په مالابد منه کي وايي: زيارت د قبر د نارينه وو لپاره جائز دی، نه د ښځو لپاره .

په هر صورت موږ چي و احاديثو ته وګورو او د علماء کرامو اقوالته وګورو دا خبره څرګنده معلوميږي چي د قبر زيارت کولو حکم په وخت او زمان، طبيعت او شرائطو پوري اړه لري. که موږ دا موضوع ښه په تحقيق او په عميق نظر و څېړو هم دغه دري خبري ځيني راته څرګنديږي او بل په دي ټوله بيان کي چي نهي ذکر سوې، هغه هم په دي خبرو پوري اړه لري لکه وخت او زمان، طبيعت او شرائط.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اولیاء الله له قبرو سره لمونځ او دعا کول

زموږ د اهل سنت و الجماعت دا عقیده ده چي، په کوم ځای کي چي د الله تعالی پیغمبر، اولیاء الله، شهیدان، علماء کرام پراته وي، هغه ځای د فیض او برکت څخه برخمن دی. د دوی د قبرونو سره دعا کول، هم داسي نفلي لمونځ کول او د صوفیه کرامو په اصطلاح و ظیفه کول جائز او روا کار دی.

دالدر المختار مصنف رحمه الله وايي:

**( الاماضم اعضاء ه علیه الصلاة و السلام فانه افضل مطلقا حتی من الکعبة والعرش والکرسي )** [131]

**ژباړه**: یعني له کومي حصې د مځکي سره چي دنبي علیه السلام بدن مبارک موښتی دی، هغه مځکه تر مکې مکرمې، عرش او کرسي هم بهتره ده.

دا ځکه چي دغي مځکي چي کوم شرافت پیدا کړی دی داله وجهي د دغه شریف او صالح انسان. هم داسي ددنیا په هر کنج کي چي د الله تعالی جل جلاله صالح بنده وي، هغه ځای به خامخا له برکت او فیض څخه برخمن وي.

د اصحاب کهف د مدفن اړوند ویل سوي دي.

(لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ) سورة الکهف ایات- ۲۱ -

[131]- الدرالمختار بهامش ردالمختار ۲جلد، ۲۵۷ مخ.بیروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: یعني موږ پر دوی باندي مسجد جوړه و. د اصحاب کهف پر مدفن باندي مسجد جوړول کوم بل غرض لپاره نه جوړیږي، بلکي د لمانځه او عبادت لپاره او همدارنګه د دعا او استغفار لپاره ځکه؛ دا د هغه وخت د انسانانو چي موحدین وو، دا عقیده وه چي دلته د الله تعالی ﷻ صالح بندګان مدفن دي، دا ځای خامخا د فضلیت او برکت څخه برخمن دی. دوی د تبرک حاصلو لو لپاره دا کار کاوه. د مسجد جوړونه د اصحاب کهف پر مدفن دا کار په هغه وخت کي هغه چا تې وراندیز وکړ چي هغوی محدین وو. که چیري د موحدین دغه کار الله تعالی ﷻ ته ناخوښه وای. ارو مرو به د الله تعالی ﷻ له لوري دغه عمل بد بلل سوی وای مګر د دوی دغه عمل ته په سپکه ونه کتل سوه.

امام زمخشري رحمه الله د دې ایات په تفسیر کي وایي:

**( یصلي فیه المسلمون و یتبرکون بمکانهم )**

**ژباړه**: یعني په دغه مسجد کي به مسلمانان لمونځ کوي او تبرک به کوي په دغه ځای کي هم. د غسي تفسیر په تفسیر نشاپوري کي هم سوی دی. الله تعالی ﷻ د بیت الله شریفي زیارت کوونکو ته وایي.

( وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى) سورة البقره ۱۲۴ اية.

**ژباړه**: په کوم ځای کي چي ابراهیم علیه السلام د عبادت لپاره دربده.هغه ځای مخصوص د لمانځه لپاره کړئ. ښايي هلته ابراهیم علیه السلام د الله تعالی عبادت کړی وي. د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبادت له خاطره دغه ځای تبرک پیدا کړی وي، نو کله چي یو ځای د ابراهیم علیه السلام له درېدلو څخه د شرافت او تبرک وړ ګرځي نو د الله تعالی ﷻ نورو پېغمبرانو، اولیاو الله کرامو، د حق د لاري دشهیدانو، صالحو بندګانو او بزرګانو د ښخېدو ځای به تبرک او فضلیت ونه لري؟

خامخا به د دوی مزارات تر نورو ځایو نو تبرک او فضلیت ولري او لمونځ او دعا به ښه قبلیږي. داسمه ده چي ایت یوازي د ابراهیم علیه السلام په باب نازل سوی دی، ایا موږ له هغه نه کلي حکم نه سورا ایستلای؟

په مسجد نبوي کي منصور د وانقي له امام مالک رحمه الله نه پوښتنه کوي. د دعا په وخت کي د قبلې په لور مخ کړم او که د نبي علیه السلام د قبر مبارک په لور.؟

امام مالک رحمه الله ورته وویل: ولي د نبي علیه السلام نه مخ اړوې. په داسي حال کي چي هغه مبارک ستاسو او ستاسو د پلار ادم علیه السلام وسیله دی. د نبي علیه السلام قبر ته مخ کړه او له هغه مبارک څخه و غواړه چي ستاسو په حق کښي شفاعت وکړي.[132]

له دې واقعې نه دا خبره معلومه سوه چي، د نبي علیه السلام د قبر سره دعا منعه نه ده او په دې واقعې کي دې خبري ته اشاره ده چي د دعا په وخت کي بهتره داده چي د نبي علیه السلام و قبر ته مخ سي او که قبلې ته؟ امام مالک رحمه الله په دې نظر دی چي د نبي علیه السلام قبر ته مخ کول بهتره خبره ده په نسبت قبلې ته او یا دواړو ته فرق نه لري.

[132]- وفاء الوفاء ٤ جلد، ١٣٧٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني کسان په دې نظر او عقيده دي چي د قبرو سره نفلي لموځ کول او دعا کول روا نه دی لکه څنګه چي دغه خبره د غېر مقليدينو په کتابونو کي ذکر سوې ده.

د غېر مقلدينو پېشوا محمد بن عبدالوهاب نجدي په زيارت القبور کتاب کي ليکلي دي.

(**لم يذكر احد من ائمة السلف ان الصلاة عند القبور وفي مشاهد ها مستحبة ولا ان الصلاة و الدعا هناك افضل**).

**ژباړه**: يعني مخکنيو يوه هم نه دي ويل چي، د قبرونو د اولياوو او مشائخو سره لمونځ کول مستحب کار دی او نه تر نورو ځايونو هلته لمونځ او دعا ښه کار دی. په را وروسته کي غېر مقليدنو دغه مسئلې ته ښه زرو ورکړی دی چي داسي کول شرک دی او هغه کسان چي داسي عمل کوي هغه مشرکين دي.

موږ مقليدين يعني اهل سنت والجماعت وايو څوک چي له قبرو سره لمونځ کوي او دا عقيده ولري چي لمونځ خاص د قبر د خاوند لپاره کوم او کومه دعا چي په هغه کي خپله غوښتنه د قبر له خاوند څخه کوي او قبر د قبلې په څېر ګڼي بېشکه داسي وينا کول او عقېده درلودل شرک دی او عمل کوونکی يې مشرک دی.

مګر د مځکي پر مخ به يو څوک داسي مسلمان پيدا نه کړي چي هغه قبر دانبياء، صالحانو او اولياوو کرامو د قبلې په څېر مني او خپل عبادت دي د قبر د څښتن

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره کوي او یا خپلي غوښتني دي د قبر له خاوند څخه و غواړي چي ، کله داسي نه وي نو بیا مسلمانانو ته مشرک ویل ډېره بې ځایه خبره ده.

اهل سنت والجماعت چي کومه دعا او لمونځ کوي، د قبرو سره دا په دې نیت کوي چي دوی د الله تعالی ﷻ پاک صالح بندګان وو چي دلته مدفن سوي دي او دا ځای د خاص شرافت نه برخمن دی او د تبرک په سترګه ورته ګوري، نو ځکه دلته به لمونځ او دعا کول ډېر ثواب ولري.

مخکي یو څه دلایل د دې مسئلې اړوند ذکر سول. د هغوی په رڼا کي دا خبره واضح سوه. د ښه وضاحت لپاره یو څه دلایل نور هم ذکر کوم تر څو دا خبره نوره هم ښه روښانه سي.

د معراج په باب چي کوم روایت راغلي دي چي نبي علیه السلام طیبه، طور سینا او بیت الحم په څېر ځایونو کښي لمونځ وکړ. جبرائیل علیه السلام ورته وویل: اې د الله تعالی رسوله! ته پوهېږې چي، په کوم ځای کي دي لمونځ وکړ؟ تا د عیسی ﷺ د زېږېدو په ځای کي لمونځ وکړ. [133]

موږ چي دې خبري ته وګورو بل مطلب په لاس نه راځي بېله دې چي د غه ځاي تبروک حاصل کړی دی په سبب د عیسي علیه السلام د زېږدو.

---

[133]- الخصائص الكبري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بي بي هاجرې ا رضي الله عنها و اسماعيل عليه السلام چې د الله تعالی جل جلاله په لاره کې زغم او غربت و ګاله نو الله تعالی جل جلاله هم دوی د قدمونو نخښې د عبادت ځايونه و ټاکل يعني د صفا او مروا مابين. [134]

که حقيقت ته وګورو دا خبره راته معلوميږي چې، د بي بي هاجرې رضي الله عنها او اسماعيل عليه السلام زغم، صبر او اخيستې قدمونه دوندې مبارک سول چې د مسلمانانو د عبادت يوه حصه وګرځېدل. په همدې خاطر چې نبي عليه السلام د ټولنې د اصلاح او سمون لپاره کوم کړاونه ګاللي دي او ډېر صبر يې کړی دی، نو د ده مبارک قبر به څنګه مبارک نه سي او څنګه به دلته لمونځ او دعا منع سي او بل که چيرې د نبي عليه السلام او اولياؤ قبرونو ته د دوی په خاطر فضيلت نه حاصليږي نو بيا ولې که موږ د سيرت کتابونه مطالعه کوو، دا خبره راته مخکې کيږي چې، شېخينو مبارکانو لکه: حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه د دې خبرې اسرار کړی دی يا يې کوي چې، موږ د نبي عليه السلام د مبارک قبر سره او د نبي عليه السلام و اړخ ته ښخ کړئ. دوی مبارکانو دا کار د دې لپاره کاوه چې دوی د دې ځای د فيض او برکت څخه برخمن سي.

که څوک دا پوښتنه وکړي چې، نبي عليه السلام خپله پر مايي: ( **اللهم لاتجعل قبري وثنا، الحديث** )

**ژباړه**: يعني يا الله! زما قبر د بت غوندې مه ګرځوه چې راته عبادت وسي.

134- جلاء الافهام ک ۲۲۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه په نورو احاديثو کي راغلي دي چي نبي عليه السلام فرمايي: الله تعالی جل جلاله دي پر يهودو او نصاراوو لعنت وکړ چي دوی د خپلو پيغمبرانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړ کړي وو. هم داسي نور. که چيري و دغو حديثونو ته وګورو نو بيا ولي اهل سنت د قبرونو سره لمونځ او دعا جائز بولي؟ د دې خبري ځواب موږ داسي کوو.

که په رښتيا د قبر تر څنګ لمونځ او دعا روانه وای نو بيا ولي ام المؤ منين حضرت عائشة رضي الله عنها په خپل خونه کي د نبي عليه السلام د قبر تر څنګ لمونځونه کول؟

که د دې حديث چي وايي: (خدای جل جلاله دي پر يهودو او انصارو لعنت وکړي ځکه چي د پيغمبرانو له قبرونو يې جوماتونه جوړ کړي وو.) معنی همداسي وي لکه غير مقلدين چي وايي: نو بيا ولي د همدې حديث راوي حضرت بې بې عائشة رضي الله عنها تژدې ۵۰ کاله په هماغه خونه کښي لمونځ کاوه او د خدای تعالی په عبادت بوخته وه او له بلي خوا يهودو او نصاراوو خو د خپلو پيغمبرانو قبرونه قبلې ګرځولي وو او هغوی يې لمانځل. په داسي حال کي چي مسلمانان داسي نه کوي نو ځکه نبي عليه السلام ويلي دي (**اللهم لاتجعل قبري وثنا** )[135]

ژباړه: خدايه زما قبر د بت غوندي نه کړې چي راته عبادت وکړل سي)

[135]- مسند احمد بن حنبل : ۳ جلد، ۲٤۸ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اولیاوو کرامو وسیله کول

**یا ایهاالذین امنوا اتقوالله حق تقاته ولا تموتن الا وانتم مسلمون. فان خیر الحدیث کلام الله و خیر الهدي هدي محمد، وشرالامور محدثاتها و کل محدثة بدعة و کل بدعة ضلالة و کل ضلالة في النار.**

په مسئله د توسل کې ډېر اختلاف دی. د حلال او حرام دروا او ناروا، د الله تعالی د دربار د دوستانو و سیله کول د نړۍ په مسلمانانو کښې ډېر زیات دود دی. د احادیثو له لارې یې مشروعیت هم په ډاګه سوی دی.

یوازې په اتمه هجري پېړۍ کې د شیخ ابن تیمه له خوا ترې انکار و سو او تر هغه دوې پېړۍ وروسته، محمد بن عبدالوهاب چې د غیر مقلدینو بنسټ ایښودونکی بلل کیږي له خوا یې ډېر زور واخیست او د الله تعالی د اولیاوو وسیله کېدل ناروا او بدعت وګڼل سو او کله هم ور ته د اولیاوو عبادت او شرک وویل سو او په دې کې شک نسته چې بېله الله تعالی عبادت د بل چا کول بېله شکه حرام دی.

مګر د اولیاوو وسیله کول، د ډېرو پخوانیو د جمهور علماء کرامو عادت دی. څکه د دوی په اکثره اقوالو کې داسې راځي.

(**اللهم بحق نبیک او بجاهه او یقدره عندک عافني وعف عني. و اللهم اني اسالک بحق البیت الحرام ان تغفرلي. و اللهم بجاه الاولیاء والصالحین و مثل فلان و فلان**)او یا داسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( اللهم بكرامة رجال الله عندك، و بجاه من نحن في حضرته و تحت مدده فرج اللهم عناو عن المهمومين. و اللهم اناقدبسطناالیک اکف الضراعة . متوسلین الیک بصاحب الوسیلة و الشفاعة ان تنصر الاسلام والمسلمین الخ ) ( التوصل الی حقیقه التوسل ۱۲ مخ بیروت چاپ.**

هم داسي نور اقوال. و دغه ته توسل وا يي. په دې مسئلې کي ځيني کسانو ډېره لاره خلاصه کړې ده چي، عوامو د درختو او ډبرو توسل شروع کړی دی او ځيني بيا دوندي سختي کړې ده چي، هغه څوک چي مشروع توسل هم کوي هغه ته مشرک وايي.

ښه خبره داده چي، اصله مسئله د ايات او احاديثو په رڼا کي ښکاره سي او زموږ اهل سنت والجماعت مسلک څرګندسي، نو په دې اساس زه اول دا خبره کوم چي، دا موضوع ډېره پيراخه ده پر دې موضوع ډېر کتابونه ليکل سوي دي خو زه صرف په مختصره طريقه يو څه بيان کوم. د الله تعالی په فضل سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توسل په لغت کي.

التوسل (وسيله) عربي لغت دی. دغه لغت په قرآن او حديث او په کلام عرب کي په شعر او نثر کي ذکر سوی دی.

ابن الاثير رحمه الله په النهاية کي وايي:

**الواسل. الراغب والوسيلة القربة والواسطة و مايتوسل به الى الشیء و يتقرب به و جمعها وسائل)**

فيروز ابادي په قاموس کي وايي:

**(وصل الي الله تعالی توسيلاً عمل عملاً تقرب به اليه كتوسل)**

يو بل معنا هم ورته سته.

**(المنزلة عند الملک والدرجة والقربة)**

لکه څنګه چي دا معنا له حديث شريف څخه هم معلوميږي چي نبي ع فرمايي:

**(اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل مايقول. ثم صلوا على فانه من صلي على صلاة صلي الله عليه بها عشراً. ثم سلوا الله اي الوسيلة فانها منزلة في الجنة لاتنبغي الا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**العبد من عباد الله و ارجو ان اكون انا هو فمن سال لي الوسيلة حلت له الشفاعة .**
[136] (

مخکنيو عباراتو ته په کتو سره موږ ته د توسل درې معناوي په لاس راځي.

اول: واسطة . دوهم: هغه عمل چي په هغه سره و الله تعالی ﷻ ته څوک په نژدې کيږي يعني مقبول عبادت . دريم: درجة او مرتبه .

**اول مثال:**

**اللهم اني اتوسل اليک نبيک محمد ﷺ انتقضي حاجتي )**

**ژباړه**: يعني يا الله ﷻ زه درته ستا نبي ﷺ واسطه کوم چي زما اړتيا تر سره کړه.

**دوهم مثال:**

أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا. )(البقرة أية **57**)

د دغه ايات شريف به تفسير کي الحافظ ابن کثير رحمه الله د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه نقل کوي.

**( ان امعنى الوسيلة فيها القربة )**

[136]- سنن ابوداؤد حديث نمبر ۵۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم داسي د مجاهد، ابي وائل، الحسن، عبدالله بن کثير، اسدي، ابن زيد هم داسي له نورو نه چي، هغوی نقل کوي له قتاده ﷺ څخه.

**( اي تقربوا اليه بطاعته ،العمل بما يرضيه )**

وروسته ابن کثير رحمه الله وايي: دا هغه معناده چي په دې کي هيڅ اختلاف نسته.

**دريم مثال:**

**( ثم سلوا الله لي الوسيلة فانها منزلة في الجنة: الحديث )** [137]

کله چي مورږ د توسل معنا وي و پېژندلې چي په معنی د واسطه، عمل مقبول، منزلة، (مرتبه او درجة) ده اوس نو تقسيم د وسيلې کوو.

## د توسل اقسام:

په اول تقسيم کي وسيله يا توسل پر دوه ډوله دی.

وسيلة **کونية** ، وسيلة **شرعية**

**سيلة کونية** ، هري هغي واسطې ته ويل کيږي چي طبعي وي، هغه که د انسان په خلقت وي او که د الله تعالی په خلقت وي.يوازي په دې واسطه سره د مقصود موندل

[137] - حواله سابقه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. دغه ډول وسیله په مسلمان او کافر پوري تخصیص نه لري بېله فرقه ده. د دې قسم د مثاله ، اوبه واسطه او سیله د تندې لپاره د انسان ، خوراک وسیله د مړتیاده، کالي وسیله د ساتني د ګرمي او له یخنۍ څخه، موټر وسیله ده د انتقال د یوه ځایه بل ځای ته،

**وسیله شرعیة:**

هغه واسطه ، مرتبه، منزلت او عمل صالح دی چي، په طریقه شرعیه سره ګرځول د ي کوم چي د کتاب الله او سنت نبوي ﷺ ېې څرګندوي، دغه طریقه د وسیلې خاص ده په مسلمان پوري.

دغه ډول وسیله خپل ډولونه لري چي په لاندي ډول دي.

(**التوسل باسماء الله تعالیٰ و صفاته** )

(**التوسل بعمل صالح قام به الداعی** )

(**التوسل بالانبیاء ع** )

(**التوسل بدعاء الرجل الصالح** )

(**التوسل بالانبیاء من قبل نبینا**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(التوسل بالاولیاء کرام)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## التوسل باسماء الله تعالی و صفاته

التوسل په اسماء الله او صفاتو سره يو جائز عمل دی، لکه ځرنګه چي موږ د غه توسل په عام او قاتو او خاصو حالاتو کي کوو د مثال په توګه:

**( اللهم اني اسالک بانک الرحمن الرحيم اللطيف الخبيران تعافيني )**

**( اللهم اسالک برحمتک التي وسعت کل شیءٍ ان تر حمني و تغفر لي)**

د دغه ډول لپاره دليل دروا والي دغه ايت کريمه دی.

(وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا) سورة الاعراف ۱۸۰

تاسي له الله تعالی ﷻ غوښتنه وکړئ او هغه ته وسيله ګرځوي سئ په اسماء حسنی سره هم داسي نور اياتونه هم سته چي پر جواز او روا والي د توسل د الله تعالی د اسماء حسنی او په حديثو کي هم د دې لپاره ډير دلا ئل سته. زه دلته له هغي جملې څخه يو څو حديثونه رانقلوم.

يوه صحابي ﷺ په لمانځه کي د ناستي په وخت کي داسي وويل:

**( اللهم اني اسالک يا الله الواحد الاحد الصمد الذي لم يلد ولم يولد، و لم يکن له کفواً احد. ان تغفرلي ذنوبي انک انت الغفور الرحيم.)**

کله چي نبي عليه‌السلام له هغه صحابي څخه دغه وينا واوريدل نو نبي عليه‌السلام وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( قد غفرله قد غفرله )**[138]

یو بل صحابي بیا په اتحیات کي داسي وویل:

**( اللهم اني اسالک بان لک الحمد لااله الانت و حدک لا شریک لک المنان یابدیع السماوات ولارض یا ذاالجلال والاکرام یاحي یا قیوم اني اسالک الجنة و اعوذبک من النار).**

کله چي نبي علیه‌السلام له صحابي رضی‌الله‌عنه څخه دغه وینا واورېدل. نو بیې نورو صاحبه کرامو ته وویل: تاسي پوهېږئ چي ، ده په څه شي باندي غوښتنه وکړه؟ صحابه کرامو ورته وویل: الله تعالی جل‌جلاله او د هغه رسول ﷺ په خبر دی. نبي علیه‌السلام ورته وفرمایل:

**( والذي نفسي بیده لقد دعا الله به اسمه العظیم.)**

په بل روایت کي بیا داسي راغلي دي:

**(الاعظم الذي اذا دعي به اجاب و اذا سئل به اعطی )**

په یوه بل حدیث شریف کي راځي که پر چاغم د هر سو دغه دعا دي وه وایي:

**الهم اني عبدک و ابن عبدک او ابن امتک، ناصیتي بیدک، ماضی في حکمک، عدل في قضاؤک، اسالک بکل اسم هولک سمیت به نفسک او علمته احدمن خلقک او انزلته في کتابک او استاثرت به في علم الغیب عندک ان تجعل القران**

---

[138] - التوسول الی حقیقة التوسل بحواله ابوداؤد و ترمزي : ۳۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ربيع قلبي، و نور صدري، وجلاء حزني. و ذهاب همي الاذهب الله همه و حزنه و اجد له مكانه فرجا.** [139]

دغه احاديثو ته په کتو او هغه احاديثوته په کتو چي د دې مشابه وي د ټولو څخه دا معلوميږي چي، توسل د الله تعالی ﷻ په اسما الحسنی او صفاتو سره کول يو امر مشروع دی او په داسي توسل سره الله تعالی ﷻ راضي کيږي هم څکه، دغه مخکنی توسل چي، ذکر سوی، د نبي عليه السلام له لوري خپل امت ته درس کول سوی دی او نبي عليه السلام د دې لپاره راستول سوی دی چي د الله تعالی ﷻ بندګان يو داسي عمل وکړي چي هغه د الله تعالی ﷻ د رضا سبب وګرځي او د نبي عليه السلام اقوال او اعمال ټوله زموږ لپاره زريعه د هدايت دي. الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ﴾ سورة الحشر ٨

139 التوصل الی حقيقة التوسل مخ ۳۱ په حواله ابوداود،ترميذي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## التوسل بعمل صالح قام به الداعي

دا ډول توسل هغه توسل دی چې یو بنده خپل نېک عمل او عبادت و الله تعالی ﷻ ته وسیلة کړي. هغه اعمال او عبادات چې د شریعت له لوري مشروع بلل سوي وي لکه: یو صالح بنده چې وایي.

(**اللهم بایماني بک، و محبتیک، و اتباعي لرسولک اغفرلي**)

(**اللهم اني اسالک بحبي محمد و ایماني به ان تفرج عني**)

د غسي توسل یو مشروع توسل او الله تعالی ﷻ هم په راضي کېږي. په دغه توسل باندي موږ ډېر دلائل لرو. هغه هم د قرآن او حدیث دواړو څخه .

(الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) سورة ال عمران ١٦)

(رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ..

(رَّبَّنَاإِنَّنَاسَمِعْنَامُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا ۚ رَبَّنَافَاغْفِرْلَنَاذُنُوبَنَاوَكَفِّرْعَنَّاسَيِّئَاتِنَاوَتَوَفَّنَامَعَالْأَبْرَارِ)

( إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ )

د غه درې دلائل د کتاب الله تعالی څخه ما رانقل کړل مګر که موږ په کتاب الله کې و ګورو د غسي ډېر ایاتونه په لاس راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه ډول توسل لپاره ډېر احاديث سته چي يو بنده خپل نېک عمل و الله تعالی ﷻته وسيله کړی دی. د هغه نېک عمل په خاطر د الله تعالی ﷻڅخه د خپل مشکل د خلاصون غوښتنه وکړي او دا داسي توسل دی چي وسيله کوونکی يې دالله تعالی ﷻ مخلص بنده ګڼل کيږي او کومو کسانو چي په خپلو صالحو اعمالو وسيله نيولې هغه کسان الله تعالی ﷻ کاميابه کړي دي او خپل مقصد ته رسېدلي دي. دا حديث صحاح رانقل کوي.

**( عبدالله ابن عمر ﷺ قال، سمت رسول الله يقول انطلق ثلاثة رهط ممن كان قبلكم حتى او واالمبيت الى غار فدخلوه فانحدرت صخرة من الجبل فسدت عليهم الغار. فقالوا، انه لاينجيكم من هذه الصخرة الا ان تدعوا الله بصالح اعمالكم. الحديث رواه البخاري.**

عبدالله ابن عمر ﷺ وايي: ماله نبي عليه‌السلام نه اورېدلي دي چي، درې نفره هغه ترتاسو مخکي وو. يعني په پخوا وخت کي دوی ولاړل د خوب يا استراحت لپاره يو غار ته. د غره نه يوه لويه ډبره د غار خولې ته را ولوېده. د غار خوله بنده سوه دوی په خپل مابين کي سره وويل:له دې ډبري څخه نه خلاصيږو مګر نه هغه وخت چي الله تعالی ﷻته خپل نېک عمل او عبادت وسيله نه کړو.

دغه حديث شريف ډېر اوږد دی ما نور پرېښود ځکه؛ دا قصه ډېره مشهوره ده. په هر صورت توسل په عمل صالح او عبادت سره هغه توسل دی چي الله تعالی ﷻ او د هغه رسول خوښ بللی دی. الله تعالی ﷻموږ ته د داسي عمل او عبادت توفيق را

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصیب کړي چې موږ يې هم الله تعالی ته وسیله کړو او د هغه په خاطر زموږ نه دغه فتنې او عذابونه لیرې کړي

## امین ثم امین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## التوسل بالانبياء

په مخکني بيانونو کي د توسل کوم حکم چي ذکر سو زما په اند په هغه کي به څوک اختلاف و نه لري ځکه؛ هغه اقسام په ښکاره د ايات او حديث څخه معلوميدل مګر توسل په دې نورو قسمو نو کي لږ غوندي کسان سته چي اختلاف لري خو دغه اختلاف هم د ناپوهي له امله دی. که چيري موږ په احاديثو کي ښه پلټنه وکړو حق به خامخا راته څرګنديږي مګر نه هغه کسانو ته چي سترګي له حق څخه پټوي.

په هر صورت دغه بيان دی په بيان د توسل بالانبياء. يعني د الله تعالی ﷻ انبياء وسيلة کول. دا مسئله زموږ د اهل سنت والجماعت په مذهب يو جائز عمل دی مګر ځيني کسان داسي توسل نه منع کوي. دوی و دغه ډول توسل ته عبادت د عبادو وايي او حرام يې بولي. موږ اهل سنت والجماعت چي دغه ډول توصل جائز بولو ښه واضح دلائل لرو هغه دلائل زه اوس ستاسو په مخ کي ايږدم . انشاء الله

**دغه توسل پر دوه ډوله دی.**

**اول**: د انبياء کرامو په ذات توسل لکه چي وايي:

(**اللهم اني اتوسل اليک نبييک محمدﷺ ان تقضي حاجتي.**)

**ژباړه**: يا الله! زه درته ستا پېغمبر وسيله کوم چي ته زما مقصد پوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم**: د انبیاء کرامو مقام، مرتبه، منزلت او درجه، الله تعالی ﷻ ته وسیله کول لکه چي وایو.

﴿ **اللهم اني اتوسل الیک بجاه محمد ﷺ و حرمته وحقه ان تقضی حاجتي** ﴾

**ژباړه**: اې الله! زه د پېغمبر علیه السلام هغه مقام چي له تا سره یې لري درته وسیله کوم چي ته زما اړتیا تر سره کړه.

د غېر مقلدینو پېشوا محمد بن عبدالوهاب نجدي او غېر مقلدین ټول دغه دواړه ډوله د توسل منع بولي.

که موږ د نبي علیه السلام احادیث او اسلامي سیرت ته په کتو سره د ژوند فیصله وکړو دا به راته معلومه سي چي دغه دواړه ډوله توسل جائز دی.

﴿ **ان رجلا ضریراً اتي الی النبي ﷺ فقال، ان یعافني فقال ان شئت دعوت و ان شئت صبرت و هو خیر قال فادعه فامره ان یتوضاً فیحسن و ضوه و یصلي رکعتین و ید عو بهذا الدعاء اللهم اني اساء لک والتوجه الیک بنبیک محمد نبي الرحمة یا محمد اني اتوجه بک الی ربي في حاجتي تقضی. اللهم شفعه في قال ابن حنیف فوالله ما تفرقنا و طال بنا الحدیث حتی دخل علینا کان لم یکن به ضر** ﴾ **(التوصل الی حقیقة التوسل ۱۵۸ مخ طبع بیروت.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: يعني يو ړوند کس و نبي عليه‌السلام ته راغی او ورته و يې ويل: اې د الله تعالی ﷻ رسوله! د الله تعالی ﷻ څخه و غواړه چي ماته صحت او بينايي راکړي. نبي عليه‌السلام ورته وفرمايل: که ته غواړې چي دعا راته وکړه، دعا درته کوم او که ته صبر وکړې، صبر ستا لپاره ډېر ښه دی.دغه ړانده کس ورته وويل: يا صبر نه سم کولای، دعا راته وکړه. نبي عليه‌السلام ورته و فرمايل: ورسه ښه اودس تازه کړه، بيا دوه رکعته لمونځ وکړه وروسته دا دعا وکړه.

( اې پر ور ديګاره ز ه درنه غواړم او ستا د پېغمبر محمد ﷺ درحمت د پېغمبر په وسيلة تاته مخامخ کېږم چي، الله تعالي ﷻ زما حاجت تر سره کړي. يا الله تعالی! ﷻ زما اړوند د هغه شفاعت ومنه.

ددې حديث شريف څخه د توسل بالانبياء لپاره ښکاره جواز معلومېږي. هم دغه حديث د توسل بالانبياء لپاره ښه دليل دی.

کېدای سي ځيني کسان دا ووايي چي: دا توسل د نبي عليه‌السلام په ژوند کي سوی دی موږ اهل سنت والجماعت تل دا وايو چي، توسل په نبي ﷺ هغه، که وفات وي او که ژوندی وي جائز بولو او عبادت د نبي لپاره کول، هغه که ژوندی وي او که وفات شرک او حرام يې بولو.

د دې حديث شريف په سند کي هيڅ شک نسته چي، دا حديث صحيح دی. د دې حديث شريف د سند اړوند محترم مولوي سيد محمود حکمي په خپل کتاب (

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهابيت د قرآن او سنتو په رڼا کي، ډېرښه معلومات راجمع کړي دي. د هغو معلوماتو ځنځه يو را نقل کوم تر ځو تاسو ته هم ځ ښه ښه واضح سي. دی محترم وايي:

د دې حديث د سند او صحت په باب څه خبره نسته. ان چي شېخ ابن تېمه يې هم سند صحيح بولي او ويلي يې دي. له ابوجعفر ځنځه چي د حديث په سند کي دی مراد. هغه ابو جعفر خطمي دی او هغه د منلو وړ دی. د امام احمد رحمه الله په مسند کي (ابو جعفر) د خطمي په لفظ ستايل سوی دی خو په صحيح ابن ماجه کي مطلق ابو جعفر راغلی دی.

د محمد ابن عبدالوهاب دډلي معاصر رفاعي د دې حديث په باب وايي:

**ولا شک ان هذا الحديث صحيح و مشهور و قد ثبت فيه بلا شک و لاريب ارتداد بصرالاعمی بدعاء رسول الله ﷺ.** [140]

**ژباړه**: يعني شک نسته چي، دا حديث صحيح او مشهور دی او په دې کي هم شک نسته چي يوه ړانده سړي د نبي عليه السلام په دعا سترګي و غړولې.

رفاعي په خپل کتاب التوصل کي وايي: دا حديث نسائي، طبراني، ترمذي او حاکم په خپل مستدرک کي را وړی دی او دی وروستيو دووکسانو د (وشفعه في) پرځای (اللهم شفعني فيه) را وړي. [141]

140 - التوصل لی حقيقة التوسل : ۱۵۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکونکی دا حديث له لاندنيو مدارکو څخه را نقلوي.

سنن ابن ماجه ۱جلد، ۴۴۱ مخ د دار احياء چاپ . د محمد فواد عبد الباقي څېړنه ۱۳۸۵ حديث. ابن ماجه له ابو اسحاق څخه نقل کوي چي (هذا حديث صحيح) بيا زياته وي. دا حديث ترمذي په (ابواب الادعيه) کي را اخيستی دی او وايي:

(**هذا حديث حق صحيح غريب**) مسند بن حنبل. ۴جلد ۱۳۸ مخ چاپ المکتب الاسلامي بېروت. په درو طريقو را نقل کړی دی. مستدرک حاکم ۱ جلد: ۳۱۳ مخ چاپ حيدر آباد افست.

د دغه حديث شريف د نقل وروسته وايي:

(**هذا حديث صحيح على شرط الشيخين و الم يخرجا**)

الجامع الصغير. سيوطي. له ترمذي. مستدرک او د حاکم څخه را نقل کړی دی. هم دغسي التاج په ۱جلد (۲۸۶)مخ کي را نقل کړی دی هم داسي نورو کتابونو را وړی دی.

که موږ و دغو کتابونو ته وګورو. ايا د حديث په سند کي به د شک خبره پيدا سي؟ په هر صورت تاسي دا حديث له عربي ژ بې سره يو بلد سړي ته ورکړئ، داسي يو سړي ته چي، د (توسل بالانبياء) په مسئله کي يې د وهابيانو يا غېر مقل بېينو له

141 - مخکنی حواله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناندریو نه ذهن ببخي پاک وي او پوښتنه ځني وکړئ چي، د پیغمبر ﷺ په هغه دعا کي چي راانده ته یې وښودل څه امر کړی دی؟ او هغه ته یې د دعا په قبلېدو کي څه لار ښوونه وکړه؟ له واره به درته ووایي چي، پیغمبر ﷺ ورته وویل چي، درحمت پیغمبر ﷺ وسیله کړه او له الله تعالی ﷻ څخه و غواړه چي حاجت دي پوره سي.

دا خبره له لاندنیو جملو څخه ښه معلومیږي.

**الف**: (اللهم اني اساءلک واتوجه الیک بنبیک)

**ژباړه**: اې الله! له تا نه غوښتنه کوم او تاته ستا د پیغمبر ﷺ په مخ- مخ در اړوم. د (نبیک) ټکي په مخکني دوو جملو پوري اړوند دی. یو (اساءلک) او بل (الوجة الیک) په ښکاره وینا هم د نبي علیه‌السلام په وسیله له الله ﷻ څخه سوال کوي.او هم د هغه ﷺ په وسیله الله تعالی ﷻ ته مخ کوي او له نبي څخه مراد خپله نبي علیه‌السلام دی نه د نبي علیه‌السلام دعا، او غرض دادی چي، د هغه ﷺ په دعا سره تاته مخ در اړوم. (متوجه کیږم) او په تنیجه کي د دعا غوښتنه له پیغمر ﷺ څخه ده ځکه د دعاء د کلمې نه شتوالی او تقدیر پر دې سر بیره چي بې ځایه او بې دلیله ده. د بلاغت پر خلاف هم ده. د (توجه) منظور د پیغمبر ﷺ دعا ده نه د هغه ﷺ خپل ذات او دا فرادو دعا ته توجه څه خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب**: د دې لپاره چې څرګنده سي چې له الله تعالى ﷻ څخه د سوال مقصد د پېغمبر ﷺ لاره او د هغه په وسيله خداى تعالى ﷻ ته توجه ده. د (نبيک) لفظ يې له (**محمد نبي الرحمة**) جملې سره توصيف کړى دى چې حقيقت څرګند او روښانه دى.

**ج**: د (**يا محمد اني اتوجه بک الى ربي**) جمله دا ښيي چې نبي عليه السلام دعا لپاره وجه ګرځوي نه د خپلې وجهي (**توجه**) لپاره د هغه دعا.

**د**: د (**وشفعه في**) جملې مطلب دادى چې، پرور دګاره. هغه ﷺ زما شفيع وګرځوې او زما په باب د هغه شفاعت ومنې.

په دغو ټولو جملو کې چې څه د څېړنې او خبرو وړ وي، هغه په خپله پېغمبر اکرم ﷺ او د هغوى ﷺ ستر مقام دى او د پېغمبر ﷺ د دعا خبره نه ده او توسل بالانبياء څه نوې خبره نه ده. دا مسئله د حضرت ادم عليه السلام له واقعې څخه ښه څرګنديږي.په هغه واقعه کې راځي چې، ادم عليه السلام ته الله تعال ﷻ مخصوص کلمات ور وښودل چې د هغه کلماتو د ويلو په خاطر يې د الله تعالى رضا حاصله کړه. الله تعالى ﷻ فرمايي.

( فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَالتَّوَّابُالرَّحِيمُ) [142]

**ژباړه**: آدم عليه السلام له خپل رب ﷻ څخه ځيني خبري (کلمې) په خضوع او اطاعت سره زده کړ ي دي او په هغه سره يې توبه وکړه. رښتيا چې هغه الله تعالى ﷻ توبه قبلوونکى او مهربانه دى.

[142]- سورة البقره : ٣٨ اية،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي امت مفسرینو او محدیثین د هغه کلمو په اړوند چي آدم عليه السلام ته د الله تعالی جل جلاله لوري ورښودل سوي دي، داسي په خپلو کتابونو کي ليکي لکه:
المعجم الصغیر، مستدرک صحاح، دلائل النبوه، الدرمنثور، روح المعاني، هم داسي نور.

دغه ټولو مفسرينو د (کلمات) په تفسير کي د حضرت عمر رضي الله عنه هغه قول رانقل کوي کوم چي ده د نبي عليه السلام نه اورېدلی دی.

**(لما اذنب ادم بالذنب الذي اذنبه رفع راسه الی السماء فقال اساء لک بحق محمد الاعفرت لي؟ فاو حی الله اليه و من محمد ﷺ؟ فقال تبارک اسمک. لماخلقتني رفعت راسي الی عرشک فاذا فيه مکتوب لا اله الا الله محمد رسول الله. فقلت انه ليس احد اعظم عندک قدر ممن جعلت اسمه مع اسمک فاو حی الله اليه يا ادم انه اخر النبيين من ذريتک ولولا هو لما خلقتک)** [143]

**ژباړه**: يعني کله چي ادم عليه السلام خطا وکړه مخ يې اسمان ته کړ. ويې ويل: اې الله! جل جلاله تاته د محمد ﷺ په خاطر سوال کوم چي، ما و بخښه. الله تعالی جل جلاله ورته په وحي وويل: محمد ﷺ څوک دی؟ آدم عليه السلام ځواب ورکړ. زه چي دي څه وخت پيدا کړم عرش تمی وکتل ومي ليد چي پر ليکلي سوي و.

**(لا اله الا الله محمد رسول الله)**

---

143- الدرالمنثور : ١ جلد، ١٤٢ مخ.طبع بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ځان سره مي وويل: محمد ﷺ د هغه الله ﷻ ستر مخلوق دی چي الله تعالی ﷻ يې نوم له خپل نامه سره يو ځای کړی دی، نو بيا و آدم علیه السلام ته وحي وسوې چي، هغه ﷺ ستا د زامنو څخه ورستنی پېغمبر دی او که هغه نه وای ته مي نه پيدا کولې.

د دغه حديث شريف متن په ذکر سوي کتابونو کي يو شان نه دی مګر مضمون د ټولو يو دی او له دې حديث شريف څخه دا څرګنده سوه چي، په ايات کښي چي کوم لفظ (کلمات) ذکر سوی دی له هغه څخه نبي علیه السلام مراد دی. هم داسي په قرآن کريم کي ډېر ځايونه سته چي د کلمې لفظ ذکر سو ی او مراد ځني ستر شخصيتونه دي.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

(يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ آل عمران **۴۵** آيه

هم داسي نور اياتونه . په ټولو کي له کلمات څخه مراد ستر شخصيتونه دي او همدارنګه د تاريخ ، سيرت، احاديثو کتابوڅخه دا خبره ښه معلومه ده چي ادم علیه السلام د دعا په وخت کي نبي علیه السلام وسيله کړی دی. دا خبره مخکي هم تېره سوه چي امام مالک رحمه الله منصور دوانقي ته وويل:

**(هو وسليتک ووسيلة ابيک ادم)** [144]

[144]وفاء الوفاء ٤جلد، ١٣٧٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: یعني نبي علیه‌السلام ستا او ستا د پلار ادم علیه‌السلام وسیله ده. د دې مخکښې خبرو څخه موږ ته دوه مطلبه په لاس راغله اول وسیلة جائز عمل دی او دوهم: توسل بالانبیاء هم روا دی.

که چیري غیر مقلدین د مطلق توسل څخه منکر سي او که د توسل بالانبیاء څخه دواړې خبرې یې باطلې دي. که دوی موږ ته په دې عمل کولو سره مشرک وایي او یا بدعات پسنده راته وایي دا اعتراض پر موږ نه دی ځکه؛ هغه دي زموږ په وړاندي د الله تعالی ﷻ او د هغه د رسول ﷺ وینا وي پرتې دي. موږ د هغه د قول موافق عمل کوو.

په اصل کي د غیر مقلدینو څخه خطا سوې ده چې، ځان ته د اهل حدیث نوم ورکوي مګر نور مسلمانان یې تر سترګو بد ایسي. بې دریغه د مشرک الزام پر لګوي.

قد اجاب الله آدم اذدعا ونجا في بطن السفينة نوح

قوم بهم غفرت خطیئه آدم و هم الوسيلة و النجوم الطلع

(c) ketabton.com: The Digital Library

## التوسل بدعاء الرجل صالح

دغه ډول توسل هم يو مشروع او روا توسل دی. دا توسل هغه دی چي، يو مسلمان ته يو تکليف او مصيبت ورسيږي نو دغه مسلمان يو داسي صالح او تقوا درلودونکي ته ورسي چي، هغه په کتاب الله او د هغه د رسول ﷺ په اقوالو خبر وي. يعني عالم وي يا ولي وي، يا سيدوي، يا زوي مور او پلار ته ورسي، يا شاګرد خپل استاذ ته ورسي چي، ته زما په حق کي دعا وکړه چي، زه ددې تکليف او مصيبت څخه خلاصون پيدا کړم او د الله تعالی ﷻ څخه و غواړه چي، زما کاميابي په برخه سي.

دغه ډول توسل يو مشروع عمل دی. د دې پرصحت باندي په حديثونو او شريعت کي خورا ډېر دلايل سته چي، زه له هغو څخه يو څو حديث د نمونې لپاره را اخلم.

**(عن عائشة قالت شکاالناس الی رسول الله ﷺ قحوط المطر فامر بمنبر فوضع له في المصلي الحديث)** [145]

**ژباړه**: بي بي عايشة ﷺ وايي: نبي عليه السلام ته خلکو د وچکالی (د باران د نه اورېدو) شکايت وکړ ويل يې.اې د الله ﷻ رسوله! ته دعا وکړه چي، الله تعالی ﷻ پر موږ باران وکړي. د الله ﷻ پېغمبر ﷺ هم دعا وکړه په دې وخت کي باران وسو.

145- مشکواة ۱جلد: ۱۳۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو محدیثینو را اخیستي دي چي یو صحرایي عرب پیغمبر ﷺ ته راغی او داسي یې وویل:

**( لقد اتیناک ومالنا بغیریط والا صبي یغط )**

**ژباړه**: موږ تا ته په داسي حال کښ راغلي یو چي، نه مو اوښ سته چي، فریاد وکړي او نه مو کوچنی چي ویده سي او دا شعرونه یې وویل:

**( اتیناک والعذراء بدمي لبانها**

**و قد شغلت ام الصبي عن الطفل**

**ولاشیئ همایاکل الناس عزنا**

**سوی الحنظل العامي و العلهزالغسل**

**ولیس لنا الا الیک فرارنا**

**و این فرار الناس الا الی الرسل.**

**ژباړه**: یعني موږ تاته راغلي یو په داسي حال کي چي، داسونو له سینو ویني څاڅي، مور له خپل کوچني نه جلاکړای سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره څه را سره نسته چي، څوک يې و خوري (هن) هغه ترخه مړه غونې سته چي د لوږي په کال خوړل کيږي او د وينو او کارغانو له غذا پرته نور څه نه لرو او د خلکو پنا ځای له پيغمبرانو پرته بل کوم ځای کيدای سي.

وروسته بيا:

**(فقال رسول الله ﷺيجر ردائه حتى صعدالمنبر، فرفع يديه. اللهم اسقنا غيثاً .... فمارد النبي ﷺ يديه حتي القت السماء ....ثم قال الله درابي طالب لوكان حيالقرت عيناه. من ينشدنا قوله؟ فقام علي بن ابي طالب و قال وكانك تريد يا رسول الله قوله.**

**و ابيض يستسقي الغمام بوجهه**

**تمال اليتامي عصمه للارامل**

**يطوف به الهلاک من ال هاشم**

**فهم عنده في نعمه و فواضل**

**ژباړه**: هغه سپين مخ چي په خاطر يې له وريځو څخه باران غوښتل کيږي او د يتيمانو پنا ځای او د بيوسو کونډو مرستندوی دی. د ب ني هاشم محتاجان تر ې راټول وي او د ده له برکته په نعمتونو او بخششونو کي ډوب دي.

نبي عليه‌السلام وفرمايل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو زما مقصد همدا دی چي، و مولوست. بيا حضرت علي رضي الله عنه د هغه د قصيدې يوه برخه ولوستله. بيا د بني کنانه قبيلې يو سړی ولاړ سو، يو څو بيته يې وويل چي، د اول بيت مضمون يې دادی.

**ژباړه**: الله تعالی جل جلاله ستاينه تالره ده. ستا شکر کوونکي بندګان ستاينه کوي. موږ د پېغمبر صلی الله علیه وسلم له مخه په باران او به سوو.[146]

حافظ ابن عساکر رحمه الله وايي: د معاوية بن ابو سفيان په وخت کي وچکالي راغله. د دعا لپاره يې يزيد بن الاسود الجرشي.را وغوښت ورته و يې ويل:

(**يا يزيد ارفع يديک الي الله . فرفع يديه ورفع الناس ايديهم الحديث** )

**ژباړه** : يعني اې يزيده د الله تعالی جل جلاله و لورته لاس پورته کړه او دهغه جل جلاله نه باران وغواړه او خلکو هم لاسونه د دعا لپاره پورته کړل.

په هر صورت. توسل د صالح سړي په دعاسره يو مشرع عمل دی. که څوک يو چاته ورسي چي دعا راته وکړه ډېر ښه کار دی. د دې م وضوع لپاره په شريعت او په حديثو کي ډېر مثالونه سته خو زموږ لپاره دومره بس دي

انشا ء الله تعالی.

[146]- عمدة القاري : ۷ جلد، ۳۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (التوسل بالانبياء من قبل نبيناء)

موږ اهل سنت والجماعت دا وايو ،توسل په انبياء كرامو باندي جائز دى. هغه كه ژوندى وي او كه د وفات وروسته وي. يعني كه زموږ نبي وي او كه مخكني انبياء كرام وي. د دې توسل د جواز لپاره موږ دغه حديث راوړو.

فاطمه د اسد لور چي، څه وخت وفات سوه. رسول الله ﷺ يې د مرګ په خبرېدو سره راغلى او سر ته يې كښېنوست او وې فرمايل:

(له مور څخه مي وروسته مور يې. يا الله ﷻ ته باندي ورحمېږه. بيا يې اسامه، ﷛ ابوايوب ﷛او عمر بن الخطاب ﷛ او يو تور مريي يې را وغوښتل چي قبر جوړ كړي. قبر جوړ سو. لحد يې پېغمبر ﷺ په خپل لاس جوړ كړ اوخاوره يې په لاس كي را واخيسته او په قبر يعني په لحد كي په اړخ سو او دا دعا يې وكړه.

**ژباړه**: يا اللهﷻ چي ژوندي كول او مړه كول كوې او ته ژوندى يې او نه مرې. مور مي فاطمه د اسد لور و بخښه او كور يې پراخه كړه. دخپل پېغمبر او له ماڼه د مخكنيو پېغمبرانو په خاطر. د (خلاصة الكلام) مؤلف وايي:

**رواه الطبراني في الكبير والاسط و ابن حبان والحاكم صحيح و صححوه....)**[147]

---

[147]- كشف الاستياب. ۳۱۲ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبراني في الکبير والاوسط کښي روايات کړی او ابن حبان او الحاکم صحيح کړی او تصديق کړی يې دی. سيد احمد ذيني د حلان په خپل کتاب (الرد السنية في الرد على الوهابية) کښي وايي:

مشهور محديث ابن ابي شيبه له جابر رضي الله عنه څخه دا احديث رانقل کړی دی او همدارنګه ابن عبدالبر له ابن عباس رضي الله عنه او ابو نعيم له انس رضي الله عنه څخه رااخيستی دی او جلال الدين سيوطي بيا دا ټولي خبري په جامع کبير کي راوړي دي.[148]

همداسي (الاستيعاب) **۴** جلد، **۳۸۲** مخ. مسندرک حاکم: **۱** جلد. **۱۰۸** مخ. اصول کافي: **۱** جلد، **۴۵۳** مخ. حلية الاولياء: **۳** جلد، **۱۲۱** مخ. د توسل پر مشرعيت دا حديث شريف ډېر ښه دلالت کوي او ددغه حديث د بيان د صحت لپاره دغه کابونه وګورئ. که تاسي دغه کتابونه مطالعه کړئ اورومرو به دا درته څرګنده سي چي توسل په مخکنيو انبياء کرامو باندي هم جائز دی.

---

[148]- الدرر السنية : ۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## التوسل بالاولياء کرام

داسي نه ده چي توسل يوائې د اوس وخت د امت عمل دی بلکي د پېغمبرانو او تر هغه په راوروسته زمانه کي د مسلمانانو چلند تل دا و چي، د الله تعالی ﷻ او اولیاء کرامو ذات، مقا م او منزل به يې وسیله کاوه چي، دلته يې یو څو بېلګي رااخلو.

ابن اثیر عزالدین علي بن محمد عبدالکریم رحمه الله په (اسد الغابة في معرفة الصحابه) کي لیکي، کله چي د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په وخت کي وچ کالي سوه نو حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت عباس رضی الله عنه په وسیله د باران غوښتنه وکړه. د لله تعالی ﷻ د هغه په وسیله هغوی په باران خړوب کړل سول او ځمکي يې سمسوري کړې.

حضرت عمر رضی الله عنه خلکو ته مخ کړ او وې ویل: په الله تعالی ﷻ قسم چي عباس رضی الله عنه، الله تعال ﷻ ته زموږ وسیله دی او د الله تعالی ﷻ په وړاندي یو مقام او مرتبه لري.[149]

همداسي پر دغه واقعه باندي احسان بن ثابت رضی الله عنه څو اشعار هم وويل.

**سال الامام و قدتتابع جدبنا — فسحقنی الغمام بغراة العباس**

**عم النبي و صووالده الذي — ورث النبي بذاک دون الناس**

[149]- اسدالغابة: ۳ جلد، ۱۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**احیا الاله به البلاد فاصبحت مخضر ة الاجناب بعد الیاس**

**ژباړه**: امام داسې وخت د باران غوښتنه وکړه چې، قحطۍ پر ځای خپره وه او د اسمان وریځې د عباس ﷺ په نورانیت خلک خړوب کړل. عباس ﷺ د پیغمبر علیه السلام اکا او د پیغمبر ﷺ د پلار سیال دی.

مقام او منزلت ورته له هغه نه په میراث پاته دی الله تعالی ﷻ هغه له مخه ځمکې ژوندی کړې او هر ځای تر نا امیدۍ وروسته سمسور سوی دی.

په اسدالغابة کې وایې:

(( و لما سقي الناس طفقوا يتمسحو بالعباس و يقولون، هنياً لک ساقي الحرمين )) [150]

**ژباړه**: کله چې باران هر ځای ته ورسېد، خلکو به تبروکاً د عباس ﷺ پر بدن ځانونه مښل او ورته ویل به یې. اې د دواړو حرمینو ساقي! آفرین.

د دغې واقعې یوه برخه یې په صحیح البخاري کې هم راغلې ده. داسې چې دوسیلة کول یو مصداق هم د عزتمنو اشخاصو او د منزلت د خاوندانو وسیلة کول چې په خپله د داعي او متوسل تر منځ د نژدېکت او وړتیا سبب ګرځي.

تر دې به بل روښانه تعبیر د وسیلة کولو لپاره څه وي.

[150] - خواله سابقه ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

( هذا والله الوسيلة الى الله والمكان منه )

جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل كتاب ( المواهب اللدينه بالمنح المحمديه في السيرة النبوية ) كي وايي: كله چي حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت عباس رضي الله عنه په وسيلة د باران غوښتنه وکړه ويې ويل:

خلكو رسول الله ﷺ به عباس رضي الله عنه ته د پلار په سترګه کتل، په ده پسي ولاړسئ او الله جل جلاله ته يې خپله وسيلة وګرځوئ.په همدې څرګندونو كي د توسل ( وسيلة كول) جواز پروت دى او د هغو كسانو نظر چي، بيخي او ياله پېغمبر ﷺ څخه پرته توسل نه مني باطل سوى دى.[151]

امام حسين رضي الله عنه بهد روژې د مياشتي په راتلو سره داسي دعا كول.

ژباړه: اې الله جل جلاله تا څخه د دې مياشتي او د هغه چا پر مخ دعا غواړم چي، د دې مياشتي له اولي شپې څخه تر پايه پوري ستا نمانځنه كوي. هغه كه ستا ملائيكه وي، كه نبي مرسل دي او يا ستا كوم ګران نېک بندګان دي.

امام شافعي رحمه الله به ويل: د نبي عليه السلام كورنى الله جل جلاله ته زما وسيله ده او د همدوى په وسيله اميد لرم چي، ماته به زما عمل نامه په راسته لاس كي راكړي.[152]

151- المواهب ٣ جلد، ٣٨٠ مخ. فتح الباري ٢ جلد، ٤١٣ مخ.
152- الصواعق المحرقة: ١٧٨ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر صورت زموږ د اهل سنت والجماعت دا عقيده ده چي، توسل (وسيلة کول) په هغه مخکني ټولو اقسامو جائز ده پر دې اقسامو سر بېره زموږ دا هم عقيده ده چي، د نبي عليه‌السلام په وربښتانو، نوکانو، کالو، هم داسي نورو باندي توسل کول جائز دی.

دغه د توسل په مسئلة کي غېر مقلدين زموږ سره مخالف دي. ځيني بيا دا وايي: توسل په ژوندوني کي سته يعني د نبي په ژوند کي په نبي توسل، د ولي په ژوند کي په ولي توسل کول جائز دي اګر که وفات سي بيا توسل نسته.

د توسل بيان خورا پيراخه بيان دی مګر ما ستاسو حضورته يواځي خپله د اهل سنت والجماعت عقيد لږ قدري روښانه کړه، که د چا شوق وي چي په دې مسئله ښه ځان پوه- کړي د دغه لاندي کتابونو مطالعه دي وکړي. په دې کتابونو کي د مخالفينو د لائل هم ورسره ذکر سوي دي. په ځينو کي دومره وضاحت سوی وي چي د دغي مسئلې لپاره يې ځانګړی باب اېښی دی او ځينو بيا اشاره ورته کړې ده.

ردالمختار بهامش: ۱ جلد، ۳۸ مخ.

احياء العلوم: ۲ جلد، ۲۴۷ مخ.

فيض الباري: ۲ جلد ۴۵ مخ.

امدادالفتاوه: ۲ جلد، ۱۲۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقائد د یوبند: ۲۲۰ مخ.

شواهدالحق: ۸۲ مخ.

اشعة اللمعات: ۱ جلد، ۷۱۲ مخ.

شرح الصدور: ۱۲۹ مخ.

البصائر: ۳۳ مخ.

هم داسي نور کتابونه هم سته چي د توسل د وضاحت لپاره ډېر ښه بيان کوي.

اولیاء راهست قدرت ازاله

تیر جسته بازیگر داند زراه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله: خوردې او مالګې له زيارته را اخيستل جائز بولو....

د خوردو را اخيستل له زيارتونو څخه مسلمانان د دې لپاره کوي چي، دوی په دې سره تبرک حاصله وي. په خوردو سره د امراضو دفع کول داسي نه ده چي، دا شرک دی او يا مسلمانان په خورده سره قضاء الهي باطله وي بلکي داله دې امله ده چي مسلمانان ورته درناوی لري. د نبي عليه السلام د قبر مبارک خاوري او د اولياء کرامو د زيارتونو خاوري هم داسي نوري ټولي يورقم خاوري دي. ټولي يو رقم مالګي دي مګر کله چي د دې خاوري او مالګي نسبت و نبي عليه السلام ته يا يو ولي ته وسي د هغه په خاطر يې موږ مبارکي بولو.

بګفتا من ګلي ناچيز بودم          وليکن مدتي باګل نشستم

جمال همنشين درمن اثر کرد          و ګر نه من خاکم که هستم

تبرک حاصلول په داسي شيانو سره چي، د هغو نسبت د الله تعالی جل جلاله و سترو دوستانو ته سوی وي. موږ اهل سنت والجماعت يې جائز بولو.

ځيني کسان و دغسي عمل ته شرک وايي لکه: د محمد بن عبدالوهاب نجدي پيروان. ښه خبره به دا وي چي موږ دا مسئله د ايات او حديث په رڼا کي روښانه کړو تر څو دا معلومه سي چي هغه مسلمانان چي د اولياء کرامو د اثارو تبرک کوي چي، ايا دا عمل د دوی شرک دی او که د نبي عليه السلام او د الله تعالی جل جلاله دوستانو سره مينه او محبت دی. په دې اړه الله تعالی جل جلاله په قرآن کريم کي فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ... ﴾

**ژباړه**: زما دغه قميس در سره يو سئ او زما د پلار پر مخ باندي يې و غوړوئ، د هغه د سترګو بينايي به بيرته ورکړل سي او خپله ټوله کورنۍ ماته راولئ.

نو که اوس يو مسلمان د نبي عليه‌السلام د قبر خاوره د نور اولياو کرامو د قبرونو خاوري د تبروک لپاره و کاروي او په هغه کي تبرک ولټوي او ووايي چي، الله تعالی په دې خاورو او مالګه کي داسي تاثيرات او برکات ايښي دي. د وخت د پېغمبر حضرت يعقوب عليه‌السلام پيروي وکړي نو ولي ورته مشرک وويل سي.

او که موږ د نبي عليه‌السلام و تاريخ ته وګورو. صحابه کرامو به دنبي عليه‌السلام په حضور کي د ده په نارو، د اوداسه په ابو، وربښتانو تبروک کاوه. که چيري دغه تبرک حرام وای، نبي عليه‌السلام به دوی منعه کړي وای. زه د دې خبري د اثبات لپاره يو څو احاديث مبارکان درته را اخلم.

**﴿ عن انس بن مالک رضي‌الله‌عنه قال: کان النبي صلی‌الله‌علیه‌وسلم يدخل بيت ام سليم فينام علي فراشها وليست فيه قال: فجاء ذات يوم فنام على فراشها فاتت فقيل لها هذا النبي صلی‌الله‌علیه‌وسلم نائم في بيتک على فراشک قال فجاءت وق د عرق واستنقع عرقه على قطعة اديم على الفراشف فتحت عتيدتها فجعلت تنشف ذالک العرق فتعصره في**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قواريرها ففزع النبي ﷺ فقال ما تصنعين يا ام سليم فقالت يا رسول الله نر جو بركته لصبياننا قال اصبت** .[153]

د دې حديث شريف خلاصه داده چي نبي عليه السلام بيده و. د ده مبارک بدن خوله کړې وه. ام سليم رضي الله عنها دغه خوله په ښيښه کي اچول. نبي عليه السلام چي کله پوه سو پوښتنه يې وکړه. ام سلم دا څه په کوې؟ ام سليم رضي الله عنها ورته وويل: زه اراده لرم چي په دې سره تبرک حاصل کړم د خپلوماشومانو لپاره (يعني ستا سو دغه مبارکه خوله خپلو ماشومانو ته د خور دې او تبرک په خاطر ورکړم.

( **عن انس** رضي الله عنه **ان رسول الله ﷺ لما حلق راسه، كان ابو طلحه اول من اخذمن شعره**) .[154]

**ژباړه**: حضرت انس رضي الله عنه وايي: کله چي نبي عليه السلام خپل سر مبارک وخرايه، ابوطلحه رضي الله عنه اول کس و چي، د نبي عليه السلام وريښتان يې واخيستل.

( **عن ابن سيرين قال: قلت لعبيدة عندنا من شعر النبي ﷺ اصبناه من قبل انس او من اهل انس فقال لان تكون عندي شعرة احب الى من الدنياو مافيها** ).[155]

[153]- صحيح مسلم: ۲ جلد، ۲۵۷ مخ.
[154]- صحيح البخاري : ۱ جلد. ۲۹ مخ.
[155]- صحيح البخاري : ۱ جلد، ۲۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: ابن سيرين وايي: ما وعبيدة رضي الله عنه ته وويل: زما څخه د نبي عليه السلام وربښتان سته، هغه ماته د انس رضي الله عنه يا د انس رضي الله عنه د کورنۍ له خوارا کول سوي دي. دغه وربښتان ماته تر دواړو جهانونو ارزښتناک او غوره دي.

تا سو فکر وکړئ چي، د نبي عليه السلام وربښتان دوی د څه لپاره ساتل؟ او ولي دومره په خوشحاله وو؟ داد دي لپاره چي دوی به تبرک په حاصلا وه او د خور دې کار به يې ځيني اخيسته.

( **ابا حجيفة يقول خرج علينا النبي ﷺ بالهاجرة فاتي بوضوء فتوضاء فجعل الناس يا خذون من فضل و ضوء فيتمسحون به، الحديث** ). [156]

**ژباړه**: يعني د نبي عليه السلام د اوداسه له ابو څخه يو څه پاته سوې. صحابه کرامو دغه اوبه پر بدن و موښلې، لاسونه او مخونه يې په مسح کول، لپاره د تبروک.

هم داسي په بل حديث شريف کي راځي:

( **ثم توضاء فشربت من وضوئه** )

**ژباړه**: يعني نبي عليه السلام ماته دعا وکړه. زما تر سر يې لاس را تېر کړ، بيا نبي عليه السلام او دس وکړ. ما هغه پاته سوی اوبه د اوداسه و څښلې.

[156]- صحيح البخاري: ١ جلد، ٣١ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحابه کرامو د نبي عليه‌السلام په اثارو دومرې تبرک حاصلاوه چې کله به دوی ته د نبي عليه‌السلام د اوداسه اوبه ورسېدې. د تبرک او خور دې په نیت به يې څښلې او کله کله به، د دغه اوبو پر سر خبره جنجال ته ورسېده. لکه په حاشيه کې چې وايي:

(كادو يقتلون على وضوئه)

هم داسې ډېر احاديث سته چې د نبي عليه‌السلام په ناړو مبارکو، ورېښتيانو او هم دغسې نورو باندې صحابه کرامو تبرک کاوه. او د خوردې لپاره يې خوړل.

موږ چې کوم احاديث رانقل کړل، په دې ټولو کې د صحابه کرامو مينه او محبت و د نبي عليه‌السلام سره چې، د نبي عليه‌السلام په اثارو کې به يې تبرکات لټول.

د محمد بن عبدالوهاب پيروان چې خلک د انبياوو او اولياوو د اثارو له تبرکاتو منع کوي. داسې فکر کوي چې، د مړي احترام د هغه عبادت دی. په داسې حال کې چې په اسلام کې د عبادت لپاره ټاک لی حد او پولې سته او داسې نه ده چې، هر احترام به عبادت وي.

موږ اهل سنت د ا وايو ايا احترام عبادت دی که احترام عبا دت وي نو تاسو د دې ايات او احاديث په اړوند څه واياست.

(إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ..)

د دغه ايات شريف په تفسير کې ابن کثير رحمه‌الله وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(ان الاحد عشر کوکبا عبارة عن اخوته و کانوا احد عشر رجلا سواه و الشمس والقمر عبارة عن ابیه و امه، روي هذا عن ابن عباس والضحاک)**

**ژباړه:** یعني یو ولس ستوري عبارت د یو ولس ورو ڼو څخه دي، ماسپوا د ده علیه‌السلام څخه او د لمر او سپوږمۍ څخه مراد د یوسف علیه‌السلام پلار او مور دي.

هم داسي د نبي علیه‌السلام په معجزاتو کي راځي چي، درختي و نبي علیه‌السلام ته سجده وکړه. اوس زموږ پوښتنه داده ، ایا دا سجده کول د یوسف علیه‌السلام په قصه کي او د درختي سجده و نبي علیه‌السلام ته د احترام په خاطر وه او که د عبادت په خاطر؟. ارو مرو به تاسي وایاست چي دا د احترام په خاطر وه، نو کله چي احترام یو امر مشروع د ی، نو موږ هم د انبیاء کرامو او اولیاء کرامو و اثارو ته د احترام په سترګه ګورو او په هغه کي د ځان لپاره تبرک لټوو.

**(عثمان بن عبدالله بن موهب رضی‌الله‌عنه قال: ارسلني اهلي الی ام سلمة بقدح من ماء وکان اذا اصاب الانسان عین او شی بعث الیها مخضبة فاخرجت من شعر رسول الله ﷺ و کانت تمسکه في جلجل من فضة فخضحضته له فشرب منه قال فاطلعت في الجحل فرایت شعرات حمراء)**. [157]

عثمان بن عبد الله وایي: زه واستولم خپل اهل یعني کورنۍ د ابو په یوه کاسه سره. ام سلمة رضی‌الله‌عنها ته. داسي عادت وو چي، کله به یو انسان ته د سترګو ناجوړي او یا نظر

---

[157] - مشکواة : ۲ جلد، ۳۹۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا یو بل مرض ورسېدی هغه به یې ام سلمة ﷺ ته استوی. په یوه پیاله د اوبو سره. ام سلمة ﷺ د نبي علیه السلام وریښتان مبارک را و ایستل. دې دغه وریښتان د زرو په لوښي کې ساتلي وو. دغه وریښتان به دې په اوبو کې وښورول بیا به وڅښل سول.

موږ اهل سنت والجماعت و دغو ټولو احادثو ته په کتلو سره دا حکم کوو چې د خوردې څښل په نیت د تبرک جائز دي.

که څوک دا پوښتنه کوي چې، دا خو د نبي علیه السلام د اثارو خصوصیت دی مګر په نورو مخلوقاتو کې دا خصوصیت نسته.

موږ یې په دې اړوند داسي ځواب کوو. ایا یعقوب علیه السلام د یوسف علیه السلام قمیص د بترک په خاطر پر مخ نه و اچولی. او بل د نبي علیه السلام د اثارو بر سېره هغه دي د بیت الله شریفي خاوري د خوردې لپاره په نیت د تبرک وړل جائز دی . لکه په ردالمختار کې چې وایي:

**( لاباس باخراج التراب والا حجار التي في الحرام و کذا قیل في تراب البیت المعظم اذاکان یسیر اللتبرک )**[158]

په دې کې هیڅ باک نسته ( یعني جائزده ) خاوري شګي د حرم شریف را ایستل هم داسي خوردې د بیت الله شریفي خاوري د تبرک او خوردې لپاره. هم داسي ( الحموي علی الاشباه والنظائر ) کې وایي:

[158]- ردالمختار ۲ جلد. ۳۷۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اما ان اخزه للتبرک فجائز کما قالوا في تراب الکعبة )[159]

**ژباړه**: د مسجدو خاوري اخيستل د تبرک لپاره جائز دي لکه څرنګه چي، د مکې شريفي خاوري د تبرک لپاره اخيستل جائز دي.

هم داسي پير طريقت صاحب شريعت محترم حاجي اغاصاحب رحمه الله متن هم د خوردې د جائز والي لپاره ځينو کتابونو ته اشاره کړې ده.

دی مبارک وايي: کله چي امام بخاري رحمه الله وفات سو، د امام بخاري رحمه الله د قبر د خاورو بوی د مشکو و. خلکو بېد امام بخاري رحمه الله د قبر خاوري د تبرک او خور دې لپاره وړلې. حاجي اغا صاحب رحمه الله و دغو کتابونو ته حواله کړې ده.[160]

د دې مخکنيو ټولو عباراتو څخه دا خبره ښکاره سوه چي، د انبياء کرامو او اولياء کرامو، د کعبې شريفي او مساجدو څخه خاوري، مالګي، لرګي، شګي او داسي نور د تبرک او خوردې لپاره وړل جائز دي.

---

[159]- حموي ٤ جلد، ٥٤ مخ.
[160]- مرقات ١ جلد، ١٥ مخ. تيسرالقاري : ١جلد، ٦مخ. شيخ الاسلام برهامش تيسرالقاري : ١جلد، ٩ممخ. رحمت بيان : ١جلد، ١٧٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله/دور اسقاط جائز بولو........................

دور اسقاط یا د اسقاط د دورې په مسئله کې د نن وخت م تعصب کسان غېر مقلدين ډېر سخت مخالفت کوي. و دور اسقاط ته د بدعات او حرام په سترګه ګوري. د دور اسقاط د ابطال لپاره ډول ډول دلائل راوړاندي کوي آن چي دا خپل بې مفهومه اواز يې د عوامو تر غوږ او ذهنونو پوري هم رسولی دی. امت مسلمه يې په تشويش کي اچولی دی. د دې مسئلې اړوند دوخت علماء کرامو د خپل مسئوليت له مخي پر دې موضوع ډېري ښې رسالې ليکلي دي او هر يوه يې ډېر واضح او قناعت کونکي دلائل وړاندي کړي دي. کوم اشخاص چي په ځان کي د ادراک ماده ولري. هغوی ډېر ژر دغه د لائل قبول کړ ي.مګر نه هغه اشخاس چي منکر او معاند دی.زه به ددې موضوع اړوند يو څه بحث نور هم اضافه کړم. الله تعالی جل جلاله امید لرم چي قناعت وړ به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حيلة الاسقاط

حيلة الاسقاط يو مركب اضافي دى. د حيلة اضافه و اسقاط ته سوی دی. کله چي جمله مركبه سي. هلته ضروري ده چي، د مضاف او مضاف اليه جلاجلا تشريح وسي څکه؛ د مركب پېژندل موقوف پر اجزاوو دی.

(حيلة) د بخاري په حاشيه کي وايي: (حيل جمع ده او مفرد يې حيلة ده او حيلة ويل کيږي. هغه مباح کار يا خبري ته چي په هغه سره يو مقصد ته په پټه او خفيه توګه څوک ورسيږي. [161]

دې ته ورته نورو علماء کارمو هم د حيلې تعريف کړی دی. فتح الباري کي وايي:

(**الحيلة مايتوصل به الى مقصود بطريق خفي مباح**)[162]

په مفردات کي وايي:

(**الحيلة مايتوصل به الى حالتٍ مافي خفية**)[163]

په الاشباه والنظائر کي واي:

(**الحيلة هى تقليب المنكر حتي يهتدي الى المقصود**)[164]

---

[161]- بخاري : ۲ جلد، ۱۰۲۸ مخ.
[162]- فتح الباري : ۱۲ جلد، ۲۷٤ مخ.
[163]- مفردات ۱۳۸ مخ.
[164]- الاشباه والنظائر : ٤۱۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الاسقاط) اسقاط مصدر دی د باب الافعال څخه د سقط، یسقط څخه دی مذکر دی په معنا د ذمه فارغولو دي هغه چي د چاپر ذمه وي.

کله چي حیلة الاسقاط سره مرکب سي، بیا ویل کیږي ساقطول یا فارغول د ذم ې ده د لمانځه، روژې هم داسي له نورو څخه، کوم چي په خپل وخت کي لازم سوي وو پر مکلف باندي.

کله چي موږ معنی د حیلة الاسقاط و پېژندل اول به اثبات د نفسی حیلې په ایت او حدیث سره وکړو،

انشاء الله تعالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اثبات د نفسي حیلې

د نفسي حیلې د اثبات لپاره په قرآن کریم کې واضح دلائل موندل کیږي. فکر نه کوم چې له دغسې واضح دلایلو څخه یو عاقل ان کار وکړي. الله تعالی ﷻ د یوسف علیه السلام په واقعه کې وایي:

(كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ ۖ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ) سورة یوسف ۷۶ .)

**ژباړه**: همدارنګه موږ یوسف علیه السلام ته حیله و رزده کړه لپاره د ورور خپل (بنیامین) چې ځان سره یې را وګرځوي.

( **کما احتال یوسف** علیه السلام **لاخیه** ) **منهاج السنن لمفتي فرید** ) **۴** جلد **۲۲** مخ.

ژباړه: لکه څنګه چې حیلة جوړه کړه یوسف علیه السلام د خپل ورور لپاره.

الله تعالی ﷻ د ایوب علیه السلام په اړوند فرمایي:

( **وخذ بیدک ضغثافاضرب به ولا تحنث** )

**ژباړه**: او ونیسه په لاس خپل یو مټ خاشې، ناړې، وروسته ووهه په دغو سره خپله ښځه او ځان مه حانث کوه.

( **هذه رخصة من الله تعالی لعبده ورسوله ایوب** علیه السلام **فیما کان من حلفه لیضربن امراته مائة سوط فقیل حلفه ذالک لبیعها ضفایرها وقیل لانه عرضها الشیطن في**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**صورة طبيب يصف لها الدواء لايوب** عليه‌السلام **فاتته و اخبرته فعرف انه الشيطن فحلف ان يضربها مائة سوط** ( **البدايه والنهاية** ۱جلد ، ۲۱۰ مخ .

**ژباړه**: يعني حضرت ايوب عليه‌السلام ته الله تعالی ﷻ د خپل قسم څخه د حانث کېدو يعني خلاص والي لاره ور وښودله چي، قسم يې کړی و چي، خپله بي بي به سل لښتي وهي ځکه چي، هغې خپلي کوڅې لپاره د نفقې د ايوب عليه‌السلام بېله اجازې د ده خرڅې کړي وې او يا داچي، شيطان په شکل د يوه طبيب دې ته د يوې دوا مشوره ور کړې وه حال داچي دې شيطان نه پېژانده او د ايوب عليه‌السلام اجازه هم نه وه.

( **فقال الله تعالی و خذبيدک ضغثا فاضرب به ولاتحنث الاية و قد استعمل کثير من الفقهاء هذه الرخصة في الاحکام من الايمان والنذر و توسع اخرون حتی و ضعوا هذه . الاية في کتاب الحيل** ) **البداية والنهاية**: ۱ جلد: ۲۲۰ مخ.

د اقول د الله ﷻ چي ( **وخذ بيدک** ) په تحقيق سره ډېرو فقهاو د اقول رخصت لره استعمال کړی دی. په ځينو احکامو لکه د قسمونو او نذرونو کي او ځينو نورو بيا وسعت ورکړی دی تر دې چي دا ايت شريف يې په کتاب د حيلو کي اېښی دی.

( **و في المحيط باب مشروعية الحيل د ليلها قصة ايوب** عليه‌السلام )

**ژباړه**: او په محيط کي په باب د روا والي د حيلو کي يې هم د ايوب عليه‌السلام قصه دليل ګرځولې ده او بل د ابراهيم عليه‌السلام د واقعې څخه د حيلې ثبوت معلو ميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( و کما روي ابراهیم** عليه‌السلام **في ثلاثه مواضع الاول: ماقال  في شان امراته هذه اختی و الثاني: بل فعله کبیر هم ولثالث قوله اني سقیم والتشریح في الکتب و هذ الیس موضع التفصل ) منهاج السنن.  ۴** جلد **۲۲** مخ.

**ژباړه:** او لکه څرنګه چي خبره پته کړه ابراهیم عليه‌السلام په دریو ځایونو کي. لومړی هغه چي د خپلي بي بي په شان کي یې وویل چي، دامي خور ده. دوهم هغه چي د بتانو د ماتولو په اړوند یې وویل چي، دا کار دغه لوی بت کړی دی او دریم هغه چي، نمرودیانو ته یې وویل چي، زه مریض یم. تشریح یې په نورو کتابو کي وګورئ. دا ځای د تفصیل نه دی. د حیلي جواز د دې واقعې نه هم ثابتیږي، هغه واقعه کومه چي رسول الله ﷺ د یوه مریض سړي چي واده یې هم نه و کړی د حد زنا په باره کي یې حیله جوړه کړه چي تفصیل یې په لاندي ډول دی.

**( قالوا مارایناباحد من الناس من الضر مثل الذي هو به لو حملنا الیک لتفسخت عظمامه ما هوالاجلد علی عظم فامر سول الله ﷺ ان یاخذوا له مائة شمراخ فاضربوه بها ضربة واحدة )** [165]

**ژباړه:** رسول ﷺ ته صحابه کرام راغله چي، د دغه سړي غوندي مریض موږ په خلکو کي نه دی لیدلی، که یې موږ تاته راوړو نو هډوکي یې ماتیږي او په بدن یې خالص پستوکی پاته دی. وروسته رسول الله ﷺ خپلو اصحابو کرامو ته وفرمایل چي، سل ښاخه وړې د خرما راوړئ او په یو واریې پرې ووهئ.

165- ابوداؤد: ۲جلد، ۶۱۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( اذا احدث احد كم في الصلوة فلياء خذ بانفه حتى يظن الناس انه رعف )**

**ژباړه**: کله چې له تاسونه څوک په لمانځه کې بې اودسه سي، نو خپله پزه دې ونسي تر څو نور خلک دا فکر وکړي چې پزه يې وينې سوې ده.

د دې مخکې بيان څخه دا ثابته سوه چې، مطلق حيلة هغه حيلة چې د شريعت سره موافقه وي روا او جائز ده او که د شريعت خلاف حيلة وي بيا حرامه ده لکه څنګه چې دې خبرې ته عيني شرح بخاري کتاب الحيل کې اشاره کړې ده.

**(الحيل للفرارعن الحرام و التباعد عن الوقوع في الاثام لاباس به بل هو مندوب اليه و اماالاحتيال لابطال حق المسلم فاثم و عدوان وقال النسفي في الكافي عن محمد بن الحسن قال ليس من اخلاق المسلمين الفرار عن احكام الله بالحيل الموصلة الي ابطال الحق )**

**ژباړه**: هغه حيلې چې لپاره د تښتې وي، له حرامو څخه او يا لپاره دلرې والي وي له پرېوتو څخه په ګناهونو کې. نو مباح دي بلکې غوره سو ي دي او کومه حيله چې د مسلمان د حق د باطلولو لپاره وي پس هغه ګناه ده او ظلم دی او نسفي صاحب په کافي کې، د محمد بن حسن څخه روايت کوي چې، وايي: دا د مؤمنانو له اخلاقو څخه نه ده چې، څوک تېښته وکړي له حکمونو د الله تعالی ﷻ څخه په سبب د هغو حيلو کوم چې انسان حق باطلولو ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي نفس حيله ثابته سوه فکر نه کوم چي يو متعصب شخص دي هم د حيلې څخه منکر سي. مګر زمونږ او د غېر مقلدينو د اختلاف مسئله ( حيلة الاسقاط ) ده. و دغي حيلې ته غېر مقلد يدين بدعات وايي او دا وايي چي، د دې حيلې لپاره شرعي دليل نسته مونږ اهل سنت والجماعت وايو:

( **ما راه المؤمنين حسن فهو عند الله حسن** )

کوم شی چي مسلمانان يې خوښ و بولي هغه د الله تعالی په وړاندي هم خوښ دی. مونږ هم دا وايو چي دغه حيله د امت علماء کرامو خوښه کړې او په دې حيلې کولو باندي يې اسرار هم کړی دی او کوم شی او کار چي د امت علماء کرامو خوښ بللی وي و هغه کار ته بدعت او حرام ويل راته سخته ګناه معلوميږي. د شواهدو په خاطر د امت د علماء کرامو د کتابونو يو څه عبارات درته رانقلوم.

په رد المختار کي وايي:

( **ولو لم يکن له مال اي اصلاً او کان ما اوصي به لا يفي زاد في الامداد او لم يوصي بشی يستقرض ورثه نصف صاع مثلاً ويد فعه لفقير ثم يدفعه الفقير للموارث ثم و ثم حتی يتم** .[166]

په فتوای هندية کي وايي:

[166] - ردالمختار : ۱ جلد، ۴۹۲ مخ.طبع بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( و ان لم يترك مال يستقرض ورثتهٗ نصف صاع و يدفع الى مسكين ثم يتصدق المسكين على بعض ورثته ثم يتصدق ثم وثم حتى يتم لكل صلوة ماذكرنا كذافي الخلاصة )**[167]

په نورالايضاح كي وايي:

**( و ان لم يف ما اوصى به عما عليه يدفع ذالك للفقير فسيقط عن الميت بقدره ثم يهبه الفقير للولى و يقبضه ثم يدفعه للفقير فسيقط بقدره ثم يهبه الفقير للولي و يقبضه ثم يدفعه الولي للفقير و هكذا حتى يسقط ماكان على الميت من صيام و صلاة و يجوز اعطاء فدية صلوات لواحد جملة بخلاف كفارة اليمين والله سبحانه و تعالى اعلم.** [168]

په مراقي الفلاح كي وايي:

**قوله و ان لم يف ما اوصى به بالميت عما وجب عليه من الفدية او لم يكف ثلث ماله او لم يوصى بشىء و اراد احدالتبرع بقليل لايكفى فحيلة لابراء ذمة الميت عن جميع ماعليه ان يدفع ذالك المقدار السيربعد تقريره بشىء من صيام او صلاة او نحو هما ..... للفقير بجهة الاسقاط متبرعاً به عن الميت اهـ )**[169]

---

[167] - فتوی هندية ١ جلد ، ١٢٥ مخ.
[168] - نورالايضاح : ١٠١ مخ.
[169] - مرافي الفلاح:

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسي نورو کتابونو ته په کتو سره دا خبره جوته کيږي چي، دورة الاسقاط يوه شرعي حيله ده او د ټولو علماء کرامو په دې خبره اتفاق سته. که موږ د اهل سنت والجماعت اقوال او عبارات وګورو ډېر ژر به دا معلومه سي چي، حيله د اسقاط يوه شرعي حيلة ده او دا حيلة د مړي لپاره منفعت ده او د ژوندو له خوا ور سره تبروع او نيکي ده. داسي نه ده چي، موږ دغه حيله پر ژوندو باندي د مړي لپاره واجب بولو مګر دا فسوس خبره خو داده چي. ځيني کسان دغه حيله له سره نه مني او ځيني خو بيا په ظاهره دغه حيله مني مګر په باطن کي لږ شک موجود وي. د دې کسانو پر حال افسوس دی. دوی د خپل امامت او شخصي منفعت په خاطر دا کار کوي.

يو وخت له يوه ملا امام سره مخامخ سوم راته وايي: په څه بوخت يې؟ ما ورته وويل د پير حاجي اغا صاحب رحمه الله پر رسالهٔ شرح ليکم. ده راته وويل: په دې رساله کي د دورة الاسقاط مسئله هم سته، هغه به څنګه کړې. دا مسئله خو يو رقم بل رقم نه ده؟

ما ورته وويل: محترم مول وي صاحب! دورة الاسقاط هغه مسئله ده چي د امت محمدي پر اتفاق سته، موږ هم دا مسئله منو او موږ د دې مسئلې د جواز لپاره ښه دلائل هم لرو هغه داچي، په کوم شي باندي چي د امت محمدي د علماء کرامو اتفاق وي هغه موږ ته قبوله ده څکه چي نبي عليه السلام فرمايي:

**( وعن ابن عمر رضي الله عنه قال، قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله لايجمع امتي او قال امة محمد علي ضلالة و يدالله على الجماعة و من شز شز في النار رواه الترمذي و عنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قال قال: رسول الله ﷺ اتبعو السواد الاعظم فانه من شز شز في النار. رواه ابن ماجة من حديث انس رضي الله عنه مشكوة . ۳۰ مخ.**

**ژباړه**: يعني عبدالله ابن عمر رضي الله عنه وايي: نبي عليه السلام وفرمايل: الله تعالی جل جلاله زما امت پر ګمراهۍ نه سره جمع کوي او د الله تعالی جل جلاله ملګرتيا او مرسته له جماعت (ټولۍ) سره ده. او که څوک د دې ټولۍ څخه بېل سو، هغه به په اور کي وي او نبي عليه السلام وايي: دغسي وويل: تاسي له سواد اعظم سره سئ. سواد اعظم يعني د مسلمانانو لويه ډله.

محترمو لوستونکو تاسو فکر وکړئ دورة الاسقاط له کوم وخته راشروع سوی دی؟ او لږ علماء کرام په دې مسئله باندي با ور لري که ډېر؟ خامخا به دا ورته معلومه سي چي د پيړۍ نه تر پېړۍ دا مسئله را روانه ده او په هر وطن کي لږ اشخاص د دې مسئلې څخه اعراض کوي او اکثره علماء کرام د دې مسئلې په جواز اعتراف کوي.

موږ تل دا دعا کړې او کوو يې چي، يا الله تعالی جل جلاله موږ ته د سواد اعظم اتباع رانصيب کړه

## امين ثم امين.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غیر مقلدینو سوالونه

غیر مقلدین د دورة الاسقاط پر حیلة یو څو اعتراضونه او سوالات کوي. د دوی دغه سوالات سطحي دي. په اصل کي د دوی مقصد دادی چي په داسي سوالاتو سره د عوامو ذهنونه خراب کړي. حقیقت دوی ته هم معلوم دی. مازي سترګي پټوي تر څو د مسلمانانو په سترګو کي خاوري واچوي.

**اول سوال**: د اسقاط په حیله کي خو رجوع په صدقه او هبې باندي راځي څکه چي، یو وار یې فقیر ته ورکړي او بیا یې بیرته څني غواړي. دغسي کول خو په حدیث شریف کي ډېر بد مثال لري لکه نبي علیه‌السلام چي فرمایي:

**(العائد في هيبه كالكلب العائد في قيئه)**

**ژباړه**: یعني خپلي هبې ته بیرته رجوع کول داسي ده لکه سپی چي قی وکړي او بیا بیرته یې وخوري او دا خو حرام کار دی.

**ځواب**: د غیرمقلدینو د داسي سوالاتو څخه داسي معلومیږي چي، دوی تش په نامه اهل احادیث دي، یعني داسي نه دي چي د حدیثو په مطلب پوهیږي او نه د عربي ژبې له عباراتو سره ښه بلد تیالري چي په مقصد پوهـ سي. موږ به د دوی دغه سوال په څو وجوهو سره ځواب کړو د الله جل جلاله په مرسته سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوله وجه**: په دور اسقاط کي مطالبه (غوښتنه) د هبه ورکونکي د لوري نسته بلکي هبه اخيستونکی په خپله رضا سره يې ورکوي لپاره د مړي د ګټي.

**دوهمه وجه**: تاسي د غسي کار حرام بولئ او موږ دا وايو چي، سپی کله مکلف وچي تاسو د سپي فعل او کار حرام بولی او موږ دا منو چي د سپي د غه کار مکروه طبعي دی حرام نه دی.

**دريمه وجه**: په حديث شريف کي راځي (**الواهب احق بهيبة مالم يثب**). له دې ځخه دا معلوميږي چي، هبه کوونکی د هبې په اخيستلو کي حقداره دی تر هغه چي د هبې عوض يې نوي اخيستی.

**څلورمه وجه**: اوله هبة خو پوره سوه، په ايجاب ، قبول او قبض سره. دويم، دريم وار هبه، دا بله هبه ده په ايجاب او قبول کي نوی قبض غواړي.

**پنځمه وجه**: رجوع پر هبه خو صحيح ده تر څو چي موانع د رجوع نه وي موجود سوی. هغه موانع چي فقهاوو ياد کړی دي.

**شپږمه وجه**: په اصل کي غېر مقل يږين د (العائد) رجوع معنی نه پيژني، ځکه؛ رجوع د اقالې او فسخې د صدقې او د هبې ته وايي لاکن دلته خو غوښتنه ده رجوع نه بلل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دويم سوال**: غېرمقلډين وايي: تاسي مقلدين خو د هر چا لپاره دوره اسقات حيله کوئ هغه که يو چا په ژوند کي د لمانځه، روژې او نورو عباداتو ښه احتمام هم کړی وي. نو د ده لپاره د حيلی څه اړتيا سته؟.

**ځواب**: موږ مقلډين د هر چا لپاره د اسقاط حيله جوړه و. دا په دې خاطر چي انسان عاجز دی کېدای سي له ده څخه په عباداتو کي يو خلل راغلی وي او دی په خبر نه وي او بل موږ دا حيله د عباداتو د ساتني او پوره والي په خاطر احتياطاً کوو په عباداتو کي احتياط واجب دی. په رساله ابن عابدين کي وايي:

(**هكذا ينبغي ان يفعل و ان كان الشخص محافظا على صلوته احتياط خشية ان يكون وقع خلل ولم يشعربه اهه منة الجليل**)[170]

**ژباړه**: دغسي ښايي چي، داکار (دوره اسقاط) وسي که څه هم (مړ ي) احتيمام د لمونځونو کړی وي. احتياطاً پر دې بېړه ده چي کېداسي له ده څخه يو خلل واقع سوی وي دی په خبر نه وي.

په دې اړه د ردالمختار ملاصاحب وايي:

(**من الاخذ بالاحتياط في باب العبادات واجب**)[171]

[170] - رسالة ابن عابدين : ۱ جلد، ۱۲۱ مخ.
[171] - ردالمختار : ۲ جلد، ۷۷ مخ.طبع بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: احتیاط په عباداتو کې واجب دی. دلته د اسقاط په حیله کې موږ د دغسې کس لپاره د دغه حیلې احتیاطاً عملي کوو.

بل ځای د ردالمختار ملاصاحب صراحتاً وايي.

(**صلوة عمره مع انه لم يفته منها شئٍ لايكره لانه اخذ بالاحتياط**).[172]

**ژباړه**: چې په ټول عمر کې یې لمونځ نه وي قضا کړی، د داسې کس په حق کې د اسقاط دوره هم نه ده مکروه ځکه؛ دا عمل په احتیاط سره دی.

**دریم سوال**: تاسې مقلدین خو دا وایاست چې، د اسقاط دوره حیله یو نېک کار دی. نېک کارونه خو نور هم ډېر دي، ولې پر دغه نېک کار دومره ټینګار کوئ؟.

**ځواب**: الحمدلله موږ مقلدین یو. مقلدین تل د خپلو مشرانو په اقوالو عمل کوي. زموږ د مذهب دا پرېکړه ده چې، د اسقاط په دوره باندې خلکو ته ترغیب ورکول په کار دی مګر د هغه شرائطو سره کوم چې، په وروسته کې به انشاء الله راسې ځکه چې، په دې حیلې سره انسان د الله تعالی ﷻ له عذابه نجات پیدا کوي او نه ښایي چې په دې کار کې څوک سستي وکړي.

(**كما قال الفقهاء ولا ينبغي ان يساهل في هذا الامر فان به نجات الانسان من عذاب الله و غضبه. فاسئلوا هل الذكران كنتم لا تعلمون**)[173]

---

[172] - ردالمختار : ۱ جلد، ۵۴۲ مخ.طبع بيروت

[173] - مجموع الرسائل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شلورم سوال**: تاسي مقلدين چي، د اسقاط په دوره دومره ټينګار کوئ دا خو ستاسو ملايانو او طالبانو ته يو څه ورکول کيږي. د خپلي ګټي لپاره دومره ټينګار کوئ.

**ځواب**: موږ مقلدين اول دا وايو چي د (اسقاط په دوره) کي ګټه د مسلمانانو د مړو ده. ځکه؛ مړي ډېر احتياج در لودونکي دي نسبت و ژونديو ته او بل موږ کله دا وايو چي، د اسقاط دوره د حيلي وروسته ده. خامخا يو څه ملايانو او طالبانو ته ورکړئ بلکي فقيرانو ته دي يې ورکړي او موږ دانه وايو چي خامخا دي يو څه طالبانو ته ورکړي ځکه؛ که مړي وصيت نه وي کړی او ورثه يې کوچنيان وي، په داسي وخت کي ډېر ځله د اسقاط دوره وسي، مګر ټوله مال بيرته وارث ته حواله سي، تاسي زموږ د مذهب کتابونه وګورئ تاسي ناخبره ياست.

(**فان كنت لاتدري فتلك مصيبة، و ان كنت تدري فالمصيبة اعظم**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د الاسقاط د دورې شرطونه.

د اسقاط دوره یوه حیله ده. موږ مقلدین دغه حیله جائز او ښه کار بولو. داسې هم نه ده چې د اسقاط دوره جائز سوه، نو چې هر چا هر ډول کول، کوي به یې، بلکې موږ د دې حیلې لپاره ځانګړې شرائط وضع کړي دي. که چیرې دغه شرائط په کښې موجود وو، نو دا هغه حیله ده کومه چې موږ مقلدینو جواز ورکړی دی او ستائلې موده او که دغه شرائط په کښې نه وه بیا دا حیله و مړي ته هیڅ کله ګټه نه رسوي، بلکې یو رسم او رواج دی.

**اول شرط**: د اسقاط په دوره کې به غني، غلام، وصي، لېوني، ماشوم، بېعقل، کافر، د مړي وارث او مدبر مریی نه وي، که چیرې د اسقاط په دوره کې کښېناستل نو اسقاط په هغه صورت کې نه صحیح کیږي.

( **والمنصوص علیه في المذهب و علیه العمل ان یجمع الوارث عشرة رجال مثلاً لیس فیهم غني، ولا عبد، و لا وصي، ولا مجنون، ولا سفیه، ولا کافر، ولا وارث، ولامدبر**).[174]

**دویم شرط** په اسقاط کې چې کوم شی ورکوي، هغه به خالص مسکینانو او فقیرانو ته ورکوي ځکه چې، دا د دوی حق دی.

( **منها الدفع الی الفقیر او المسکین** ) **منهاج السنن ۴** جلد، **۲۵** مخ.

[174] - مجموع الرسائل لابن عابدین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم شرط**: فقیرانو ته به یې د مسخرو په توکه نه ورکوي او نه به یې د خلکو د شرم او رواج په خاطر ورکوي بلکې دا به یو شرعي کار بولي.

**( و منها الا جتناب عن الدفع الی الفقیر هذلاً )**[175]

**څلورم شرط**: په وارثانو کې به غائب سړی او یتیم کوچنی نه وي. که چیرې یې وصیت و نه کړ او که یې وصیت وکړو، نو بیابه یې د دریمې برخې مال څخه خامخا ورکوي که څه هم په وارثانو کې یتیم او یا څوک غائب وي.

**( و منها ان لایکون في الورثة یتیم یعني صغیر ولاغائب اذالم یوصی کما صرح به ابن عابدین في رسائله )**[176]

**پنځم شرط**: د مړي وارث به له داسې خلکو څخه رو یې او یا نور شیان نه راټولوي کوم چې، هغه یې په خپله مالک نه وي او نه به له داسې چا څخه پور قرض اخلي چې له هغه سره بل څوک شریک وي اود شریک اجازه یې نه وي او که د شریک اجازه وه بیا پر وا نه لري.

**( ویجب ان یخترزعن جمع الصرة و استها بها و استقراضهامن غیر مالک او من احد الشریکین بدون اذن الاخر )**[177]

---

175 - حواله سابقه.
176 - حواله سابقه.
177 - حواله سابقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږم شرط**: که چیري د اسقاط دوره داسي سرې ګرځوله چي، د وارث او یا د وصي له طرفه وکیل و، نو بیا به یې په طریقه د وکالت له مؤکل (یعني هغه سړي چي، دی یې وکیل جوړ کړی دی) څخه ورکوي او چي کله یې بیرته له فقیر څخه هبه غواړي نو دا غوښتنه به یې په طریقه درسالت لپاره د مؤکل وي. په نیت کي به هم دغه نیسي او په خوله به هم چي کله یې له فقیر څخه اخلي دا وایي چي، زه یې قبلوم خو دا قبلول مي لپاره د مؤکل دی چي، دوارث او یا وصي دی او که چیري دغه ګرځوونکی چي، په دې علم و نه لري نو بیا په دغي دورې باندي د مړي غاړې نه خلاصیږي، بلکي یوازي یې ثواب ورسیږي. ښه خبره دا ده چي د اسقاط دوره په خپله د مړي ولي یعني وارث یا وصي وګرځوي او که دا وارث یا وصي نه پوهېده بیا دې یو عالم وکیل و نیسي تر څو د اسقاط دوره په پورتني ډول سره وګرځول سي او که دغه وکیل بیا بل وکیل و نیسي هغه به پوهوي چي داسي به وایي چي ځما قبول ده د مؤکل د مؤکل لپاره په طریقه د رسالت سره. دا خبره ډېره ضروري ده د مساجدو امامانو ته چي خلکو ته یې ورسوي تر څو اسقاط په صحیح طریقه سره اداسي او دمړو غاړې خلاصي سي.

**(والا حسن لا داره الصرة ان یدروها الولي ای المتصرف في ماله بالوراثة او الوصیة و اذاكان جاهلاً لا یدر بطریق دورة الاسقاط فلابد من یعلم و یدرک ذالک کله من اهل العلم و الصلاح فیکون وکیلا في الدفع الی الفقیر ورسولاً في الاستهاب منه یعني یخرج الکلام من مخرج الرسالة هکذه استو هبت منک لمن و کلني فلو لم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يخرج الكلام مخرج الرسالة فقد ملك الوكيل الذالك المال و قبض النفسه لا للتوكل ثم اذا وقع الوكيل الى الفقير يكون دفع الاجنبي عن الميت و هو لايصح من الاسقاط لانه تبرع من الاجنبي و ان وصل الى الميت ثوابه لكن لايفرغ ذمته من الواجبات لحديث انسايي يطعم عند وليه )**[178]

**اوم شرط**: په وخت د ورکولو کي و فقير ته به نيت د هزل، مسخرو او د حيلي نه کوي بلکي په دې نيت به يې فقير ته ورکوي چي په حقيقت کي هم فقير د دغو روپو او يا نورو شيانو مالک ګرځي او په بيرته ورکولو کي به فقير مجبوره کيږي نه.

**( و يجب ان يحترز في الدورة الدفع الى الفقير بطريق الهزل او الحيلة سواء كان الدافع الولي او وكيله بل يجب ان يدفع عازما على تمليكها اليه حقيقة لاتحيلاً ملا حظا ان الفقير اذا ابي عن هبتها كان له ذالك و لايجير على الهيبة )**[179]

**اتم شرط**: فقير به په دې پوه وي او يا به يې ځوک پوهوي او ورته به وايي چي دا درکول سوی شی ستا ملک دی، کوم چي ته يې قبض کوې.

**( و يجب ان يعلم الفقيران ماقبضه ملكه )**[180]

**نهم شرط**: د اسقاط د دورې وروسته به د فقير د زړه له بدولو څخه به ځان ساتې او دومره شی به د خيرات په شکل ورکوې چي، د فقير زړه په خوشاله سي.

---

[178] - حواله سابقه.
[179] - حواله سابقه.
[180] - حواله سابقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( و يجب ان يحترز عن كسر خاطر الفقير بعد ذالک بل يرضيه بما طيب به نفسه و يتصدق بشیء من ذالک المال على الفقيراء )** [181]

**لسم شرط**: اسقاط كه د دوري په شكل وي يا د حقيقت په شكل وي ( **حقيقت لكه** فقيرانو ته يو څه وركول بېله دوري ) غوره خبره دا ده چي تر دفن كولو نه مخ كي وركړل سي. هغه كه تر لمانځه مخته وي يا وروسته او كه عذر وي بيا په هروخت كي جائز دی.

**( و ينبغي ان يفدي قبل الدفن و ان جاز بعده كما في القهستا ) رسائل ابن عابدين.**

---

[181] - حواله سابقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اسقاط د دورې کفیت او ترتیب

اول به تر هر څه مخکې د مړي عمر معلوم کړي.مثلاً: که مړی نارینه وي او عمر یې **۶۰** کاله وي **۱۲** کاله به یې تر بلوغ مخکې عمر ځیني وباسي، نو **۴۸** کاله پاته سوه او که ښځه وه عمر یې **۶۰** کاله و نو **۹** کاله ځیني وباسئ نو **۵۱** کاله پاته سول. د یوې ورځې له و ترو سره شپږ لمنځونه کیږي په ورځ کې **۱۲** رکعة سنت دی چې د هغو قضاء نسته یوازې د مړي پر زمه فرض او واجب پاته دي چې هغه د ورځې شپږ لمنځونه دي.چې د میاشتې **۱۸۰** او د کاله **۲۱۶۰** او د اته څلویشت **۴۸** کلونو کې ( **۱۰۳۶۸۰** ) لمنځونه کیږي چې، د اسقاط په دوره کې به د هرلمانځه پر سر نصف صاع (نیم من) غنم او یا د غنمو او یا د غنمو قیمت ورکوي.

که چیرې د مړي عمر معلوم نه و بیابه په غالب ګمان سره د مړي عمر په تخمین سره معلوموي، لیکن د زیاتوالي طرفته به ترجیح ورکوي ځکه چې فقهاء کرامو غالب ګومان په ډیرو ځایونو کې معتبر ګڼلی دی او احتیاط یې هم خوښ کړی دی.

**( ثم یحسب سن المیت فطرح منه اثنی عشرة سنة یعني ادنی مدة البلوغ في الذکر وتسع سنین ان کان انثی و ان لم یعلم سنه فیقدر عمره بغلبة الظن فان یوقف قصد الی الزیادة لان ذالک احوط ثم بعد تخمین علی عمره یخرج الکفارة)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر کله چي د مړي عمر معلوم سو او دولس کاله د نارينه او نه کاله د ښځي ځني وباسئ بيا به نو ټولو روپوته حساب وکړئ چي، څومره غنم په کيږي. د يوه لمانځه په فديه کي به نيم من غنم حساب کړئ.

مثلاً: که ټوله يو لک (١٠٠٠٠٠) افغانۍ وي او غنم يو من په سل افغانۍ و چي دغه افغانۍ يوه فقير ته ورکړ ئ نو د ٢٠٠ سوو لمنځونو فديه پرې ادا کيږي او تر هغو پوري به يې فقيرانو ته ورکوي ترڅو چي ټوله لمنځونه پرې پوره سي.

کله چي د لمنځونو فديه پوره سي بيابه د روژو فديه وګرځه وي. د يوې روژې فديه هم نيم من غنم ده. بيابه يې د روژو د کفارې په فديه کي وګرځوي او بيابه يې د کفاره ظهار په فديه کي وګرځوي. که مړی نارينه و او که مړی ښځينه و. بيابه يې د ظهار په فديه کي نه ګرځوي. کفاره د ظهار شپېته ٦٠ قبضې غواړي يعني ٦٠ فقيرانو ته به يې ورکوي بيابه يې په کفاره د ايمان (قسمونو) کي وګرځوي خو دلته ١٠ قبضې غواړي، يعني ١٠ فقيرانو ته به يې ورکوي. ټوله فديه يوه مسکين ته نه سي ورکول کېداى. بيابه يې د قتل خطا د کفارې په فديه کي وګرځوي داهم ٦٠ قبضې غواړي. بيابه يې د واجب اخترې په فديه کي وګرځوي او وروسته به يې د ټولو شرعي حقوقو په فديه کي وګرځوي. دغه ټولو ډولونو ته د فقهي عامو کتابونو په داسي عبارت اشاره کړې ده.

**(قال الفقهاء يعطي في فدية الصلوة والرمضان و كفارة الرمضان والاضحية و الايمان و كفارة القتل الخطاء وكفارة الظهار ان كان الميت ذكر او جميع الحقوق الشرعيه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: فقهاء کرام داسي فديه ورکوي. د لمانځه، روژې، کفاره د روژې، اختري، قسمونو، کفاره د قتل خطاء، د ظهار، که چيري مړی نارينه و او د ټولو حقوقو شريعه وو چي ټوله اته دورې کيږي، ماد هر ډول دورې سره خپل تعداد د قبضې هم ذکر کړ. د احتياط خبره داده. په هر ډول کي خامخا هغومره تعداد به لحاظ کوي نه، بلکي هم يو څو کسان دي زيات په نظر کي و نسي د اسقاط دوره دي په ترتيب سره وکړي. په دې کي دوې فايدې دي. يوه به د فقهاؤ د عبارت سره سمه راغلې وي او بله نباسانه هم وي. که چيري بيا هم ترتيب غلط سي کوم باک نه کوي.

| | |
|---|---|
| اول اسقاط نماز است عيان | ثاني اسقاط روزه رمضان |
| دورثالث کفاره رمـــــضان | شد کفاره ظهار رابع دان |
| شصت قبض شرط است درين دوجا | اگر خواهي گردن ميت رها |
| باپنجم گردن ايمـــــــــــان را | شرط درين ده قبض شد اى جانما |
| بارششم گردن اســـقا ط را | از حقوق جمـــلها شايد رها |

در راالفرائد ۱۷۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( دورة الاسقاط اړوند مسائل )

**اوله مسئله**: که چیري د مړي خپل مال و او وصیت یې هم کړی و، نو په ولي باندي واجب ده چي، د مال له دریمي حصې به اسقاط ورکوي چي، ذمه یې پرې فارغه سي او که وارث نه و او داسي وصیت یې چاته کړی و چي زما به ټول مال مسکینانو ته ورکوئ په دغه وصي باندي واجب ده چي ټول مال به یې مسکینانو ته ورکوي.

که چیري مړي مال نه درلود. یا یې وصیت نه و کړی نو وارث ته مستحب ده چي له خپل ماله اسقاط ورکړي او که وارث هم مال نه درلود، نو بیا دي له بل چا څخه ور ته قرض کړي او د اسقاط دوره دي پرې وکړي. الله تعالی ﷻ به مړي او وصي، وارث دواړوته ثواب نصیب کړي.

**( ویلزم اي یجب اطعام الوارث عن المیت من الثلث ان کان له وارث والا فمن الکل ان اوصی المورث اي المیت والا اي و ان لم یوصی فلا لزوم علی الورثه عند نا لانها عبادة لا لزوم لعبادة الغیر علیه و ان تبرع الوصي بالاطعام من عنده من غیر وصیة صح و یکون له ثواب ذالک )**[182]

**دویمه مسئله**: د اسقاط په دوره کي دا ضروري نه ده چي، خامخا به پ یسې ګرځي، بلکي هر هغه شی چي قیمت ولري لکه ساعت، جواهرات، سره زر، سپین زر او همداسي نور. و دغو شیانو ته به حساب وکړي او بیابه د غنمو اندازه ورته معلومه

[182] - رسائل ابن عابدین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي چي څومنه غنم په کيږي. هر څومنه غنم چي په وسول په مخکني حساب او ترتيب به دورة الاسقاط وکړي.

په ردالمختار کي وايي:

(**ثم مما تعارفه الناس و نص عيل المذهب ان الواجب اذا كثر اداروا صرة مشتملة على نقد او غيرها كالجواهر او الحلى او الساعة و بنوا للامر على اعتبار القيمة**)

**دريمه مسئلة**: د اسقاط دوره د فقيرانو په تعداد پوري نه ده منحصره چي هر څومره وي صحيح ده تر دي پوري که يو فقير هم وي. د مړي ولي کولای سي چي د غه يوه فقير ته يې ورکړي او بيرته يې څني وغواړي تر هغه پوري چي دوره پوره کړ ي بيا به دغه فقير ته څه صدقه ورکړي چي زړه يې په خوشحاله سي.

(**قال الفقهاء ان يجمع الوارث عشرة رجال مثلاً اه : مجموع الرسائل.** (**يدفع الولي ذالك المقدار للفقير ثم يهبه ذالك الفقير للولي و يقبضه ثم يدفع الولي الى الفقير ثانياً و هكذا حتى يستوفي ماكان على الميت من الواجبات : رد المختار.**

**خلورمه مسئله**: د اسقاط په دوره کي به مالداره، وصی، لېونی، کوچنی، بېعقل، د مړي وارث او مدبر مريی نه کښيني هم داسي کافر.

(**ليس فيهم غني ولا عبد و لا وصى، ولا مجنون، ولا سفيه، ولا صغير، ولا كافر، ولا وارث ولا مدبر. مجموع الرسائل ابن عابدين**).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځمه مسئله**: د اسقاط په دوره کي که پیسې ډیري وي مکمل نصاب و، نو داپیسې دي پر حصو تقسیم کړي ترڅو پر فقیر حج، اختری، سرسایه. لاژمه نسي په خپل وخت کي تر نصاب کم ورکړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **قوله**/ مولد شریف.

**و نشهد ان سيدنا محمدا عبد ه ورسوله ماولدت امراة مثيله ولا تلد نظيره والدة عبادالله لقد اظلكم هذا الشهر شهر ربيع الاول شهر ولد فيه الحبيب الشفيع الا كمل على اصح الاقوال الراضية فاكثر وافيه الصلوة والسلام علي سيدنا محمد و على اله و اصحابه الكرام البررة)**

( **ميلاد نبوي**ﷺ )

مولد په لغت کې و ولادت وخت او د ولادت ځای ته ویل کیږي او په اصطلاح کې د امت یا دخلکو یو ځای یا جمع کېدل دي. د قرآن کریم تلاوت او هغه روایات بیانول چې رانقل سوي دي په اړوند د انبیاء کرامو او الیاء کرامو د پیدا ینبت وخت، افعالو او اقوالو اړوند داخبره اعانة الطالبین کړې ده.

( **في اصطلاح الامة فهو اجتماع الناس و قراة ما تيسر من القران الكريم و رواية الاخبار الواردة في ولادة نبي من الانبياء او ولي من الاولياء و م دحهم بافعالهم و اقوالهم** . [183]

په دې اړه د اردو فيروز اللغات وايي: میلاد ، د پیدا ینبت وخت ته وايي او میلاد النبي. د نبي علیه السلام د پیدا ینبت ورځي ته وویل کیږي.

[183] - اعانة الطالبين : ٣ جلد، ٣٦١ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ( د نبي عليه السلام د پيدايښت تاريخ )

د نبي عليه السلام د پيدايښت تاريخ يو د هغه بحثونو څخه دی چي علماء کرام ډول ډول اقوال په کښي لري. د نبي عليه السلام د پيدايښت تاريخ په اړوند به زه هغه اقوال رانقل کړم چي د جمهورو علماء کرامو په وړاندي معتبر وي خو د نبي عليه السلام د پيدايښت تاريخ څو اړخه لري.

**اول**: هغه چي په کوم کال کي پيدا سوی دی.

**دوهم**: هغه چي په کومه مياشت او تاريخ کي پيا سوی دی.

**دريم**: هغه چي په کومه ورځ پيدا سوی دی.

**اول**: نبي عليه السلام په هغه کال و دې نړۍ ته تشريف راوړ ، په کوم کال چي د فيل واقعه پېښه سوې ده. د فيل د واقعې څخه وروسته نبي عليه السلام زېږېدلی دی. په دې اړوند الحافظ ابن کثير الدمشقي رحمه الله په خپل کتاب البداية والنهايه کي ډېر اقوال رانقل کړي دي خو زه يو څو اقوال څني رانقل کوم.

**اول قول**: ( **قال ابن اسحاق و کان مولده ـ عليه السلام عام الفيل، و هذا هوالمشهور عند الجمهور** )

**دوهم قول**: ( **قال ابراهيم بن المنذر الخزامي. و هوالذي لايشک فيه احدمن علمائنا انه عليه السلام ولد عام الفيل وبعث على راء س اربعين سنة من الفيل**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم قول**: ( **وروي الحافظ البیهقي من حدیث عبدالعزیز بن ابي ثابت المدیني. حدثنا الزبیر بن موسی عن ابي الحویرث قال سمعت عبدالملک بن مروان یقول لقباث بن اشیم الکتاني ثم اللیثی. یاقباث انت اکبر ام رسول لله ﷺ قال: رسول ﷺ اکبر مني، و ان اسن ولد رسول الله ﷺ عام الفیل ووقفت بي امي علی روث الفیل محیلاً اعقله. و تنبأ رسول الله ﷺ علی راس اربعین سنة**)

هم داسي نور اقوال هم الحافظ ابن کثیر رانقل کړي دي. په دې ټولو کي په اتفاق سره دا خبره معلومیږي چي نبي علیه السلام د فیل د واقعې په کال زیږېدلی دی مګر په دې خبره کي اختلاف دی چي ایا نبي علیه السلام د فیل له واقعې څخه څومره وروسته زیږېدلی دی او داسي اقوال هم سته چي، نبي علیه السلام د فیل د واقعې مخکي زیږېدلی دی. په هر صورت و دغه اختلاف ته په کتو سره دا راته څرګندیږي چي، نبي علیه السلام د فیل د واقعې په کال پیداسوی دی او د فیل د واقعې څخه چي، څومره ورځي وروسته نبي علیه السلام زیږېدلی دی په هغه اړوند کره دلیل نه تر سترګو کیږي لکه ابن کثیر رحمه الله چي وایي:

( **والمجتمع علیه انه علیه السلام ولد عام الفیل** )[184]

**دوهم**: نبي علیه السلام چي په کومه میاشت کي زیږېدلی دی، په دې خبره کي هم اختلاف سته او په دې کي هم اختلاف سته چي د دغې میاشتي په څوومه ورځ نبي علیه السلام زیږېدلی دی. د دې دواړو خبرو اړوند الحافظ ابن کثیر رحمه الله ډېر اقوال رانقل کړي

[184] - البدایة ولانهایة : ۲جلد، ۵۹۰ او ۵۹۱ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي خو زه يوازي په دې اړوند هغه اقوال را نقلوم چي ده د جمهورو علماء کرامو اقوال بللي دي.

**اول قول**: ( **عن ابي قتاده ان اعرابيا قال: يا رسول الله، ما تقولو في صوم يوم الاثنين ؟ فقال ( ذالک يوم ولدت فيه و انزل على فيه**)

**دوهم قول**: ( **عن عباس قال ولد رسول الله ﷺ يوم الاثنين الحديث** )

**دريم قول**: ( **عن جابرو ابن عباس انهما قالا. ولد رسول الله ص عام الفيل يوم الاثنين الثاني عشرمن شهر ربيع الاول..... و هذا هوالمشهور عند المجهور** ) [185]

د حافظ ابن کثير رحمه الله له عبارت څخه دا معلوميږي چي، د جمهورو علماء کرامو په نزد دغه خبره معتبره ده چي، نبي عليه السلام د ربيع الاول په مياشت کي پر دولسم تاريخ زيږيدلى دى. که څه هم د نبي عليه السلام د زيږيدني د تاريخ اړوند بېل اقوال راغلي دي خو په ټولو کي د جمهورو علماء کرامو قول دا دى چي،نبي عليه السلام د فيل د واقعې په کال د ربيع الاول پر دولسمه د دوشنبې په ورځ ودې نړۍ ته تشريف رواړی دی.

ملک دنيا را بسامانش ببين ملک عقبى را بآن شانش ببين
خطبه اينها بگو برنام کيست؟ اين همه تزيين پئ اکرام کيست؟

185 - البداية والنهاية : ٢جلد، ٥٨٩ ، مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

این دوکشور راشد کشور کدام　　دولت دارین را سرور کدام

ان شد مسند نشین اصطفا　　آن امین حق امام انبیاء

خاک را از مولدش گوهر بلند　　اسمان ازخاک پایش سربلند

عزوتو قبر بني آدم ازو　　روشني دیده عـــــالم ازو

بارگاه هش مشرق انوار غیب　　درس گاه دفتر اسرار غیب

آن شد کشورستان و تاج گیر　　فخر فقرش از سلاطین باج گیر

مدتي بابینوائي ساذ کرد　　تا در دولت ید امت باز کرد

بر فلک ازوی مقام خاکیان　　خاک کویش سرمه افلاکیان

دست او بحر عطای عالم نواز　　تیغ او ظلمت زد باطل گداز

پیش لطفش دوست و دوشمن یکي　　نزد قهرش فوج باطل اندکي

روز محشر د ستگیر ماست　　او شافع ما و نصیر ماست او

گر خرد داري دلا دیوانه باش　　گرد شمع نام او پروانه باش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بدعت

د بدعت په نامه بحث او عنوان مي ځکه دلته کښېښود چي، په راتونکي بيان کي لوستونکي له مشکل سره مخامخ نه سي. تر څو چي موږ بدعت نه وي پېژندلی دابه ګرانه وي چي، د مولد شريف د ثبوت په بيان کي په دلائلو سم پوه سو. په دې بيان کي به دا خبره واضح او ښکاره سي چي، ايا هر بدعت حرام دی؟ او د بدعت اقسام به و پېژنو.

### د بدعت لغوي تحقيق

د لغتو مشهور امام ابوالفتح ناصر بن عبدالسيد المطرازي الحنفي وايي:

**( البدعة اسم من ابتداع الامرا ذبتداه و احدثه، كالرفعه اسم من الارتفاع والخلفة اسم من الاختلاف ثم غلب على ماهو زيادة في الدين او نقصان منه)**[186]

**ژباړه**: بدعت د ابتداع اسم دی. معنی يې دا ده چي د يو شي ايجادول، لکه رفعت د ارتفاع او خلفت د اختلاف اسم دی، ليکن د بدعت لفظ غلبه حاصله کړې ده په استعمال کي په هغه شيانو چي سبب د زياتي او کمي کيږي.

علامه مجدالدين فيروز ابادي وايي:

---

[186] - مقرب : ۱جلد، ۳۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( بدعة بالكسر الحدث في الدين بعدالاكمال او ما ستحدث النبي ﷺ من الاهواء ولاعمال )**[187]

**ژباړه**: بدعت په حرکت د زېر د بې د لفظ داسي شي ته ويل کيږ چي، د دين د پوره والي وروسته پيدا سوي دي. هغه شيان چي، د نبي عليه‌السلام د وفات وروسته د خواهشاتو پر بنا عبادت او اعمالو په بڼه ښکاره سوي دي.

امام راغب اصفهاني رحمه‌الله وايي:

**( البدعة في المذهب ايراد قول لم يستن قائما او فا علها فيه بصاحب الشريعة و اماثلها المتقدمة و اصولها المتقنة )**[188]

**ژباړه**: په مذهب کي بدعت ويل کيږي و هغه شي ته چي، ويونکی او کوونکی د صاحب شرع پر طريقه نه وي او د شريعت په مثالو کي نه ورته مثال وي او نه د شريعت په اصولو وي.

علامه محمد بن ابوبکر بن عبد القادر الرازي رحمه‌الله وايي:

**( والبدعة الحدث في الدين بعدالا کمال )**[189]

---

[187] - قاموس ۲جلد، ٤او ۳ مخونه.
[188] - مفردات قرآن کريم : ۳۷ مخ.
[189] - مختار الصحاح : ۲۸۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: بدعت په دین کي د نوي شي پیدا کولو نوم دی چي، د دین د پوره کېدو وروسته پیدا سي.

امام نوي رحمه الله په شرح د مسلم شریف کي وایي:

( **كل شئٍ عمل على غير مثال سابق** ) [190]

**ژباړه**: هر هغه شی چي، د هغه لپاره مخکي مثال نه وي.

---

[190] - شرح مسلم ۱جلد، ۲۸۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بدعت شرعي تحقیق

په شريعت کي د بدعت معنا علماء کرام داسي کوي. و دغي شرعي معنا ته اصطلاحي معنی هم ويله سوېده.

حافظ بدرالدين عيني الحنفي رحمه الله وايي:

**(البدعة ي اصل احداث امر لم يكن في زمن رسول الله ﷺ)** [191]

**ژباړه**: بدعت په اصل کي ويل کيږي و هغه شي ته چي، پيداسي او هغه د نبي عليه السلام په زما نه کښي نه وي.

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله وايي:

**( و البداعة اصلها ما احدث على غير مثال سابق و تطلق في الشرع في مقابل السنة فتكون مذمومة )** [192]

**ژباړه**: بدعت په اصل کي ويل کيږي و هغه شي ته چي مخکي ورته مثال نه وي او په شريعت کي بدعت ويل کيږي و هغه څه ته چي په مقابل کي يې سنت وي، نو بدعت بد دی.

علامه مرتضى الذبيدي الحنفي رحمه الله وايي:

---

[191] - عمدة القاري : ١جلد، ٣٥٦ مخ .

[192] - فتح الباري: ٤جلد، ٢٧١ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( كل محدثة بدعة انما يريد ما خالف اصول الشريعة ولم يوافق السنة )**[193]

**ژباړه**: كل محدثة بدعة ( د حديث معنا ) دا ده چي، هر شی د شريعت د اصولو مخالف وي او د سنت نبوي سره موافق نه وي بدعت دی.

حافظ ابن رجب رحمه الله وايي:

**( المراد بالبدعة ما احدث ممالا اصل له في الشريعة يدل عليه و اماما كان له اصل من الشرع يدل عليه فليس بدعة شرعا و ان بدعة لغة )** [194]

**ژباړه**: د بدعت څخه مراد هغه شی دی چي، په شريعت کي ورته اصل نه وي چي، دلالت پر وکړل سي او که په شريعت کي ورته اصل وي چي، دلالت پر وکړل سي، بيا بدعت نه دی. شرعاً که څه هم په لغت کي بدعت ورته ويل کيږي.

علامه ابو اسحاق غرناطي رحمه الله وايي:

**( طريقة في الدين مخترعة تضاهي الشريعة يقصد بالسلوک عليها المبالغة في التعبد الله سبحانه )**[195]

---

[193] - تاج العروس : ٥جلد، ٢٧١ مخ.
[194] - جامع العلوم والحكم : ١٩٣ مخ.
[195] - الاعتصام ١جلد، ٣٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: په دين کي داسي طريقه پيدا کول چي، د شريعت سره مشابه وي. پر دې عمل کول او پيروي د دې لپاره وي چي د الله تعالی په عبادت کولو کي مبالغة مقصود وي

او په درالمختار کي وايي:

(**هي اعتقاد خلاف المعروف عن رسول الله ﷺ لابمعاندة بل بنوع شبهه**)

**ژباړه**: کوم شی چي له نبي عليه السلام څخه په ښکاره را نقل سوی وي، د هغه خلاف عقيده درلودل د ضد او عناد له امله نه بلکي د شبهې له وجهي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بدعت اقسام

د بدعت تقسیم په اعتبار د لغت سره دی، په اصل کي بدعت یو ډول دی د لغت په اعتبار سره. بدعت پر دوه ډوله دی.

**اول ډول**: بدعت اعتقادي دی.

**دوهم ډول**: بدعت عملي دی.

**اعتقادي بدعت**: هغه دی چي یو کس یا یوه ډله داسي عقائد او فکر څرګند کړي چي، د نبي علیه‌السلام او صحابه کرامو او تابعینو د اقوالو او افعالو په پوره ډول سره مخالف وي. دغه ډول بدعت ډېر ډولونه لري. ځیني یې داسي دي چي. ښکاره کفر دی لکه: عقیده د خوارجو او یا په اوس وخت کي عقیده د قادیانیانو چي وایي: اوس هم د نبوت دروازه خلاصه ده، یعني د نبي علیه‌السلام وروسته هم بل نبي راځي او ځیني بیا داسي بدعات او اعتقادات دي چي، مرتکب یې کافر نه بلل کیږي بلکي ګمراه بلل کیږي لکه: معتزله غېرغالي، وهابیان او سلفیان هم داسي نور.

**بدعت عملي**: هغه دی چي په عقیده کي یې کوم تغیر نه وي. عقیده یې هغه عقیده وي چي د اسلام مبارک دین او د دین له اصولو سره برابره وي. مګر ځیني اعمال او کارونه یې دا وي چي، په خېرالقرون کي نه وي تر سره سوي. دا بدعت عملي په خپل ځان کي پر دوه ډوله دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱ - بدعت حسنه:**

**۲ - بدعت سیئه:**

**بدعت حسنه**: چي معلوم سي، بدعت سیئه په خپله ځیني معلومیږي. هغه بدعت سیئه چي مرتکب یې ګمراه بلل سوی دی لکه: په حدیث شریف کي چي د بدعت سیئه اړوند راځي.

**(کل بدعة ضلالة و کل ضلالة في النار)**

**بدعت حسنة**: په خپل ځان کي پر پنځه ډوله دی. ( **واجب** ) ( **حرام** ) ( **مندوب** ) ( **مباح** ) **مکروه** )

د بدعت پنځه ډوله دپېژندلو طریقه ډېره اسانه ده چي، ته بدعت د شریعت پر اصولو او قانون باندي عرض کړې، که په هر حکم کي داخل سو، هغه حکم د بدعت هم دی. د مثال په توګه:

**واجب بدعت**،لکه: زده کړه د علم نحوي د قرآن او احادیثو د پېژندلو لپاره.

**حرام بدعت**، لکه: مذهب د قادیاني، قدریة او ټوله ګمراه فرقې.

**مندوب بدعت**، لکه: جوړول د مدرسو، قواعدو صوفیه، خانقا او رباط.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مباح بدعت**، لکه: تر لمانځه وروسته مصافحه ، ښار ابادول، خوراکونه او ښناک او کالي.

**مکروه بدعت**، لکه: د مساجدو رنګول، د کتابو ښایسته کول.

کوم بدعت چې حرام بلل سوی دی هغه بدعت حرام (او بدعت اعتقادي) دی چې دغه پنځو ډولونو ته فتواحدثیه او ردالمختار اشاره کړې ده.

(**و تنقسم الی خمسة احکام** [196]

**فقد تکون (ای البدعة) و اجیبة الخ** )[197]

(**البداعة منقسمة الی واجبة و محرمة و مندبة و مکروهة و مباح** )

198

[196] - فتوا حدشية : ۲۰۳ مخ.
[197] - ردالمختار : ۵۳۰ مخ.
[198] - و هكذا في الحاوي للفتاوي ، ۲۰۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مېلاد النبي ﷺ په ورځ جلسه جوړول .

د مولود شريف په نامه جلسه او محفل جوړول قطع نظر د بدعتونو او محرماتو څخه يو مشروع عمل او نېک کار دی. د مولود شريف محفل جوړول که څه هم بدعت دی ځکه چي د صحابه کرامو په وخت کي نوو ليکن ډېر داسي بدعتونه سته چي هغه حسنة بدعتونه دي او ټولو علماء کرامو د هغوی پر حسن اتفاق کړی دی. لکه مدرسې، خانقاګاني او داسي نور، نو مولود شريف محفل هم بدعة حسنه دی. کله چي موږ د مولود شريف محفل مسئله د شريعت پر احکامو عرض کړو، هغه احکام چي پنځه دي او بيان يې د بدعت په بيان کي ذکر سو، نو حکم د مندوب ځيني څرګندېږي، نو ځکه وايو چي د مولود شريف محفل جوړول يو مندوب کار دی.

په دې جلسه کي اهل سنت والجماعت د نبي عليه‌السلام اخلاق، عدالت، طريقه، معجزات هم داسي نور خبري او کارونه بيانوي، تر څو د راغلو اشخاصو و جلسې ته په زړه کي د محبت نبوي ﷺ ولوله بيا تازه کړي.

اهل سنت والجماعت په مسلک کي او په څلورو مذهبو کي يو داسي څوک به و نه ليدل سي چي د نبي عليه‌السلام د سيرت د بيانولو سره مخالف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر د وخت په تېرېدو سره کېدای سي په ځينو شيانو کي تغير راسي اويو د هغوی له جملې څخه د مولود شريف اړوند محفلونه دي. په دې خاطر د وخت علماء کرام د نظريو له مخي پر دوو برخي وېشل سوي دي.

ځيني علماء کرامو د مولود اړوند ډېره نرمي کړې ده او ځينو بيا ډېره سختي کړې ده. هغه کسان چي د دې محفل او جلسې په ورځ کوم نامشروع عمل کوي، لکه رقص، ډول، اصراف، فرض عبادات م عطل کېدل، هم داسي نور دغسي مولود شريف په نامه جلسه جوړول، موږ اهل سنت والجماعت دغسي کول په مطلق ډول سره حرام بولو او د دغه سي کسانو مخ نيول د هر مسلمان فرضي او واجب ه زمه واري بولو او هغه علماء کرام چي د مولود شريف د جلسو، په دغه ورځ د خيرات او نورو کارونو سره مخالف دي او دا وايي چي، دا يو بدعت دی. د نبي عليه‌السلام او صحابه کرامو او تابعينو په وخت کي يې وجود نه درلود. د دې په څنګ کي د خپلو اهدافو د تقويې په خاطر د جاهلو عوامو افعال هم د ځان لپاره د منع دليل و ګرځوي خو موږ اهل سنت والجماعت ټل دا اقرار کړی دی او اقرار کوي چي، موږ مذهب خوښي يو او په مذهب عمل کول د ځان لپاره ستره لاسته رواوړنه بولو او کوم کسان چي په دې ورځ نا مشروع عمل کوي هغه موږ غندو. هغه که د مولود شريف په ورځ وي او که بل وخت وي. بد بد دي ښه ښه دي. زموږ د مذهب علماء کرامو او هم داسي د څلورو مذاهبو عمده علماء کرام و په دې مسئله اقرار کړی دی چي، د مولود شريف لمانځنه يو ښه عمل دی. جلسه جوړول د نبي عليه‌السلام سيرت په کښني بيانول

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترعمل دی هم دغو علماء کرامو پر دغه موضوع باندي ډېري ليکنې کړي دي خو زه د عجز په خاطر هغه ټولي نه سم کولای چي را نقل يې کړم بلکي يواځي به د هغو کتابونو نومونه رانقل کړم چ ي، دغه ټول کتابونه په دې خبره دي چي د مولود شريف په ورځ جلسه جوړول، د نبي عليه‌السلام سيرت بيانول، د نبي عليه‌السلام په زېږېدلو خوشحالي کول او دغه ورځ لمانځل، خيراتونه کول، روا او مشروع عمل دی خو په دې شرط سره چي دا هرڅه د شريعت سره موافق وي بايد له هغه کارون و او عقائدوڅخه ځان‌ونه و ساتل سي چي هغه دشريعت له خوا منع سوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه کتابونه چي د مولود په جواز اقرار کوي.**

١ ميلاد النبي ﷺ .٢١٣ مخ،العلامة محمد طاهري اللاهوري رحمه الله.

٢ عرف التعريف باالمولدشريف ٨٢مخ، العلامة الحافظ شمس الدين ابن الجزري رحمه الله.

٣ اللفظ الجميل في مولد النبوي ﷺ ۴۵مخ،العلامة الامام محمد المدني، رحمه الله. مړینه په ٨۵٠ کي.

۴ الدر المنظم في مولد النبوي ٢۵ ﷺمخ، العلامة الامام محمد بن عثمان رحمه الله، مړینه په ٨۵٠ کي.

۵ السنته والبدعة ٨٨مخ، شيخ عبدالله الحداد رحمه الله.

٦ الاعلام باعلام بيت الله الحرام ١٩٢مخ، العلامة قطب الدين الحنفي رحمه الله.

٧ فتاوى مظهري ٢٣۵مخ،العلامة المفتي محمد مظهر الله الدهلوي رحمه الله.

٨ حول الاحتفال بذكر المولدالنبوي ﷺ ٢٢مخ،العلامة محمد بن علو ى المالكي رحمه الله.

٩ اقوال الاخيار في تشرح مولد ۴٩مخ، العلامة عبدالله الذاكري الحنفي رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ المولدالنبوي ﷺ ۵۸مخ، العلامة الامام ابن الجوزي، رحمه الله. مړینه په ۵۷۹ کې.

۱۱ الباعث على انكار البدع والحوادث ۱۳مخ، العلامة الامام ابو شامة شیخ نووي رحمه الله.، مړینه په ۵۹۹ کې.

۱۲ المولد الجسماني والروحاني ۳۵مخ، العلامة الامام محي الدين، رحمه الله. مړینه په ۶۳۸ کې.

۱۳موعدالکرام لمولد النبي ﷺ ۴۰مخ، العلامة الامام برهان الدين براهيم رحمه الله. مړینه په ۷۳۲ کې.

۱۴ سير اعلام النبلاء ۲۴۵مخ ۱۲جلد: العلامة الحافظ الامام الذهبي. رحمه الله . مړینه په ۷۴۸ کې.

۱۵البداية ولنهاية ۱۲۰مخ ۷ جلد. ۱۲۱مخ ۱۳ العلامة الامام ابن کثير رحمه الله. ،مړینه په ۷۷۴ کې.

۱۲ المولد النبوي ۵۰ﷺمخ، العلامة الامام ابن كثير رحمه الله.، مړینه په ۷۷۴ کې.

۱۷ مولود مولدالنبي ۲۵مخ، العلامة الامام سليمان البرسوي رحمه الله.، مړینه په ۸۰۰ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ المورد الهني في مولد النبي ﷺ ۲۵ مخ، العلامة الحافظ عبد الرحيم العراقي رحمه الله. مړینه په ۸۰۸ کې.

۱۹ تواریخ حبیب الله ۵۵ مخ، العلامة المفتي عنایت الله کاکوروي رحمه الله.. مړینه په ۸۱۳ کې.

۲۰ تشنیف الاذان ۱۳۲ مخ، العلامة الامام ابوزرعة العراقي رحمه الله.. مړینه په ۸۲۲ کې.

۲۱ جامع الاثار في مولد النبي المختار ﷺ ۲۵ مخ، العلامة الحافظ محمد الدمشقي رحمه الله . مړینه په ۸۴۲ کې.

۲۲ اللفظ الرائق في مولد خیر الخلائق ﷺ ۲۹ مخ، العلامة محمد بن ابي بکر. رحمه الله.مړینه په ۸۴۳ کې.

۲۳ المورد الصادي في مولد الهادي ۳۹ مخ، العلامة الحافظ بن ابي بکر. مړینه په ۸۴۲ کې.

۲۴ التنویر في مولد البشیر النذیر ﷺ ۳۰ مخ، العلامة الامام ابو الخطاب ابن دحیة رحمه الله.. مړینه په ۲۷۳ کې.

۲۵ المولد الشریف ۱۵ مخ، العلامة الامام السخاوي رحمه الله.. مړینه په ۹۰۲ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶حسن المقصد في عمل المولد ۷۵ مخ، العلامة المفسر الامام جلال الدين لاسيوطي رحمه الله ، مړينه په ۹۱۱کې.

۲۷ الحاوي الفتاوى ۱۸۱مخ، العلامة المفسر الامام جلال الدين السيوطي رحمه الله ، مړينه په ۹۱۱ کې.

۲۸المواهب اللدنيه ۱۴۵مخ، العلامة القطلاني شارح بخاري رحمه الله ، مړينه په ۹۲۳ کې

۲۹سبيل الهدى والرشاد ۳۲۲مخ، العلامة الامام محمد الصالحي رحمه الله، مړينه په ۹۴۲ کې.

۳۰مولداً نبوياً ﷺ۲۹مخ، العلامة الحافظ عبدالرحمن رحمه الله. مړينه په ۹۴۴ کې.

۳۲التفاوى الحديثية ۲۰۲مخ، العلامة الامام ابن حجر المكي، رحمه الله. مړينه په ۹۷۳ کې.

۳۳النعمة الكبرى على العالم ۱۲۲مخ، العلامة الامام ابن حجر الهيشي المكي. رحمه الله.مړينه په ۹۷۳ کې.

۳۴الجامع اللطيف في فضل نباء البيت ۳۰۱مخ، العلامة الامام محمد ابن ظهيره القريشي. رحمه الله . مړينه په ۱۰۱۰ کې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵ المورد الروي في مولد النبي ﷺ ۱۳مخ، العلامة الفقيه الملاعلی القاري رحمه الله.. مړینه په ۱۰۱۴ کې.

۳۶ ماثبت بالسنة ۲۰مخ، العلامة الفقيه عبدالحق المحدث الدهلوي. رحمه الله.مړینه په ۱۰۵۲ کې.

۳۷ الدرالثمين ۴۰مخ، العلامة الشاولي الله المحدث الدهلوي. رحمه الله . مړینه په ۱۱۷۴ کې.

۳۸ حجة الله على العلمن ۲۳۳مخ، العلامة اللنبهاني رحمه الله . مړینه په ۱۳۵۰ کې.

۳۹ الانوار المحمدية ۲۰ ﷺمخ، العلامة يوسف بن اسماعيل النبهاني رحمه الله، مړینه په ۱۳۵۰ کې.

۴۰ فيوضات الحرمين ۸۰مخ، العلامة الشاولي الله المحدث الدهلوي. رحمه الله . مړینه په ۱۱۷۴ کې.

۴۱ شمائم امداديه ۹۲۱مخ، مرشد كامل حاجي امدادالله المهاجر المكي رحمه الله. مړینه په ۱۲۳۳کې.

۴۲ شرع الزرقاني على المواهب ۲۵۸مخ، العلامة الامام محمد الزرقاني رحمه الله.. مړینه په ۱۱۲۲ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۳ تفسیر روح البیان ۲۸مخ ۹ جلد العلامة مفسر اسماعیل صفی البروسوي. رحمه الله. مړینه په ۱۱۳۷ کي.

۴۴ اثباد المولد النبوی ﷺ ۲۴۸مخ، العلامة حضرت شاه احمد سعید. رحمه الله. مړینه په ۱۲۳۷ کي.

۴۵ مجموعة الفتوی ۳۳۵مخ ۴ جلد العلامة الامام عبدالحی لکنوی. رحمه الله. مړینه په ۱۳۱۷ کي.

۴۶الحقائق في قرائة المولد النبي ﷺ ۲۰مخ، العلامة الامام السید عبدالخالق الاسکندراني. رحمه الله. مړینه په ۱۳۲۸ کي.

۴۷فتاوای کاملة ۲۲۳مخ، العلامة الفقیه محمد کامل الحنفي الطرابلسي. رحمه الله.

۴۸ محمد رسول الله ﷺ ۲۲مخ، العلامة محمد رضا المصری. رحمه الله.

۴۹المهند علی الم فند ۷۸ مخ،العلامة خلیل احمد سهارنپوري. رحمه الله. په کي وفات سوی دی. ۱۳۴۶.

۵۰حول الاحتفال بزکرالمولد النبوي ﷺ ۲۲مخ، العلامة محمد بن علوي المالکي. رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۱ فصل الخطاب بین الصواب والخطا ۲۱۷مخ، العلامة شاه محي الدین قادري دیلوري رحمه الله .

۵۲ امداد الفتاوی ۲۴۹ مخ ۵جلد حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوی رحمه الله .

۵۳ احسن الفتاوی ۳۴۷ مخ ۱جلد فقیه العصر مفتي رشید احمد رحمه الله.

۵۴ روح المعاني ۲۱۳مخ ۳جلد العلامة شهاب الدین محمد ابن عبدالله رحمه الله..

۵۵ البصائر ۲۰۱مخ، العلامة مولانا حمدالله جان الداجوی رحمه الله .

دغه پورته ذکر سوي کتابونه ټول پر دې خبره دي چي، د نبي علیه السلام د پیدا ئینښت په ورځ خوشالي کول، د نبي علیه السلام د یاد تازه کولو لپاره جلسې جوړول، په جلسو کي د نبي علیه السلام اخلاق، معجزات اوسیرت بیانول یو روا او مشروع عمل دی. په دغه ورځ خیرات کول هم نېک کار دی خو دغه ټول کتابونه د مولد شریف غونډې جوړول بدعت عمل بولي مګر بدعت حسنه یې بولي نه بدعت قبحه.

په دغه ورځ چي ځیني کسان هغه اعمال کوي چي هغه د شریعت د دائرې څخه وتلي وي هغه موږ هم حرام بولو، په هروخت کي چي د حلال سره حرام ګډ سي حلال، حلال دي او حرام حرام دی او که د حرامو سره حلال یو ځای سي، بیا هم حرام حرام دي حلال حلال دي. موږ هم د مولد شریف ورځ لمانځل روا بولو مګر ځیني کسان چي په دغه ورځ حرام افعال کوي موږ هغه په سخته سره غندو. د هغوی د بدو افعالو په خاطر موږ خپله عقیده نسو پرېښودلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه یادونه: دغه کتابونه چې ما یې نومان ذکر کړل دغه ټوله مانه دي مطالعه کړي مګر ډېرې یې ما لوستلي دي خو ما ټولو ته حواله ورکړل ځکه؛ زما دا یقین دی چې دا کتابونه د کندهار د مشهوري دارالافتاء ( دارالافتاء مدرسة الاحناف کندهار ) له خوا په ښه دقت سره مطالعه سوي دي.

زما په اند د یوه مقاله لپاره دغه لاندې عبارت ځلېدونکې توره ده.

**( اعلم انه ای ان عمل المولدبدعة..... لکنها بدعة حسنة لما اشتملت علیه من الاحسان الکثیر للفقراء و من قرائت القران واکثار الذکر و الصلوة والسلام علی النبي ﷺ و اظهار السرور الفرح به ﷺ محبته و اغاظة اهل الزیغ والعناد من الزنادقة والملحدین والکفرة والمشرکین ... و لولم یکن في ذالک الا ارغام الشیطان و سرور اهل الایمان لکفي و قال اذاکان اهل الصلیب اتخذ والیلة مولد نبیهم عیدا اکبر فاهل الاسلا اولی و اجدر ... وروئي ابولهب عمه ﷺ في النوم فقیل ماحالک قال في النار الا انه خفف عني کل لیلة اثنین و امص من بین اصبعي هاتین ماء وان ذلک عند اعتاقي لثویبة عند مابشرتني بولادة النبي ﷺ قال ابن الجزري و اذاکان ابولهب الکافر الذي نزل القران بزمه الذي لاذم فوقه جوزي في النار بفر جه لیلة مولده فما حال المسلم الموحد من امته یسر بمولده و یبذل مایقدرعلیه في محبة ﷺ لعمري انما یکون جزاءه من الله الکریم ایدخله بفضله العمیم في جنات النعیم انتهت عبارت الهیتمي بلفظه ) فصل الخطاب ۶۷ مخ.**

و ذکرک للمشتاق خیر شراب        و کل شراب دونه کسراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ولي د نبي عليه السلام وفات نه لمانځو؟

که څوک دا پوښتنه وکړي چي، تاسو د نبي عليه السلام د پيدا ايښت ورځ لمانځئ او په دغه ورځ جلسې جوړه وي. د نبي عليه السلام راتلل و دې نړۍ ته د الله تعالی ﷻ له لوري يو ستر نعمت بولئ او دا ورځ د خپل ژوند تر ټولو نېک بخته ورځ بولئ. نو ښه په دغه ورځ خو نبي عليه السلام له دينا څخه رحلت هم کړی دی ولي دغه ورځ د خپل ژوند توره ورځ نه بولئ. بايد تاسو په دغه ورځ خوابدي سئ.

زه د دې پرځای چي لومړی د دې پورته پوښتني ځواب وکړم غواړم چي، اول بايد د نبي عليه السلام د وفات تاريخ واضح سي او بيابه د دې خبري ځواب وکړو چي، ولي موږ د نبي عليه السلام د پيدا ايښت ورځ لمانځو او د وفات ورځ يې نه لمانځو.

علامه صفي الرحمن المبارکپوري رحمه الله د نبي ﷺ د وفات د تاريخ اړوند وايي:

(وقع هذا الحادث حين اشتدت الضحى من يوم الاثنين ۱۲ ربيع الاول سنة ۱۱ ه [199]

**ژباړه**: دا واقعه يعني د نبي عليه السلام د وفات واقع سو په هغه وخت کي چي غټ څاښت سو. يعني د غرمې خوا وه په ورځ د دوشنبې د ربيع الاول دولسمه او د هجرت يوولسم کال و.

علامه ابن کثير رحمه الله په البداية والنهاية کي وايي:

[199] - رحيق مختوم : ٤٤٠ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( والمشهور قول ابن اسحاق والواقدي، ورواه المواقدي عن ابن عباس و حدثني محمد بن عبدالله عن الزهري عن عروة، عن عائشه،قالا: توفي رسول الله ﷺ يوم الاثنين لثنتي عشرة لية خلت من ربيع الاول )**[200]

**ژباړه**: مشهوره خبره (د نبي عليه‌السلام د وفات اړوند د اسحاق او واقدي ده. بي بي عائشة ﷺ وايي: نبي عليه‌السلام د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول د مياشتي پر دوولسمه وفات سو.

مخکي موږ دا خبره کړې وه چي، د ربيع الاول پر دولسمه او د دوشنبې په ورځ نبي عليه‌السلام زېږېدلی دی اوس دا هم معلوه سوه چي د ربيع الاول پر دولسمه او د دوشنبې په ورځ هم وفات سوی دی. اوس دا خبره چي، موږ اهل سنت والجماعت د ربيع الاول په دولسمه ورځ ولي مولد شريف لمانځو او وفات د نبي عليه‌السلام نه لمانځو؟.

دا ځکه؛ موږ شريعت امر کړي يو په دې سره چي که يو ماشوم و زېږېدی، تاسو عقيقه وکړئ لپاره د شکر او خوشالی او که بيا يو انسان وفات سي بيا شريعت امر د صبر راته کړی دی او دا موږ منو چي د شکر او د خوشالی ورځ زموږ لپاره د نبي عليه‌السلام د مولود ورځ ده او د ټول امت مسلمه لپاره لويه د خفګان ورځ د نبي عليه‌السلام د وفات ورځ ده او نبي عليه‌السلام په خپله موږ امر کړي يو چي، تاسو پر مړي غم تر درو ورځو بلا مه کوئ او نه خفګان په اسلام کي تر درو ورځو وروسته په دې خبره باندي د حديثو کتابونه شاهدان دی چي، د نبي عليه‌السلام له دغسي اقوالو څخه برخمن

[200] - البداية والنهاية : ٤ جلد، ١٧٠ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. هم داسي دې خبرې ته علامه الامام جلال الدين سيوطي رحمه الله په الحاوي للفتاوى کې هم اشاره کړې ده چې وايي: د الفاکهاني په ځواب کې.

**( و قوله ( مع ان الشهر الذي ولد فيه) الى اخره جوابه ان يقال. اولاً ان ولادته ﷺ اعظم النعم علیناه ووفاته اعظم المصائب لنا. والشريعة( حثت)على اظهار شكرالنعم والصبر والسكون والكتم عند المصائب. وقد امر الشرع بالعقيقة عند الوالادة وهي اظهار شكر و فرح بالمولود. ولم يامر عندالموت بذبح ولا بغيره. بل نهي عن النياحة والظهار الجزع فدلت قواعد الشريعة على انه يحسن في هذالشهر اظهار الفرح بولادته ﷺ دون اظهار الحزن فيه بوفاته.** [201]

لنډه داچې، د نبي عليه السلام زېږېدل يو لوی نعمت دی چې، موږ ته راکول سوی دی او وفات يې يو لوی غم دی زموږ لپاره خو چې کله يو ماشوم و زېږي شريعت امر په عقيقه سره کوي لپاره د ښکاره کولو د شکر او خوشالي په ماشوم سره او موږ شريعت امر کړی نه يو د انسان په وفات کې په حلالېدو سره د پسه او نه بل شي. بلکې منع کړې يې يو له چيغو او خفګان ښخه او د شريعت قواعدې پر دې دلالت کوي چې، موږ د دغې مياشتې چې، ربيع الاول ده او د نبي عليه السلام مولود دی چې موږ خوشالي وکړو او نه غم او خفګان په وفات د نبي عليه السلام.

ماذا عالى من شم تربه احمد ان لايشم مدي الزما ن غواليا

صبت على مصائب لوانها صبت على الايام صرن لياليا

[201] - الحاوي للفتاوى: ۲۰۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مولود شریف اول چا ولمانځی

د نبي علیه السلام د میلاد زیږیدنه او په دې اړوند جلسه او محفل جوړول د نبي علیه السلام او د صحابه کرامو او تابعینو په وخت کې وراج نه و. د مولود اړوند غونډې جوړول د ۶ پیړۍ په اخر کې او د ۷ پیړۍ په پیل کې د مسلمانانو په منځ کې مشروعیت و موند. د تاریخ له کتابو څخه دا څرګندیږي چې په لومړي وار د میلاد نبوي ﷺ په نامه جلسه او محفل دمظهرالدین ابوسعید کوکبرۍ بن زین الدین علی بن بکتګین چې د موصل پادشاه و په وخت جوړه سوه.

د دغه پاچا اړوند ډول ډول اقوال راغلي دي. ځیني کسانو په ډېرو سپکو او بې باکو نومونو نومولی دی او ځینو علماء کرامو دغه پادشاه په ډېرو ښایستو نومونو یاد کړی دی خو زه دا فکرکوم چې تاریخ د تېر وخت هنداره ده. په هنداره کې ک له ښه ، بد معلوم سي او کله بد ، ښه معلوم سي .ګنې تاسو یې تجربه کړئ خو موږ په اوس وخت کې هم مولود شریف لمانځنه یو روا عمل بولو اول چاچي دغه کار کړی دی هغه هم د ستاینې وړ بولو او بل موږ یې هم ښه شخص بولو او د ده په حق کې دا دعا کوو چې، الله تعالی ﷻ دي رحمت باندي وکړي.

علامه ابن کثیر الدمشقي ددې اړوند واي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( له اثار حسنة و قد عمر الجامع المظفري بسفح قاسيون و كان مع ذالك شهماً شجاعاً فاتكاً بطلاً عاقلاً عالماً عادلاً رحمه الله و اكرم مثواه )**[202]

علامة جلال الدين سيوطي رحمه الله وايي:

**( صاحب اربل الملك المظفري ابو سعيد كوكيري... احدالملوك الامجاد والكبراء الا جواد، وكان له اثار حسنة و هوالذين عمرالجامع الظفري بسفح قاسيون )**[203]

حال دا چې د الحافظ ابن کثير الدمشقي او د جلال الدين سيوتي رحمه الله غوندي علماء کرامو و دغه پاچا ته په درنه سترګه کوري، نو مور ته هيڅ ضرورت نسته او نه دا حق لرو چې سپکاوی يې وکړو. الله تعالی جل جلاله دې پر دغه پاچا رحمت وکړي او د مولد شريف د محبت او رواجولو په خاطر دې الله جل جلاله اجر او خېر ورکړي

امين ثم امين.

**( من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها و اجرمن عمل بها )**

[202] - البداية والنهاية : ۷ جلد، ۳۸۷۵ مخ.
[203] - الحاوي الفتاوی : ۲۰۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په مولود شريف کي له لاندي شيانو څخه ځان ساتنه اړينه ده.**

**اول**: د ټولو څخه عظيم او ډېر خطرناک دادی چي، واعظان په دې محفل او جلسه کي موضوعي احاديث، روايات او د درواغو قصې خلکو ته بيانوي، يعني خلکوته يې وايي چي، هغه اکثره د اسلام د دين د دښمنانو له خوا څخه جوړي سوي وي او د خلکو د عقيدو او افکارو د خرابولو باعث ګرځي او بايد واعظان ښه علماء کرام وي چي احکام او قصې سمي او غلطي سره بيلي کړي.

بل داچي، په وعظ کي دي له هغه کتابونو څخه ګټه وسي چي، په هغو کي ضعيفه او موضوعي قصې او روايات نه وي او په دې هکله پوره اهتمام وسي لکه: په حديث شريف کي چي راغلي دي.

(**من کذب علی فليبوء مقعده من النار**) بخاري **۱**جلد، **۲۱** مخ.

**دوهم**: زائد او بې ضرورته مصارف کول لکه: د ډيرو قالينو او د اعلی درجه نالیو او بالښتانو اهتمام کول او کله په بعضې ځايونو کي د منبرونو او چوکيو اهتمام په ډېره اعلی درجه سوی وي. د داسي فعلو نو څخه بايد اجتناب وسي. ولي چي په ايت مبارک کي راځي:

(ولاتبذر تبزيرا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبي عليه‌السلام سره په محبت کي هغه څوک صادق دی چي، دده د اخلاقو، اقوالو او اعمالو زيات متابعت کوي او دده مبارک په داسي شيانو سره اهتمام نه کاوه، بلکي ساده او بې تکلف ژوند يې خوښا وه.

**دريم:** ډېر شاعران او نعت ويونکي داسي شعرونه وايي چي، که څه هم په ظاهره نعت وي خو په باطن کي د نبي عليه‌السلام په حق کي کستاخي او بې ادبي وي. د مثال په ډول: ډېر شعرونه داسي سته چي، په هغوی کي دده مبارک عليه‌السلام ته په خپل محضه نوم سره خطاب کوي او وايي: (اې محمده) بېله ذکر څخه د درود شريف چي دلته منظور يوازي د خپل شعري وزن برابرول وي او دې ټکي ته فکر نه کوي چي، که مونږ يو څوک چاته دغسي ساده خطاب وکړو بېله ضميمې څخه د حاجي ملاصاحب. اغا صاحب. نو دا بې ادبي بلل کيږي، نو د نبي عليه‌السلام په حق کي به څنګه بې ادبي نه وي. تاسو فکر وکړئ چي الله تعالی ﷻ په قرآن کريم کي خطاب په خپل محضه نوم نه ورته کوي بلکي وايي: (ياايها النبي. يا ايها الرسول) هم داسي نور.

از خدا جویـــــــــم توفیق ادب

بې ادب محروم ماند از فضل رب

**څلورم:** د نبي عليه‌السلام په هکله داسي قصې کول چي، مستلزم وي دې لره چي، د بعضي عوامو د نورو انبياء ع ليه السلام يا ملائکة کرامو په ه کله اعتقاد ضعيف سي يا د هغوی د توهين واسطه و ګرځي نعوذبالله تعالی، نبي عليه‌السلام فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(**لاتطروني کما اطرت النصاری الحدیث**) (**لاتخیروني علي موسی و قال ماینبغني لعبد ان یقول اني خیر من یونس بن متی**) (**لا تفضلوا بین انبیاء الله الحدیث**) **ای تفضیلاً یوءدي الی تحقیر بعض**) امدادالفتاوی، **۵**- جلد، **۲۴۹** مخ.

**پنځم**: دا عقیده ساتل چي، نبي علیه‌السلام دې محفل او جلسې ته تشریف راوړی دی دا خبره ثبوت نه لري.

**شپږم**: څوک چي په دې محفل او جلسه کي شرکت نه کوي په دې شرط چي، عقیده سالمه وي، هغه ته به بد نه وایې نه به یې ملامته وې ځکه چي الله تعالی فرمایي:

(وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ)

**اووم**: په ځینو ځایونو کي، په دغسي محفلونو کي عکسونه هم اخیستل کیږي او فلمبرداري کیږي چي، دا قطعي حرام دي او په دغسي مجالسو کي شرکت حرام دی. د عکسونو اخیستل اړوند د شریعت حکم ډېر روښانه دی.

**اتم**: اول خو باید داسي مجالس او محافل په مساجدو کي نه وي او که په مساجدو کي وي هم باید د ډوډۍ انتظام له مساجدو څخه دباندي بل ځای وي. د مساجدو احترام په پوره ډول باید وساتل سي.

**نهم**: که اړتیا نه وي، نو د ګویا څخه باید ګټه و نه سي او که اړتیا وي باید په مسجد کي د دننه ګویاوو څخه ګټه واخیستل سي چي، ږغ یې د اړتیا په اندازه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي، د نورو خلکو د تکليف باعث ونه ګرځي او له خوبه و نوزي او که د داخلي ګويا اسانتيا نه وي نو بايد د شپې تر نا وخته پوري پروګرام جوړ نه کړل سي چي، خلق له خوبه څخه و زي که داسي وسي په هغه صورت کي به يې تر ثواب عذاب ډېر سي.

**لسم**: ډول وهل، چک چکي کول، نارې وهل او داسي نور غ ږي مشروع کارو نو څخه بايد په کلکه ځان و ساتل سي ځکه؛ دغه ناوړه اعمال په نور وخت کي هم حرام دي. په داسي يو مبارک مجلس کي خو بيخي حرام دی.

( **و اما الالات فيحرم في المشهور من المذاهب الاربعة الحنيفه رحمهم الله والمالكية، و الشافعية والحنابلة** ) **۳ جلد، ۵۷۴ مخ الفقه الاسلامي**.

**يوولسم**: اکثر د دغسي محافلو د جوړولو په وجه او بيا په دغه محفلونو کي د ډيري ستړيا، يا ډيرو ويلو او اورېدلو په وجه په ځينو عباداتو کي تغير راځي لکه: د جماعت لمونځ چي، د دې خبرې زياته پاملرنه په کار ده. بلکي پر واعظانو دا لازمه ده چي، د دغسي محفلونو څخه په ګټه اخيستني سره خلکو ته د فرائضو او واجباتو خصوصاً د جماعت د لمانځه په هکله ډېري توصيې وکړي او خلک دي د جماعت لمانځه ته تشويق کړي.

**دوولسم**: دا به اړينه نه بولي چي، خاص د ربيع الاول دوولسمه د مولد شريف د غونډې، جلسې او وعظ لپاره مناسب ده بلکي د ربيع الاول د مياشتي په هره روځ کي د نبي عليه السلام د سيرت د بيانولو لپاره يو مجلس جوړ سي هغه ثواب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دیارلسم**: د مولد شریف په ورځ که چا دوکان نه وي بند کړی یا و جلسې ته نه وي راغلی یا یې خیرات نه وي کړی باید بد پر ونه ویل سي.

## مولد شریف او د دیوبند د علماء کرامو عقیده او فتوی.

زموږ په ټولنه کي ځیني داسي کسان سته چي په ظاهره دا دعوه کوي چي، موږ د دارالعلوم دیوبند د علماء کرامو پر مسلک او عقیده یو مګر که د دوی و کارونو ته وګورو، هغه د دیو بند د علماء کرامو له عقائدو څخه خلاف وي.

د دې خبري د اثبات لپاره یو ښه مثال د مولود شریف لمانځنه ده. دا کسان تل د مولد شریف لمانځني ته بدعت سیئه په سترګه ګوري او یا د ځینو ناخبره عوامو افعال پر موږ تفي او حال دا چي، موږ د مولد شریف لمانځنه یو روا او مستحب عمل بولو خو سره د خپلو شرائطو او کوم څوک چي، په دې ورځ ناروا عمل کوي هغه موږ هم بد بولو. هغه ناروا که په هر وخت کي وي لکه: څنګه چي و دغي خبري ته په (المهند علی المفتد) کي اشاره ورته سوې ده. هغه داسي لیکي.

د نبي علیه‌السلام د ولادت ذکر د اعلی درجې مستحب دی. موږ خو څه، یو مسلمان هم هیڅ کله داسي نه دی چي، د انحضرت ﷺ د ذکر ولادت شریف بلکي د هغه ﷺ د چمپلانو د ګرد او د هغه د سپرلۍ، د خره د بولو بیانولو ته بد او بدعت سیئه یا حرام ووایي، هغه ټول حالات له کوموسره چي د نبي علیه‌السلام یو څه تعلق دی د هغه ذکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بيان زموږ په نزد ډېر خوښ او د اعلى درجې مستحب دى. هغه كه د ولادت شريف ذكر وي يا د هغه ﷺ د ناستي ولاړي، بيدارى، خوب يا بل څه ذكر وي لكه: څنگه چي زموږ په رساله براهين قاطعه كي په بې حسابه ځايونو كي په وضاحت سره ذكر سوى دى او زموږ د مشايخو په فتوى كښي مسطور دى، څرنگه چي د شاه محمد اسحاق صاحب د هلوى مهاجر مكي رحمه الله شاكرد مولانا احمد على سهارنپوري رحمه الله فتوى په عربي كي ترجمه كړل سوې ده رانقل كوو، لپاره د دې چي، د ټولو د تحريرونو مجموعه زموږ څخه جوړه سي.

(استفتاء)

د مولانا صاحب څخه چا پوښتنه كړې وه چي، مجلس شريف څنگه جائز دى او څنگه ناجائز دى؟

د ولادت د ذكر په فضليت كي د مولانا احمد على سهانپوري رحمه الله فتوى.

**فتوى**

مولانا صاحب د هغه دا ځواب وليكه چي، د سيدنا رسول الله ﷺ د ولادت شريفه ذكر له صحيح رواياتو څخه دى. په هغه وختونو كي چي د واجب عباداتو څخه خالي وي. په هغه كيفياتو سره چي، د صحابه كرامو او د اهل قرون ثلثه د طريقې څخه خلاف نه وي د كوم د خبر كېدلو چي، حضرت محمد ﷺ خبرو وركړى دى. د هغه عقيدو څخه چي، د شرك او بدعت وهم، هم په كښي نه وي. په هغه ادابو سره چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحابهٔ کرامو، د هغه سیرت څخه مخالف نه وي کوم چي، د نبي عليه‌السلام د ارشاد ( **مانا علیه و اصحابي** ) مصداق دی.هغه مجلسونه چي، د منکرات شرعیه څخه خالي وي د خیر او برکت سبب د ي په شرط د دې چي په رښتني نیت او اخلاص او په دې عقیده سره وسي چي داهم د نورو ټولو ښو ذکرونو څخه یو ښه ذکر دی او له هیڅ یوه وخت سره خاص نه دی، نو هر کله چي داسي وسي، نوز موږ په علم کي به هیڅ یو مسلمان هم د ناجائز یا بدعت کېدو حکم نه ورکوي.

له دې څخه معلومیږي چي، موږ د ذکر ولادت شریف منکر نه یو بلکي د هغه ناجائز کارونو منکر یو کوم چي، له دې سره یو ځای سوي دي لکه څرنګه چي، د هندوستان د مولود په مجلسونو کي تاسو لیدلي دي چي، د موضوعي روایات بیانیږي، د ښځو او سړو اختلاط کیږي. په شمعو بلولو او نورو سینګارونو باندي فضول خرڅي کیږي او دا مجلس واجب ګڼي. څوک چي په کښې ګډون ونه کړي، په هغه ملامتیا او تکفیر کیږي. د دې څخه علاوه نور هم څه منکرات شرعیه دي چي، د هغه څخه به شاید چي، کوم یو مجلس میلاد خالي وي. که چیري د مولود مجلس له ناروا وو څخه خالي وي، نو خدای مکړه چي، موږ به دا ووایو چي، د ولادت شریفهٔ ذکر نا جائز او بدعت و ي او د داسي خرابي وینا د یو مسلمان طرف څخه چیري ګومان کېدای سي، نو په موږ دا بهتان د دروغجنو بې دینو او دجالانو یو الزام دی چي، خدای ﷻ دي دوی و شرموي او لعنت دي پر وکړي په وچه او لنده، نرمه او سخته مځکه کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(السوال الواحد والعشرون)

**اتقولون ان ذكر ولادته ﷺ مستقبح شرعاً من البدعات السيئه المحرمة ام غير ذالک ؟**

**الجواب : حاشا ان يقول احد من المسلمين فضلا ان نقول نحن ان ذكر ولادته الشريفة عليه الصلواة والسلام بل و ذكر غبار نعاله و بول حماره ﷺ مستقبح من البدعاتالسيئه المحرمة فالا حوال لتي لها ادنى تعلق برسول ﷺ ذكر ها من احب المندوبات و اعلى المستحبات عند نا الخ .**[204]

محترمو لوستونکو اوس تاسو فکر وکړئ چي، ايا دغه مولود شريف لمانځنه چي منکرات په کښي نه وي په هغه شرائطو برابره وي کوم چي مخکي موږ ذکر کړل. ايا دا د ديو بند د علماء کرامو خلاف کار دی؟ نه هيڅ کله نه دی. بلکي لکه څنګه چي موږ ځان ته اهل سنت والجماعت وايو اوپه مذهب حنيفي کي د ديو بند په مسلک يو نو زموږ اقوال او افعال هم د هغوی سره سم دي خو افسوس د هغه چا پر حال چي، ځان ته هم داپورته خطاب کوي مګر د همدې مسلک خلاف دی.

[204] - المهند على المفتد : ٧٢ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مولد شریف شپه بهتره ده او که د قدر شپه .**

په اقوال الاخیار في تشریح مولد النبي المختار کي په حواله د مجموع الفتاوی کي دا خبره رانقل کوي چي، ایا د نبي علیه‌السلام د زېږېدني شپه بهتره ده او که د قدر شپه. البته په هغه کتاب کي دا خبره په عربي سره سوې ده خو زه یې وتاسو ته دلته یوازي ژباړه راوړم.

**اولسوال:**

د قدر د شپې فضیلت د قرآن کریم په ایاتونو سره ثابت دی او له ځینو محدثینو څخه روایت سوی دی چي، د مولد شریف شپه د قدر تر شپې بهتره ده. نو کومه یوه افضله ده؟.

**الجواب :**

د قدر شپه تر ټولو شپو بهتره ده ځکه؛ د قدر د شپې ثبوت په ایاتو نو سره سوی دی او د دغې شپې شرف له وجهو څخه دی.

**اول:** د ملائکه وو راکښته کېدل مځکي ته.

**دوهم :** د الله تعالی ﷻ انوار او فیوضات د دنیا اسمان ته راکښته کېدل له ماښام څخه بیا تر سهار پوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دريم** : د قرآن کريم نزول په دغه شپه کې. يعني په دغه شپه کې قرآن کريم نازل سوی دی له لوحي محفوظ څخه د دنيا و اسمان ته .

د دې شپې د عبادت برکات او ثواب تر نورو زرو شپو څخه ډېر زيات دي د مسلمان د زړه د تسکين او تسلا لپاره. په دې اړه الله تعالی ﷻ فرماي:

( لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ)

او په احاديثي نبوي کې په دې تاکيد سوی دی چې، دا شپه تاسو په عبادت سره رڼه کړئ. او ځينو محدثينو چې ويلي دي چې، د مولد شريف شپه د قدر تر شپې افضله ده. دا په دې حيثيت نه ده چې، د مولد شريف د شپې عبادت تر زرو شپو تر عبادت زيات دی. ځکه؛ د ثواب او عذاب حکم ثابتيږي. د شارع له لوري په کوم شي کې چې، د شارع له لوري څه نه وي ويل سوي، هلته به څنګه ثابته سي چې، ثواب يې دومره دي. هو دا خبره سته چې، د مولد شريف د شپې فضليت عبارت دی د لوړوالي د مرتبې په حضور کې د الله تعالی ﷻ د مولد شريف شپه په ذات کې د قدر تر شپې افضله ده.

په **القصدة العربية في الحوال خيرالبرية** ﷺ کې راغلي دي ( **تتباهي بک العصور** ) او شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله ويلي دي په ( ماثبت بالسنة ) کې وايي: چې موږ کله دا وايو چې د مولد شريف شپه د قدر تر شپې افضله ده . بېله شکه ده ځکه چې، د مولد شريف شپه، شپه ده د نبي عليه السلام د زېږېدني او د قدر شپه و نبي عليه السلام ته ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل سوې ده، نو هغه شپه چې مشرفه ده په ظهور د نبي ﷺ دا افضله ده پر هغه شپه چې و ده مبارک ﷺ ته ورکړل سوې ده او بل د قدر شپه په راکښته کېدو د ملائکو افضله ده او د مولد شپه په ظهور د نبي عليه‌السلام افضله ده.

بل د قدر شپه بهتره او افضله يوازې د دنبي عليه‌السلام پر امت ده او د مولد شريف شپه تر ټولو موجوداتو افضله ده.

شيخ الحديث حافظ ابن حجر رحمه‌الله وايي:

وخت او ځای شرافت پيدا کوي په شرافت د هغه کس يا شي چې، په هغه وخت يا ځای کې وي، د هغه کس يا شي د زيات کمال او شراف له امله، نو له همدې امله ځينو کسانو ويلي دي چې ( **ان ليلة مولد ﷺ افضل من ليلة القدر انتهي** ) ۴۴مخ اقوال الاخيار في تشريح مولد النبي ﷺ المختار بحواله مجموعة الفتاوى ۳جلد، ۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قوله/** او نور د ښو شپو خيراتونه جائز او روا بولو...........................

له دې عبارت څخه دوې خبرې معلوميږي.

**اول**: وخت لره فضيلت سته، يعني ځيني وختونه، شپې او ورځې پر نورو افضل دي.

**دوهم**: په دغو خاصو شپو، ورځو او وختونو کې خيراتونه عبادات د نورو عامو شپو، ورځو او وختونو تر خيراتونو او عباداتو بهتري لري.

زموږ اهل سنت والجاعت دا عقيده ده چې، په اسلام کې بد پالي نسته او ورځې او شپې، وختونه ټول مبارک دي، په ټولو وختونو او شپو کې خيراتونه کول، عبادات کول د الله تعالی ﷻ درضا سبب ګرځي خو الله تعالی ﷻ په ځينو ورځو کې خېر او برکت ډېر ابنسی وي. حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله وايي:

ددې امت، يعني امت محمدي ﷺ په هيڅ يوه وخت کې بد فالي نسته مګر په ځينو ورځو او تاريخونو کې خېر او برکت ډېر وي.[205]

ملا علي قاري صاحب د مشکاة شريف په شرح مرقات کې وايي:

( **والوقت اذاكان افضل كان العمل الصالح فيه افضل** )[206]

---

[205] - فتاوى محمودية : ١جلد، ٢٣٤ مخ.
[206] - مرقات : ٣ جلد، ٥١٢ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: کله چي وخت بهتر سي، نو عمل صالح، یعني عبادات، ذکر، خیراتونه ) هم په دې وخت کي بهتر دي.

امام غزالي رحمه الله په ډېر وضاحت سره وایي چي، وخت لره هم فضلت سته او افضله وخت کي خیرات او عبادات کول ډېر ثواب لري پر نورو وختونو باندي. زه د ده وینا مکمله رانقل کوم انشاء الله ډېره ګټوره ده لپاره دوخت د فضلت او په خاصو ورځو کي خیرات او عبادت هم ډېر ثواب لري تر نورو عامو ورځو، دی وایي:

**( علم ان استجاب الصوم بتاکد في الایام الفاضلة، و فواضل الایام بعضها یوجد في کل سنة. و بعضها یوجد في کل شهر، و بعضها في کل اسبوع، اما في السنة بعد ایام رمضان فیوم عرفة و یوم عاشورا، و العشر الاول من ذي الحجة، والعشر الاول من المحرم، و جمیع الاشهر الحرم، رمضان الصوم، وهي اوقات فاضلة، وکان رسول الله ﷺ یکثر صوم شعبان حتی کان یظن انه في رمضان و في الخبر، افضل الصیام بعد شهر رمضان شهر الله المحرم. لانه ابتداء السنة فبناؤها علی الخیراحب و ارجي لدوام برکته. وقال ﷺ صوم یوم من شهر حرام افضل من ثلاثین من غیره. و صوم یوم من رمضان افضل من ثلاثین من شهر حرام وفي الحدیث من صام ثلاثة ایام من شهر حرام الخمس والجمعة والسبت کتب الله له بکل یوم عبادة تسعمائة عام و في الخبر، اذ کان النصف من شعبان فلاصوم حتی رمضان، ولهذا یستحب ان یفطر قبل رمضان ایاماً، فان وصل شعبان برمضان فجائز فعل ذالک.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**رسول الله ﷺ مرة و فصل مرارا كثيرة، ولايجوزان يقصد استقبال رمضان بيومين او ثلاثة الا ان يوافق ورداله، و كره بعض الصحابة ان يصام رجب كله حتى لايضاهي بشهر رمضان، فالاشهر الفاضلة، ذولحجة و المحرم ورجب، وشعبان، ولاشهر الحرم، ذولقعدة و ذلحجة والمحرم ورجب، و احد فردو ثلاثة سود، و افضلها ذولحجة لان فيه الحج والايام المعلومات والمعدودات و ذوالقعدة من الاشهرو الحرام و هو من اشهرو الحج. وشوال من اشهر الحج وليس من الحرم ، ورجب ليامن اشهر الحج و في الخبر. مامن ايام العمل فيهن افضل واحب الى الله وعزوجل من ايام عشرذي الحجة ان صوم يوم منه يعدل صيام ستة و قيام ليلة منه تعدل قيام ليلة القدر قيل ولا الجهاد في سبيل الله تعالى قال: ولا الجهاد في سبيل الله عزوجل الامن عقرجواده و اهريق دمه. و اماما بتكررفي الشهر. فاول الشهر و اوسط و اخره، ووسطه الايام البيض و هي الثالث عشر والرابع عشر، والخامس عشر، و اما في الاسبوع، فالاثنين والخميس والجمعة فهذه هي الايام الفاضلةفيستحب فيها الصيام و تكثير الخيرات لتضاحف اجورها ببركة هذه الاوقات الخ.**[207]

د امام غزالي رحمه الله له دغه عبارت څخه دا خبره معلومه سوه چي، ښې ورځي په کال کي هم سته، په مياشت کي هم سته او په هفته کي هم سته. په کال کي د رمضان مبارک له مياشتي سېوا د عرفات، عاشورا اولس ورځي اولى د ذى الحجة، لس ورځي اولى د محرم او ټوله مياشت د حرم، داټوله اوقات فاضله دي..... او په

[207] - احياالعلوم الدين : ١ جلد، ٣٠٤ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشت کي اوله حصه، مابین او اخر دی او په مابین کي د میاشتي، دیارلسم، څوارلسم، پنځه لسم دي او په هفته کي دوشنبه، پنځشنبه او جمعه ده. دغه ټول ي ښې او د نیکۍ ورځي دي.

په دې ورځو کي روژه نیول ډېر خیراتونه کول مستحب دي او ثواب یې دوه برابره دی په برکت د دغه وختونو.

هم داسي شېخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله په الغنیة کي د ښو ورځو اړوند ځانګړی باب ایښی دی چي وایي: په ځینو وختونو او شپو کي عبادت ډېر فضیلت لري نسبت نورو ورځو ته.[208]

علامه سیوطي رحمه الله وایي:

(کان ﷺ **یخص الاوقات الفاضلة بزیادة فعل البر فیها و کثرة الخیرات**)[209]

**ژباړه**: یعني نبي علیه السلام خاص والی، ښې ورځي او بهتره اوقات په ښه کولو لکه: عبادت، تلاوت او په ډېرښت د خیراتونو سره.

په هر صورت موږ دا منو چي هم ښه وخت سته او هم ښه شپه او ورځ سته، په دې کي خیرات او نور عبادات ډېر فضلت لري نسبت نورو ورځو ته.

---

208 - الغنیة : ۲ جلد، ۳۳۸ مخ.
209 - الحاوي للفتاوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **قوله**/ دمونه، تعويذونه او څاښتونه جايز او روا بولو.................

موږ اهل سنت والجماعت دمونه، تعويذونه او څاښتونه روااو جائز بولو. موږ دا عقيده لرو چي، په دې کي الله تعالی ﷻ هغه تاثيرات ايښي دي چي، د ډيرو پوهانو عقلونه يې ادراک نسي کولای. ډېر پوهانو طبيبانو د ښه فکر کولو وروسته دا فکر کړی دی چي، د دې حکمت او تاثير په وجود اقرار وکړئ.

د مونه، تعويذونه او څاښتونه منل عقيده ورته درلودل، يو مشروع عمل دی. منونکي ته يې مشرک ويل راته سخته ګناه معلوميږي. زه به په دې اړوند اول د امراضو تقسيم او بيان وکړم او بيابه دا خبره معلومه کړو چي ايا دا زموږ په اسلام دين کي مشروعيت لري او کنه.

### **د مرض اقسام.**

د مرض اړوند بحث د طيب په کتابونو کي په ښه وضاحت سره سوی دی مګر زه د خپل بيان د وضاحت په خاطر يو څو اقسام بيانوم تر څو مقصد اصلي واضح سي.

په اول کي مرض پر دوه ډوله دی. (مرض قلبي) دوهم (مرض ابدان) که د زړه مرض دی او که د بدن، د دغو دواړو اړوند په قرآن کريم کي بيان سوی دی.

د مرض قلبي يا د زړه د مرض اړوند الله تعالی ﷻ وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا)[210]

(وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ مُعْرِضُونَ (48) وَإِنْ يَكُنْ لَهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ (49) أَفِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَمِ ارْتَابُوا أَمْ يَخَافُونَ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُ بَلْ أُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (50))[211]

(وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْكَافِرُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَذَا مَثَلًا (31))[212]

کله چي موږ دغه اياتونه د مذهب د تفسيرونو په رڼا کي و ګورو دا به راته معلومه سي، چي په دې کي د زړه و امراضوته اشاره ده، هغه حسد، شبهه، او شک وي او که د کافرانو د مسلمانانو او اسلام اړوند وي.

هم داسي شهوت، نفسي غوښتني هم د زړه په ناروغي کي ياديږي و دې ډول ته هم په قرآن کريم کي اشاره سوې ده. الله تعالی ﷻ فرمايي:

(يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ ۚ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ)[213]

او د مرض ابدان په اړه الله تعالی ﷻ فر مائلي دي.

( لَّيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ )[214]

---

[210] - البقره : ١٠ اية.
[211] - سورة النور : ٥٠-٤٨ اية.
[212] - المدثر : ٣١ اية
[213] - الحزاب :٣١ اية.
[214] - النور : ٦١ اية.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ (184))[215]

(فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ) [216]

(وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ) الية[217]

په دې اياتونو کې و هغه امراضوته اشاره سوې ده چې د بدن سره تعلق لري. د بدن امراض پر دوه ډوله دي.

**اول**: ډول هغه امراض دي چې طبيب او دوا ته اړتيا نه لري لکه: تنده، ، لوږه، ګرمي، يخني او داسې نور.

**دوهم**: ډول هغه ناروغۍ دي چې طيب او د واته اړتيا لري. دا خبره معلومه ده چې الله تعالى ﷻ چې هره ناروغي پيدا کړې ده، د هغې ناروغۍ لپاره يې دوا هم پيدا کړې ده، نو څکه نبي عليه السلام فرمايي:

(**لكل داءٍ دواء فاذا اصيب دواء برا باذن الله عزوجل** )[218]

الله تعالى ﷻ د زړه د مرضونو لپاره دوا، خپل اتباع يعني د الله تعالى ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د حکم منل ورته دوا ګرځولې ده او د بدن د امراضو لپاره يې هم دوا پيدا کړې ده خو د بدن امراض کله په ظاهري دواسره ښه کيږي. د ظاهري دواو څينو

---

[215] - البقره : ١٨٤ اية.
[216] - البقره : ١٩٦ اية.
[217] - المائدة : ٦ اية .
[218] - مسلم : حديث نمبر ٢٢٠٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکو ته په احاديثو کي هم اشاره سوې ده لکه عسل، خرما ، سيه دانه، هم داسي نور.

کلې ظاهري امراض يعني د بدن امراض په ظاهري دوا سره شفاء نسي موندلای. د هغوی لپاره هغه دوا ده چي، ډېر ژر تاثير وکړي خو په دې شرط سره يې کوي لکه د الله تعالی ﷻ او د هغه د رسول ﷺ پر اقوالو باور کول او دا يقين کول چي په دې اسماء الله تعالی ﷻ او قرآني آيتونو کي، الله تعالی ﷻ زما د مرض شفا ايښې ده. که چيري اخلاص او ربنتونولي نه وی فکر نه کوم چي تاثير يې کړي وای. دا هغه دوا ده چي د طبيب او حکمت پوهانو نه ده کشف کړي بلکي دا هغه دواده چي الله تعالی ﷻ له لوري و خپل رسول ﷺ ته الهام سوې ده چي، موږ تعبير په دم تعويذ او ځابنت ځني کوو.

زه به د هر يوه لپاره په خپل ځای کي دلائل را نقل کوم چي، دا داسي دوا ده چي، په سند رسيدلي ده شرک بلکي د شرک له بوی هم پاکه ده خو کوښښ به کوم چي اول به د احاديثونو د جواز دلائل رانقل کړم خو که ما د خپل علم د نشتون له خاطره په احاديثو کي دليل نه کی پيدا بيا په کوښښ کوم چي د مذهب د کتابونو څخه به يو څه را اخلم او دا ټول دا الله تعالی ﷻ په توفيق سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دم د جواز دلائل .

دم هغه موثر علاج دی چي، د انسان په عقل پوري ارتباط نه لري او نه په عقل کشف سوی دی. په ظاهري دواکي چي کوم اثرات پراته دي، هغه داسي نه دي چي، دوا خپله تاثير كوونكې ده. بلكي په دواكي تاثير د دوا خالق الله تعالى ﷻ اېښى دى. دا د الله تعالى ﷻ حكمت دى چي، د ځينو امراضو لپاره يې دفع په ظاهري بوټو كي اېښې ده خو ځيني بيا داسي دي چي په ظاهري د واسره هم جوړيږي مګر كله كله كار و نه كړي ځكه؛ د الله تعالى ﷻ اراده نه وي سوې خو په هم داسي حالاتو كي الله ﷻ خپلو بنده ګانو ته نور علاجونه هم د خپل نبي په زريعه ورښوولي دي هغه لكه دم (رقيه).

زموږ اهل سنت والجماعت دا عقيده ده هغه دمونه چي، د شرک الفاظ په کي نه وي، د جهالت د وخت نه وي، يوازي هغه دم چي د الله تعالى ﷻ په كلام او د نبي عليه السلام نه رانقل سوي وي، هغه خامخا مؤثر دي.كه موږ د احاديثو كتابونه و ګورو خامخا به داسي باب راته مخكي سي چي هغه به خاص سوى د نبي عليه السلام د دمونو لپاره وي چي، هم به نبي عليه السلام دم كړى وي او هم به يې نورو ته د دم لار ښونه كړې وي خو زه د دم اړوند يو څو احاديث را نقلوم د نومونې لپاره.

(**عن انس رضي الله عنه ان النبي ﷺ رخص في الرقية من الحمه والعين والنملة** .[219]

[219] - مسلم : حديث نمبر ٢١٩٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**﴿عن عائشة قالت امرني النبي ﷺ اوامران نسترقي من العين﴾**[220]

**﴿عن ام سلمة ان النبي ﷺ راى في بيتها جارية في وجهها سفعة فقال استرقوالها فان بها النظرة ﴾**[221]

**﴿من حديث علي قال، قال رسول الله ﷺ خيرالدواء القران ﴾**[222]

**﴿عن عبيدالله بن مسعود قال بينا رسول الله ﷺيصلي اذا سجد فلدعته عقرب في اصبعه فانصرف رسول الله ﷺ و قال لعن الله لعقرب ماتدع نبيا ولا غيره قال ثم دعا باناء فيه ماء وملح فجعل يضع موضع اللدغة في الماء والملح و يقراء قل هوالله احد، والمعوذ تين حتى سكنت ﴾**[223]

هم داسي نور احاديث سته چي ټوله د دم د جواز لپاره دليل جوړېدای سي. دغه اړوند احاديث په دين اسلام کي خورا ډېر دي. فکر نه کوم چي يو مسلم د مسلمانانو دي، د دم له جواز څخه منکر سي. بلکي ټوله مسلمانان دم مني او د دم پر موثريت باندي اقرار کوي خو د اختلاف ټکی د تعويذ او څابنت موضوع ده. د دوی اړوند به دا ووايو چي څابنت او تعويذ دواړه مشروع عمل دی. د اثبات لپاره يې زموږ په مذهب کي شواهد موجود دی

220 - بخاري : حديث نمبر ۵۷۳۸.
221 - بخاري : حديث نمبر ۵۷۳۹ .
222 - ابن ماجه : حديث نمبر ۳۵۰۱.
223 - ابن ابي شيبه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تعویذ او څانبت د جواز دلایل

دا خبره ټولوته معلوه ده چي، دم (رقیه) جائز دی مګر د تعویذ اړوند ځیني کسان خبري کوي چي، تعویذ ثبوت نه لري بلکي تعویذ شرک دی. داسي خبري کول لوی جهالت دی.زموږ په اسلام او دین کي هره هغه خبره او کار د جواز حکم لري چي، صحابه کرامو کړی وي. دا خبره و هر هغه چاته معلومه ده چي لږ غوندي په احادیثو پوهیږي.

**(عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ قال اذا فزغ احد کم في النوم فلیقل اعوذ بکلمات الله التامات من غضبه و عقابه و شرعباده و من همزات الشیاطین و ان یحضرون فانمالن تضره و کان عبدالله ابن عمر یعلمها من بلغ من ولده و من لم یبلغ منهم کتبها في صک ثم علقها في عنقه. رواه ابوداؤد و الترمذي.** [224]

عمرو د شعیب زوی د خپل پلار څخه روایت کوي چي نبي علیه السلام و فرمایل: که له تاسو څخه یو څوک په خوب کي و بېریږي دغه کلمات دي ووایي: (**اعوذ بکلمات الله التامات من عضبه و عقابه و شرعباده و من همزات الشیاطین**)

عبدالله ابن عمرو به دغه کلمیات و غټانو ته وربنول چي پیاد یې کړي او که ماشوم و، وه هغه ته یې پر یوه کاغذ ولیکئ هغه ته یې ورپه غاړ کړئ.

[224] - مشکوة شریف : ۲۱۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ان قيصر ملك الروم كتب الى عمر بن الخطاب ﷺ ان بي صداعافارفده الى شياء من لدواء فانفذاليه قلنسوة فكان اذا وضعها على راسه سكن مابه من الصداع و اذا رفعها عن راسه عادالصداع اليه فتعجب من ذالک فامر بفتحهاففشت فاذافيها رقعة مكتوب فيما ( بسم الله الرحمن الرحيم ) فقال ما اكرم هذا الدين و اعذه حيث شفافي الله تعالى باية واحدة فاسلم و حسن السلام )**[225]

**ژباړه**: قیصر دروم پاچا حضرت عمر ﷺ ته یو خط واستاوه چي، زما پر سر درد کیږي که ستاسو سره یوه دوا وي هغه را واسته وه. حضرت عمر ﷺ یوه رخچینه ور واستول. پاچا دروم به چي کله دغه رخچینه پر سر کړل درد به يې ارام سو او چي ایسته به يې کړل بیرته به يې درد را وګرځېده. پاچا په تعجب کي سو چي په دې کي بیا څه راز دی. پاچا د معلوماتو د حاصلولو لپاره رخچینه څیري کړه، که ګوري په رخچینه کي یوه د کاغذ ټوټه ده . په هغه لیک سو ی دی. (بسم الله الرحمن الرحیم) پاچا چي دا ولیدل نو وې ویل: څو نه ښه او عزت مند دین دی چي، په یوه ایات سره الله تعالی ﷻ ماته صحت راکړ. نو اسلام يې قبول کړ مسلمان سو.

په (بذل المجهود ) کي وايي( **و من لطائف هذه الاسماء ما صرح به جماعة من شراح الصحيحين و غير هما من ارباب الطبقات بان هذه الاسماء اذا كتبت و علقت على**

225 - المواهب اللدنية : ٣ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**محموم كانت من انفع الرقي و جربت فكانت كذالک و قال عاصم انها رقية العقرب اى مع البسملة** )[226]

په سنن الكبرى للبهيقي كي وايي:

( **ان سعيد بن جبير كان يكتب لابنه المعاذة** )[227]

په تيسر العزيز الحميد د توحيد په شرح كي وايي:

( **اعلم ان العلماء من الصحابة والتابعين فمن بعد هم اختلفوافي جواز تعليق التمائم التي من القران و اسمائه الله و صفاته فقال طائفة يجوز ذالک و هو قول عبدالله بن عمروبن العاص و غيره و هو ظاهر ماروي عن عائشة وبه قال ابو جعفر الباقر و احمد في رواية و حملواالحديث على التمائم الشركية اماالتي فيما القران و اسماء الله و صفاته فكالرقية بذالک قلت و هوظاهر اختيار ابن القيم اه** )[228]

په تفسير روح البيان كي وايي:

( **و اما تعليق التعويذ و هوالدعاء المجرب او الاية المجربة او بعض اسماء الله لدفع البلاء فلاباس به** )[229]

په فتواى عالمګيري كي وايي:

---

[226] - بذالمجهود : ١ جلد، ٢ مخ.
[227] - تيسيرالعزيز ١٣٧ مخ.
[228] - روح البيان : ٤ جلد، ٢٩٥ مخ.
[229] - عالمګيري : ٥ جلد، ٣٥٦ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**( ولاباس بتعليق التعويذ و لكن ينزعه عندالخلا والقربان كذا في الغرائب )**[230]

او په ردالمختار کي وايي:

**( الظاهران المراد بها مايسمونه الان بالهيكل والحمائلي المشتمل على الايات القرانية فاذا كان غلافه منفصلا عنه كالمشمع و نحوه جاز د خول الخلاء به و مسه و حمله للجنب و يستفاد منه ان ماكتب من الايات بنية الدعاء والثناء لايخرج عن كونه قرانا بخلاف قراءته بهذه النية فالنية تعمل في تغير المنطوق ) ( لا المكتوب )**[231]

دغه ټوله احاديث مبارکان اودمذهب کتابونه په دې اقرار کوي چي تعويذ يو مشروع او رواشي دی خو هغه تعويذونه چي، د اسلام د دائرې څخه وتلي نه وي او هغه چي د اسلام په شرائطو نه وي برابر. هغه مورږ هم حرام او ناروا بولو خو مطلق تعويذ حرام او شرک بلل ډېر لوی جهالت دی. ستاسو د معلوماتو لپاره د يو څو کتابونو نومان ذکر کوم چي، دغه ټولو کتابونو تعويذ روا بللی دی، تاسو کولای سئ چي، هغه کتابونه هم مطالعه کړئ.

(معين الحکام: ۲۳۰ مخ ).( فتاوی رشيديه : ۲۱۵ مخ )الفتاوی الحديثية: ۸۸ مخ

(فتاوای عزيزية : ۹ مخ)(. فيض الباري : ۳ جلد ، ۲۷۷مخ )(عرف شزي : ۱۱۳ مخ

---

230 - ردالمختار : ۱ جلد، ۱۱۹ مخ. بيروت چاپ.

231 - سنن الکبری : ۹ جلد، ۳۵۱ مخ. بيروت چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احسن الفتاوی: ۸ جلد، **۲۵۵**مخ.

هم دغسي د مذهب ډېر نور کتابونه سته چي، تعويذ يو مشروع او روا عمل بولي خو په دغه مخکنی بيان کي نه يوازي دا خبره واضح سوه چي، تعويذ جائز دی. په دې وروسته بيان کي به دا خبره هم واضح سي چي، د څابنت څښل هم يو جائز کار دی. په دې خبره باندي د مذهب په کتابونوکي ښه په وضاحت بيان سوی دی خو زه دلته يو څه بيان را نقل کوم.

علامه شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په اشعة اللمعات کي وايي:

(آز مجاهد آمده که باک نیست که نوشته شود قرآن و ششته شود نوشاهیده شود آب آن بمریض.)[232]

حضرت مولانا مفتي سيد عبدالرحيم لاجپوري رحمه الله په فتاو ای رحميه کي وايي: دغه څابنت او تعويذ د سحر لپاره دی. دی مبارک اول داسي وايي وروسته څابنت او تعويذ ورښيي.

(آيات ذيل لكهه كر مريض كي گلې مين ڈال دين اور پاني پر پڑه كر اس كو پلا دين)[233]

---

[232] - اشعة اللمعات : ۳جلد، ٦۰٤ مخ.

[233] - فتاوی رحيمة : ۱۰ جلد، ۱۰۳۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژباړه**: یعني دغه وروسته ایات نوشته که، په غاړه یې که او یا پر ابو یې ووایه په وې ځبنه. هم دغسي زموږ د مذهب ټوله کتابونه په دې قائل دی چي، تعویذ ، ځانښت او دمونه ټوله جائز دي . په دې کي چي کوم تاثیرات پراته دي، د هغو پېژندل و انسان ته ستونځمنه خبره ده ځکه؛ دا یو داسي طیب او دوا ده چي، د انسان د لوري نه ده کشف سوې بلکي د مونه، ځانښتونه او تعویذونه ټوله یا د قرآن په ایا تونو سره دي او یا په هغه دعاګانو سره وي چي، نبي عليه‌السلام خپل امت ته ورښودلي دي. داسي هم نه ده چي موږ هر تعویذ ، ځانښت او دم منو بلکي موږ هغه منو چي د اسلام د قانون سره سم وي. په مذهب د اهل سنت والجماعت کي ورته ځانګړي شرائط اېښودل سوي وي. که هغه شرائط په کښي نه وي، هغه زموږ د عقیدې مخالف دي او سحر ورته وایي.

**اول**: **شرط**، د الله تعالی ﷻ په نومونو او صفاتو به وي.

**دوهم**: **شرط**، په عربي خط به وي او که په بل خط وي، په معنی بې څوک پوهیږي.

**دریم**: **شرط**، تعویذ ورکونکی او ا خیستونکی به دا عقیده لري چي، دا یو سبب دی، په اصل کي الله تعالی ﷻ نفع رسوونکی دی.

**څلروم**: **شرط**، د قرآن کریم الفاظ به چپه نه کاږي.

**پنځم**: **شرط**، په تعویذ ، ځانښت او دم کي به داسي کلمات نه وي چي، هغه د شرک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تعویذ یا څاښت کي د ابجد ، یا حساب توري راسي هغه پروا نه لري ځکه، دا هم هر یو لفظ یې ځان ته معنی لري.[234]

**یادونه**: د څاښت، تعویذ لپاره ډېر ښکاره دلا ئل په کتاب د (مصنف ابن ابي شیبه) کي راغلي دي. د ښه معلوماتو لپاره د دغه کتاب **۳۹** مخ وګورئ.

[234] - احسن الفتاوی : ۸ جلد، ۲۵۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قوله: ښه کار به ښه بولو او بد کار به بد بولو..................

د محترم حاجي اغاصاحب رحمه الله د رسالې پوره متن داسې دی.

(او دا خبره دې معلومه وي چې، منکر او بدکار چې، له هره ښکه او ښه کاره سره ملګری سي هغه ښه نه دی خو لیکن ښه کار به ښه بولو او بد کار به بد بولو. ښه کار به کوو او بد کار به نه کوو.

د محترم حاجي اغاصاحب رحمه الله دغه عبارت د هغه سوالونو جواب دی کوم چې، نن ورځ ځیني کسانو د ځان د دفاع په خاطر په لاس کې نولی دی. دغه کسان غواړي په دې فلمه خپل ځان هدف ته ورسوي خو الحمد لله په هر وخت کې الله تعالی جل جلاله د دې امت په مابین کې داسې شېخان مبارکان پیدا کړي دي لکه محترم حاجي اغا صاحب مبارک رحمه الله، تر څو د دې بدبخته انسانانو د کلو، کلو خوارۍ په یوه خبره سره په ابو لاهو کړي. دغه کسان وایي:

موږ ځکه زیارت نه منو چې خلک په زیارتونو کې شرک کوي. موږ ځکه مولد شریف نه منو چې، داخو بدعات دي او خلک ډولونه په کښې وهي. نور ګناهونه هم په کښې کوي یا د اسقاط دور نه منو ځکه؛ داحیله ده خو په شرائطو نه ده برابره او د ښو شپو خیراتونه نه منو ځکه؛ په دې کې تعین راځي هم داسې نور ي ډول ډول خبري کوي چې، په دې خبرو سره له اصله منکر سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محترم حاجي اغاصاحب رحمه الله د دوی د ټولو سوالونو او شبهو جواب په یوه خبره کړی دی، هغه دا چي، ښه ښه دي او بد بدي، موږ یې ښه منو او له بدو څخه مخ اړوو. موږ کله دا ویلي دي چي، ځیني جهال کسان چي دغه بد کارونه کوي هغه که په زیارت کي وي، که پهمولدشریف کي وي، که د اسقاط په دور کي وي او یا په نورو ښو شپو کي وي دا ښه عملونه دي. بلکي موږ یې هر وخت د مخنیوي کوښښ کړی دی او کوو یې.

که په حقیقت باندي سترګي پټي نه کړو، داسي وګورو چي، داکوم عقائد چي په دې رساله کي ذکر سوي دي بېله دې چي ځیني جهالو څه کارونه قصداً یا رسماً ورسره یوځای کړي دي. دا یوه خبره د شریعت خلاف ده او که نه ده.

الحمد لله موږ ټوله په دې عقیده یو چي، اسلام سپېڅلی دین دی، د یو څو جهالو په افعالو سره نه سي ورکېدای او په هروخت کي چي د الله تعالی جل جلاله له لوري حکم انسان ته سوی دی، هغه انسان ته سوی دی چي عقل ولري. کوم څوک چي عقل و لري هغه ښه او بد سره بېلولای سي، نو موږ هم الحمدلله انسانان یو، عقلونه لرو د ښه او بد توپیر کولای سو. په دغه ټولو کي ښه، ښه بولو او بد، بد بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قوله**: دعا کول وروسته تر فرضو او سنتو په هیئت اجتماعي سره مستحب ده بدعت نه ده.

دعا کول وروسته تر لمانځه هغه فرض لمونځ وي او که سنت وي، په هیات اجتماعي سره مستحب کار دی. دغه دعا زموږ د اهل سنت والجماعت په مذهب کې د فرض، واجب او سنت حکم نه لري بلکي د فرض لمانځه وروسته سنت ده او د سنت لمانځه وروسته مستحب کار دی.

که چا وکړه موږ يې ښه بولو او که يې ونه کړه بد پر نه وايو. داسي هم نه ده لکه دا ځيني کسان چي، و دغسي دعا وو ته د بدعت په سترګه ګوري ځکه؛ بدعت نه ده. د دې ډول دعاګانو لپاره دلائل سته. اصل ور لره سته د مذهب ډېرو علماء کرامو داسي دعا مستحب بللې ده.

او کوم احاديث خاص د داسي دعا اړوند نه دی راغلي خو که سته، په هغه احاديثکي د سند اړوند خبري سوي دي مګر موږ داوايو، که په يو حديث کي خبري وسي په هغه حديث سره د شي استحباب ثابتيږي. که چيري دغه حديث موضوعي نه و. په فتح القدير کي وايي:

(والاستحباب يثبت بالضعيف غير الموضوعي)

**ژباړه**: يعني په ضعيف حديث سره د شي استحبا ب ثابتې د ای سي که چيري موضوعي نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځينو حديثونو کي داسي راغلي دي چي، نبي عليه السلام لمونځ وکړ او بيا يې په هيات اجتماعي سره دعا وکړه. په فتواى رحيميه کي په حواله د ابن ابي شيبه وايي:

**(عن اسودالعامري عن ابيه قال صليت مع رسول الله ﷺ الفجر فلما سلم انحرف ورفع يديه و دعا الحديث)**[235]

**ژباړه**: يعني اسود العامري د خپل پلار څخه روايت کوی. ما د نبي عليه السلام سره د سهار لمونځ وکړ. کله چي يې مخ راواړاوه لاسونه يې پورته کړل دعايې وکړه.

هم داسي نور احاديث سته چي، د فرضي لمانځه وروسته نبي عليه السلام دعا کړې او يا صحابه کرام يې و داسي دعا کولو ته متوجه کړي و و. البته دا خبره چي، هغه لمونځ چي، تر فرض وروسته سنت ولري او يا د فرضي لمانځه وروسته په هيات اجتماعي سره امام او مقتديان دعا کوي دا موږ مستحب بولو او که څوک التزام پر کوي (يعني تاريک يې ګناه ګار بولي) بيا موږ هم د بدعت په سترګه ورته ګورو په داسي صورت کي بيا پرېښودل ښه دي. خو زموږ د افغانستا علماء کرام ټوله په دې عقيده دي چي، دا دعا مستحب کار دی ځکه؛ زموږ د مذهب ستر علماء کرامو دا دعا مستحب بللې ده. په فيض الباري شرح د بخاري کي وايي:

**(و اعلم ان الادعية بهذا الهيئته الكذائية لم تثبت عن النبي ﷺ ولم يثبت عند رفع الايدى دبر الصلوات في الدعوات الا اقل قليل و مع ذالک وردت فيه تر**

235 - فتاوى رحمية : ٦ جلد، ٦٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غيبات قولية والافي مثله ان لايحكم عليه بالبدعة فهذه الادعية في زما ننا اليست بسنة بمعنى ثبوتها عن النبي ﷺ وليست ببدعة بمعزي عدم اصلها في الدين.** [236]

په هم دغه کتاب کي په باب الدعا کي وايي:

**(لاريب ان الادعية دبر الصلوات قد تواترت تواترلا ينكر. اما رفع الايدي فثبت بعد النافلة مرة او مرتين فالحق بها الفقهاء المكتوبة ايضاً و ذهب ابن تيمة ، و ابن القيم الى كونه بدعة. بمعنى ان المواظبة على امر لم يثبت عن النبي ﷺ الامرة او مرتين كيف هى ؟ فتلك هى الشاكلة في جميع المستحبات فانها تثبت طوراً فطوراً ثم الامة تواظب عليها نعم نحكم بكونها بدعة اذا افضى الامر الى النكير على من تركها.**

علامة يوصف البنوري رحمه الله په معارف السنن کي وايي:

**(الدعاء للامام والماموم و المنفرد ، مستحب عقب كل صلواة بلاخلاف و يقول و يستحب ان يقبل على الناس فيدعوا)** [237]

په هر صورت دعا کول په هيئت اجتماعيه سره زموږ په مذهب کي وروسته تر فرضو او سنتو مستحب کار دی او په دې اړوند د مذهب حنفي په معتبره کتابونو کي د

[236] - فيض الباري : ٢ جلد، ١٦٧ مخ.
[237] - معرف السنن : ٣جلد، ١٢٣ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استحباب لپاره د لائل موجود د ي خو افسوس دی نن ورځ د هغه کسانو پر حال چي، پر یو داسي مستحب کار باندي يې د مسلمانانو پر لويه حصه انسانانو باندي د مشرک او بد عت تور لګوي. د مسلمانانو د طرقي او د خلاصون لپاره دغه فرعي مسائلو څېړنه نه ده بلکي طرقي او خلاصون لپاره نوري اصلي لاري سته چي هغه پر مخ بوزي.

اه! موږ که د دې فرعي مسائلو لپاره دلائل راوړي او تشريح کړي مو دي، دا په دې معنی چي، زموږ د عامو مسلمانانو ورونو څخه اصلي لاره ورکه نه سي. تش په نامه صوفيان او ملايان نن ورځ په ټولنه کي خورا ډير تر سترګو کيږي. که چيري د حقيقي صوفيانو او ملايانو له لوري دغسي بيانونه او وضاحت د مذهب نه وي. دا ليري نه ده چي، په يوه کور کي به مقليد او غير مقليد پر يوې کاسه سره ناست وي. په دې بيانونو کي کېدای سي په ټولنه کي اصلاح راسي او د الله تعالی ﷻ څخه د اصلاح اميد لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قوله**: زموږ د افغانستان علماء او مشائخ او ټول عام خلك نه وهابيان دي، نه سلفيان دي او نه اهل احاديث او نه پنج پيريان دي او نه بريلويان دي. بلکي ټول اهل سنت والجماعت دي پرمذهب د حضرت امام اعظم مبارك رحمه الله باندي دي.

د محترم حاجي اغاصاحب رحمه الله له دې وينا څخه مقصد دا دی چي، د افغانستان اکثره مسلمانان اهل سنت والجماعت دي او پر مذهب د امام عظم ابو حنيفه رحمه الله باندي دي. دا خبره لير نه ده کېدای سي ځيني کسان وهابي، سلفي، بر ېلوي مذهبه او يا نوري عقيدې ولري خو هغه کسان چي دا عقائد ولري په دومره لويه ټولنه کي پر نيست حساب دي

که موږ د افغانستان د علماء کرامو او مشايخو کرامو سوانح وګورو، دابه راته څرګنده سي چي، د افغانستان په هيواد يا ټولنه کي اهل سنت والجماعت او احناف تېر سوي دي.

پر دې سر بېره په ټوله بر صغير کي مسلمانان د امام اعظم صاحب رحمه الله پر مذهب باندي وو او د ټولو عقيده د اهل سنت والجماعت وه خو په برصغير کي د دغه اختلافاتو فتنه هغه وخت پيدا سوه کوم وخت چي په هندوستان کي د انګرېز جنګ د ماتي سره مامخ سو او په افغانستان کي ټوله احناف وه خو هغه وخت چي روس پر افغانستان ناروا يرغل وکړ، په دې وخت کي د اختلاف مذهب لپاره دو ې لاري خلاصي سوې. يوه د ځينو عربي ممالکو خيريه مؤسساتو او ټولنو وه او بله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو هجرت بهر ته و. په دې وخت کې د ګوتو په شمېر کسان د نورو د عقیدو تر تاثیر لاندې راغلل.

دا طبعي خبره ده هر څوک چې په کوم مذهب وي هغه د خپل مذهب لپاره تبلیغ کوي خو د دې فرقو لپاره هم دا مهم ه وه چې خپل پیروان ډېر کړي . دغه فرقو و خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره مالي سرچینې په د باندنیو هیوادونو کې اېښې وې. د دغو هیوادو لپاره دا مهمه وه چې مسلمانان هیڅ کله هم په ظاهري جنګ کې ماته نه مني او نه ماتیږي خو که په فکري جنګ اخته سي کېدای سي موږ خپلو اهدافو ته ورسېږو. په هم دې خاطر دغو هیوادو و دغو فرقوته فوراً ډېر مالي امکانات برابر کړل.

محترم حاجي اغاصاحب رحمه الله دا فرقې جلاجلا په نامه یادې کړې دي. په هم دې خاطر زه هم د هرې فرقې اړوند جلا جلا بحث ایږدم تر څو د دوی عقائد او مؤسس تټوله واضح سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فریقه وهابیه یا وهابیت:

دغه ډله منسوب ده، شیخ محمد بن عبدالوهاب نجدي ته. په همدې خاطر دغه ډله د وهابیه په نامه یاده سوه ځکه؛ د دې ډلي اول مؤسس هم دغه محمد بن عبدالوه اب نجدي دی.

### د محمدبن عبدالوهاب لنډه پېژندنه

محمد بن عبدالوهاب نجدي په **۱۱۱۱** یا **۱۱۱۵** ه ـ کي د عینة په ښار کي زېږېدلی دی. عینة ښار د ریاض په شمال کي پر **۱۵** کیلومتری فاصله باندي پروت دی او نجدي په دې خاطر ورته وایي چي د ده دغه نوي عقائد د نجد په ښار کي ښکاره سول او د محمد بن عبدالوهاب پلار په عینة کي قاضي و.

محمد له کوچني والي څخه د تفسیر، حدیث او عقائدو د کتابونو له مطالعاتو سره مینه درلوده. حنبلي فقه یې پر پلار او نورو علماؤ وویل:

محمد بن عبدالوهاب له نجدڅخه بصرې ته تللی و او هلته یې په بصره کي د خلکو له ډیرو اعمالو سره مخالفت پیل کړ خو بصریانو له خپله ښاره وشاړه

له بصرې څخه یې قصد د (زبیر) د ښار په لوري وکړ. په لاره کي د لوږې، ګرمی او تندي سره مخامخ سو. نژدې و چي ومري خو د (زبیر) یو استوګن یې مرسته وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبه او خوراک يې ورکړ. د ځان سره يې پر آس سپور کړ و (زبير) ته يې ورساوه او له دې ښاره (احساء) ته او بيا (حريمله) ته ولاړ.

دا مهال **۱۱۳۹** ه. يا **۱۱۴۹** ه. کال و. او پلار يې (شيخ عبدالوهاب) له عينيه څخه (حريملة) ته راغلی و. (محمد) پر پلار سبقان شروع کړل. په دې دوران کې، محمد د نجد د خلکو پر عقائدو اعتراضونه شروع کړل. د ده او د پلار تر مابين په دې مسائلو سره سخت اختلاف واقع سو. دغه اختلاف څو کاله دوام پيدا کړ تر هغه دا اختلاف و چې، پلاري يې په **۱۱۵۳** هـ کال کې وفات سو. [238]

محمد د پلار تر وفات وروسته د خپلو عقائدو په خپرولو او د خلکو د مذهبي اعمالو د يوې برخې په انتقاد لاس پورې کړ او د حريملة يو شمېر خلکو يې ملاتړ وکړ او دعوت يې مشهور سو. نوموړی له دې ښاره (عينة) ته ولاړ. په هغه وخت کې د (عينة) حکيم او امير عثمان بن حمد و.

عثمان بن حمد د محمد بن عبدالوهاب په راتلو ډېر خوښ سو. د ده يې ډېر احترام وکړ. د عثمان په زړه کې دا خبره ګرځېده چې د ده سره به کومک کوي. کله چې دی د عثمان په اراده پوه سو.په مقابل کې يې دا ورته وويل: چې ټوله (نجد) به د (عثمان) اطاعت ته راوبولم.

[238] - الوسي د نجد تاريخ : ۱۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمد د دعوت خبره د (احساء) امیر ته ورسېده. امیر احساء (عثمان) ته لیک واستاوه چي، محمد د ځان سره مه ساته . د هغه عقائد سم نه دي. کله چي عثمان ته د امیر لیک ورسېده، عثمان محمد را وغوښت دایې ورته وویل: زه نسم کولای چي ستاسو همکاري وکړم. محمد په ځواب کي ورته وویل: ایاته دانه خوښه وې چي ټوله (نجد) ستاسو اطاعت وکړي.؟ خو عثمان دا خبره نه منل. له (عنیة) څخه یې وشاړه.

محمد په ۱۱۶۰ ه. کي له (عینة) څخه وروسته (درعیة) ته ولاړی. درعیة د نجد یو مشهور ښار دی. په درعیة کي امیر محمد بن سعود و. هغه د محمد په لیدو خوشحاله سو. خپله محمد بن سعود د محمد ډېر اعزاز وکړ او د همکارۍ ژمنه یې ورکړ. په همدې توګه د محمد او محمد بن سعود تر مابین خورا کلکي اړیکي پیدا سوې.

محمد له وخت څخه په استفاده خپل دعوت شروع کړ. چاچي به یې دعوت نه مانه، نو د کفر او شرک فتوای به یې پرلګول او د جنګي کافر په حیث به یې ور سره چلند کاوه. د دوی مال یې غنیمت باله او ښځو یې ورته د مینځو حیثیت درلود. په نجد، یمن، حجاز او د عراق او سوریې په شاوخوا کي یې ډیري عملي جګړې وکړې. ډېر مسلمانان یې په شهادتونو ورسول. د مسلمانانو مالونه یې لوټ کړل. محمدبن عبدالوهاب په ۱۲۰۶ ه. کي یا په ۱۲۱۰ه کي وفات سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده تر وفات وروسته د ده پیروانو د ده دعقائدو د ترویج لپاره فعالیت شروع کړ. په دې فعالیت سره په اسلامي ټولنه کي یوه نوې فریقه یا ډله رامنځ ته سوه. د دې ډلي مشرانو د نړۍ د سترو قدرتونو لکه: انګلستان، په ځیر د مسلمانانو ضد او دښمن غربي هیواد سره د مسلمانانو د ټکولو په نیت، (هغه چي د دوی عقائد یې نه منل) د دوستۍ لاس یو کړ او د مسلمانانو مرکزي خلافت (خلافت عثماني) یې له منځه یو وړ او ټول عربي هیوادونه یې د وخت د سترو غربي اوشرقي کفري طاقتونو تر منځ ووېشل او کله چي، دا فرقه پر مکه مکرمه او مدینه منوره برلاسې سوه، په دې وخت کي ټول اسلامي اثار یې له منځه یووړل. د هغو له جملې څخه دغه مبارک اثارو و.

۱ د حضرت محمد ﷺ د پیدا ښت ځای.

۲ د حضرت بي بي خدیجې رضي الله عنها کور.

۳ د مکې دحجر په کوڅه کي د حضرت فاطمې رضي الله عنها د زېږېدلو ځای.

۴د مکې په مسفله کي د حضرت حمزه رضي الله عنه کور.

۵ په احد کښې د حضرت حمزه رضي الله عنه قبر.

۶ د صفا غره سره د ارقم رضي الله عنه کور.

۷ د بدر د غزا د شهیدانو قبرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ د احد د شهیدانو قبرونه.

۹ د نبي علیه‌السلام د پلار عبدالله قبر.

۱۰ د امام حسین او امام حسن رضی‌الله‌عنهما د زیږدلو ځایونه.

۱۱ د عامه صحابه کرامو قبرونه اوارول.

۱۲ د نبي علیه‌السلام د مور او نورو ښځو قبرونه اوارول.

۱۳ د امام زین العابدین، امام باقر. امام جعفر صادق، امام مالک رحم الله علیه اجمعین د قبرونو اوارول.

۱۴ په مکه مکرمه کي د اسلامي کتابخانې سوځول.

۱۵ په مدینه منوره کي اسلامي کتابخانه سوځول.

په دې کتابخانو کي پخواني او وروستني کتابونه موجود وو. دمکې معظمې په کتابخانه کي (۶۰۰۰۰) زره کتابونه موجود وو. یوازي ۴۰ زره قلمي نسخې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غیر مقلدین په هندوستان کې.**

غیر مقلدین یا وهابیان په عربو کې موجود وو. د مسلمانانو په مابین کې دا یوه داسې فرقه وه چې، په ظاهره مسلمانان وو خو باطني مرض یې ډېر بد او له اضرارو ډک و، هغه داچې تل به دوی د مسلمانانو سره په مذهبي اختلافاتو اخته وو.
مسلمانانو به د دې اختلافاتو له امله وخت نه سوای پیدا کولای چې، په اتفاق سې خپل اصلي دوښمن انګلستان ته ماته ورکړي او یا بیرته خپل اسلامي خلافت جوړ کړي. کفري نړۍ تل دا کوښښ کوي چې، دا اختلافات، یعني د مسلمانانو تر منځ اختلافات تازه وساتي ځکه؛ دوی ته دا معلومه سوې وه چې، پر مسلمانانو د بریالیتوب وسیله هم دغه لار ده.

کله چې، په هندوستان کې د انګریزانو په مقابل کې جهاد پیل سو. په لږ وخت کې انګرېزان له سختې ماتې سره مخ سول. مسلمانان ورځ تر بلې مخ په طرقې تلل. دوی اخر مجبور سول چې، دا فیصله وکړي چې، باید د مسلمانانو اتحاد له منځه یوسي. د دې مقصد لپاره یې ځیني کسان په مالي مرسته د ځان تابع کړل. هغه مسلمانانو هم خورا په اخلاص سره د خپلو بادارانو خدمت وکړ. په لږ وخت کې مسلمانان تیت او فرق سول.

په هندوستان کې د علماء کرامو لپاره دوه نومونه وو. (اهل القرآن) (اهل حدث) د اهل القرآن و مفسرینو ته او حافظانو ته و یل کېدل او له اهل حدیثو څخه محدثین مراد دېدل. خو کله چې، د انګریزانو له خوا د غېرمقلدینو فتنه جوړه سوه، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کي د اهل القران څخه منکرين   اهل حديث او اهل احديث څخه منکرين فقه مراد ېدل.

په هر صورت، هغه کسان چي په تاريخ هند کي په علماء سوء سره ياد ېدل او ياد سوي دي. هغه غير مقلديين دي. د دوی مشرانو د حديث په نامه د فقه څخه انکار وکړ او د ائمه اربعه په مابين کي په اختلافي مسائلو باندي يا په هغه مسائلو باندي چي، هغه ترک سوي وي، دعمل کولو او د هغو د مروج کولو کوښښ يې وکړ او هغه مسائلي يې تختـه مشق جوړي کړې چي، هغه د خېرالقرون څخه بيا تر هغه وختـه پوري اتفاقي وې او د دې ثمره دا سوه چي، خلک د سلفو څخه بد ګمانه سوه. په دې سره د مسلمانانو په مابين کي خورا ډېر اختلافات راغلل. مخکي به مسلمانان د انګرېزانو د حکومت محاکمو ته نه تلل. کله چي دا اختلافات جوړ سول، نو خلک به د خپلو فيصلو لپاره د انګرېزانو محاکمو   ته تلل او دا د انګرېزاانو لپاره لويه لاسته را وړنه وه. کله چي انګرېزانو د دغه تش په نامه مسلمانانو خدمات وليدل نو مالي کومکونه يې خورا ډېر ورسره وکړل. ښه ښه القاب يې ورته ورکړل. د انګرېزانو مخلصينو چي په دې دور کي اوسېدل خپله ښکمرغي بلل او د حنفي مذهب ختمول يې د برطانيې لپاره د حکومت بقابلل.

دا بيان خورا اوږد دی ما صرف دخلاصې په ډول له (کتاب، علماء هند کي شاندار ماضي) څخه راواخيست، نو راځئ چي نوري خبري د دوی يعني د غېر مقليدينو له مشرانو واورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نواب صدیق حسن خان وایي:

(د ټولو مسلمانانو لپاره د انګرېز د حکومت مخالفت کول نا جائز کار دی) [239]

بل ځای بیا داسي لیکي:

(فساد ته د جهاد نوم ورکول او د برطانیې د حکومت ختمول او دغه امن چي اوس سته ختمول دا ډېره د نادانۍ وړ خبره ده. [240]

مولوي حسین بټالوي د برطانوي حکومت په وفاداري کي د جهاد په منسوخه کېدو کي یوه رساله (الاقتصاد في مسائل الجهاد) لیکلې ده. په دې رساله کي دی وای:

(د دغه مسئلې او دلائلو څخه دا ښکاره معلومېږي چي په هندوستان باندي که څه هم د عیسایانو حکومت دی مګر بیا هم دغه هندوستان دارالاسلام دی. د دې حکومت سره هیچاته روانه ده چي جنګ وکړي. هغه که د عربو وي او که د عجمو وي، که حضرت سلطان شاه ایران وي او که امیرخراسان وي. [241]

مولوي عبدالمجید خادم، د مولوي حسین بټالوي اړوند وایي:

---

[239] - ترجمان وهابیة : ٤٨ مخ.
[240] - ترجمان وهابیة : ٨ مخ.
[241] - اقتصاد في الاجهاد : ٥٤ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(مولوي حسين بټالوي د اشاعة السنت په ذريعه سره د اهل حديث ډېر خدمت کړی دی او د ده په خاطر د دغه ډلي نوم اهل حديث سو او ده د انګرېز د حکومت ډېر خدمت کړی دی په هم دې خاطر يې لوی انعامات هم تر لاسه کړی دي.[242]

مولوي حسين بټالوي بل ځای ليکي:

(د برطانوي انګرېز حکومت خلاف جنګ کول هيڅ روا نه دی)[243]

مولوي حسين بټالوي ليکي:

(د اهل ا حديث په دې خبره باندي دليل دادی چي، دوی د انګرېز (برطانوي) حکومت خېر خواهان دي چي، اهل حديث د انګرېز حکومت بقا په دې خاطر غواړي، تر څو دوی د يو اسلامي حکومت په سايه کي ژوند وکړي.[244]

که موږ د هندوستان تاريخ وګورو، دا به ضرور معلومه سي چي، په هندوستان کي اول جنګ د جهاد په نامه عامه مسلمانانو شروع کړ او د مسلمانانو په څنګ کي د هندوستان هغه اوسېدونکي چي هندوان وو (بودايان، بت پرسته) هغوی جنګ د وطن د دفاع په خاطر کاوه خو کله چي، انګرېز ته دا معلومه سول چي، نور پر مختګ په دې ملک کي راته ګران دی، نو د خپل شيطانت او مفکورې پربنياد يې په مسلمانانو کي فرقې او ډلي پيدا کړې.

---

[242] - اهل حديث اور انگرېز ۸۷ مخ بحواله سريرت تنائي، ۳۷۲ مخ.
[243] - الاقتصاد : ۱۹ مخ.
[244] - اشاعت السنة : ۸ جلد، ۲۶۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسان چې د انګرېز په لومه کې ګیر نه سول او نه یې د انګرېز و ظاهري عېش او عشرت ته سرنګون سول، په خپل جهاد او مبارزه یې لاس پوري کړ او دوام یې ورکړ، هغه د ځیني مسلمانانو او انګرېزانو له خوا په باغیانو و نومول سول لکه: نواب حسن خان په خپله فتوا کي وايي:

(جهاد او مذهبي جنګ کول د شریعت په اعتبار سره منع دی او کوم خلک چې د دوی په خلاف اسلحه را اخلي او مذهبي جنګ کول غواړي، دغه ټوله باغیان دي او په دغه باندي د اهل حدیث د علماء کرامو اتفاق دی.[245]

او کوم کسان چې د انګرېز په همایت کي ولاړ وو، هغه ته به د انګرېزي حکومت له خوا تحفې او نوري مرستي ورکول کېدلې او ډول ډول القاب به ورته کارول کېدل.

د غېر مقلدینو مشهور عالم، مولانا مسعود عالم ندوی لیکي:

(معتبر راویانو بیان دی چي، د (رسالة الاقتصاد في الاجهاد) په بدله کي مولوي حسین بټالوي ته د انګرېز له خوا ډېري جائزې ورکول سوې)[246]

د نواب حسن خان واده د (بهوپال) دوالیه سره د انګرېزانو په خوښه وکړل سو. دی خپله وايي: (کله چي دریم کال تېر سو نو ماته درئسي معظمې سره په واده کول سره عزت ورسېدی او دغه کار د لوړ حکومت په اطلاع او د انګرېزي حکومت په خوښه

245 - ترجمان وهابیة : ٦١ مخ.
246 - دهلي اسلامي تحریک : ٢٩ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره تر سره سو او دغه کار او علاقه غزت منده او ګټوره وه او کالنی څلرویشت زره روپۍ او خطابونه را کول سول.[247]

په هر صورت په هندوستان کي د غیر مقلدینو پیدا کېدل د انګرېز د حکومت پیدا وار دی تر څو مسلمانان په یوه او بل نامه او مختلفو عقیدو په نامه یو په بل سره و جنګوي تر څو مسلمانان خپل د کور د ننه هم په کراره نه سي.

د ښه معلوماتو لپاره په تفصیل سره د بیان دغه کتابونه وګورئ.

۱ علماء هند کي شاندرا ماضي. اردو.

۲ علماء حق کي مجاهدانه کارنامې. اردو.

۳ نقش حیات. اردو.

۴ غیر مقلدین د احادیثو په رڼا کي. پښتو.

[247] - ترجمان و هابية : ۸۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غیر مقلدینو عقائد.

۱ مولوي شهود الحق وایي:

(د الله ﷻ څخه درواغ ممکن دي (العیاذ بالله) صیانت الایمان. ۲مخ

۲ مولوي حسین خان وایي:

(د انبیاء علیهم السلام څخه په د ینې احکامو ښو ولو کې هېره راځي) ردالتقلید بکتاب المجید. ۱۲مخ.

۳ اخند صدیق پشاوري د مولوي نذیر حسین شاګرد وایي:

په خاتم النبیین کې الف ولام عهدي دي، معنی یې دا جوړیږي چې نبي علیه السلام د بعضو انبیاء خاتم دی نه د ټولو) نصرالمؤ منین. **۲۱۶** مخ.

۴(هغه اجماع د ټولو امت چې موږ ته یې سند معلوم نه وي شرعي حجت نه ده) معیار حق. **۱۲۱** مخ.

۵ (د مجتهد د شرعي قیاس اعتبار نسته) معیار حق. **۷۹** مخ.

۶ هغه کسان چې د حضرت مهدي سره محبت لري، که د مهدي تر ظهور له مخه مړه سي. چې کله مهدي ظهور وکړي، دغه کسان به بیر ته را ژوندي کیږي تر څو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهدي د فیض ځخه برخمن سي. وروسته به بیا مړه کیږي) دراسات اللبیب. ۲۱۹ مخ.

۷ (د نبي علیه‌السلام عصمت عقلي دی او د مهدي عصمت نقلي دی) دراسات اللبیب. ۲۱۳ مخ.

۸ (څلور سره امامان تقلید کونکي مشرکین دي. اعتصام السنة. ۸ مخ.

۹ په اسلام کي د غلطۍ او بدۍ ریښه فقهه ده) ترجمان وهابیه) ۳۵ مخ.

۱۰ شل رکعته تراویح کول بدعت او ګمراهي ده او حضرت عمر رضی‌الله‌عنه په دغه کي بدعت کوونکی دی (العیاذ بالله) کتاب الانتقاد الرجیح. ۶۲ مخ.

۱۱ (په عالم برزخ کي د نبي علیه‌السلام د امت په اعمالو باندي علم راتلل بدهي البطلان او په دغه عقیده درلودل موجب د ښکاره شرک دی) منجي المؤمنین. ۱۲۶ مخ.

۱۲ د نبي علیه‌السلام ټوله اعمال ښه نه وه او د ده لپاره عصمت مطلق ثابت نه دی) کتاب تحقیق الکلام في مسئلة البیعة والالهام. ۴۵ مخ.

محترمو دغه مخکني عقیدې د غیر مقلدینو زموږ په مذهب کي حرام ي دي. د دغه ټولو عقیدو اړوند زموږ په مذهب کي ښه کره کره دلائل موجود دي. ان تر دې چي په ځینو خبر و یې کتابونه لیکل سوي دي. که یو لوستونکي ته په دغه عقیده کي چي د غیر مقلدینو دي ښه تحقیق ته زړه کېدی هغه دي ژر ورسي د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسجد له امام څخه دي په دې اړه پوښتنه وکړي او خبره دي له هغه سره شریکه کړي تر څو تاسو ته خپله اسلامي عقیده او خپله مذهبي عقیده هغه عقیده چي زموږ پلار او نیکه پر روان وو در وښیي تر څو په زړه کي مو شبهه پیدا نه سي. د غېر مقلدېنو یواځي دغه عقاید نه دي بلکي د دوی په عقیدو کي داسي خراپات سته چي د هغو په رانقل کولو سړي ته شرم دریږي چي، دوی ځان ته مسلمانان هم وایي خو بیا همدغسي عقیدې لري. دا صرف یو نمونه د دوی د عقیدو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وهابیانو نومان او ډلې

لکه څرنګه چې زموږ د عوامو په منځ کې یوازې په وهابې سره شهرت لري نو همدارنګه، زموږ د ځینو علماء کرامو په منځ کې بیا په غیر مقلد یدینو سره شهرت لري خو اصلي خبره دا ده چې، دوی لکه غله خپل نوم د وخت سره بدلوي، په کوم نامه سره چې، دوی خپل پر مخ تلګ کتور وبولي هغه نوم پرځان ږدي.

همداسې دوی په خپل منځ کې څو فرقې دي چې، یوه فرقه د بلې فرقې نه داسې بد وړي چې، هیڅ کله خپل لمونځ یو په بل پسې جائز نه بولي.

د دوی اولنی نوم (موحد) و. نورو خلکو دوی ته (واهبې) وویل: وروسته دوی خپل موحد نوم پرېښود، نوم یې (محمدي) کښېښود.[248]

بیا د هغه وروسته دوی خپل نوم اهل حدیث کښېښود. دغه نوم یې د انګرېزي حکومت څخه منظور کړی. کله چې په هندوستان کې د انګرېزانو حکم راني وه، زه د هغې عاریضې یو څو کرښې رانقل کوم، کوم چې دوی د انګرېز حکومت ته د دغه نامه اړوند لیکلې وه. عاریضه دا وه.

جناب سیکریټري حکومت په خدمت کې:

---

[248] - الارشاد الهي سبيل الرشاد : ١٣ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ستاسو په خدمت کي د ليکولو اجازت او معافي غوښتونکی يم. ما په ۱۸۸۶ م کي په خپله ماهانه (مياشتنۍ) رساله کي اشاعت السنه کي ليکلي وه چي وهابي چي، عموماً د باغي او د نمک حرامه په معنی کي کارول کيږي.

د هغه اسلامي فرقې د نامه په توګه کار ول کيږي چي هغه تل د انګريزيانو د حکومت خېر خواه او نمک حلاله پاته سوې ده او د غه خبره هم ثابته سوې ده.په سر کاري خطونو کي د غه خبريه هم منل سوي ده چي، مور په پوره احترام سره د حکومت څخه عاريضه کونکي يو چي، هغه په سرکاري سطحه دغه نوم منسوخه کړي او د دغه نوم د نه کارولو حکم صادر کړي او دوی د اهل حديث په نامه سره د نومولو حکم صادر کړي.

څه وخت چي دغه عريضه د انګريز حکومت ومنله دوی په جواب کي د شکريه په خاطر داسي جواب ورواستاوه.

سر چارلس ايجي سن لارډ ډفرن. ليډي ډفرن.

وهابي نوم منسوخه کولو او د اهل حديث په نوم سره نومولو سره ستاسو نه يو جهان مننه.[249]

بلکي په دې کي مختلفي ډلي ستـه د هغو نومانو څخه ځيني داسي دي.

[249] - اشاعة السنة ۹ جلد، ۲۵۳ مخ. نمبر ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلفي، غرباء اهل حديث، جماعت عرباء اهل حديث، تنظيم روپړ، كانګريس اهل حديث او په (رساله اهل حديث) كي چي د مولوي عبدالوهاب په نامه ده ليكي، په **۱۹۷۲** سنه كي غېر مقلدين په شپاړس **۱۶** فرقو كي تقسيم سوي دي چي يو څو يې دغه فرقې دي.

**اول**: جماعت غرباء اهل حديث، دا په ۱۳۱۳ هـ كي جوړه سوه.

**دوهم**: كانفرس اهل حديث. دا په ۱۳۲۸ هـ سنه كي جوړه سوه.

**دريمه**: فرقه ثنائيه: دا په ۱۳۳۸ هـ كي جوړه سوه.

**څلورم**: اميرشريعت صوبه بهار. دا په ۱۳۳۹ هـ كي جوړه سوه.

**پنځم**: فرقه حنفيه عطائيه دا په ۱۳۳۹ هـ كي جوړه سوه.

**شپږم**: فرقه شريفه: دا په ۱۳۴۹ سنه كي جوړه سوه.

**اووم**: جمعيت اهل حديث: دا په ۱۳۷۰ هـ كي جوړه سوه.

**اتم**: د محي الدين لكنوي فرقه: دا په ۱۳۷۸ سنه كي جوړه سوه.

د دې وروسته نوري هم په كښې پيدا سوي دي خو دغه يې تر يو حده مشهوري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امت مسلمه فتوی د وهابیانو په حق کې

هر هغه کس چې دغه ډول عقائد يې وي هغه بدعتي فاسق، فاجر، ګمراه او بعضي کفري عقائدو درلودونکی او د زنادقو دي. تنبيه الوهابين، ۴۹۹ مخ چاپ امير محمد کتب خانه.

دغه کسان په مځکه کې فساد خپروونکي دي او دوخت په امام باندي واجب ده چې، د دغه فتنې څخه خلک وژغوري او دغه مفسدين او زنادقه دي پوه کړي که چيري نه پوهيږي نو له دوی څخه دي مځکه پاکه کړي.

**( فيجب على ولاة الامور ضاعف الله لهم الا جور ردع هذالضال المضل بشديد النكال و لو بالقتل ،مفتي عبدالرحمن بن عبدالله الحنفي المفتي في المكة المكرمة )**
**تنبيع الوهابين ۵۰۰** مخ .

د اهل السنت والجماعت څخه خارج دي. د دغه سړي سره ولاړه او ناسته کول د هغو سره نکاح کول يا په نکاح کې ورکول او د هغوی مسجدونو ته تلل او هغه وخپلو مسجدونو ته پريښبول ممنوع دی او دغه باندي اجماع د اهل السنت والجماعت ده.
يو څه حوالې زه ذکر کوم ټوله اقوال په تنبيه الوهابين په ۴۵۹ مخ کې و ګورئ.

په يوه حديث شريف کې راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(**عن انس ان الله اختارني و اختارلي اصحابي و اصهاري و سيا٫تي قوم يسبوهم و ينقصونهم فلاتجالسو هم والاتشاربو هم ولا تواكلهم و لاتناكحو هم .) الجامع الكبير للسيوطي**).

علامه شاه عبدالعزيز د دې ایت، (**و دوالوتد هن فيد هنون**) کي فرمايي:

(در حقائق تنزيل مذكور است كه سهل بن عبدالله تسري فرموده اند كه، **من صح ايمانه و اخلص توحيده فانه لايو النس الى المبتدع و لايجا لسه ولايو اكله ولايشاربه و يظهر من نفسه العداوة و من واهن بمبتدع سلبه الله حلاوة ايمان و من تحبب الى مبتدع نزع الله نور ايمانه من قلبه** )فتح الرحمن .

او په دوی پسي ګر سره لمونځ نه دی صحیح.

( **و اماالاقتداء بالشافعي فلاباس به اذالم يعتصب اى لم يبغض للحنفي** ) **فتاوى عالمګير**.

دوی دي اهل سنت والجماعت و خپولو مساجدو ته نه پرېږدي. كه چيري راسي نو باسي دې.

په مؤطا امام محمد کي راغلي دي چي، عمر رضي الله عنه یوه ښځه چي په جزام ناروغي سره اخته وه، په مکه باندي د طواف کولو څخه منعه کړه او ورته وې ویل په کور کي کښېنه او خلکو ته تکلیف مه رسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(**قال النوى: قوله ﷺ من اكل هذه الشجره يعني الثوم فلا يقربن المساجد هذا تصريح بهي من اكل و نحوه عن دخول كل مسجد و هذا مذهب العلماء الكافة**)
**شرح النووي للمسلم.**

شاه عبدالعزيز رحمه الله د دې ايت (**واصبرعلى مايقولون**) په تفسير کې وايي:

په سلفو باندې بد او رد ويل ډېر بد او د حد څخه زيات لساني تکليف رسول دی.
په اشباه کې ليکلي دي. اذيت رسوونکی دی و مسجد ته دراتګ څخه منعه کړل سي که څه هم دغه اذيت لساني وي.

**نوټ:** په دغه فتوی باندې **۴۶۶** اشخاصو علماء کرامو د عربو او اعجمو او څلورو مذاهبو علماءکرامو او مفسيرينو او پوهانو د دين او مذهب لاسليک کړی دی چې د هغوی نومان په لاندې ډول دي

| ګڼه | نوم | ګڼه | نوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | وصي احمد السني الحنفي رحمه الله | ۹۸ | محمد عبدالرشيد رحمه الله |
| ۲ | السورقي دهلي رحمه الله | ۹۹ | محمد کريم الله رحمه الله |
| ۳ | محمد عبيد الله الحسيني کانپوري رحمه الله | ۱۰۰ | احمد رحمه الله |
| ۴ | محمدشاه فتح پوري رحمه الله | ۱۰۱ | قاضي شيخ احمد دهلي رحمه الله |
| ۵ | محمد ګوهر علي رحمه الله | ۱۰۲ | محمد عبدالحق فتحپوري رحمه الله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦ | عبدالله خان رحمه الله | ١٠٣ | فقير محمد حسين رحمه الله |
| ٧ | محمد يعقوب رحمه الله | ١٠٤ | نظام الدين افغان رحمه الله |
| ٨ | محمد حبيب رحمه الله | ١٠٥ | محمد علي مدريس مسجد بنوي رحمه الله |
| ٩ | محمد محمود رحمه الله | ١٠٦ | عبدالجليل افندي مدرس رحمه الله |
| ١٠ | حضرت محمد شاه جهان رحمه الله | ١٠٧ | عبدالله بن احمد مدرس رحمه الله |
| ١١ | سيد عبدالحق رحمه الله | ١٠٨ | محمد بن عبدالله مفتي الحنابله بمكه رحمه الله |
| ١٢ | احمد شفيع رحمه الله | ١٠٩ | فصيح الدين رحمه الله |
| ١٣ | محمد عابدحسين رحمه الله | ١١٠ | محمد هدايت الله رحمه الله |
| ١٤ | سيد محمد الحنفي مدرس بالمسجد الحرام رحمه الله | ١١١ | امير محمد رحمه الله |
| ١٥ | عبدالرحمن المدرس باالمسجد الحرام رحمه الله | ١١٢ | محمد مصطفى الياس مفتي المدينة المنورة رحمه الله |
| ١٦ | عبدالرحمن بن حامد المكي المدرس رحمه الله | ١١٣ | جعفر بن اسماعيل مفتي الشافعيه بالمدينة رحمه الله |
| ١٧ | سيد عبدالرحمن رحمه الله | ١١٤ | محمد جلال الدين قاضي مدينه رحمه الله |
| ١٨ | رحمت الله مكي رحمه الله | ١١٥ | حسن بن حسين مدرس مسجد نبوي رحمه الله |
| ١٩ | مصطفى بن محمد المدرس بمكه رحمه الله | ١١٦ | السيد يوسف الغزي مدرس مدرسه محمودية رحمه الله |
| ٢٠ | محمد قطب الدين هندي رحمه الله | ١١٧ | فقير محمد حسين دهلوي رحمه الله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٢١ | | ١١٨ | محمد لطف الله رحمه الله |
| ٢٢ | محمد عادل حاكم محكمه شرع دهلي رحمه الله | ١١٩ | حسين شاه رحمه الله |
| ٢٣ | منصور احمد علي امام مسجدحوض رحمه الله | ١٢٠ | محمد شفيع رحمه الله |
| ٢٤ | قاضي احمد نصيرالدين رحمه الله | ١٢١ | عثمان خان رحمه الله |
| ٢٥ | محمد ابراهيم بن خيار مدرس رحمه الله | ١٢٢ | ولي النبي رحمه الله |
| ٢٦ | محمد علي دهلي رحمه الله | ١٢٣ | محمدحسن رامپوري رحمه الله |
| ٢٧ | محمد عمر ابن كريم الله رحمه الله | ١٢٤ | عنايت الله رحمه الله |
| ٢٨ | محمد عبدالحق رحمه الله | ١٢٥ | قادر بخش رحمه الله |
| ٢٩ | سيد محمد نذير رحمه الله | ١٢٦ | محمد اعجاز حسين رحمه الله |
| ٣٠ | محمد اسماعيل دهلوي رحمه الله | ١٢٧ | محمد عبدالحق خان رحمه الله |
| ٣١ | محمد عبدالغفورخان رحمه الله | ١٢٨ | سيد محمد رحمه الله |
| ٣٢ | محمد قاسم رحمه الله | ١٢٩ | محمد فضل الرحمن رحمه الله |
| ٣٣ | الهي بخش دهلوي رحمه الله | ١٣٠ | عبدالقادر خان رحمه الله |
| ٣٤ | محمد عبدالنبي رحمه الله | ١٣١ | عبدالقادر رحمه الله |
| ٣٥ | محمد عبدالورؤف رحمه الله | ١٣٢ | محمد عبدالكريم رحمه الله |
| ٣٦ | فتح الدين رحمه الله | ١٣٣ | عبدالرحمن حنفي مفتي بمكه رحمه الله |
| ٣٧ | عبدالعزيز رحمه الله | ١٣٤ | احمد دهلان مفتي رحمه الله |
| ٣٨ | عبدالرحمن رحمه الله | ١٣٥ | عبدالغفار رحمه الله |
| ٣٩ | احمد علي رحمه الله | ١٣٦ | غلام حسين رحمه الله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۰ | محمد عبدالعزیز ﵀ | ۱۳۷ | حاجي دوست محمد ﵀ |
| ۴۱ | سعیدالرحمن ﵀ | ۱۳۸ | محمد عطاء ﵀ |
| ۴۲ | سعید احمد ﵀ | ۱۳۹ | محمد عبدالرب ﵀ |
| ۴۳ | عبدالحمید انصاري ﵀ | ۱۴۰ | الهي بخش ﵀ |
| ۴۴ | فخرالدین نورعلي ﵀ | ۱۴۱ | محمد تراب علي ﵀ |
| ۴۵ | شهاب الدین ﵀ | ۱۴۲ | محمد نور الحسن ﵀ |
| ۴۶ | قاضي سعدالدین کندهاري ﵀ | ۱۴۳ | احمد علي سهارنپوري ﵀ |
| ۴۷ | مفتي محمد سعید کندهاري ﵀ | ۱۴۴ | وحید محمد ﵀ |
| ۴۸ | مفتي غلام محمد امین افغاني ﵀ | ۱۴۵ | قادر بخش ﵀ |
| ۴۹ | ادریس محمد ﵀ | ۱۴۶ | عبدالرب پنجابي ﵀ |
| ۵۰ | فیض احمد ﵀ | ۱۴۷ | عبدالرحمن ملتاني ﵀ |
| ۵۱ | عبدالرحمان کابل ﵀ | ۱۴۸ | غلام نبي ملتاني ﵀ |
| ۵۲ | انشاء الله افغاني ﵀ | ۱۴۹ | قادر بخش ملتاني ﵀ |
| ۵۳ | محمد علي دهلوي ﵀ | ۱۵۰ | فتح محمد ملتاني ﵀ |
| ۵۴ | محمد کریم الله ﵀ | ۱۵۱ | غلام غوث ﵀ |
| ۵۵ | محمد عاثم ﵀ | ۱۵۲ | نور احمد لاهوري ﵀ |
| ۵۶ | میر محبوب علي ﵀ | ۱۵۳ | نور محمد ملتاني ﵀ |
| ۵۷ | محمد مسعود ﵀ | ۱۵۴ | خدابخش ملتاني ﵀ |
| ۵۸ | محمدیوسف دهلوي ﵀ | ۱۵۵ | محمد عبدالرحمن ﵀ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵۹ | خواجه ضیاءالدین هندي رحمه الله | ۱۵۶ | مولانا عبدالعزیز رحمه الله |
| ۶۰ | احمد الدین رحمه الله | ۱۵۷ | عبدالواحد رحمه الله |
| ۶۱ | محمود سلطان رحمه الله | ۱۵۸ | غیاث الدین رحمه الله |
| ۶۲ | عبدالله مسکین رحمه الله | ۱۵۹ | محمد علاء الدین رحمه الله |
| ۶۳ | خان محمد رحمه الله | ۱۶۰ | محمد امیرالدین رحمه الله |
| ۶۴ | فتح محمد رحمه الله | ۱۶۱ | محمد امیرالدین رحمه الله |
| ۶۵ | سید محمد اسماعیل رحمه الله | ۱۶۲ | فخر محمد محسن رحمه الله |
| ۶۶ | محمدمحمدامین ګلاب رحمه الله | ۱۶۳ | احمد المکي مدرسه سلیمانیه رحمه الله |
| ۶۷ | محسن علي رحمه الله | ۱۶۴ | حسین بن ابراهیم المالکیه ببلدالله المجید رحمه الله |
| ۶۸ | محمدپسهدار خان رحمه الله | ۱۶۵ | عبدالرحمن بن محمد مراد رحمه الله |
| ۶۹ | حافظ محمد عبدالحق رحمه الله | ۱۶۶ | محمد برکات الشامعي رحمه الله |
| ۷۰ | محمد عبدالکریم رحمه الله | ۱۶۷ | عبدالله رحمه الله |
| ۷۱ | حاجي محمد رحمه الله | ۱۶۸ | فقیر ضیاء الدین رحمه الله |
| ۷۲ | محمد غریب الدین رحمه الله | ۱۶۹ | لطف الرحمن رحمه الله |
| ۷۳ | احمد رحمه الله | ۱۷۰ | ضیاء الله رحمه الله |
| ۷۴ | عبدالحکیم رحمه الله | ۱۷۱ | احمد یار رحمه الله |
| ۷۵ | محمد فیض الله رحمه الله | ۱۷۲ | عبدالحکیم صدیقي رحمه الله |
| ۷۶ | عبدالرشید رحمه الله | ۱۷۳ | محمد مهدي الفرنجي رحمه الله |
| ۷۷ | احمد حسین رحمه الله | ۱۷۴ | علامة الله رحمه الله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٧٨ | مجددالدين رحمه الله | ١٧٥ | نورغلي رضوي رحمه الله |
| ٧٩ | نورالنبي رحمه الله | ١٧٦ | عبدالرحمن رحمه الله |
| ٨٠ | عبدالجبار مفتي حنابلة بمدينة رحمه الله | ١٧٧ | محمد ارشاد حسين رحمه الله |
| ٨١ | حافظ فتح محمد الفاروقي دهلوي رحمه الله | ١٧٨ | عبدالعلي رحمه الله |
| ٨٢ | فضل الله رحمه الله | ١٧٩ | محمد عبداللطيف رحمه الله |
| ٨٣ | عمادلاسلام رحمه الله | ١٨٠ | محمد علي رحمه الله |
| ٨٤ | قاضي احمد رحمه الله | ١٨١ | محمد عبدالواحد رحمه الله |
| ٨٥ | محمد عبدالصمد رحمه الله | ١٨٢ | سيف الدين خان رحمه الله |
| ٨٦ | حافظ محمد كشميري رحمه الله | ١٨٣ | سيد حسن علي رحمه الله |
| ٨٧ | حسن شاه بتالوي رحمه الله | ١٨٤ | محمد عبدالمجيد رحمه الله |
| ٨٨ | حافظ عزيزالله رحمه الله | ١٨٥ | محمد انعام الله احمد خان رحمه الله |
| ٨٩ | رحيم بخش رحمه الله | ١٨٦ | سيد محمد يعقوب پنجابي رحمه الله |
| ٩٠ | ابرار علي رحمه الله | ١٨٧ | محمد حسين خان رحمه الله |
| ٩١ | محمد اكرم رحمه الله | ١٨٨ | حبيب الله قاضي الندوة رحمه الله |
| ٩٢ | محمد فضل الرحمن رحمه الله | ١٨٩ | رضي الدين رحمه الله |
| ٩٣ | محمد عبدالرحمن رحمه الله | ١٩٠ | برهان الحق رحمه الله |
| ٩٤ | شيخ لعل محمد رحمه الله | ١٩١ | محمد سليم الزمان رحمه الله |
| ٩٥ | فقير عبدالله رحمه الله | ١٩٢ | نصيرالدين احمد رحمه الله |
| ٩٦ | محمد ابوسعيد رحمه الله. | ١٩٣ | قاسم علي رحمه الله. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹۷ | سکندر علي خان رحمه الله | | |

د هم دغه علماء کرامو سر بيره دوخت او زمان د ام ت محمدي مشهوره علماء کرام چي، په عربو او اعجمو کي پېژندل سوي ښېرې دي، دهغو لاسليکونه هم پرسته لکه:

د حضرت علامة مولانا يعقوب نانوتوي رحمه الله.

❁حضرت مفتي علامة رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله.

❁حضرت مولانا شيخ سيد احمد رحمه الله.

❁حضرت مولانا محمد الحسن رحمه الله.

❁حضرت مولانا محمد محمود رحمه الله.

❁حضرت مولانا شيخ عبدالحکيم رحمه الله ولد حضرت مولانا علامة شيخ عبدالحی الکنوي رحمه الله.

❁حضرت مولانا شيخ فقه العصر صاحب تحقيق و تدقيق عبدالحی لکنوی رحمه الله.

❁حضرت مولاناشيخ خليل احمد سهارنپوري رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه فتوی په کتاب (تنبیة الوهابین) کي موجود ده. په صفحه ۴۶۶ کي. د دې کتاب (تنبیة الوهابین) لیکوال حضرت مولانا عبدالعلي رحمه الله دی چي په دارالعلوم د یوبند کي مدرس دی او حنفي فقه پر مشهوره کتاب شرح الوقایة باندي حاشیة هم کړې ده. د ښه معلوماتو لپاره تنبیة الوهابین کتاب وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غېر مقلدېنو په اړوند د دارلعلوم دیوبند نظر

د اسلامي نړۍ د مشهوره د ېني مرکز (مدرسه دارالعلوم دیو بند) له لوري یوه رساله د (خطیبه صدارت) په نامه په دې روان کلونو کې خپره سوه. په دې رساله کې د موجوده غېرمقلدېنو په اړوند د دارلعلوم دیو بند نظر څرګند سوی دی. دا رساله په اصل کې د دیوبند د مدرسې د مشر د هغې وینا لیکلې متن دی چې د یادي فتنې (غېر مقلدېنو) په اړه یې یوه رابلل سوي کنفرانس ته کړې وه چې، د یادي فتنې (د غېرمقلدېنو) په اړه یې یو رابلل سوي کنفرانس ته کړې وه. د همدې رسالې په یوه برخه کې داسې یوه د فهم وړ وینا موجوده ده چې، زه به هغه ستاسو حضور ته وړاندې کړم.

د لوړ عزت ددلودونکو درنو علماء کرامو، د دغې ناستې غرض ، هدف، ضرورت او اهمیت تاسو ټولو ته ښه معلوم دی لکه څرنګه چې، په بلنلیک کې ورته اشاره سوې وه چې، دغه ناسته په دغه هدف او موخه جوړه سوې ده چې، زموږ غېرمقلدېن ورو ڼه چې، ځانونو ته اهل حدیث وایي، په بېلابېلو سیمو کې د دوی له لوري څخه چې کوم حالت منځ ته راځي پر هغه باندې غور او فکروسې او د راکابو کولو تدارک لارې چارې یې باید تنظیم سي.

صورت حال د ادی چې د تیرو څو کلونو راهیسې غېر مقل دېنو د خپلو هڅو د لېوندیتوب تر څنګ جارحانه رویه هم غوره کړې ده. دوی په ب ېلا بېلو سیمو کې په حدیث باندې د عمل کولو په نامه د ساده عوامو یا د هغه عصري زده کړو زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکو مسلمانان څخه لاره ورکوي یا ورکه کړې ده چې، د دیني علومو څخه ناخبره او هغوی ته داسي تاثر ورکوي چې، ګواکي په حدیث ولاړ ټلبندي د عمل کولو وړ یوازي او یوازي د دوی په برخه دی او پاته نورو ټولو خلکو احادیث پرې ایښي دي.

دا په دې معنی چې ټول هغه مسلمانان چې په دین باندي د عمل کولو یا قرآن کریم او احادیثو باندي د پوهېدلو لپاره د حضرات آئمه کرامو څخه لارښوونه تر لاسه کوي او په هغوی کي د یوه امام تقلید کوي، دغو ټولو ګواکي احادیث پرې ایښي دي ګمراهان دي او باطل پرست دي.

اوس خو خبره تر دې اندازې رارسېدلې ده چې غیرمقلدین بېله تکلیفه پر امامانو مبارکانو د تهمت ژبه اوږدوي په خاص ډول امام ابوحنیفه رحمه الله د دوی د بې ادبۍ او سپین سترګۍ نښان وي او دې خبري ته خو د بد بختۍ انتها ویل کیږي چې، په دوی کي یو شمېر داسي هم سته چې، د صحابه کرامو په سپېڅلي شان کي د سپین سترګۍ او بې ادبۍ کي بې ځایه جرئت کوي.

د دوی د دغي جارحانه رویې په نتیجه کي په ډېرو سیمو کي خپل منځي شخړي رامنځ ته سوي دي او په ځینو سیمو کي د یو شمېر مسلمانانو د خپلو مخکنیو علماء کرامو او اسلافو سره په تړاو او تعلق اغېز من سو ي هم د ي. په ځانګړي ډول په هغو سیمو کي دا فتنه زیاته ده چې، ډېر او سېدونکي یې په خلیجي هیوادونو کي مزدوري کوي. په ځینو سیمو کي یې خپل نمائنده ګان په تنخوا ټاکلي دي چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پرله پسې ډول د دغي فتنې په خپراوي کي     ښوخت دي. خلاصه دا چي د غېر مقلدېنو فتنه په ډېره چټکيا سره خپرېږي. په دې کي شک نسته چي د حق نمائنده ګان هم په شخصي شکل د دغي فتنې پېتعقيب او مخنيوي کي بوخت دي.

لکه: دارلعلوم ديوبند ته په کله نا کله رارسېدونکو راپورونو کي چي، اندازه کېږاى سي، ياچي کله ددارلعلوم ديو بند خادمان بېلا بيلو سيموته ولاړ سي او په خپله يې وويني.

په خپله په دارالعلوم ديو بند کي د (تحفظ سنت) په نامه د څو کلونو راهسي څانګړې شعبه سته چي په کښي پر دغه موضوع باندي د طالبانو د روزني کار جاري دى او له ضرورت سره سم د هيواد په بېلابيلو سيمو کي د همدغي فتنې د مخنيوپه اړه په هڅو کي برخه اخلي.لکن اوس د حالاتو غوښتنه داده چي، دغه کار د پخوا په نسبت بايد په ډېر منظم او پرله پسې شکل تر سره سي او يوه مناسبه کاري لايحه ورته  جوړه سي.د دې رسالې په يوه برخه کي د (غېرمقل     يدېنو د جارحانه افکارو لنډيز) تر عنوان لاندي داسي راغلي دي.

که چيري تاسو د غېرمقلدېنو کتابونو ته يوه لنډه کتنه وکړئ او د هغې په رڼا کي د هغوى افکار رالنډ کړ ئ. نو يو ډېر دردوونکى انځور او حالت به راڅرګند سي په لنډه توګه يې وړاندي کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ غیر مقلدین د اصحابو کرامو په اړه د جمهور امت خلاف نظر لري. حضرات صحابه کرام حجت نه مني بلکي د هغوی په اړه نامناسب تعبیرات استعمالوي د دوی د علماوو، عادي خبره او عادت دی تر دې اندازې چي، خلفاي راشدین او نور اکابرین او فقیه صحابه کرام په اړه د کتاب او سنت سره نابلدتیا د نصوصو خلاف عمل په غټو غټو مسائلو کي تېروتنه او په قهر کي غلط ه فتوای ور کول او داسي نور تهمتونه او دبې ادبۍ ځخه ډک الفاظ د غیر مقلدینو په کتابونو کي عام دي.

۲ غیر مقلدین د اجماع پر خلاف لاره غوره کوي.

۳ دغه خلک د سلف صالحینو بلکي په احادیثو ثابت د قرآني تفاسیرو په مقابله کي د خپل زړه د خوښي سره سم تفاسیروته ترجیح ورکوي.

۴ په اختلافي فروعي مسائلو کي شدت د دوی ځانګړی شعار دی په کومو مسائلو کي چي، تر یوه د زیاتو رایو او نظرونو کنجائش وي په هغوی کي یوازي یو اړخ حق او بل باطل ګڼل د دوی عادت دی. په داسي حال کي دغسي فکر ي طرز د امت د جمهورو علماوو په اند غلط دی.

۵ دغه خلک د مجتهدینو امامانو، فقهاوو، محدثینو او اولیاء کرامو په شان کي بې ادبي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سلفیان

که څه هم زموږ په ټولنه کي سلفیان خلک ځانګړې ډله بولي مګر په اصل کي سلفي او وهابي کوم توپیر نه لري. صرف دومره فرق یې سته چي، وهابي ډل مخکي پیدا سوې ده او سلفي ډله وروسته پیدا سوې ده.

دغه ډله د سید محمد رشید رضا له خوا تائسیس سوې ده، سید محمد رشید رضا په **۱۲۶۲** ه. کي په سوریه کي زېږېدلی دی او په **۱۳۵۶** ه. کي وفات سوی دی.

سید محمد رشید رضا د شیخ محمد عبده خاص شاګرد دی. سید محمد رشید رضا د سلفي په نامه عقیده او ډله په مصر کي جوړه کړه. وروسته دغي ډلي په ورو ورو له مصر څخه د باندي نورو هیوادونو ته لاره پیدا کړه.

په هندوستان کي دې ډلي ته علامه شوکاني او مولوي نظیر احمد دهلوي ډېر روشد او طرقي ورکړه. د دوی دواړو کوښښو چي، سلفي ډله په لږ وخت کي د مشهوره ډلو څخه و بلل سوه. سره له دې چي په اوسني پاکستان کي او افغانستان کي هم ځیني کسانو و دې ډلي ته لبیک وویل. په افغانستان کي د دې ډلي او پیروانو لپاره یې مولوي عبدالله نورستاني ډېر عزت لري.

سلفي ډله ځان ته یو ځانګړی هدف، عقائد، او پیرېندل ګلوي نه لري. دوی په ټولو اهدافو، عقائدواو پیرېندلګلوي په مثل د وهابیانو دی. موږ دا خ بره مخکي واضح

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې ده چې، وهابیان پر یوه قرار نه دي خپل نوم د وخت سره سم بدلوي. کله اهل احدیث ، کله وهابیان، کله بیا سلفي وي.

په هر صورت زموږ د اهل سنت والجماعت په وړاندي سلفي داسي حکم لري لکه څرنګه چې، د وهابي دی. ځکه د دوی دواړو عقائد او هدایت یو شان دی. [250]

[250] - شناخت گروها : ۳۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنج پیریان :

پنج پیر په اصل کې د پاکستان په صوبه سرحد کې په (صوابۍ) والسوالۍ کې د یوه کلي نوم دی چې اوس و هغه ډلې ته پنج پیر یان ویل کیږي کوم چې د مولوي طاهر پنج پیري له خوا ایجاد سو ې ده. مولوي طاهر پنج پیر، د پنج پیر د علاقې او سېدونکی دی، نو په همدې خاطر و دغې ډلې ته د پنج پیریانو نوم کارول کیږي.

دغه ډله په مثل د سلفي نجدي ده. دوی په ظاهره د حنفي مذهب دعوه کوي. په قرآن کریم کې ډېر لرې تاویلات کوي چې، هغه زموږ د مذهب سره سمون نه لري. د دوی عقائدو ته که سړی متوجه سي دا به معلومه سي چې، د دوی او سلفي نجدي عقیده کوم توپیر نه لري خو په ظاهره د ځینو مسائلو څخه منکر دي، هغه مسائل چې په مذهب کې ثابت دي.په فتوی فریدیه کې علامة شیخ القرآن والحدیث مفتي فرید صاحب رحمه الله داسې راپېژني. لکه دعا وروسته ترجنازې، دعا وروسته تر سنتو حیلة دورة الاسقات، توسل، په ذ وات فاصله، زیارت قبور، تعویذ، مطلقا [251] دا ټوله هغه مسائل دي چې په مذهب کې ثابت دی او دهري مسئلې لپاره موږ پوره پوره په وضاحت سره دلائل ذکر کړي دي. په هر صورت که څه هم دغه ډله په ظاهره ( حنفي مذهب دعوه کوي مګر د دوی اقوالو ته چې، وګورئ د حنفي مذهبه څخه ناخبره خلک دي ځکه حنفي مذهب ډېر پراحتیاط بنا مذهب دی. په حنفي مذهب کې پر مسلمانان د کافر حکم کول پر خپلو شرائطو بنا دی. په هره خبره سره مسلمان

[251] - فتاوی فریدیة : ۱ جلد، ۱۵۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کافر کوي. د احنافو چي وس وسي پهمسلمان د کافر کولو څخه ځان ساتي که څه هم هغه په تاویلاتو سره وي خو پنځ پیري عقیده درلودونکی شخص لپاره یوه علامه داده چي دوی ژر د کفر حکم کوي.[252]

[252] - شناخت گروها : ۳۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بریلویان

د ادیان باطل او صراط مستقیم په حواله تر ۱۲۹۷ ه. کاله پورې د برصغیر ټولو خلکو ځانونه اهل سنت والجماعت او احناف بلل او د تصوف څلور سره مشهوره طریقې، قادریه شریفه ، نقشبندیه شریفه، سهرور دیه شریفه ، او چشتیه شریفه په کښې رائج وې او خلکو په دې طریقو کې بیعت هم کاوه. خلکو په فقهي مسائلو کې د امام اوبوحنیفه رحمه الله او په عقائدو کې د امام ابوالحسن اشعري او امام اوبو منصور ماتوریدي رحمهم الله تعالی مقتدیان ګڼل.

دا طریقه تر حاجي امدادالله مهاجر مکي صاحب پورې را روانه وه. د برصغیر په خلکو کې کوم اختلاف مذهبي نه و موجود. د برصغیر ټول مسلمانان په اتفاق او اتحاد سره اوسېدل مګر کله چې په هندوستان کې سیاسي حالات راغلل، په دې وخت کې د هند مسلمانان د ترکیانو ملګري وو او انګرېز دا نه غوښتل ځکه؛ انګرېز د ترکو سره مخالف درلود.

انګرېزانو یابرطانوي حکمرانو د خپل سیاست له مخې چې مسلمانان په خپل منځ و جنګوي او انګرېز حکومت پر وکړي، دا پرېکړه چې اول باید د مسلمانانو اتحاد او اتفاق ختم کړو.د دې کار لپاره یې دا غوره و بلل چې باید د مسلمانانو په مابین کې مذهبي ډلي پیداسي. هغه و چې، انګرېز د دې لپاره د احمد رضا خان بریلوي په نوم یو شخص اماده کړ. انګرېزانو د احمد رضا خان څخه دوه موهم کارونه واخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ څنګه چې مسلمان ه ېوادونه د ترکیانو ملګري و و او له همدې خاطره پر انګرېزانو د مسلمانانو پوره رعب پروت وو.نو د همدې اتفاق او اتحاد د ختمولو په کار کښې احمد رضاخان بریلوي ډېر لوی کردار کړی دی او د (دوام المعیس) په نوم یې پر دې موضوع مستقل کتاب ولیکه چې تر کان د خلافت هیڅ حق نه لري چې پر نورو هیوادنو یې وکړي.

۲ بل احمد رضاخان د انګرېزانو لپاره دا کار وکړ چې، د وخته مسلمانان سره متحد وو هغه یې د مذهب په نامه په ډلو او فرقو سره وویشل. د د ه په کوښښ سره د هندوستان هغه مسلما نان چې یو الله ﷻ یو رسول ﷺ او یوه کتاب ته یې عقیده درلوده په ډلو ډلو سره و وېشي.[253]

قاري احمد پیلي نهیستي وایي: په ۱۲۹۷ ه.کې مولانا شاه احمد رضا خان قلم په لاس کې واخسیت کتابونه یې لیکل. فتوی وي یې ورکولې. حرمینو شریفینو ته یې سفر وکړ. د حرمینو د مشهوره علماء کرامو سره یې وکتل. د یوبند د علماء کرامو پر خلاف یې تصدیق حاصل کړ چې په نامه د (حسام الحرم) سره په کتابي بڼه سره توضیح سوه. مولانا احمد رضاخان پنځوس کاله مسلسل د غسي کو ښښ وکړ. دوه جلاجلا فکرونه یې جوړ کړل . یو د بریلوي او بل د یوبندي په نامه، د دواړو فرقو

[253] - ادیان باطله اور صراط المستقیم : ۲۹۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماء او اعوام يې په جنجال کې سره واچول او دا کار د مسلمانانو لپاره په هيڅ وخت کې مفيد نه وو.[254]

[254] - حواله سابقه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د احمد رضاخان بریلوي لنډه پېژندنه .

احمد رضا خان د تقي علي ځوی او د رضا علي لمسی دی.د هندوستان په صوبه اتراپردېش کې په ( یوپي ) کې د بریلوي په ښار کې زېږېدلی دی. احمد رضاخان بریلوي ته ځکه بریلوي وايي چې، دی په بریلوي ښار کې زېږېدلی دی. احمد رضا خان د جون په ۱۸۶۵ ع کې زېږېدلی دی. پلار يې د احمد میا نوم پرکښېښود نیکه د احمد رضا او مور د امن میا خو کله چې احمد رضاخان بریلوي لوی سو، د دخپل ځان لپاره عبدالمصطفی نو م غوره کړ.

په اول کې يې پر خپل پلار سبقان وویل. په مدرسه مصباح العلوم کې. بیا هم داسې پر نورو علماؤ باندې يې درسونه لوستل. په ۱۸۹۴ ع کې يې د اشاعت العلوم په نامه مدرسه جوړه کړه. له هغه وروسته يې په ۱۹۰۴ کې بله مدرسه په نامه د دارالعلوم منظر اسلام سره جوړه کړه. څو کاله يې د مدرسې او فتوی کار وکړ. اخر ډېر په فتوی او لیکوالي کې مشغول سو. په هم دې خاطر يې د مدرسې کار او انتظام و مولانا حامد رضا خان بریلوي ته وسپاره.

د احمد رضا خان بریلوي پیروانو دا یادونه کړې ده چې، د ده تصنیفات د ۲۰۰ بیا تر ۱۰۰۰ پورې دي مګر حقیقت دادی کومې نویشتې ته چې کتاب ویل کیږي، هغه يې تر ۱۰ زیات نه دي. تر ټولو غټ کتاب يې ( فتاوی رضویه ) دی چې، په ۸ جلدو مشتمل دی. احمد رضا خان بریلوي په ۱۳۴۰ ه. کې د صفري د میاشتې په ۲۵ نېټة وفات سوی دی. البته د ۵۶ کالو پر عمر وفات سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د برېلويانو عقائد

دغه ډله که څه هم په ظاهره د حنفي مذهب دعوه کوي مګر په اصل کي دوی داسي اقوال او افعال کوي چي، هغه په حنفي مذهب کي مردود دي. د دوی عقیده د احنافو د عقیدې سره ډېر تو پیر لري. زه یو څه د نمونې په ډول رانقلوم تر څو تاسو ته معلومه سي چي، دا عق اید د احنافو له عقیدو څخه نه د ي بلکي د برېلوي عقایدو څخه دي.

برېلویان په بدعاتو کي داسي غرق سوي دي چي د اصلي دین، مذهب او بدعت فرق اوس دوی نه سي کولای. د انبیاء کرامو او اولیاء کرامو په شان کي داسي خبري کوي. که چیري انبیاء کرام او او لیاءکرام ژوندي وای، دوی به خپله له دغسي اقوالو او افعالو څخه بېزاري ښکاره کړې وای. د دیو بند د علماء کرامو سره ډېر تضاد لري. ځیني مستحبات، سنت بولي او سنتو ته د فرضو په سترګه ګوري. د تصوف په اړه خورا ډېره عقیده لري. د ډېر افراط له خاطره حقیقي تصوف ځني پاته دی اوس په بدعاتو کي غرقاب دي. کوم څوک چي د دوی سره مخالفت ولري. هغه د وهابي په نامه تورنه وي. د دې خبرو بر سېره نوري خاص عقائد هم لري لکه داسي.

❁نبي علیه‌السلام عالم بالغیب بولي، وایي نبي علیه‌السلام په هرڅه خبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❁د اولیاء کرامو په حق کې ډېر افراط کوي. دوی وایي د معراج په شپه نبي عليه‌السلام د شېخ بغداد رحمه‌الله په کومک پر بوراک سپور سو او د شېخ بغداد په امر لمر را خیژي او لوېږي.

❁مجذوب معاف دی. که د جذب په حالت کې هرڅه وکړي هغه ورته معاف دی.

❁نبي عليه‌السلام نور دی.

❁نبي عليه‌السلام مختار کل دی.

❁د غېر الله څخه کومک غوښتنه جائز ده.

❁د درود شریف د ویلو په وخت ولاړېدل.

❁قبرونه پاخه جوړول، ګنبده پرجوړول.

❁پر قبرو څراغان شمعې بلول.

❁د جنازې وروسته دعا حتمي کول.

❁چې کله د نبي عليه‌السلام نوم مبارک ذکر سي ګوتې مچول.

❁احمد رضاخان برېلوي په لاس کې شېخ عبدالقادر جیلاني دی او شېخ عبدالقادر جیلاني په لاس کې د نبي عليه‌السلام دی. داسې په لاس کې کېدل لکه قلم چې د کاتب په لاس کې وي. د نبي عليه‌السلام په حضور کې د الله تعالی جل‌جلاله دی (ماینطق عن الهوی) دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره معلومه سوه چي بریلوي صاحب په حضور کي د الله تعالی دی (ماینطق عن الهوی) العیاذ بالله.

ﷺرضا د الله تعالی رضا د پیغمبر ﷺ ده او رضا د پیغمبر ﷺ په رضا کي ده. احمد رضاخان بریلوي ده.

ﷺد احمد رضاخان بریلوي ژبه او قلم الله تعالی دواړه د خطاء څخه ساتلي دی، همداسي نور عقائد لري چي، په مذهب حنفي کي ورته په کلکه جواب ویلی سوی دی که څه هم دوی په ظاهر ځان حنفي بولي خو حنفي نه دي بلکي دا یو ګمراه ډله ده او نه په حنفي مذهب کي داسي عقائد ولالره ځای نسته. د ښه معلوماتو لپاره دغه کتابونه وګورئ.

۱ ادیان باطله.

۲ صراط المستقیم.

۳ شناخت ګروها.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه کتابونه:

## چي د ماخذونو په توګه استفاده ځيني سوېده په لاندي ډول دي.

۱ قرآن مجید
.۲ بخاري شريف.
۳ مسلم شريف
.۴ ابوداؤد شريف.
۵ ترمذي شريف
.۶ مشکوات شريف.
۷ مکتوبات امام رباني
.۸ تلويح توضيح.
۹ مجالس ابرار
.۱۰ غنية الطالبين.
۱۱بحرالرائق
.۱۲ ابوالمنتهي .
۱۳ د ستور اساسي مع ائين دارالعلوم ديوبند.
۱۴ فتاوی رحميه
.۱۵ شرح منار.
۱۶ نامي شرح حسامي
.۱۷ الاجتهاد.
۱۸ حديث او تقليد شخصي
.۱۹ اعلامِ الموقعين.
۲۰ مجموع الرسائل ابن عابدين.
.۲۱ الاقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲عقد

۲۳ کلمة الفصل.

۲۴ تذکرة الحفاظ

.۲۵ انصاف .

۲۶ اشرف جواب

.۲۷ فتاوی ابن تیمه.

۲۸ محمد بن عبدالوهاب

.۲۹ الهدیة السنیة.

۳۰ حطة في ذکر صحاح السته

۳۱ نزهة الخواطر .

۳۲ قول المختار في مولد نبي المختار

.۳۳ . فتاوی فردیة

۳۴ حدائق حنفیة

.۳۵ انوار الباري.

۳۶ تذکرة محدثین

.۳۷ تفسیرات احمدیة.

۳۸ الاعتدال في مراتب الرجال

.۳۹ . شرح مؤطاء

۴۰ هدیة الهدی

.۴۱ بدورالاهله.

۴۲ اسرار اللغة

.۴۳ عرف البحاري.

۴۴ العزاب المهین

.۴۵ احیاء العلوم الدین.

۴۶ جامع بیان العلم

.۴۷ اشاعة السنة.

۴۸ الجواهر المضیة.

۴۹ جامع المسانید.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵۰ حجة الله بالغة

۵۱. انصاف مع کشاف.

۵۲ سبیل الرشاد

۵۳. تقلید ائمة.

۵۴ اللمع لابي النصر السراج الطوسي

۵۵. فتاوی محمودیة.

۵۶ ردالمختار.

۵۷ درلمختار.

۵۸ تفسیر عثماني

۵۹. تفسیر ابن کثیر.

۶۰ جلالین

۶۱. معارف القرآن.

۶۲ تفسیر الرازي

۶۳. فتاوی عزیزي.

۶۴ ادیان باطله اور صراط مستقیم

۶۵. حقیقت تصوف

۶۶ عرفان

۶۷. ابن ماجة.

۶۸ مناسک لملا علي القاري

۶۹. فتح الباري

۷۰ اعلاء السنن

۷۱. مواهب الرحمن.

۷۲ مفتاح البحاجة

۷۳. وفاء الوفاء.

۷۴ شفاء السقام

۷۵. الخصائص الکبری.

۷۶ جلاء الافهام

۷۷. مسند احمد بن حنبل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۸ الوصل الى حقيقة التوسل

۷۹. الدرالمنثور.

۸۰ عمدة القاري

۸۱. السيرة حلبي.

۸۲ كشف الارتياب

۸۳. الدررالسنية.

۸۴ اسدالغابة

۸۵. الصواعق المحرقة.

۸۶ امدادالفتاوى

۸۷. عقائد ديوبند.

۸۸ شواهد الحق.

۸۹ اشعة اللمعات.

۹۰ شرح الصدور

۹۱. البصائر.

۹۲ فيض الباري.

۹۳ فيض الباري.

۹۴ بذل المجهود

۹۵. حموي.

۹۶ شيخ الاسلام علي تيسيرالقاري

۹۷ . مرقات.

۹۸ رحمت بيان.

۹۹ شناخت گروها.

۱۰۰مفردات

۱۰۱الاشباه و النظائر

۱۰۲مرواج السنن

۱۰۳فتوى هندية

۱۰۴نورالايضاح

۱۰۵.مراقي لفلاح.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۰۶مجموع الرسائل محمد امین صفدر
.۱۰۷درر الفوائد
۱۰۸اعانة الطالبین
.۱۰۹البدیة والنهایة.
۱۱۰مغرب
.۱۱۱قاموس.
۱۱۲مختار الصحاح
.۱۱۳تاج العروس.
۱۱۴جامع العلوم والحکیم
.۱۱۵الاعتصام.
۱۱۶فتوی حدثیة
.۱۱۷الحاوي للفتاوی.
۱۱۸رحیق مختوم
.۱۱۹مجموع الفتاوی.
۱۲۰الغنیة
.۱۲۱مصنف ابن ابي شیبة.
۱۲۲تیسیر العزیز
.۱۲۳روح البیان.
۱۲۴سنن الکبری
۱۲۵احسن الفتاوی.
۱۲۶الوسي تاریخ نجدي
.۱۲۷ترجمان و هابیة.
۱۲۹اقتصاد في الاجهاد
.۱۳۰اهل حدیث اور انګریز.
۱۳۱پهلي اسلامي تحریک.
۱۳۲غیر مقلدین د احدیثو په رڼا کي.
۱۳۳تنبیع الوهابین.
۱۳۴مثنوي معنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحمدلله حمداً موافیاً لنعمه و موکافیه لمزیده و الصلوة و السلام علی رسوله محمد و أله و اصحابه اجمعین.

# تمت بالخیر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**